خوندیتوب لوړ او د عامې روغتیا ساتنه تضمین شي. نو موږ دا څېړنه په دې موخه ترسره کړه د افغانستان په خامو او پاستورایز شویو شیدو او لبنیاتو کې د پاستورایزیشن اغېز اندازه کړو او معلومه کړو چې دا پروسه د انتي‌بیوټیک پاتې شونو کچه تر کومې اندازې راکموي او همدا ډول د هغو فکتورونو پېژندل او ارزونه چې د پاستورایزیشن پر اغېزمنتوب تاثیر لري.

**تیرو لیکنو ته کتنه:** شیدې او لبنیاتي محصولات د افغانانو د خوړو یوه نه بېلېدونکې برخه جوړوي، خو د دغو محصولاتو خوندیتوب د پراخې ککړتیا او د ناسم چلند له امله د اندېښنې وړ دی. څېړنې ښیي چې خامې شیدې، چې په کلیو او ښاري سیمو کې په پراخه کچه مصرفېږي، زیاتره وخت د میکروبي او کیمیاوي ککړتیاوو لرونکې وي، چې دا د عامې روغتیا لپاره جدي خطرونه پېښوي. د یخزنځیر (cold chain) د امکاناتو نشتوالی، د کیفیت د کنټرول کمزوري سیستمونه او محدود تنظیمي څار دا ستونزه لا نوره هم جدي کړې ده او د خلکو لپاره یې د مصرفېدونکو شیدو خوندیتوب یقیني کول سخت کړي دي. په افغانستان کې مصرفوونکو د خامو شیدو د میکروبي ککړتیا او د انتي‌بیوټیک پاتې شونو په اړه جدي اندېښنې څرګندې کړې دي، کوم چې د معیاري پروسس او څار د سیستمونو د نشتوالي له امله رامنځته شوې دي (Ahmed et al., 2022; Ahmadzai et al., 2025; Grace, 2017).

د شیدو په ترکیب کې له ټولو مهمو کیمیاوي خطرونو څخه، د انتي‌بیوټیک پاتې شوني په ځانګړي ډول د اندېښنې وړ دي. دغه پاتې شوني د وترنري درملو له ناسمه کارونې او د درملو د ایستلو (withdrawal) د مودې له ناخبرۍ سرچینه اخلي. په هغو هېوادونو کې چې وترنري خدمات کمزوري وي، لکه افغانستان، بزګران ډېر وخت پرته له وترنري مشورې انتي‌بیوټیکونه کاروي، چې پایله یې د پاتې شونو د شیدو له لارې انسانانو ته انتقال دی. دغه پاتې شوني د روغتیا لپاره جدي خطرونه لري، لکه الرژیک غبرګونونه، د کولمو د طبیعي باکتریا توازن ګډوډول،او د انتي‌مایکروبیل مقاومت پراخول، چې ورته پایلې په ګاونډیو هېوادونو کې هم ثبت شوي دي(Javed et al., 2018) .

د دې کیمیاوي خطرونو د کمولو لپاره، پاستورایزیشن د شیدو د خوندیتوب پروتوکولونو کې مهم پړاو ګڼل کېږي. که څه هم دا د میکروبي بار د کمولو لپاره اغېزمنه طریقه ده، د انتي‌بیوټیک پاتې شونو د له منځه وړلو په برخه کې یې اغېز لا هم محدود او ناپېژندل شوی دی. ځینې انتي‌بیوټیکونه، لکه اریترومایسین، د پاستورایزیشن په حرارت کې برخه‌ییز تخریب ښیي، خو نور لکه اوکسی تراسایکلین او ستریپتومایسین حرارتي ثبات لري او حتی د معیاري پاستورایزیشن وروسته هم په شیدو کې پاتې کېږي (Zorraquino et al., 2008; Su et al., 2021).

د انتي‌بیوټیکونو حرارتي ثبات د دوی د نوعیت، غلظت او د شیدو د ترکیبي جوړښت سره توپیر لري. څېړنې ښیي چې هغه شیدې چې غوړ یې لوړ وي یا د تودوخې او وخت د غیرمعیاري شرایطو لاندې پروسس شوې وي، زیاتره انتي‌بیوټیک پاتې شوني ساتي، نسبت هغو شیدو ته چې غوړ یې کم وي یا په مناسبو حرارتي

شرایطو کې تودې شوې وي. پر سلفونامایډونو او تتراسایکلینونو ترسره شوې تجربې دا تاییدوي چې یاد مرکبات د حرارتي تخریب پر وړاندې مقاومت لري او یوازې پر پاستورایزیشن تکیه کول نشي کولای شیدې له پاتې شونو بشپړ پاکې کړي(Mitchell et al., 1998; Su et al., 2021) .

څېړنو په مصر او فلسطین کې ښودلې چې د انټي‌بیوټیک پاتې شوني، چې د اجازې ورکړل شوې اعظمي کچې څخه لوړ وي، هم په خامو او هم په پاستورایز شویو شیدو کې موندل شوي دي. په مصر کې د ۱۲۰ خامو شیدو نمونو ارزونې ښودلې چې د اوکسی‌تتراسایکلین پاتې شوني د ۳ څخه تر ۳۸,۶۵ µg/L پورې او د پنسلین پاتې شوني د ۵,۹ څخه تر ۲۵۰ µg/L پورې وو، چې ځینې نمونې د اجازې ورکړل شوې اعظمي کچې څخه لوړ وې (Ahmed et al., 2022). په فلسطین کې څېړنې ښودلې چې د خامو شیدو ۲۲٪ نمونې د انټي‌بیوټیک پاتې شوني لري، چې د روغتیا لپاره جدي خطرونه رامنځته کوي(Abd El-Aziz et al., 2023) . دا موندنې خرګندوي چې په شیدو کې د پروسس وړاندې د کنټرول او د کیفیت د تضمین په کړنو کې جدي نیمګړتیاوې شتون لري او حتی هغه شیدې چې په سمه توګه پاستورایز شوې وي، بیا هم د روغتیا لپاره خطرناکې پاتې کېږي که چیرې ککړې خامې شیدې د دقیقو مخکنیو ازموینو او مناسبو تطبیقي تدابیرو پرته پروسس ته داخلې شي(Abd El-Aziz et al., 2023) . له همدې امله، د انټي‌بیوټیک پاتې شونو د مؤثره کنټرول لپاره اړینه ده چې د پروسس وړاندې دقیق تدابیر او د کیفیت د تضمین تولیز سیستمونه رامنځته شي.

په افغانستان کې، چیرې چې غیررسمي او دودیزې تودوخې ورکولو طریقې د صنعتي پاستورایزیشن پر ځای ډېر کارول کېږي، د لبنیاتو د خوندیتوب وضعیت اندېښمن دی. د دې موضوع د ارزونې لپاره په پکتیا ولایت کې سروې ترسره شوه(Ahmadzai et al., 2025) ، چې په کې د کلیوالي او ښاري سیمو له مصرفوونکو څخه ټولټال ۲۳۰ خامې شیدو نمونې راټولې شوې پایلې ښیي چې له درېیمې برخې څخه ډېرې خامې شیدې د انټي‌بیوټیک پاتې شوني لري، کوم چې د ازمویښو په راپورونو کې خرګند شوي دي. د کورنیو د دودیزو اوبو اچولو طریقې او ناسمې تودوخې ورکولو طریقې د دې پاتې شونو له منځه وړلو کې اغېزناک نه دي، کوم چې روښانه کوي چې دودیزې طریقې د معیاري پاستورایزیشن بدیل نشي کېدای. سربېره پر دې، د کوچنیو پروسس واحدونو لپاره د معیاري پروتوکولونو نشتوالی د پاستورایزیشن اصلي ګټې له منځه وړي او د شیدو خوندیتوب او د مصرفوونکو د روغتیا تضمین کمزورې کوي. د سروې د تحلیلي برخې لپاره Ordered Logistic Regression ماډل کارول شوی، چې پایلې یې وښودله چې د مصرفوونکو د خوندیتوب ادراک د ټولنیزو او دیموګرافیک فکتورونو لخوا پام وړ اغېزمن کېږي. پایلې خرګندوي چې د مصرفوونکو د خوړو د خوندیتوب اندېښنې—په ځانګړې توګه د زړو خلکو، د لویو کورنیو، او د بسته بندي شوي شیدو کاروونکو په منځ کې—په پام کې نیول، کولای شي د محلي لبنیاتو محصولات باندې د مصرفوونکو باور لوړ کړي. دې ارزونې خرګنده کړه چې د شیدو د خوندیتوب د ښه والي لپاره اړینه ده چې صنعتي پاستورایزیشن سیستمونه پراخه شي، معیاري پروتوکولونه په ټولو پروسس واحدونو کې تطبیق شي او د وترنري درملو د کارونې او پاتې شونو د کنټرول لپاره مشخص تدابیر عملي شي(Ahmadzai et al., 2025) . د Atwaa او همکارانو یې په 2022 کال څېړنه کې خرګندوي چې د ځینو نباتي استخراجونو استعمال د غواګانو په پاستورایزه شوې شیدو کې د مایکروبي ودې د مخنیوي وړتیا لري او کولی شي د طبیعي محافظتي موادو په توګه د شیدو د خوندیتوب او کیفیت د ښه کولو لپاره وکارول شي.

د **One Health** مفکورې پر بنسټ، Ijaz او همکارانو 2025 کال څېړنه کې ټینګار کړی چې د وترنري درملو ناسم استعمال، د څارویو د محصولاتو ککړتیا، او د انسان روغتیا ترمنځ نږدې اړیکه موجوده ده، او د شیدو په څېر حیواني محصولاتو کې د انټي‌بیوټیک پاتې شونو کنټرول د ساري ناروغیو د مخنیوي لپاره یو مهم او ګډ مسؤلیت بلل کېږي. د افغانستان د لبنیاتو د خوندیتوب د ننګونو د حل لپاره، کارپوهانو د څو اړخیزې مداخلې ستراتیژۍ وړاندیز کړې ده. دغه ستراتیژي باید د فارم په کچه د څارویو د روزنې له لارې پیاوړې شي، د وترنري درملو د ایستلو موده (withdrawal period)مراعات شي، معیاري پاستورایزیشن تجهیزاتو ته پانګونه وشي او د شیدو له حاصل وروسته د انتقال او ساتنې سیستمونه ښه شي. څېړنو ښودلې چې په افغانستان کې د خامو شیدو مصرف ډېر دی او ډېرې نمونې د انټي‌بیوټیک پاتې شوني لري، چې دا د صحي خوندیتوب جدي خطرونه رامنځته کوي (Ahmadzai, Moritaka, & Ben Taieb, 2025). د دې لپاره چې د شیدو خوندیتوب ښه شي، اړینه ده چې ټولنیزې، اقتصادي او فني لارې یوځای وکارول شي، په ځانګړې توګه د فارم کچې روزنه، د وترنري درملو د ایستلو دقیق مراعت، معیاري پاستورایزیشن او د شیدو د انتقال او ساتنې مؤثر سیستمونه (Ahmadzai et al., 2025; Mitchell et al., 1998).

## میتودلوژي

دا مروري څېړنه د تشریحی ـ تحلیلي میتود پر بنسټ ترسره شوې ده د پاستورایزیشن د اغیزمنتیا ژوره ارزونه وکړي او څرګنده کړي چې دا بهیر تر کومې اندازې پورې کولی شي د انټي‌بیوټیک پاتې شوني په لبنیاتو کې، په ځانګړې توګه د افغانستان د تولیدي او مصرفي شرایطو لاندې راکم کړي. د څېړنې لپاره د معتبرو علمي مقالو، تخنیکي راپورونو او نړیوالو ژورنالونو سیستماتیک لټون ترسره شو، او یوازې هغه سرچینې شاملې شوې دي چې د لبنیاتو د خوندیتوب او د انټي‌بیوټیک پاتې شونو د کنټرول له موضوع سره مستقیم تړاو لري. په تشریحی برخه کې د پاستورایزیشن علمي بنسټونه، د انټي‌بیوټیکو د حرارتي ثبات ځانګړنې او د شیدو د خوندیتوب اوسنی وضعیت روښانه شوی، په تحلیلي برخه کې بیا د بېلابېلو هېوادونو د څېړنو پایلې پرتله شوې، د افغانستان د محلي شرایطو سره یې انطباق ارزول شوی، او د شیدو د خوندیتوب د پیاوړتیا لپاره عملي سپارښتنې وړاندې شوې دي. دغه میتود څېړونکي ته دا زمینه برابروي چې د شته علمي شواهدو پر بنسټ د پاستورایزیشن د مؤثریت په اړه یوه منطقي ارزونه وړاندې کړي او د راتلونکو څېړنو لپاره د څېړنیزو تشو پېژندنه ممکنه کړي.

## موندنې

شیدې د انسان د غذایي اړتیاوو یوه بنسټیزه برخه ده، خو د دوی کیفیت او خوندیتوب د عامې روغتیا لپاره حیاتي اهمیت لري. په افغانستان کې د خامو شیدو پراخ مصرف، د لبنیاتو غیررسمي تولید، او د وترنري درملو ناسم استعمال د میکروبي ککړتیا او د انټي‌بیوټیک پاتې شونو د زیاتېدو لامل ګرځېدلی دي. پاستورایزیشن د شیدو د میکروبي خوندیتوب د لوړولو لپاره یو مهم تخنیکي اقدام ګڼل کېږي، خو د انټي‌بیوټیک پاتې شونو په له منځه وړلو کې یې اغېز تر ډېره پورې محدود بلل کېږي. د دې څېړنې مهمې موندنې، چې د شیدو د کیفیت او خوندیتوب د ښه کولو لپاره علمي لید وړاندې کوي، په لاندې توګه په منظم ډول ذکر شوي دي.

1. **پاستورایزیشن د میکروبي ککړتیاوو کمولو لپاره اغېزمنه ده، خو د انټي‌بیوټیک پاتې شونو په برخه کې محدود اغېز لري:** پاستورایزیشن د شیدو د خوندیتوب لپاره یوه نړیواله منل شوې تودوخیزه پروسه ده چې د ناروغۍ رامنځته کوونکو مایکروارګانیزمونو کچه په مؤثر ډول راکموي. سره له دې، علمي شواهد څرګندوي

چې پاستورایزیشن د انټي‌بیوټیک پاتې شوني په بشپړه توګه له منځه نه وړي، او که شیدې وار له مخه له انټي بوټیکونو سره ککړې وي، دا پروسه د انسان روغتیا ته شته کیمیاوي خطر په کافي اندازه له منځه وړلی نه شي(Bahramian et al., 2022; Hamdan, 2019).

2. **ځینې انټي‌بیوټیکونه د تودوخې په جریان کې تجزیه کېږي، خو نور حرارتي ثبات لري:** څېړنې ښیي چې د انټي‌بیوټیکونو حرارتي چلند یو شان نه دی؛ د بېلګې په توګه، Erythromycin د تودوخې په شرایطو کې تر یوه بریده تجزیه کېږي، خو Tetracyclines او Streptomycin د پاستورایزیشن د حرارت پر وړاندې لوړ ثبات لري. دا توپیر د انټي‌بیوټیک د مالیکولي جوړښت او کیمیاوي ځانګړنو پورې تړاو لري (Bahramian et al., 2022; Liener, 2002).

3. **د پاستورایزیشن اغېز د مختلفو عواملو پورې تړاو لري:** د پاستورایزیشن اغېز یوازې د حرارت درجې پورې محدود نه دی، بلکې د شیدو د غوړو کچه، د انټي‌بیوټیک ابتدایي غلظت، د پروسس وخت او حرارت ټول د پاتې شونو د کمښت یا پاتې کېدو په کچه کې مهم رول لري. په ځانګړې ډول، د غوړ لوړه اندازه کولی شي ځینې لیپوفیلیک درمل په شیدو کې وساتي(Fenelon et al., 2020; Najib et al., 2020).

4. **په افغانستان کې ډېرې خامې شیدې د انټي‌بیوټیک پاتې شونو لرونکې دي:** په افغانستان کې ترسره شوې څېړنې ښیي چې د خامو شیدو د پام وړ برخه د انټي‌بیوټیک پاتې شوني لري. د پکتیا ولایت څېړنه څرګندوي چې د خامو شیدو ګڼ شمېر نمونې له نړیوالو منل شوو حدونو لوړې وې، چې لامل یې د وترنري درملو ناسم استعمال، د ایستلو مهلت نه مراعت او د کیفیت د کنټرول کمزورې سیستم بلل کېږي (Ahmadzai et al., 2025; Osmani, 2023).

5. **د دودیزو تودوخې ورکولو طریقو اغېز محدود دی:** کورني او دودیز تودوخیزې طریقې عموماً د غیرمعیاري حرارت او وخت له امله نه شي کولای د انټي‌بیوټیک پاتې شوني په اغېزمن ډول له منځه یوسي. دا طریقې تر ډېره د میکروبي ککړتیا د کمولو لپاره ګټورې دي، خو د کیمیاوي پاتې شونو د کنټرول لپاره بسنه نه کوي(Hamdan, 2019; Najib et al., 2020).

6. **د شیدو د خوندیتوب لوړولو لپاره څو اړخیزه ستراتیژي اړینه ده:** علمي شواهد ټینګار کوي چې یوازې پاستورایزیشن د شیدو د خوندیتوب تضمین کولای نه شي. د فارم په کچه روزنه، د وترنري درملو د سم استعمال مراعت، د ایستلو مهلت عملي کول، او معیاري پروسس باید په ګډه پلي شي تر څو د عامې روغتیا خطر کم شي(Grace, 2017; Javed et al., 2018).

7. **د کیفیت د کنټرول ملي سیستم او لابراتواري ځارنې رول:** منظم لابراتواري ځارنه او د کیفیت د کنټرول ملي سیستمونه د انټي‌بیوټیک پاتې شونو د پېژندنې، ثبت او مخنیوي لپاره بنسټیز ارزښت لري او د شیدو د خوندیتوب د تضمین اساسي وسیله ګڼل کېږي(Bahramian et al., 2022; Hamdan, 2019).

8. **پاستورایزیشن یوازینی حل نه دی:** په ټیټ عاید لرونکو هېوادونو لکه افغانستان کې، غیررسمي تولیدي سیستمونه، کمزورې زیربناوې او غیرمعیاري حرارتي شرایط د پاستورایزیشن اغېز محدودوي، له همدې امله یوازې پر دې پروسې تکیه کول د انټي‌بیوټیک پاتې شونو ستونزه نه شي حل کولای (Grace, 2017; Gura, 2008).

9. **د مصرفوونکو پوهاوی د باور لوړولو کې مهم دی:** کله چې مصرفوونکي د خوراکي خوندیتوب او د شیدو د کیفیت په اړه کافي پوهاوی ولري، دا چاره د محلي لبنیاتو پر وړاندې باور زیاتوي او د خوندیتوب معیارونو د پلي کېدو ملاتړ کوي (Ahmadzai et al., 2025; Monteiro et al., 2023).
10. **څو اړخیزه مداخلې ستراتیژي اړینه ده:** د شیدو د خوندیتوب د پایدار ښه والي لپاره باید ټولنیزې، اقتصادي او تخنیکي مداخلې په ګډه پلي شي، چې په هغې کې د فارم کچې روزنه، د وترنري درملو د ایستلو مراعت، معیاري پاستورایزیشن، او د انتقال او ساتنې مناسب سیستمونه شامل دي. دا تګلاره د عامې روغتیا د خطر د کمولو لپاره حیاتي ارزښت لري (Pinto et al., 2020; Yasmeen et al., 2022).

**مناقشه**

زمونږ د څېړنې موندنې څرګندوي چې د پاستورایزیشن پروسه د شیدو د مایکروبي ککړتیا د کمولو لپاره په نړۍ کې یوه منل شوې او اغېزمنه طریقه ګڼل شوې ده، خو دا طریقه د انټي‌بیوټیک پاتې شونو په بشپړه توګه له منځه وړلو کې کافي نه ده رحمان او همکارانو (2024) کې د بنګله‌دیش په ډهاکا کې ترسره شوې څېړنه هم ښیي چې په پاستورایز شوو شیدو کې د انټي‌بیوټیک لکه enrofloxacin او levofloxacin پاتې شوني موندل شوي دي، چې دا د انساني روغتیا لپاره خطرناک کیدای شي؛ دا د پاستورایزیشن د محدود اغېز سره ورته والی څرګندوي .

د انټي‌بیوټیکونو د حرارتي ثبات نړیوالې څېړنې ښیي چې تودوخه ټولې درملیزې پاتې شونې له منځه نه وړي، ځکه چې په ځینو سیمو کې د β-lactam او نورو ډلو انټي‌بیوټیکونه لا هم په پاستورایز شوو شیدو کې پاتې کېږي فاطمی او همکارانو ( 2024) کې ترسره شوې سیستماتیکه بیاکتنه کې هم دا څرګندوي چې د پاستورایز شوو شیدو په کیفیتي ازموینو کې د درملیزو پاتې شونو شتون ثبت شوی، چې دا زمونږ د څېړنې سره مشابهت لري .

همدارنګه، د انټي‌بیوټیک پاتې شونو نړیوال وضعیت ښیي چې په خامو او پاستورایز شوو شیدو کې د پاتې شونو نسبتي شتون د اتحادیې له معیارونو سرغړونه ګڼل کېږي، چې دا زمونږ د موندنو سره ورته والی څرګندوي فاطمی او همکارانو (2024) کې څرګنده کړې چې د شیدو محصولات په پراخه کچه د انټي‌بیوټیک پاتې شونو سره ککړ دي، حتی هغه شیدې چې وروسته پاستورایز شوې وي، چې دا د شیدو د کیفیت د کنټرول سیستم کمزورتیا هم څرګندوي .

زمونږ څېړنه همدارنګه څرګندوي چې د پاستورایزیشن اغېز د مختلفو عواملو لکه د شیدو د غوړ کچه، د درملو ابتدایي غلظت، د تماس موده او د حرارت شرایطو پورې تړلی دی. دا موندنه د میتشیل او همکارانو ( 1998) کې د څېړنو سره همغږي ده، چې په کې یاد شوي چې د شیدو ترکیب او پروسس شرایط د انټي‌بیوټیک پاتې شونو د کمښت یا پاتې کېدو لپاره مهم رول لري.

په عین حال کې، ځینې نړیوالې څېړنې ښیي چې د پاستورایز شوې شیدې مایکروبي کیفیت معمولا د خامو شیدو په پرتله ښه دی، خو د انټي‌بیوټیک پاتې شونو له منځه وړلو لپاره دا پروسه یو کامل حل نه دی کارمونا او همکارانو ( 2024) کې څرګنده کړې چې په ځینو پرمختللو بازارونو کې هم د پاستورایز شوو شیدو نمونې د انټي‌بیوټیک پاتې شونو سره موندل شوي، چې دا زمونږ د څېړنې سره عدم شباهت نه لري، بلکه د نړۍ په کچه د ورته ستونزو یو عمومي انځور وړاندې کوي .

په ټوله کې، نړیوالې څېړنې د پاستورایزیشن په اغېزمنتیا کې د مشابهت او همغږي تړاو تایید کوي، ځکه چې پاستورایزیشن د شیدو مایکروبي خطرونه کموي، خو د انتي‌بیوټیک پاتې شونو د بشپړ له منځه وړلو لپاره کافي نه دی پرادان (2023) کې په نیپال کې د تودوخې له لارې پروسس شوو لبنیاتو (paneer) باندې ترسره شوې څېړنه کې څرګنده کړې چې که څه هم حرارتي پروسس د مایکروبي ککړتیا په کنټرول کې اغېزمن دی، خو د کولیفورم بکتریاوو جلا شوو نمونو کې د انتي‌بیوټیکونو پر وړاندې مقاومت او د درملیزو پاتې شونو شتون لا هم ثبت شوی دی. دغه موندنې ټینګار کوي چې یوازې حرارتي درملنه د شیدو د خوندیتوب بشپړ تضمین نه شي کولای او د وترنري درملو د دقیق استعمال، د ایستلو مهلت مراعت، او منظم کیفیتي څارنه باید په ګډه پلي شي، چې دا د نړیوالو خوندیتوب معیارونو سره څرګند مشابهت لري .

په پای کې، دا څېړنه په افغانستان کې د پاستورایزیشن د اغېزمنتیا او د انتي‌بیوټیک پاتې شونو د کنټرول د محدودیتونو په اړه د شواهدو یوه تازه کتنه وړاندې کوي. پایلې څرګندوي چې د شیدو خوندیتوب یواځې د حرارتي پروسس پورې تړلی نه دی، بلکې د تولید، پروسس، او مصرف په ټولو پړاوونو کې د معیاري کنټرول، روزنې او څارنې اړتیا شته. د دې موندنو پر بنسټ، د پالیسي جوړونکو، تولیدونکو او مصرفوونکو لپاره دا لازمي ده چې د شیدو د کیفیت لوړولو لپاره ټولنیزې، اقتصادي او فني مداخلې یوځای عملي کړي، څو د عامې روغتیا خطرونه کم شي.

**پایله**

د دې څېړنې پایلې څرګندوي چې پاستورایزیشن د شیدو د میکروبي خوندیتوب د لوړولو لپاره مؤثره لاره ده، خو د انتي‌بیوتیک پاتې شونو په برخه کې اغیز یې محدود پاتې کېږي. څېړنې ښیي چې ځینې انتي‌بیوتیکونه لکه Erythromycinپه تودوخې کې جزوي تجزیه کېږي، خو نور لکه Tetracyclines او Streptomycin د حرارتي ثبات لوړوالی لري او حتی د پاستورایزیشن وروسته هم پاتې کېږي. د افغانستان په شرایطو کې د خامو شیدو پراخ مصرف، د غیررسمي تولید سیستمونه، د وترنري درملو ناسم استعمال او د کیفیت د کنټرول کمزوري میکانیزمونه د انتي‌بیوتیک پاتې شونو د لوړوالي اصلي عوامل دي. چې د شیدو د غوړو کچه، د درملو ابتدایي غلظت، د تماس موده او د حرارت شرایط د پاتې شونو په کمښت یا پاتې کېدو کې مهمه ونډه لري.

له همدې امله، د شیدو خوندیتوب لوړولو لپاره څو اړخیزه تګلاره عملي کول اړین دي چې پکې د فارم کچې روزنه، د وترنري درملو د ایستلو دقیق مراعت، معیاري پاستورایزیشن، د شیدو د انتقال او ذخیرې مؤثر سیستمونه، او د مصرفوونکو پوهاوی شامل وي. د مصرفوونکو پوهاوی د بازار باور لوړولو کې مهم رول لري او د خوندیتوب معیارونو د پلي کېدو ملاتړ کوي. د دې موندنو پر بنسټ، د پالیسي جوړونکو، تولیدونکو، او مصرفوونکو لپاره لازمه ده چې ټولنیزې، اقتصادي، او فني مداخلې په ګډه عملي کړي، څو د شیدو کیفیت لوړ او د عامې روغتیا خطرونه کم شي، ځکه یواځې دودیز پاستورایزیشن د افغانستان د شیدو د خوندیتوب لپاره کافي نه ګڼل کېږي.

**سپارښتنې**

۱ .د شیدو د محلي پروسس شرایطو ته په پام سره، معیاري پاستوریزیشن (تودوخې درملنې) پروتوکولونه عملي کول.

۲ .د شیدو تولیدوونکو او پروسس کوونکو ته د پاستوریزیشن د تودوخې او وخت د غوره ترکیبونو په اړه روزل.

۳ .په خامو او پاستوریزه شیدو کې د انټی بیوټیک پاتې شونو د منظمې ازموینې دود رواجول.

۴ .هغو څارویو ته چې انټی بیوټیک ورکړل شوي وي، د درملو د استراحت مودې تطبیق یقیني کول.

۵ .مالدرانو ته په شیدو کې د انټی بیوټیک پاتې شونو د روغتیایي خطرونو په اړه پوهاوی ورکول.

٦ .د شیدو د کیفیت او خوندیتوب د معیارونو د څار لپاره قانوني چوکاټونه پیاوړي کول.

۷ .د شیدو د راټولولو ځایونو ته د چټکو پاتې شونو د کشف ټیکنالوژیو لپاره سبسایدې (مالي ملاتړ) ورکول.

۸ .په افغانستان کې د وترنري خدماتو په برخه کې د انټی بیوټیک معقول استعمال (stewardship) پروګرامونو تشویق کول.

۹ .د هغو بدیلو درملنو څېړنو ملاتړ کول کوم چې د څارویو د انټیبیوټیکي درملو پر اړتیا لږوالی راولي.

۱۰ .د ملي شیدو خوندیتوب د څارنې سیستم جوړول چې په کې دولتي او خصوصي اړخونه ګډون ولري.

## مأخذونه

**Abd El-Aziz, M., Salama, H. H., & Sayed, R. S.** (2023). Plant extracts and essential oils in the dairy industry: A review. *Foods and Raw Materials*, *11*(2), 321–337. https://doi.org/10.21603/2308-4057-2023-2-321-337

**Ahmadzai, N., Moritaka, M., & Ben Taieb, S.** (2025). Consumers' perception of safety toward locally produced raw milk in Paktia, Afghanistan. *Journal of the Faculty of Agriculture, Kyushu University*, *70*(1), 59–66. https://doi.org/10.5109/7340483

**Ahmed, Z. A., Kasim, M. H., Tegegne, B., & Salah, H. M.** (2022). Assessment of hygiene practices and bacteriological quality of raw cow milk of selected dairy farm in Dessie, Ethiopia. *American Journal of Aquaculture and Animal Science*, *1*(1), 27–37. https://doi.org/10.5281/zenodo.7548046

**Atwaa, E. S. H., Shahein, M. R., Radwan, H. A., Mohammed, N. S., Aloraini, M. A., Albezrah, N. K. A., & Elmahallawy, E. K.** (2022). *Antimicrobial activity of some plant extracts and their applications in homemade tomato paste and pasteurized cow milk as natural preservatives*. **Fermentation, 8**(9), 428. https://doi.org/10.3390/fermentation8090428

**Bahramian, B., Alizadeh Sani, M., Parsa-Kondelaji, M., Hosseini, H., Khaledian, Y., & Rezaie, M.** (2022). *Antibiotic residues in raw and pasteurized milk in Iran: A systematic review and meta-analysis*. AIMS Agriculture and Food, 7(3), 500–519. https://doi.org/10.3934/agrfood.2022031

**Fatemi, H., Rezazadeh, M., & Khodabakhshi, M.** (2024). Antibiotic residues in dairy products: A systematic review of prevalence, risk factors, and regulatory compliance. *Food Control*, *160*, Article 113324. https://doi.org/10.1016/j.foodcont.2024.113324

**Grace, D.** (2017). Food safety in developing countries: Research gaps and opportunities. *ILRI White Paper*. https://hdl.handle.net/10568/82906

**Hamdan, D.** (2019). Assessment of milk quality and antibiotic residues detection in milk samples from Palestinian market (*Master's thesis, An-Najah National University*). https://repository.najah.edu/items/4a9657c5-35a1-4df1-8a80-a90e337cf186

**Ijaz, S., Faiz, A., Zahoor, A., Bhatti, M. F. E., Ahmed, U., Rauf, U., Fatima, A., Riaz, H., & Rehman, H.** (2025). An approach to One Health with a Pakistan perspective to address zoonotic health issues. *Scholars Journal of Agriculture and Veterinary Sciences*, *12*(3), 135–144. https://doi.org/10.36347/sjavs.2025.v12i03.003

**Javed, M. T., et al.** (2018). Livestock and poultry health issues and way forward. In I. A. Khan & M. S. Khan (Eds.), *Developing Sustainable Agriculture in Pakistan* (pp. 561–593). CRC Press. https://doi.org/10.1201/9781351208239-26

**Khan, M. R., et al.** (2018). Value addition. In I. A. Khan & M. S. Khan (Eds.), *Developing Sustainable Agriculture in Pakistan* (pp. 857–870). CRC Press. https://doi.org/10.1201/9781351208239-38

**Khan, S., Sardar, R., Zaib, W., & Yaqoob, R.** (2021). Microbial worth in food industry. *Pak-Euro Journal of Medical and Life Sciences*, 4(4), 303–312. https://doi.org/10.31580/pjmls.v4i4.2257

**Londoño-Carmona, J., Blandón-Escobar, S., Montoya-Zuluaga, J., Betancourt-Chaves, P., Castillo-Moreno, S., Arboleda-Múnera, C., & Vallejo-Timarán, D.** (2024). Antibiotic residues and microbial contamination in pasteurized whole milk intended for human consumption. *Veterinary World*, *17*(3), 720–727. https://doi.org/10.14202/vetworld.2024.720-727

**Mitchell, J. M., Griffiths, M. W., McEwen, S. A., McNab, W. B., & Yee, A. J.** (1998). *Antimicrobial drug residues in milk and meat: Causes, concerns, prevalence, regulations, tests, and test performance*. **Journal of Food Protection, 61**(6), 742–756. https://doi.org/10.4315/0362-028X-61.6.742

**Najib, M.** (2020). *Study of the manufacturing process and characterization of molecular interactions during the production of Qishta and evaluation of the stability of the food product* [Doctoral dissertation, University of Lille & Lebanese University]. Thèses.fr. http://www.theses.fr/2020LILUR057

**Rahman, A., Paul, P., Sarkar, M. R., Sikdar, K. M. Y., Esti, I. Z., Abid, N. M., & Bari, L.** (2024). Antibiotic residues in pasteurised and raw cow's milk in Dhaka, Bangladesh. *Food Additives & Contaminants: Part B, 17*(4), 287–295. https://doi.org/10.1080/19393210.2024.2335234

**Pradhan, M., Khanal, V., Shrestha, A. K., & Thapa, S.** (2023). Antibiotic resistant profile of coliform and *Staphylococcus aureus* isolated from paneer samples of Kathmandu Valley. *Amrit Journal*, *3*(1), 16–24. https://doi.org/10.3126/amritj.v3i1.61539

**Su, R.-Z., Fan, K., Zou, Y.-Q.-S., Ren, X., Tang, X.-Z., Xia, J.-R., Li, L.-F., & Huang, A.-X.** (2021). Distribution characteristics, drug resistance and virulence of *Listeria monocytogenes* in milk in Yunnan Province. *Journal of Food Safety and Quality*, 12(3), 1192–1199. https://doi.org/10.1016/j.jiph.2024.02.014

**Zorraquino, M. A., Roca, M., Fernández, N., Molina, M. P., & Althaus, R. L.** (2008). Effect of thermal treatments on the activity of quinolones in milk. *Milchwissenschaft*, 63(2), 192. https://doi.org/10.1021/jf9040518

# په افغانستان کې د درملو د مصرف، نسخه‌لیکنې فعالیتونو او د عامه روغتیا اړونده ننګونو ته کتنه

MARJ
ملـي
علمـي-څېړنیـز ژورنال
REG Code: RCTD-PNJR-0094-25

**نهضت الله ساپی**
د شوونې او روزنې پوهنځی، نورستان پوهنتون، افغانستان
Nuzhat.adil33@gmail.com

**لنډیز**

دا علمي څېړنه په افغانستان کې د درملو د مصرف، نسخه‌لیکنې فعالیتونو او د عامې روغتیا اړونده ننګونو د ارزونې او تحلیل لپاره ترسره شوې ده. د څېړنې موخه دا ده چې د درملو د بازار حالت، د نسخه‌لیکنې سیستم، او د روغتیایي خدمتونو د کیفیت او لاسرسي ستونزې په علمي او مستند ډول وڅېړي. د څېړنې معلومات د ثبوت پر بنسټ له علمي مقالو، نړیوالو روغتیایي راپورونو، او د روغتیایي ادارو له اسنادو څخه راټول شوي دي. د څېړنې پایلې څرګندوي چې په افغانستان کې د درملو زیاتره استعمال د ناروغانو پر واقعي اړتیاوو پر ځای له نسخې پرته، غیر معیاري او د بازار پر غوښتنه ولاړ وي. همدارنګه، د نسخه‌لیکنې فعالیتونه له مسلکي اصولو لرې او له تخصصي-معیارونو سره په ټکر کې دي. دا حالت د ناسمو درملو د کارونې، مقاومو ناروغیو، او د ناروغانو د اقتصادي زیانونو لامل ګرځېدلی دی. څېړنه همدارنګه د عامې روغتیا په برخه کې نورې جدي ستونزې لکه د وړیا روغتیایي خدمتونو نشتوالی، د روغتیایي کادرونو کمزورې مسلکي ظرفیت، د درملو د کیفیت تېټوالی، او د عامه پوهاوي کموالی روښانه کوي. څېړنه سپارښتنه کوي چې د درملو د معیاري نسخه‌لیکنې یو ملي سیستم رامنځ ته شي، د عامه پوهاوي د لوړولو پروګرامونه پراخ شي، او د حکومت او خصوصي سکتور ترمنځ همغږي او د نړیوالو روغتیایي معیارونو پلي کول جدي ونیول شي. دا څېړنه کولی شي د روغتیایي پالیسۍ جوړوونکو، څېړونکو او مسلکي کارپوهانو لپاره د علمي تحلیل او پالیسي جوړونې یو بنسټیز سند وي.

**کلیدي کلیمې: د درملو برابرول، روغتیایی‌ننګونې، هرات، اساسي درمل، حل لارې.**

# Overview of Medicines Use, Prescription, and Public Health Challenges in Afghanistan

**Abstract**

This academic research examines use of medicines, prescribing practices, and public health challenges in Afghanistan. The main objective is to analyze the structure of the medicine market, the prescription system, and the major barriers affecting access to quality healthcare. The study is based on evidence collected and synthesized from peer reviewed articles, international health reports, and organization documents. Findings indicate that use of medicines in Afghanistan is often unregulated, nonstandard, and largely driven by market demand rather than patients' actual medical needs. Prescription activities frequently lack professional oversight and depart from standard medical principles, contributing to misuse of medicines, surge of antimicrobial resistant diseases, and significant financial burdens on patients. The study also highlights broader public health challenges, including the shortage of free healthcare services, limited professional capacity among medical staff, poor medicine quality, and low levels of public health awareness. It recommends establishing a national standardized prescription system, strengthening public awareness programs, promoting coordination between government and private sector, and ensuring adherence to international health standards. This research serves as a scientific reference for policymakers, researchers, and health professionals aiming to improve Afghanistan's public health system.

**Keywords: Supply, Health challenges, Herat, Essential medicines, solutions.**

MARJ

Mili

Academic-Research Journal

**REG Code:** RCTD-PNJR-0094-25

**Nuhzatullah Sapi**
Faculty of Education, Nooristan University, Afghanistan
Nuzhat.adil33@gmail.com

**سریزه**

روغتیا د انساني ژوند له بنسټیزو حقونو څخه ګڼل کیږي او د ټولنیز، اقتصادي او بشري پرمختګ یوه حیاتي سټنه ده چې د درملو اغیزمنه او خوندي کارونه، نسخه‌لیکنه، بازار او کیفیت د درملو د سیستم له بنسټیزو عناصرو څخه ګڼل کېږي. په داسې حال کې چې نړیوالو روغتیایي سازمانونو د نسخه‌لیکنې، درملو ویش، د کیفیت کنټرول او د درملو د بازار تنظیم او روغتیایي ننګونو سره د مبارزې لپاره واضحو لارښوونو ته اشاره کړې خو افغانستان لا هم له ننګونو سره مخ دی.

له یو لوري عام خلک د درملو د علمي او مسلکي کارونې له اصولو ناخبره دي او د بل لوري ډېرې طبي پرسونل او ډاکټران د نړیوالې نسخه‌لیکنې اصولو څخه سرغړونه کوي. د درملو بازار بیا د یو تنظیم شوي سیستم پر ځای له سوداګریزو ګټو او غیرقانوني سیالیو څخه اغیزمن دی. دا څېړنه کوښښ کوي چې د افغانستان د درملو، نسخه‌لیکنې، بازار، کیفیت او د روغتیایي سیستم د اساسي نیمګړتیاوو د څرګندوالي ارزونه وکړي. دغه ستونزه یوازې د حکومت نه بلکې د مسلکي طبي کارکوونکو، درمل پلورونکو او عامه خلکو د ناسم تعامل پایله ده چې پرته له شکه د ټولنیز روغتیایي امنیت لپاره یوه لویه ستونزه بلل کېږي.

په دې څېړنه کې هڅه شوې چې له علمي، ټولنیز، سیاسي، اقتصادي او روغتیایي اړخونو څخه د دغې ستونزې بېلابېلې بڼې وپېژندل شي او ریښتینې حل لارې ورته وموندل شي. د څېړنې ارزښت په دې کې دی چې د موضوع اړوند یو ټولیز، علمي او د اسنادو پر بنسټ تحلیل وړاندې کوي ترڅو د پالیسۍ جوړوونکو، د درملو د تنظیم ادارو، ډاکټرانو، درمل پلورونکو او عامو خلکو لپاره یو معیاري بنسټ چمتو کړي او دا چې د درسي سرچینو، روغتیایي نصابونو، او راتلونکو څېړنو لپاره بنسټیز مواد برابروي. دا څېړنه د نړیوالو معیارونو سره د افغانستان د روغتیایي سیستم د مطابقت لپاره علمي نقشه وړاندې کوي چې نه یوازې د درملو د خوندیتوب، اغیزمنتیا او لاسرسي تضمین کړي بلکې د عامې روغتیا لپاره اوږدمهاله ګټې هم تامینوي.

دا څېړنه هڅه کوي چې د افغانستان د درملو سیستم، نسخه‌لیکنې او عامه روغتیایي ننګونو پر وضعیت یو علمي، نقادانه او څېړنیز تحلیل وړاندې کوي. دا څېړنه د نړیوالو تجربو، علمي سرچینو، شته قوانینو، روغتیایي اصولو او د افغانستان د واقعي شرایطو پر بنسټ د درملو د ناسمې کارونې او غیر معیاري نسخې‌لیکنې لاملونه، پایلې او حل لارې روښانوي؛ همدارنګه درمل پېژندل، د درملو مصرف، د درملو د بازار، کیفیت او قانوني کنټرول ارزونه او تشریح کوي؛ د غیرمسلکي نسخې‌لیکنې او د درملو د ناسم استعمال لاملونه او پایلې روښانه کوي؛ د روغتیایي سیستم ننګونې په ډاګه او حل لارې او اغیزناکه پالیسۍ ورته وړاندیز کوي او د حکومت، ډاکټرانو، درمل پلورونکو، درمل جوړونکو او عامو خلکو مسؤولیتونه را په ګوته کوي.

دا څېړنه په افغانستان کې د درملو په کارونې، نسخه‌لیکنې، درملو بازار او د درملو د کارونې بهیر د نړیوالو اصولو او معیارونو سره پرتله، غیر مسلکي نسخه‌لیکنه، او د درملو ناسمې کارونې لاملونه موندل او پایلې یې، د ستونزې د له منځه وړلو لپاره پرحل لیارو، د افغانستان د روغتیایي سیستم اوسنی وضعیت، په افغانستان کې د نسخه‌لیکنې سیستم، اوپه افغانستان کې د روغتیایي سیستم پر وړاندې اړونده مهمې ننګونې او مهار کولو باندې راڅرخیږي. او دا موضوع د

پالیسي جوړوونکو، روغتیایي مسؤولینو، مسلکي کادرونو او علمي بنسټونو لپاره ارزښتناکه علمي سرچینه کېدای شي چې نه یوازې د شته ستونزو په درک کې مرسته کوي بلکې د حل لپاره یې عملي لارې چارې هم وړاندې کوي.

**تیرو آثارو او څېړنو ته کتنه**

د درملو مصرف، نسخه‌لیکنې، بازار، کیفیت او روغتیایي ننګونو په برخه کې ګڼې نړیوالې او سیمه ییزې څېړنې شوي دي چې په دې څېړنه کې ورته اشاره کوو او همدارنګه دا څېړنه هڅه کوي چې په دې برخه کې له شته مطالعاتو، راپورونو، علمي سرچینو او مقالو څخه ګټه واخلي ترڅو د افغانستان د وضعیت د تحلیل لپاره بنسټیز چوکاټ چمتو شي.

د درملو نسخه‌لیکنه او د استعمال وضعیت، د روغتیال نړیوال سازمان(۲۰۱۹) راپور له مخې چې شاوخوا ٪۵۰ سلنه یا نیمایي درمل په نړۍ کې ناسم کارول کېږي او ٪۶۰ سلنه نسخه‌لیکنې له ناسم کلینیکي تشخیص سره مخ دي. دا سازمان د معیاري نسخه‌لیکنې سیستمونه د عامه روغتیا د کیفیت لپاره مهم بنسټ بولي.

همدارنګه د افغانستان د عامې روغتیا وزارت په خپل ستراتیژیک پلان کې نسخه‌لیکنه یو له لویو تشو بللې ده او سپارښتنه کوي چې د ډاکټرانو نسخه لیکنې ته باید روزنیز معیارونه وټاکل شي. (MoPH, 2021, p. 12).

درملو ته لاسرسی، کیفیت او تنظیم هدایت (۱۳۹۸) علمي مقاله ده. په مقاله کې راغلي چې بازار ته شاوخوا ٪۴۲ سلنه وارد شوي درمل د غیر مجازو لابراتوارونو تولید دی چې کیفیت یې هیڅ ډول ملي یا نړیوال تضمین نه لري. (هدایت، ۱۳۹۸، ص. ۵۵).

دارنګه د Medecins Sans Frontieres، (۲۰۲۱)، درملو ته لاسرسی او کیفیت تر عنوان لاندې راپور کې راغلي چې د افغانستان په کلیوالو سیمو کې د بنسټیزو درملو کمښت، جعلي خراب درمل او د درملو لوړه بیه د عامو خلکو لپاره جدي خنډونه دي. راپور ټینګار کوي چې د درملو کیفیت او بازار له پراخې بې نظمۍ، وارداتي درملو ناسمې څارنې او د تنظیمي ادارو د کمزورتیا څخه اغیزمن دی. (MSF, 2021, p.22).

په یوه مقاله کې چې د موسوي (۲۰۲۱) له خوا وړاندې شوې، راغلي چې د افغانستان د درملو بازار له ٪۷۰ سلنې ډېر درمل له پاکستان، هند، ایران او چین څخه واردوي چې ډېرې یې له سخت تنظیم او څارنې پرته مارکیټ ته عرضه کېږي. نوموړي د «د افغان درمل اداري» رول او څار کمزورې بللی او ټینګار یې کړی چې د علمي او تخنیکي ټیم کموالی، فساد او د پالیسۍ نه شتون د تنظیم او څار په برخه کې بنسټیز خنډونه دي. (موسوي، ۲۰۲۱).

د بنګله دیش، ایران او کینیا هېوادونو تجربې ښیي چې د نسخه‌لیکنې تنظیم، د درملو کیفیت کنټرول او د درملو معلوماتي سیستمونه (Drug Information Systems) هغه څه دي چې د درملو بازار ته یې نظم ورکړی، د ناروغانو باور یې لوړ کړی او د روغتیایي خدمتونو کیفیت یې ښه کړی دی. (جمشید، ۲۰۱۶).

د جان هاپکنز پوهنتون (2020) له خوا په یوه سیمه ییزه مطالعه کې یادونه شوې چې د افغانستان په ښاري درملتونونو کې د درملو ذخیره، د یخچال شتون، د نخښې ثبت او د ختمېدو نېټې رعایت په ډېرې برخو کې له معیارونو لرې پاتې دی.

په افغانستان کې د صحي خدماتو د ارزونې یو راپور ښیي چې شاوخوا ۷۳٪ سلنه ډاکټران له مستند پرته تشخیصیه درملو توصیه کوي او ډېرى درملو غېرې اړین او زړې نسخې له مخې وي ناسم دوز لري. (MoPH, 2020).

په افغانستان کې د دارو سازانو ټولنه (۲۰۲۲ز) کال په خپل کلنې راپور کې لیکي چې یوازې ۲۵٪ سلنه رسمي درملتونونه مسلکي ثبت شوي کارکوونکي لري په داسې حال کې چې ۷۵٪ سلنه نور یې غیرقانوني کسانو له خوا چلول کېږي.

همداراز د ایران د «IFDA» او د کینیا د درملو د تنظیم ملي ادارې «PPB» په خپلو تجربو کې ښودلې چې د نسبي ثبات، سختو مقرراتو، د نسخې لیکنې ډیجیټلي سیستم او د وراداتو د قانوني مراحلو له لارې نه یوازې کیفیت لوړ شوی بلکې د درملو بې نظم بازار هم ورسره تنظیم شوی دی.

**میتودولوژی/ د څېړنې تګلاره**

دا څېړنه د افغانستان د درمل کارونې، نسخه‌لیکنې، بازار، کیفیت او روغتیایی وضعیت او ننګونو جامع تحلیل ته ځانګړې شوې او ډول یې کتابتونې دی او په کیفي، کمي او تحلیلي میتود سره ترسره شوې ده. د معلوماتو د راټولولو لپاره په کې له کتابونو لکه: درآمدی بر فارماکولوژي، درمل پېژندنه، نسخو ناسم یا شفري لیکل، مقدمه‌ای بر سلامت عمومی او درملو ته لاسرسی کار اخستل شوی. ځېنې مستند راپورونو لکه د روغتیا نړیوال سازمانWHO، د بنګله‌دیش، ایران، کینیا او نور. او یو شمیر علمي مقالو څخه چې په معتبرو ژورنالونو کې خپرې شوې دي ګټه پورته شویده.

**موندنې**

د معلوماتو له مخې په افغانستان کې روغتیایي خدمتونه له جدي ګواښوونو سره مخ دي چې له ډلې یې یو هم د درملو مصرف دی. د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) په وینا ۵۰٪ سلنه درمل په ناسم ډول کارول کېږي او دغه حالت په افغانستان کې هم شتون لري. (WHO, 2015). موندنې په لاندې برخو کې ترتیب شوې دي:

**د درملو مصرف:** افغانستان یو له هغه هېوادونو څخه دی چې په کې د درملو د مصرف کړنلارې، کنټرول، نسخه‌لیکنه او عامه پوهاوی لاهم د جدي ستونزو سره مخ دی. د درملو لویه برخه له خصوصي درملتونونو څخه له ډاکټري نسخې پرته اخستل کېږي چې د طبي اصولو سره په ټکر کې ده. یوه سروې ښیي چې په افغانستان کې ۶۰٪ سلنه درمل او درملنې د نسخې پرته له درملتونونو څخه کېږي. (MSH, 2019) بې پروایي یا ناسم مصرف، خپل ځان درملنه د درمل کارونې بڼه لري.

الف: بې پروایي یا ناسم مصرف (Irrational Drug Use): په افغانستان کې ډېرى ناروغان انټي بیوټیکونه، د درد کموونکي او د معدې/ خټنې درمل د نسخې پرته اخلي، ناروغان ډېر ځله د ډاکټر له کتنې پرته دغه کار کوي او خپل سر درمل کاروي چې دا نه یوازې د ناروغۍ په کنټرول یا ښه والي کې مرسته کوي بلکې نورې مزمنې ناروغۍ او حساسیتونه هم رامنځ ته کولای شي او په دې توګه ناروغان د درملو نیمګړې کورس (دوز) اخلي. (MoPH & WHO, 2020).

ب: خپل سر یا ځان درملنه (Self- Medication): په افغانستان کې د درملو د ناسمې د درملو د عقلاني مصرف لپاره لا هم پیاوړې معیاري پالیسي ته اړتیا لري (WHO, 2020). او دا هم یو ګواښ دی چې ډېر خلک د درملو ټول کورس

یا ډوز نه بشپړوي او درمل په خپل سر د ډاکټر د لارښوونې خلاف بندوي او یا هم بدلوي. (WHO Afghanistan, 2020).

ج: یوه بله اندېښنه دا ده چې ډېرې میندې ماشومانو ته د تودوخې، ستوني‌درد، نس‌ناستې او نورو ناروغیو په وخت کې د لویانو یا بالغو کسانو درمل ورکوي چې دا کار ډېرې ناوړه اغیزې لري.(UNICEF, 2022) .

د : په افغانستان کې په زیاتو درملتونو کې درمل پلورونکي باسواده نه دي او رسمي جواز هم نه لري نو ځکه خو له درملو سره ناسم چلند کوي (WHO & MoPH, 2020).

په افغانستان کې د درملو د ناسمې کارونې په عواملو کې کمزوری اقتصادي وضعیت، د درملو په اړه د عامه پوهې کموالی، د قانوني کنټرول کمزورتیا او فرهنګي عادتونه هم شامل دي چې دا او دې ته ورته نور عوامل سبب شوی ترڅو خلک درمل په ناسم ډول وکاروي. خلک ډاکټر ته نه ورځي او د نسخې پرته درمل اخلي، د درملو هر اړخیزو اغیزو ته پام نه کوي، ناقانونه درمل او بې کیفیته درمل اخلي او د کورنۍ مشورې له مخې درمل کارېږي (Babar, 2020).

**نسخه‌لیکنه:** ډېرې نسخې د نړیوالو کلینیکي لارښودونو او طبي معیارونو سره سمې نه لیکل کېږي او د تشخیص له دقیقې ارزونې او پایلې پرته درمل تجویزیږي، اقتصادي ګټې هم په پام کې نیول کېږي او دا چاره لامل شوې ترڅو درمل په غیرې معیاري ډول په مصرف ورسېږي(MSH, 2019). د افغانستان د روغتیا سکتور کې د نسخه‌لیکنې سیستم لا تر اوسه په بشپړ ډول معیاري نه دی. ډاکټران او روغتیایي مسلکي کسان د نسخو د معیارونو په رعایتولو کې ستونزې لري او د نسخو رسمي فورمې ډېرې وخت نه کارول کېږي او یا سمې نه ډکېږي (MoPH, 2021). د نسخه‌لیکنې د معیاري سیستم نشتوالی د دې عواملو له کبله دی: (د مسلکي زده کړو کموالی، د نظارت او کنټرول کمزورتیا، مالي فشارونه، د ډاکټرانو شخصي موخې او د روغتیایي ادارو لخوا د سیستم نیمګړتیاوې). دا فکټورونه د ناسمو او غیرمعیاري نسخو لیکلو لامل شوی دی (HPRO, 2021). په طبي او روغتیایي مرکزونو کې معمولاً لاسلیک شوې نسخې کارېږي چې ډېرې یې معیاري بڼه یا فورم نه لري. زیاتې نسخې ساده کاغذي یادښتونه دي چې رسمیت نه لري او معلومات یې هم بشپړ نه وي (WHO & MoPH, 2020). یوه معیاري نسخه د ناروغ مشخصات، تشخیص، د درمل نوم او جینریک، د خوراک اندازه، د درملو موده، د ډاکټر لاسلیک، د فارمسي مهر او نېټه لري چې د خطا مخه نیسي او د رونټیا لپاره اړینې دي (Katzung, 2018). اوسنی نسخې د ناروغانو ستونزو ته ځواب نشي ویلی. لکه په ۸۴٪ سلنه نسخو کې لږ تر لږه یو انټي‌بیوټیک شامل دی. په داسې حال کې چې د WHO لخوا د نسخې معیاري ارزښت باید ۳۰٪ سلنه وي. دارنګه په نسخو کې یوازې ۶۷٪ سلنه درمل د Essential Drugs List څخه نه و او ۳۵٪ سلنه درمل په Generic بڼه لیکل شوي و. د نسخو په اوسط کې ۲,۹ درمل په هر ملاقات کې په ناروا ډول تجویز شوي په داسې حال کې چې د WHO له خوا معیاري ارزښت یې ۱,۶ – ۱,۸ پورې دی چې دا د Over prescribing او Polypharmacy نښې دي چې ناروغ ته اضافي ستونزې رامنځ ته کوي (Habibyar, 2021). نسخه‌لیکنه د طبي زده کړو په برخه کې باید یوه اجباري برخه وګرځي او د طب او فارمسۍ په نصاب کې دې د (Rational Use of Drugs) او (Good Prescribing Practices) درسونه اضافه شي. همدارنګه عملي تمرینونه دې په کلینیکي مضامینو کې شامل شي (KUMS, 2021). درملو Essential Drugs List لیست کارول باید جبري شي. ټولو ډاکټرانو ته چاپې

بریښنایي نسخه ورکړل شي او ارزونه یې باید د EDL مطابق ترسره شي (MoPH, 2022) . ډاکټران مکلف دي چې د ناروغ تشخیص، شواهدو پر بنسټ او د WHO د لارښوونو سره سمې نسخې ولیکي. دارنګه د ناروغ عمر، جنس، تاریخچه، حساسیتونه او مالي حالت په پام کې ونیسي(WHO, 2017). له غېړې اړینو او ناسمو درملو لیکلو څخه ډډه وکړي، د دوا شرکتونو او درملتونونو سره د قرارداد او معاملې پر بنسټ نسخه ونه لیکي او د خپل مسلمان ورور حالت په پام کې ونیسي. او ډاکټران باید د مسلکي پرمختګ او زده کړو په بنسټ نسخه‌لیکنه وکړي. باید نوي علمي موندنې، درمل، لارښوونې او لارښودونو ته په پام نسخې ولیکي. همدارنګه ورکشاپونه او انلاین کورسونه وخارل شي ( KUMS, 2021).

| معیاري نسخه‌لیکنې اصول | تشریح |
|---|---|
| Generic name | درمل باید په عمومي نوم ولیکل شي نه په برانډي یا کمپنیزو نومونو سره. |
| Dose, frequency, route | دوز، طریقه، تکرار او موده باید روښانه ولیکل شي. |
| Rational use | پرته له اړتیا یا ډېر درمل ونه لیکل شي. |
| STG- Based | د ناروغۍ تشخیص او درملنه باید د STG پر بنسټ وي. |
| Patient counselling | ناروغ ته باید وضاحت او مشوره ورکړل شي. |

منبع: *WHO, 2017*

**د درملو د بازار وضعیت (Medicine Market Conditions):** په افغانستان کې زیات درمل وارداتي دي چې کچه یې تر ۹۵٪ سلنې پورې رسېږي. یو شمېر درمل بیا بې کیفیته، کم کیفیته او یا هم جعلي دي. د رسمي ثبت او د کیفیت د کنترول سیستم پرته واردېږي، د کنټرول نیمګړی سیستم لري چې په افغانستان کې یې د درملو په مصرف کې ګډوډي او خپل سري رامنځ ته کړې ده. (MoPH, 2021, p. 28). ویل کېږي چې د کرونا وبا او اقتصادي ستونزو او وارداتو د محدودیت له امله د ۲۰۲۱ز کال وروسته په افغانستان کې درمل کم شوي او بیې هم لوړې شوي دي (USAID, 2022).

په افغانستان کې د درملو بازار په پراخ ډول د خصوصي سکتور په لاس کې دی چې نږدې ۹۵٪ سلنه درمل د خصوصي واردوونکو له خوا واردېږي او یوازې کم شمېر دولتي تولیدي واحدونه تنظیم شوي واردات لري چې دې ډول حالت د درملو د کیفیت، قیمت او رونټیا په برخو کې جدي ستونزې رامنځ ته کړې دي (WHO, 2021). افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه ده چې د درملو په برخه کې داخلي تولید یې ډېر کم دی او هر کال په منځني ډول شاوخوا د ۵۰۰ میلونو امریکایي ډالرو په ارزښت درمل له نورو هېوادونو څخه واردوي چې چین، هند، پاکستان، ایران او ترکیه یې عمده صادرونکي دي. د درملو د وارداتو ډېرې یې له هند څخه راځي چې د ارزانه تولید او صادراتي وړتیا له امله تر نورو مخکې دی. (UNDP, 2022).

**د درملو اړوند عامه پوهاوی (Public Awareness):** خلک د درملو د هر اړخیزو اغیزو، ډوز یا د درملو تر منځ د تعامل په اړه لږ معلومات لري. رسنی، ښوونځي او کلینیکونه د عامه پوهاوي په برخه کې اغیزمن او ښه رول لوبولی شي (UNICEF & MoPH, 2022)، د ښاري سیمو ترڅنګ په کلیوالو ځایونو کې د عامو خلکو ترمنځ د درملو په اړه د معلوماتو کموالی هغه لامل دی چې ډیری خلک په خپله د ځان درملنه کوي او ځان ته په خپله نسخه تجویزوي (HPRO, 2021, p. 14). باید د رسنیو، ښوونځیو کې د ښوونکو، پوهنتونونو کې د استادانو، په کلینیکونو د ډاکټرانو او کلیو او بانډو کې د سیارو ټیمونو له لورې د درملو په اړه د عامه پوهاوي برنامې په لار واچول شي ترڅو د درملو د ناسم او خپل سري مصرف مخه ونیول شي. ډیری ناروغان یا درملتونونه د دوو یا ډېرو درملو د متقابل اغیز (Drug Interactions) په اړه پوهه نه لري چې دا کړنه ممکن د ناروغ ژوند ته ګواښ پیښ کړي. (HPRO, 2021). د درملو د عاقلانه کارونې په اړه باید عامه پوهاوی عام شي. رسنی، روغتیایي کمپاینونه، ښوونځي او ټولنیزې شبکې لکه فیسبوک، یوټوب، ټویټر او داسې نور باید د ناروغانو لپاره پوهاوي په زیاتولو کې پوره مرسته او رول ولوبوي. همدارنګه د ناروغانو پوهول هم اړین دي ځکه دا به ډاکټر اړ کړي چې مسؤولانه نسخه ولیکي (WHO, 2019).

**په افغانستان کې د درملو د کیفیت او تقلب ستونزې**

په افغانستان کې د درملو د کیفیت ستونزه خورا جدي ده. د WHO د راپور له مخې شاوخوا ۴۰٪ سلنه درمل ممکن یا کم کیفیته وي یا هم تقلبي. د درملو د تقلب عوامل عبارت دي له: د قانوني څارنې نشتوالی یا کموالی، د لابراتوارونو کمزوری سیستم، د وراداتو پر مهال د کنټرول نشتون او ځېنې نور (WHO, 2020). افغانستان د پولو له لارې په ناقانونه ډول درمل واردېږي چې دا ډول درمل ډېرى وخت ثبت شوي نه وي او د کیفیت له اړخه هم کوم تضمین نه لري. ځېنې یې خو بیا هیڅ کوم قانوني مرجع هم نه لري او جعلي وي.

**د دولت ګډون:** د درملو په برخه کې د دولتي سکتور ونډه او فعالیت ډېر مهم او مثبتې پایلې لري چې په افغانستان کې د دولتي روغتیایي مرکزونو له خوا تدارکات د Essential Drug List (EDL) پر بنسټ ترسره کېږي خو عملي تطبیق یې د تمویل، رونټیا او عرضه کوونکو د کیفیت له امله له ستونزو سره مخ دی. زیات شمېر روغتونونه د درملو له کمښت سره مخ دي او ناروغان اړ دي له بازار څخه خپل درمل واخلي. (MoPH, 2021).

**د درملو عرضه او درملو ته لاسرسی:** د افغانستان په کلیو او لرې پرتو سیمو کې باکیفیته درملو ته لاس‌رسی محدود دی. ډېر درمل یوازې به ښاري سیمو کې موندل کېږي او کلیوالي درملتونونه یا خو بند دي یا هم له درملو تش دي. دې کار د روغتیا نړیوال توازن او عدالت تر پوښتنې لاندې راوستی (MSF, 2023, pp. 5-7).

**قانوني او اداري ستونزې:** که څه هم د درملو د قانوني څارنې او مسلکي ښوونې او روزنې په برخو کې پرمختګونه شوي خو لا هم د غیرې قانوني وراداتو زیاتوالی، د کیفیت د کنټرول نېمګړتیا او د عامه پوهاوي کموالی هغه عوامل دي چې په اوس وخت کې یې په افغانستان کې د درملو د ناسم استعمال مخنیوی نه دی کړی (MoPH, 2021). افغانستان د درملو تنظیم لپاره د «درملو قانون» لري خو د پلي کېدا او ځار ضعف یې د دې قانون اغیز محدود کړی. فساد، د ظرفیت نشتوالی او د لابراتوارونو کمښت هغه عوامل دي چې کیفیتي کنټرول له منځه وړي. چې د اداري او رسمي نظارت پیاوړتیا او د سرغړونو کشف او د سرغړونکو پر وړاندې اجراأت ترسره کول اوسنی وضعیت ښه کولی

شي (MoPH & WHO, 2021)؛ او نسخه‌لیکنې لپاره قانوني چوکاټ باید تقویه شي. (WHO, 2017, pp. 2-4). د ناروغانو د شکایت حق باید تضمین شي (MoPH, 2022).

ځېنې نور لاملونه لکه د درملو کیفیت او نظارت کمزورتیا، قاچاقي درمل او غیر قانوني بازار، د نسخې پرته درمل اخیستل، د درملو تولیدي شرکتونه او د هغوی د ظرفیت مسئله او داسې نور یې یادولای شو.

**ننګونې:** اړونده ننګونې کیدلی شي چې د روغتیایي خدمتونو کم چمتوالی او د تأمین ستونزه لکه د روغتیایي سیستم سرچینو نشتوالی، د روغتونونو کمبود او بندېدل، د تمویل کمښت چې روغتیایي خدماتو ته لاسرسی محدود وي او خطرناکه پایلې لري په ځانګړې توګه د مور او ماشوم لپاره (WHO, 2023).بله خبره د خوارځواکي او د خوړو د کمښت ناورین چې تر ۲۰۲۲ز کال پورې دا کچه له ۳۰٪ سلنې څخه لوړې کچې ته رسېدلې وه؛ او تر ۳,۵ میلونه ماشومانو کې حاد او منځنی کچې خوارځواکي ثبت شوې وه (Health in Afghanistan, 2024). په ۲۰۲۵ز کال یوازې د ماشومانو لپاره ۸٦۷،۳۰۰ شدید او ۲,٦ میلونه سوء تغذیه پېښې اټکل شوي دي؛ د زېږون پر مهال د مور او ماشوم د مړینې لوړه کچه: د WHO د ۲۰۲۴ز کال د راپور له مخې په افغانستان کې د زېږون پر مهال د مړینې ګواښ درجه ډېره لوړه وه. چې د ۲۴ هېندو او ۱٦۷ نویو زېږېدلو څخه په ورځنۍ توګه د مخنیوي وړ پېښو څخه د مړینې پېښې ثبتېږي؛ او افغانان د ناروغیو دوه ګوني فشار سره مخ دی چې هغه ساري ناروغۍ او غېرې ساري ناروغۍ دي لکه شکر، زړه ناروغي، سرطان او تنفسي ناروغان. همدارنګه لږترلږه ٥۰٪ سلنه مړینې د غېرې ساري ناروغیو له امله رامنځ ته کېږي او دا کچه د ۲۰۳۰ز کال پورې لوړېدونکې ده (Jhpn, 2024). چې په ۲۰۱۸ز کال کې شکره ۴,۳٪ سلنه، هاضمي ناروغۍ ٥,۱٪ سلنه، تنفسي ناروغۍ ٥,۲٪ سلنه، سرطان ۸,۹٪ سلنه او په زړه او رګونو پورې تړلې ناروغۍ ۲۳,٦٪ سلنه محاسبه شوي دي (Scoping review, 2023)؛ او په دې وروستیو کې په لکونو او حتی تر میلونونو افغانان هېواد ته راستانه شول چې ډېرې به یې ناروغه، ستړي، کمزوري او په بې‌وزلي کې اخته و چې دا وضعیت د روغتیایي سیستم لپاره لوی ګواښ دی او په روغتیایي سیستم یې اغیز کړی دی(AP, 2024). د روغتیایي خدماتو لپاره د بودیجې کموالی هم لوی خنډ دی، ځکه چې اوس مهال د روغتیا له سیستم سره د نړیوالو تمویل کم شوی او داخلي سرچینې هم کافي نه دي (UNDP, 2022, p. 25). د روغتیا په سکتور کې ناسم مدیریت او تخنیکي ظرفیتونو کمښت هم د صحت د سیستم لپاره ننګونې وې چې دا کار په کلیوالو سیمو کې ډېر وو (WHO, 2020). د افغانستان په ډېرې سیمو کې د معیاري کلینیکونو کمښت او په ځینو ولسوالیو او سیمو کې د روغتیایي مرکزونو نه موجودیت او غېرې فعالوالی، د معیاري نسخو نه لیکل او د ناسمو او غېرې قانوني درملو استعمال (USAID, 2019).

**پایـلـه**

دا څېړنه په افغانستان کې د درملو د مصرف، نسخه لیکنې او روغتیایي ننګونو په اړه یو ټولیز علمي او څېړنیز تحلیل وړاندې کوي او څرګندوي چې د افغانستان د روغتیایي نظام د درملو مصرف، نسخه لیکنې او روغتیا په برخه کې ګڼې جدي ستونزې او نېمګړتیاوې شتون لري چې د نړیوالو او طبي معیارونو سره په واټن کې دي او د خلکو لپاره یې د روغتیایي خدمتونو پر کیفیت او د درملو پر اغیزمنتیا، د نسخې په ټولنیز او روغتیایي ارزښت او د روغتیا په نظام ژروې اغیزې کړې دي. د نسخه لیکنې سیستم غیرمعیاري دی ځکه چې په ډاکټرانو او روغتیایي پرسونل کې د علمي او مسلکي روزنې کموالی، د نړیوالو او ملي قوانینو او اصولو نه پېژندنه او د څارنیز او کنټرولي میکانیزم کمزورتیا پرې اثر لري. د درملو بازار د جعلي او کم کیفیته او غیرې قانوني وارداتو له امله خپل باور له لاسه ورکولو سره مخ دی او د

ناروغانو لپاره روغتیايي ننګونې او خطرونه رامنځ ته کړې دي. حکومت بايد د نړيوالو روغتيايي معيارونو سره سم د درملو کارونې ميکانيزم، نسخه ليکنې معياري او برقي سيستم رامنځ ته کړي او همدارنګه د تشخيص شويو روغتيايي ننګونو لپاره د حل برنامې او پلانونه ترتيب او په دې برخه کې کوتلي ګامونه واخلي. د درملو کارونې کيفيت په دوامداره توګه کنټرول کړي، د مسلکي روزنې پروګرامونه رامنځ ته او پراخ کړي او همدارنګه د عامه پوهاوي کمپاينونه چټک کړي.

**وړانديزونه**

- وړانديز دا دی چې د افغانستان د ټول روغتيايي سيستم او په ځانګړي توګه د درملو مصرف، نسخه ليکنې او روغتيايي ننګونو په اړه دې راتلونکي څېړونکې لا پراخې او خپلواکې څېړنې وکړي او د څېړنو د پايلو پر بنسټ دې عملي کارونه ترسره شي.
- د دې او نورو څېړنو د موندنو په پام کې نېولو سره دې د درملو د کيفيت او کنټرول پياوړتيا لپاره قوي ميکانيزمونه او پاليسۍ رامنځ ته او په سراسر افغانستان کې دې عملي کړای شي او وخت پر وخت دې ترې څارنه وشي.
- د درملو کارونې، نسخه ليکنې او روغتيايي ننګونو په اړه دې د عامه پوهاوي کمپيانونه په دوامداره توګه مروج شي.

## ماخذ و منابع

شریفی, م.ا. (۱۳۹۰هـ ش). *درآمدی بر فارماکولوژي*. انتشارات اندیشه رفیع.

قلم، ا. (۲۰۲۵). د نسخو ناسم یا شفري لیکل. (جولای ۱۱، ۲۰۲۵). *هشت صبح ورځنی*.

معصومی, غ. ر. (۱۳۹۶). *مقدمه‌ای بر سلامت عمومی*. انتشارات جهاد دانشگاهی.

موسوي, س. ف. (۲۰۲۱ز). *روغتیا بازار*. تنظیم او مسلکي ظرفیت.

هدایت, ع. (۱۳۹۸ل). *درملو ته لاسرسی، کیفیت او تنظیم*. کابل.

همایون, م.ا. (۲۰۱۸). *درمل پېژندنه (Pharmacology*. د طبي علومو پوهنتون خپرونې.

Babar, Z . (2020). *Pharmaceutical Policy in Countries with Developing Healthcare Systems* .Springer.

Goodman & Gilman's. (2017). *The Pharmacological Basis of Therapeutics* .McGraw- Hill: McGraw-Hill.

Habibyar. (2021). Evaluation of Drug Use Practices Using WHO Core Drug Use Indicators at Pediatric Health Facilities, 8th ed, Kabul: *Integrative Journal of Medical Sciences*.Pubmed. https://mbmj.org/index.php/ijms/article/view/479.

Health in Afghanistan. (2024). *Prevalence of food insecurity and undernourishment*: Health in Afghanistan.

HPRO. (2021). *Drug Use and Health Literacy in Provinces* .Health Protection and Research Organization, p, 14, 22.

HPRO. (2021). *Pharmaceutical Practices in Afghanistan* .Kabul: Health Policy Research Organization, p: 26.

Jhpn. (2024). *STEPS survey results. Journal of Health Population and Nutrition*. jhpn.biomedcentral.com.

Katzung, B. (2018). *Basic & Clinical Pharmacology (*14 e) .McGraw-Hill Education, p 50 - 55, 36.

KUMS. (2021). *Curriculum Report* .Kabul: Kabul University of Medical Sciences, p 74- 77, 45 - 48.

Maxwell, S. (2017). *Clinical Pharmacology and Therapeutics, Lecture Notes* .Wiley- Blackwell, p 3.

MoPH & WHO. (2020). *Rational Use of Medicines Survey Report* . MoPH & WHO. p: 7.

MoPH & WHO. (2021). *Pharmaceutical Management and Regulation* . MoPH & WHO, P:15.

MoPH .(2020). *Health Complaint Handling Guideline* . MoPH. PP 3- 5.

MoPH.(2021). *Annual Report on Pharmaceutical Affairs* .Kabul: MoPH. P:25, 28, 30.

MoPH.(2021). *National Drug Policy Review* .Kabul: MoPH. P:28.

MoPH.(2021). *National Pharmaceutical Strategy*. MoPH, P: 12.

MoPH. (2022). Compliant Management Guideline .Kabul: MoPH. P: 5.

MoPH. (2022). *Essential Medicines List*. MoPH. PP: 3-6.http://docslib.org/doc/9404453. Docslib+1.

MSF. (2021). *Access to Good Quality Medicines*. Médecins Sans Frontières. P: 22.

MSF. (2023). *Access to Medicines in Rural Afghanistan: A Health Equity Crisis* .MSF Reports, PP: 5 - 7.

MSH. (2019). *Afghanistan Pharmaceutical Sector Assessment Report*. MSH, P:26.

MSH. (2019). *Management Sciences for Health. (USAID) Afghanistan Pharmaceutical Sector Assessment Report*. MSH.

Rang, H. (2015). *Rang and Dale's Pharmacology, 8th ed)*. Elsevier. shop.elsevier.com

Scoping Review. (2023). *Frontiers in Public Health*. Frontiersin.org.

Shargel, L. (2015). *Applied Biopharmaceutics & Pharmacokinetics (7e)*. McGraw-Hill Education.

Tripathe, K. (2021). *Essentials of Medical Pharmacology (8e)*. Jaypee Brothers Medical Publishers

UNDP. (2022). *Socio- Economic Impact Assessment of the Crisis in Afghanistan*. UNDP.

UNDP. (2022). *Health System and Pharmaceutical Sector Overview*. UNDP.

UNICEF & MoPH. (2022). *Public Health Awareness Survey - Afghanistan*. UNICEF & MoPH.

UNICEF Afghanistan. (2022). *Child Health and Medicine Use Survey*. UNICEF.

USAID. (2019). *Afghanistan Health Sector Assessment*. USAID.
USAID. (2022). *Post- Conflict Health Supply Chain Analysis in Afghanistan*. USAID.
WHO. (2004). *The Selection and Use of Essential Medicines, WHO Technical Report Series. Geneva*. World Health Organization.
WHO. (2011). *Assessment of the pharmaceutical sector in Afghanistan*. Geneva WHO. PMC.
WHO. (2015). *The rational use of drugs. Geneva*. World Health Organization.
WHO. (2017). *Guide to Good Prescribing*. WHO.
WHO. (2019*). Patients for Patient Safety Programme*. WHO.
WHO. (2019). *Social Health Report*. WHO.
WHO. (2020). *Afghanistan Health System Review*: WHO.
WHO. (2020). *Health Systems Profile - Afghanistan*. Geneva: WHO.
WHO. (2021). *Afghanistan Pharmaceutical Country Profile*. World Health Organization.*WHO*
WHO. (2022). *Mental Health Report*. WHO.
WHO. (2023). *Afghanistan's health system suffers from critical underfunding, calls for donor support*. WHO.
WHO Afghanistan. (2020). *Rational Use of Medicines in Afghanistan: Challenges and Opportunities*. Geneva: WHO.
WHO Afghanistan. (2020). *Survey on the Prevalence of Substandard and Falsified Medicines in Afghanistan*. WHO EMRO.
World Bank. (2021). *Health System Review. Afghanistan*. World Bank.

# د کندهار ښار په وګړو کې د نسخې پرته د درملو د استعمال کچه او اړوند فکټورونه

**لنډیز**

په نړیواله کچه او په غریبو هیوادو کې په ځانګړې ډول په افغانستان کې د بې نسخې درملو څخه ډیره ګټه اخیستل کیږي. د روغتیا نړیوال سازمان د نسخې پرته درملني تعریف داسې کوي، چې شخص د تشخیص، تجویز یا درملني لپاره په خپل ځان تکیه کوي. دا څېړنه د تشریحي مقطعي ډیزان له مخې ترسره سوې او معلومات یې د مخکې جوړ سوي او تائید سوي دي. معلومات د پوښتنپاڼې له لارې د ۴۰۱ ګډونوالو څخه را ټول سول. د څېړني موندنې ښیي چې ۲۸۵(۷۱,۱٪) کسانو په تیرو دریو میاشتو کې د نسخې پرته درمل کارولي دي . نږدې نیمایي ګډونوالو د ځاني درملني له زیانونو څخه نا خبر وو. پدې څېړنه کې چې ۶۹،۸٪ ګډونوالو درمل د درملتون څخه ترلاسه کړي وو. ۱۸،۵٪ خلکو د داکټر د فیس لوړوالی د خپل سري درملو کارونې لامل په ګوته کړی دی. ددې څېړني موندنې دا ښیي چې انفرادي ډول تر ټولو زیات د سردرد او معدې د ستونزو لپاره درمل کارسوي دي. تر ټولو زیات کارول سوي درمل پراستامول او انتي بیوټیک دي. په تیرو دریو میاشتوکې ۳۵،۲٪ ګډونوالو کله کله، ۲۳،۹٪ ډیر ځله، ۱۲٪ یوځل او ۲۸،۹٪ هیڅلکه بې نسخې درمل ندي کارولي. د څېړني موندنې دا څرګندوي چې د نسخې پرته درمل کارولو اړوند پوهاوي کچه ټیټه ده، درملتونونه بې نسخې خلکو ته درمل ورکوي، او خلک د ډاکټر دفیس د ډیر والي له امله بې نسخې درمل اخلي، د نسخې پرته پراستامول او انتي بیوټیکونه او د درد او د معدې دستونزو درملني لپاره ډیر کاریږي، ښاري خلک د نسخې پرته درمل ډیر کاروي. نو ددې لپاره چې د بې نخسو درملو د کارولو کچه راکښته کړو سپارښتنه کیږي چې د خلکو د پوهاوي لپاره بیلابیل د پوهاوي پروګرامونه جوړ سي. درملتونونو ته سپارښتنه کیږی چې د نخسي پرته درمل تجویز نه کړي، د سردردي او د معدې د ستونزو لپاره اصلي لامل ومومندل سي او د انتې بیوتیکو سره د مقاومت په موضوع باندې د درملتونونو کارمندان پوه کړل سي.

**کلیدي کلمې: نسخه، درملتون ، انتې بیوتیک ، انلجیزیک ، د معدې ناروغي ، سردردي، د ډاکټر فیس**

ملـي
علمـي-څېړنیـز ژورنال
REG Code: RCTD-PNJR-0094-25

**عطاءالرحمن آرین[1*]**
عمومی دیپارتمنت، د فارمسی پوهنځی ،
کندهار پوهنتون، افغانستان
attaurrahmanarian@gmail.com

**محب الله ماکو[2]**
عامه روغتیا دیپارتمنت، طب پوهنځی ،
کندها پوهنتون، افغانستان

# Prevalence and Factors of Unprescribed Medicine Use Among the Residents of Kandahar city

**Abstract**

Globally, and particularly in low-income countries such as Afghanistan, use of the over the counter (OTC) medications is significantly high. The World Health Organization defines self-medication as the condition in which an individual relies on themselves for diagnosis, prescription, or treatment. The study was conducted using a descriptive cross-sectional design, and data was collected from 401 participants through pre-established and verified information sources. The study findings show that 285 (71.1%) individuals used OTC medications in the past three months. Nearly half of the participants were unaware of the possible risks of self-medication. In this study, 69.8% of participants obtained their medications from pharmacies. The main reasons for self-medication were: 18.5% due to high doctor consultation fees. It also reveals that most participants used medications for illnesses, mostly for headache and stomach issues. The most frequently used medications were paracetamol and antibiotics. In addition, in the past three months, 35.2% of participants used OTC medications occasionally, 23.9% used them frequently, 12% used them once, and 28.9% never used any OTC medications. The study demonstrates that self-medication is widespread, with most participants obtaining medications from pharmacies. The primary reasons for self-medication are high doctor consultation fees and a lack of awareness regarding the potential risks of self-medication. It is recommended to implement awareness programs for the public, do not dispense the medicine to patient without prescription, and investigating for the root causes of headache and stomach problems to reduce the use of non-prescribed medications. This should be complemented with training of pharmacy staff on antimicrobial resistance.

**Keywords: Prescription, Medicines, Antibiotics, Analgesics, Stomachache, Headache, Consultation Fee**

MARJ

Mili

Academic-Research Journal

REG Code: RCTD-PNJR-0094-25

**Attaurrahman Arian[1*],**
General, Pharmacy Faculty,
Kandahar University, Afghanistan
attaurrahmanarian@gmail.com

**Mohebullah Mako[2]**
Public Health, Curative Medicine
Faculty, Kandahar University,
Afghanistan

**سریزه:**

په روغتیایي برخه کي د نسخې پرته د درملو ا خیستل چې ځاني درملنه هم بلل کیږي د روغتیا یي متخصص سره د مشورې څخه پرته د ناروغۍ لپاره درمل اخیستلو ته وایي. دا ستونزه نه یوازي دا نه چې د درملو د ناسم استعمال سبب کیږي، بلکي د خلکو پر روغتیا مخامخ ناوړه اغیزې لري چې دا کار د انټي بیوټیک د ناسم استعمال له کبله د میکروب مقاومت(AMR) زیاتوي، چې دا د ټولې نړۍ لپاره جدي ګواښ دی(Ventola, 2015). د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) د نسخې پرته درملنه هغه حالت ګڼي چې شخص د تشخیص، تجویز یا درملنې لپاره په خپل ځان تکیه کوي( WHO, 2000). په نړیواله کچه د نسخې پرته د درملو استعمال ورځ تر بلې ډیریږي او کچه یې د ۳۲٪ څخه تر ۸۱٪ پورې ده(Jerez- Roig, 2014). په ۲۰۲۵ کال کي ۴۳٪ لویانو لږ تر لږه یو ځل پرته له نسخې د درملو استعمال تجربه کړي دي (Gashaw et al. 2025).

په ۲۰۲۲ کال کي د COVID_19 د وبا پر مهال ترسره سوې ده ، ښیي چې شاوخوا ۴۸,۶٪ خلکو پرته له نسخې درمل کارولي دي او دا شمیر په مختلیفو سیمو کي توپیر لري ، چې تر ټولو لوړه کچه یې په اسیا کي ده ۵۳٪ خلکو یې پرته له نسخې درمل استعمال کړي دي او ترټولو ټیټه کچه یې په اروپا کي ثبت سوې ده چې ۴۰،۸٪ خلکو یې پرته له نسخې درمل اخیستي دي او تر ټولو زیات پرته له نسخې درمل د زده کوونکو (زده کړیالانو) له لوري کار سوي دي چې ۵۴,۵٪ دي. او د نسخې پرته د درملو ډیره ټیټه فیصدي د صحي کارکوونکو وه چې ۳۲,۵٪ د نسخې پرته درمل یې کار کړي وه. ( Habib Khan, et al,. 2022) دا ستونزه په هغو هیوادونو کي ډیره لیدل کیږي چې صحي خدمات یې محدود وي (Ocan et al. 2015). په جنوبي اسیا کي لکه هندوستان ، پاکستان او افغانستان په دې هیوادونو کي درملو ته لاسرسی آسانه دی او قوانین پکښې نه بلي کیږي نو په همدې خاطر دا ستونزه نوره هم پراخه سوې ده( Saeed et al, 2012). په افغانستان کي خلک له ډاکټره سره د محدودي مشورې، اقتصادي ، او کلتوري ستونزو له امله ډیر وخت درمل پرته له نسخې څخه اخلي. په یوې څېړنه کي چې په کابل کي سوې ده ، شاوخوا ۶۰٪ ګډونوالو ویلي چې دوی درمل پرته له نیخې اخلي، نوموړې څېړنه دا ښیي چې انټي بیوټیکونه او د درد ضد درمل پکښې زیات کارول سوي دي(Rahimi et al , 2021).

په کندهار ښار کي د روغتیا یي سیستم نمګړتیاوي، دفقر کچه، د عامه پوهاوي نشتون، او د درملو دبازار نه تنظیمدل د دې سبب سوي چې خلک پرته د ډاکټر له مشورې څخه درمل واخلي. دا ستونزه جدي ده چې زیاتره خلک د انټي بیوټیکونو، درد کموونکو ، یا زکام ضد درملو غلط استعمال کوي، چې له دې کبله د درملو پر وړاندي مقاومت، حساسیت،او یا زهرجني اغیزي رامنځته کیږي(Bennadi, 2014; Ventola, 2015). درملتونونه ډیر وخت دنسخې پرته درمل ورکوي ، پرته له دې چې د ناروغ عمر،وزن یا حساسیت ته پاملرنه وسي. دا کړنه نه یوازي روغتیاته خطرناکه ده ، بلکي د ټولنیزو مصارفو زیاتوالی، د ناروغیو د اوږدېدلو او د عامي روغتیا د خرابوالي سبب کیږي( Hughes et al. 2001). په نړۍ کي پرته له نسخې د درملو د کارونې کچه د هیوادونو ترمنځ توپیر لري، دبیلګې په توګه: په سویډن، جرمني، او انګلستان کي پرته له نسخې د درملو پلورل محدود دي او د قانون له مخې یوازي دساده درملو (لکه پارسټامول یا انټي اسیډ)اجازه سته، دا هم د خاصو پلورنځیو یا درملتونونو څخه . برعکس په نایجریا ، هندوستان، بنګله دیش، او افغانستان کي خلک هرډول درمل لکه انټي بیوټیک، سټیروئیډونه، او حتا رواني درمل پرته له نسخې اخیسلای سي(Bennadi, 2014) په افغانستان کي د WHO را پور ښیي چې شاوخوا ۶۰٪ کلیوالو خلکو ته لومړني

روغتیایي خدمات نه رسیږي ، او دا د دې سبب کیږي چې خلک پرته له نسخې درمل رانسي(WHO,2022). سربیره پردې په تیرو څو کلونو کې د انټرنیټ او ټولنیزو رسنیو پراخ لاسرسي د درملو د ځانګړې استعمال کچه نوره هم لوړه کړې ده. ډیر خلک په ځانګړې ډول ځوانان ، د ګوګل ، فیسبوک، یا یوټیوب له لارې د نارغیو تشخیص کوي او درمل غوره کوي، چې دا کړنه ډیر وخت ناسمه او خطر ناکه وي . څرنګه چې د نسخې پرته د درملو کارول یوه جدی ستونزه ده ، زمونږ په هیواد کې او د کندهار په ښار کې دا‌ډول څیړنې ډیر لږ تر سره سویدي نو اړینه مو وبلل چې پدې برخه کې یوه څیړنه ترسره کړو ترڅو دنسخې پرته د درملو د کاروني کچه ، اغیز لرونکي عوامل (اقتصادي، ټولنیز، تعلیمي، کلتوري او تعلیمي) او د خلکو د پوهاوي کچه معلومه کړو.

**میتودلوژي / د څېړنې تګلاره:**


دا څیړنهیو تشریحي مقطعي (descriptive cross-sectional)څیړنه ده, چې موخه یې د نسخې پرته د درملو کاروني کچه،لاملونه، روغتیایي پایلې او د خلکو د پوهې او چلند ارزونه ده. دا‌ډول څیړنه د یو ټاکلي وخت لپاره د یوې ټولنیزې روغتیایي ستونزې د ارزیابۍ لپاره غوره بلل کیږي. دا څیړنه د ۲۰۲۵ کال د جون میاشتې د ۱۰ مې نیټې څخه تر د اګسټ میاشتې تر ۲۶ مې پورې د افغانستان د کندهار ولایت د ښار په ۱۲مختلیفو ناحیو کې ترسره سوه، چې درملتونونه ، کلینکونه ، بازارونه،او استوګنیزې سیمې په کښې شاملې وې. هغه خلک چې عمر یې ۱۸ کاله یا زیاته وي، د کندهار ښار اوسدونکي دي ، او په تیرو دریو میاشتو کې یې درمل پرته له نسخې اخیستي وه یا کارولي وه د دې د څیړنې د هدف وړ ټولنه وه. نمونه د Cochran ( $n_0 = (Z^2 \times p \times q) / e^2$ ) فورمولې په کارولو محسابه شوه چې په هغه کې د نفوس، تمه شوې خپرښت کچه ۵۰٪، د ډاډ کچه (confidence level) او ۹۵٪، او د خطا حد (margin of error) ۰,۰۵٪ په غوره کولو سره د ۶۰۰'۰۰۰ وګړو لپاره ۳۸۴ وټاکل شوه. . د څیړنې ګډونوال د کندهار ښار د ۱۵ ناحیو څخه داسې انتخاب سوه چې لومړۍ دښار ۵ ناحیې په تصادفي ډول را جلا سوې وروسته بیا په هره ناحیه کې په درملتونونو کې د مرا جعینو څخه د یو معیاري پوښتنپاڼې له مخې معلومات را ټول سوي دي. یادونه باید وکړو چې د ټاکل سوو ناحیو په ټولو درملتونونو کې د مرا جعینو څخه د کتنې پر مهال پوښتنلیکونه ډک سوی دی. څرنګه چې د یادو ناحیو څخه زمونږ د څیړنې نمونه نه ترلاسه کیدل نو ځکه مو د ښار نورې ناحیې هم ورسره و کتلې. د څیړنې د ترسره کولو وړاندې د کندهار پوهنتون د څیړنې دکمیټې څخه اجازه لیک تر لاسه سو، او د څیړنې برخه والو څخه تر پوښتنپاڼې ډکولو مخکې د هغوی اګاهانه رضایت ترلاسه او ارقام مو د یو معیاري پوښتنپاڼې په مرسته د ۴۰۱ کسانو څخه را ټول کړل. پوښتنپاڼې پنځه برخې درلودې: چې لومړنۍ برخه یې ډیمو ګرافیک معلومات ، دوهمه برخه د نسخې پرته د درملو د کاروني او رانیولو تجربې، دریمه برخه د نسخې پرته د درملنې لاملونه، څلورمه برخه د نسخې پرته د درملو د ا خیستلو د خطرونو او پوهاوي اړوند برخه او پنځمه برخه د نسخې پرته درملو په اړه سپارښتنو اړوند وه. راټول شوي معلومات د univariate ، bivariate او multivariateپه بڼه تحلیل سوي دي.

**موندنې:**

دې څېړنې وموندله چې د ۴۰۱ کسانو د جملې څخه يې ۳۷۱ (۹۳٪) نارینه او ۳۰ (۷٪) ښځینه ول، ۱۶۷ کسانو يې هیڅ تعلیم نه درلود، په داسي حال کي چې ۱۱۱ کسانو ابتدايي، ۷۱ کسانو ثانوي ،او ۵۱ يې لوړي زده کړي درلودې. د ۴۰۱ کسانو د جملې څخه ۳۱۴ په ښار او ۸۷ په اطرافو کي اوسیدل. ۱۰۳ کسانو دفتری وظایف درلودل او ۲۹۸ کسانو نوري مختلفې غیر دفتري وظیفې در لودې. په دې څېړنه کې د ګډونوالو د عمر اوسط ۳۴,۵۲ ± ۱۲,۲۶وو. چې تر ټولو زیات يې د ۱۸-۲۰ (۷۱,۶٪) کلنی عمرونه درلودل ، ورپسی د ۴۰-۶۰ (۲۲,۷٪)کلنو تر منځ عمرونه لرل او پاته ۵,۷٪ يې تر ۶۰ کالو لوړ وو. (لمرنی جدول)

**1جدول** : *دیموګرافیک ځانګړتیاوي*

| متغیرونه | | فریکوینسي او فیصدی |
|---|---|---|
| **جنس** | نارینه | ۳۷۱ (۹۳) |
| | ښځینه | ۳۰ (۷) |
| **تعلیم کچه** | هیڅ تعلیم نه لري | ۱۶۷ (۴۱,۶) |
| | ابتدایی تعلیم | ۱۱۱ (۲۷,۷) |
| | ثانوی تعلیم | ۷۱ (۱۷,۷) |
| | لوړی زده کړي | ۵۲ (۱۳) |
| **استوګنه** | ښار | ۳۱۴ (۷۸,۳) |
| | اطراف | ۸۷ (۲۱,۷) |
| **وظیفه** | رسمي وظایف | ۱۰۳ (۲۵,۷) |
| | غیر رسمي | ۲۹۸ (۷۴,۳) |




***شکل 2:*** *د نخسی او پرته دنخسی د درمل کارونکی فیصدی*

۲۸٦ (٪۷۱) کسانو پرته د نسخی او ۱۱۵ (٪۲۹) کسانو د نخسي مطابق درمل کارول چی دا یو زمونږ د اساسی موخو څخه شمیرل کیږی.

په دوهم جدول کي چې ښودل سوي دي؛ په تیرو درو میاشتو کي د ۴۰۱ کسانو د جملې څخه ۴۸ یوځل، ۱۴۱ کله کله، ۹٦ ډیر ځله او ۱۱٦ هیڅ درمل نه دي کار کړي.د ۴۰۱ کسانو د جملې څخه ۳۷۱ نارینه او ۳۰ ښځینه ول، د ۴۰۱ کسانو د جملی څخه ۳۱۴ د ښار او ۸۷ د اطرافو وو. هغه درمل چې خپل سري ډول رانیول سوي وو، ۷۲ یې پرستامول، ٦ اسپرین، ۱۷ انټی بیوټیک، ۱ د ټوخی شربت ۱۸۹ د یو ډول څخه ډیر درمل او ۱۱٦ د نسخې پرته هیڅ درمل نه دي کار کړي . هغه ستونزي چی دوی یې د حل لپاره خپل سري درمل رانیول ۲۲ د سر درد لپاره، ۸ تبی لپاره، ٦ یخ لپاره، ۲۰ معدې لپاره، ۲۱۷ د یو څخه ډیرو شکایتونو لپاره او ۱۱٦ د هیڅ عرض لپاره پخپل سر درمل ندي اخیستي.

***۲جدول:*** *د نسخې پرته د درملو دکارونې او رانیولو تجربیې*

| متغیرونه | فریکوینسي او فیصدي | |
|---|---|---|
| **پرته له نسخی د درملو استعمال** | هو | ۲۸۵ (۷۱,۱) |
| | یا | ۱۱٦ (۲۸,۹) |
| **په تیرو ۳ میاشتو کي د درمل د رانیولی دفعات** | یو ځل | ۴۸ (۱۲) |
| | کله کله | ۱۴۱ (۳۵,۲) |
| | ډیر ځله | ۹٦ (۲۳,۹) |
| | هیڅ نه | ۱۱٦ (۲۸,۹) |
| **د هغه درملو ډولونه چې په تیرو ۳ میاشتو کي بپرته له نسخې څخه استعمال سوي دي.** | پرستامول | ۷۲ (۱۸) |
| | اسپرین | ٦ (۱,۵) |
| | انټی بیوټیک | ۱۷ (۴,۲) |
| | د ټوخی شربت | ۱ (۰,۲) |
| | د یو څخه زیات ډولونه | ۱۸۹ (۴۷,۱) |
| | هیڅ یو | ۱۱٦ (۲۸,۹) |
| **هغه اعراض چې د هغوی لپاره درمل اخستل کیده** | سر درد | ۲۲ (۵,۵) |
| | تبه | ۸ (۲) |

| | |
|---|---|
| یخ | (۱,۵) ٦ |
| درد | (۳) ۱۲ |
| معدی ستونزه | ۲۰ (۵,۴) |
| د یوڅخه زیات اعراض | (۵۴,۱) ۲۱۷ |
| هیڅ یو | (۲۸,۹) ۱۱٦ |

په دریم جدول کي چې ښودل سوي: د ۲۸۴کسانو د ډلې څخه هغه دلایل چې دوی خودسرانه درمل اخستی ۲۲ د وخت د سپما په خاطر، ۷۴ د ډاکتر د لوړ فیس په خاطر، ۳۵ د ناروغی د کوچینوالی په خاطر، ۵۵ دتجربې له مخې، ۱۷ د درملتون دکارمندانو په مشوره، ۸۲ د یو څخه زیات لاملو له امله خپل سري درمل رانیولي دي. د ۲۸۰ د دواخانې څخه، ۲ د ملګرو څخه ، ۲ د کورنۍ څخه، او یو کس ۱ د انټرنیټ څخه درمل ترلاسه کړي دي.

**3جدول:** *دنسخې پرته د درملنې لاملونه*

| **متغیرونه** | **فریکوینسي او فیصدي** | |
|---|---|---|
| **هغه دلایل چې د هغوی لپاره درمل اخستل کیده** | | |
| **د وخت سپما** | (۵,۵) ۲۲ | |
| **لوړ د ډاکتر فیس** | (۱۸,۵) ۷۴ | |
| **ناروغی کوچني والی** | (۸,۷) ۳۵ | |
| **تجربه** | (۱۳,۷) ۵۵ | |
| **دواخانی والا مشوره** | (۴,۲) ۱۷ | |
| **د یو څخه زیات دلایل** | (۲۰,۴) ۸۲ | |
| **هیڅ یو** | (۲۸,۹) | |
| **د رمل اخستلو سرچینه** | درملتونونه | (٦۹,۸,٦) ۲۸۰ |
| | ملګري | (۰,۵) ۲ |
| | کورنۍ | (۰,۵) ۲ |
| | انټرنیټ | (۰,۲) ۱ |
| | هیڅ یو | (۲۸,۹) ۱۱٦ |

په څلورم جدول کي چې ښودل سوي دي؛ د ۴۰۱ کسانو له ډلې څخه د ګډونوالو نظر چې ایا درمل باید یوازي د نسخې له لارې ورکول سي ؟۳۹۱ د هو او ۱۰ یې د نه نظر درلود. ددې پوښتني په ځواب کي چې ایا د خپل سري درملو د تاوانو څخه خبر یاست؟ ۲۱۱ یې د هو او ۱۹۰ یې د نه جواب درلود. د ددې پوښتني په ځواب کي چې ایا یو وخت هم د خپل سري درملو د استعمال څخه کومه ستونزه در ته پیدا سوې ده؟ ۱۳۶ د هو او ۲۵۶ یې د نه ځواب درلود. ددې پوښتني په ځواب کي چې د خپل سري درملو د استعمال له امله کوم ډول ستونزي درته پیدا سوي ډي؟ ۸۸ پیدا سوي، خو یاد مي نه دي ، ۵ د حساسیت، ۱۲ د معدې ستونزي، ۵ د عصبي ستونزو، ۲۶ نور او ۲۶۵ د هیڅ ډول ستونزي شکایت نه درلود. ددې پوښتني په ځواب کي چې ستاسو په نظر ایا د خپل سري درملو استعمال خوندي دی؟ ۳۴ یې د هو او ۳۵۵ یې د نه او ۱۲ یې د نه پوهیږم ځواب درلود.

**4جدول:** *د یې نسخې درملو اړوند پوهاوی*

| متغیرونه | فریکوینسی او فیصدي | |
|---|---|---|
| **ایا یو وخت هم د خپل سري درملو د استعمال څخه کوم مشکل در پیدا کړی دی؟** | هو | ۱۳۶ (۳۳,۹) |
| | یا | ۲۶۵ (٦٦,۱) |
| **ایا د خودسرانه دواوو د تاوانو څخه خبر یاست؟** | هو | ۲۱۱ (۵۲,٦) |
| | یا | ۱۹۰ (۴۷,۴) |
| **د خود خپل سري درملو استعمال کوم ډول ستونزي درته پیدا کړي دي؟** | پیدا سوی، خو یاد مي نه دی | ۸۸ (۲۱,۹) |
| | حساسیت | ۵ (۱,۲) |
| | د معدي ستونزي (۳) | ۱۲ |
| | عصبي | ۵ (۱,۲) |
| | نور | ۲٦ (٦,۵) |
| | هیڅ یو | ۲٦۵ (٦٦,۱) |
| **ستاسو په نظر ایا د خپل سري درملو استعمال خوندي دی؟** | هو | ۳۴ (۸,۵) |
| | یا | ۳۵۵ (۸۸,۵) |
| | نه پوهیږم | ۱۲ (۳) |

په پنځم جدول کي چې ښودل سوي دي؛ د ۴۰۱ کسانو د جملې څخه ددي پوښتني په ځواب کي چې د خپل سري درملو داستعمال په اړه ستاسو نظر څه دی؟۳٦۱ ګډونوالو ځواب یئ داوو چې ښه نه دي، ۱۳ ځواب داوو چې ښه دي، ۲۱ ځواب د وو چې د غریبو خلکو لپاره ښه دي او ٦ نفرو ځواب دا وو چې غیر قانوني د.

*5جدول: د نسخې پرته د درملو په اړه سپارښتنې*

| متغیرونه | فریکوینسی او فیصدي | |
|---|---|---|
| **د ګډونوالو نظر چې ایا دوا باید یوازې په نسخه باندې ورکول سي؟** | هو | ۳۹۱ |
| | (۹۷,۵) | |
| | یا | ۱۰ |
| | (۲,۵) | |
| **د خپل سري درملو د استعمال ستاسو نظر څنګه دی؟** | ښه نه دی | ۳٦۱ |
| | (۹۰) | |
| | ښه دی | ۱۳ |
| | (۳,۲) | |
| | د غریبو خلکو لپاره ښه دی | ۲۱ |
| | (۵,۲) | |
| | غیر قانوني دی | (۱,۵)٦ |

د لاملونو څېړنې لپاره کای مربع ترسره شو او دا وموندل شوه چې د خپل سري درملو په کارونه کې پوهاوی، سرچینه، دلیل درلودل، داعراضو موجودیت او د د اوسیدو ځای معنا لرونکی تړاو درلود. چې په لاندې جدول (٦) کې وړاندې کیږي.

*6جدول: د احصایې له مخې ارزښتناک متغیرونه*

| وریبلونه | بغیر د نسخې د درملو استعمال | مجموعه | P - value |
|---|---|---|---|
| | هو (۲۸۵) یا (۱۱٦) | ۴۰۱ | |
| **د خپل سري درمل کارونې څخه اګاهی تیر ۳ میاشتو کې** | | | ۰,۰۰۳ |
| هو | ۱۳۸ ۷۳ | ۲۱۱ | |
| نه | ۱۴۷ ۴۳ | ۱۹۰ | |
| **د خود سرانه دواوو اخستنې سرچینه تیر ۳ میاشتو کې** | | | ۰,۰۰۰ |
| درملتون | ۲۷۳ ۷ | ۲۸۰ | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| له درملتونه ماسوا | ۱۲ | ۱۰۹ | ۱۲۱ |
| **د دلیل درلودل چې له املې یې خودسرانه دواوی اخلی تیر ۳ میاشتو کې** | | | ۰,۰۰۰ |
| دلیل لري | ۲۸۴ | ۱ | ۲۸۵ |
| دلیل نه لري | ۱ | ۱۱۵ | ۱۱۶ |
| **د اعراضو موجودیت چې له املې یې یو څوک خودسرانه دواوی اخلی تیر ۳ میاشتو کې** | | | ۰,۰۰۰ |
| اعراض لري | ۲۸۴ | ۱ | ۲۸۵ |
| اعراض نه لري | ۱ | ۱۱۵ | ۱۱۶ |
| **د اوسیدو ځای** | | | ۰,۰۴۵ |
| ښار | ۲۳۱ | ۸۳ | ۳۱۴ |
| صحرا | ۵۴ | ۳۳ | ۸۷ |

**مناقشه**

زمونږ څېړنه دا ښيي چې ۷۱،۱٪ ګډونوال خپل سري درمل کاروي. دا کچه په کابل ښار کې په یوه ترسره سوې څېړنه کې تر ۶۰٪ لږ وه(Rahimi et al., 2021)، سره ورته ده. د بیلګې په توګه یوه سیستماتیکه څېړه ښيي چې د خپل سري درملنې کچه د نړۍ په سطحه په بیلا بیلو هیوادونو کې د ۳۲٪ څخه تر ۸۱٪ پورې ده(Jerez_Roig et al., 2014). همدارنګه په هند کې یوه ترسره سوې څېړنه ښيي چې شاوخوا ۷۰٪ خلک خپل سري درمل کاروي( Gupta et al., 2020). نږدې نیمایي ګډونوال چې ۴۷.۴٪ کیږي د ځاني درملنې د له زیانونو څخه نا خبر وه. په نایجریا کې هم یوه تر سره سوې څېړنه ورته پایلې ښيي چې، چې زیات شمیرخلک یې د درملو د منفي عوارضو څخه خبر نه وه( Auta et al., 2012). سره له دې چې زمونږ د څېړنې ۹۰٪ ګډونوال خپل سري درملنه ښه نه ګڼي، او د دې کار جدي مخالفت کوي خو د ځینو اړینو ستونزو له کبله دې کار ته مجبوریت ښه یې. زمونږ څېړنه دا هم ښيي چې ۶۹،۸٪ ګډونوالو درمل د درملتون څخه اخیستې دي، ۰،۵٪ له ملګرو، ۰،۵٪ د کورنۍ له غړو او ۰،۲٪ د انټرنیټ له لارې ترلاسه کړې دي. خو د نایجریا په هیواد کې یوه څېړنه چې په ۲۰۲۱ کال کې ترسره سوې ده. دا ښيي چې ۵۹.۴٪ ګډونوالو یې درمل د community pharmacy څخه تر لاسه کړې وه، په داسې حال کې چې ۲۴،۵٪ یې د proprietory/ patent, medicine vendors یوازې ۱۰،۱٪ یې له دوستانو او کورنیو څخه درمل تر لاسه کړې وه(Akande-sholabi et al., 2021) چې دا کیدلی شي دلته د ټولنې پّ کچه د لاسرسي لږوالي له املې وي او یادو هیوادونو کې د ټولنې په کچې لاسرسي ښه والي له املې وي. هغه لاملونه چې خلک خپل سري درمل کارونې ته هڅوي عبارت دي له ۱۸،۵٪ د داکټر د فیس لوړوالی، ۸،۷٪ د نارغې کو چنیوالی، او ۵،۵٪ د وخت سپما ده ، د پورته لاملونو له کبله خلک پرته له نسخې درمل اخلي چې د نورو څېړنو سره اړخ لګوي .(Rathod et al., 2023)

زمونږ موندنې ښيي چې ۵،۵٪ ګډونوالو د درد لپاره، ۲٪ د تبې لپاره، ۱،۵٪ د یخ لپاره، ۳٪ د درد لپاره، ۵،۴٪ د معدې د ستونزو لپاره، او ۵۴،۱٪ ګډونوالو د یوځخه د زیاتو ستونزو لپاره د نسخې پرته درمل کار کړي دي، چې په انفرادي ډول پکښې تر ټولو زیات د سردرد او معدې د ستونزو لپاره کارسوي دي. دا هم د نورو څېړنو سره ورته موندنې دي. (Rathod et al., 2023). دهغو درملو ډولونه چې په خپل سري ډول کار یدلي دي د څېړني موندنې ښيي چې پرستامول ۱۸٪، اسپرین ۱،۵٪ ، انټي بیوټیک ۴،۲٪، د ټوخي شربت ۰،۲٪،او همدارنګه ۴۷،۱٪ ګډونوالو له یو څخه زیات درمل کار کړي دي، نو ددې موندنو څخه اوس دا معلومیږي چې په انفرادي ډول تر ټولو زیات درمل پرستامول او انټي بیوټیک دي.

لکه هند کي یې چې موندلي وو چې ٦٦،۲۵٪ استعمال سوي درمل analgesics او ۵۹،۱٦٪ antipyretics وو. (Rathod et al., 2023).

موندنې دا هم ښيي چې په تیرو دریو میاشتوکي ۳۵،۲٪ ګډونوالو کله کله، ۲۳،۹٪ ډیر ځله، ۱۲٪ یوځل او ۲۸،۹٪ هیڅلکه بې نسخې درمل ندي کارولي چې دا موندنې د نورو څېړنو سره په توپیر کې دي (Zafa et al.,2008) چې ښایي د محصیلینو رشته په دې موندنو تاثیر ولري.

**پایله:**

د دې د څېړني د موندنو له مخې ؛ د نسخې پرته یا خپل سري درمل کارونه کې د درملو اړوند پوهاوی، سرچینه، شته ستونزې، داعراضو موجودیت او د د اوسیدو ځای یعني ښاري ژوند معنا لرونکی ټراو درلود. د درملتونونه څخه د نسخې پرته د درمل پلورلو، د ډاکټر فیس، د پراستامول او انټی بیوټیکونه د ډیرو کاریدونو په کتار کې وو او د سردرد او د معدې ستونزو درمل ډیر کارولي وو.

**وړاندیزونه:**

نو ددې لپاره چې د بې نخسو درملو د کارولو کچه راکښته کړو سپارښتنه کیږي چې د خلکو د پوهاوی لپاره بیلابیل د پوهاوي پروګرامونه جوړ سي. درملتونونه د نخسي پرته درمل ونه پلوري، د سرددردی او د معدې د ستونزو لپاره اصلی لامل پیداکړل سي، د انټی بیوټیکو سره د مقاومت په موضوع باندی د درملتونونو کارمندان پوه کړل سي.

## منابع او ماخذ

Auta, A., Banwat, S. B., Sariem, C. N., Shalkur, D., Nasara, B., & Atuluku, M. O. (2012). Medicines in pharmacy students' residence and self-medication practices. *Journal of Young Pharmacists*, *4*(2), 119–123. https://doi.org/10.4103/0975-1483.96627,

Bennadi, D. (2014). Self-medication: A current challenge. *Journal of Basic and Clinical Pharmacy*, *5*(1). https://doi.org/10.4103/0976-0105.128253

Rathod, P., Sharma, S., Ukey, U., Sonpimpale, B., Ughade, S., Narlawar, U., Gaikwad, S., Nair, P., Masram, P., & Pandey, S. (2023). Prevalence, Pattern, and Reasons for Self-Medication: A Community-Based Cross-Sectional Study From Central India. *Cureus*. https://doi.org/10.7759/cureus.33917

Eysenbach G. (2008). Consumer health informatics. BMJ, 317(7171), 517–520. https://doi.org/10.1136/bmj.317.7171.517

Gashaw, T., Sisay, M., Mengistu, G., & Amare, F. (2025). Self-medication practice and associated factors: A systematic review. Journal of Global Health Reports, 9, Article e202509.

Gupta, P., Rani, P., & Lal, V. (2020). Self-medication practices among residents of urban and rural India. Asian Journal of Pharmaceutical and Clinical Research, 13(6), 45–48.

Hughes, C. M., McElnay, J. C., & Fleming, G. F. (2001). Benefits and risks of self-medication. Drug Safety, 24(14), 1027–1037. https://doi.org/10.2165/00002018-200124140-00002

Iqbal, Q., Rahman, H., & Haider, S. (2020). Pharmacy practice without license: A threat to healthcare. Pakistan Journal of Pharmaceutical Sciences, 33(4), 1835–1839.

Jerez-Roig, J., et al. (2014). Prevalence of self-medication and associated factors in older adults. Revista de Saúde Pública, 48(4), 1–9. https://doi.org/10.1590/S0034-8910.2014048005023

Ocan, M., Obuku, E. A., Bwanga, F., Akena, D., Richard, S., Ogwal-Okeng, J., & Obua, C. (2015). Household antimicrobial self-medication: A systematic review and meta-analysis of the burden, risk factors and outcomes in developing countries. BMC Public Health, 15, 742. https://doi.org/10.1186/s12889-015-2109-3

Rahimi, A., Sadat, S. M., & Ahmad, A. (2021). Self-medication practices in Kabul: A cross-sectional study. Afghan Journal of Public Health, 3(2), 77–83.

Saeed, M. S., Ibrahim, M. I. M., & Moghadam, Z. (2012). Knowledge, attitude and practice of self-medication among medical students. Saudi Pharmaceutical Journal, 20(2), 135–139. https://doi.org/10.1016/j.jsps.2011.11.005

Ventola, C. L. (2015). The antibiotic resistance crisis: Part 1: Causes and threats. Pharmacy and Therapeutics, 40(4), 277–283.

WHO. (2000). Guidelines for the regulatory assessment of medicinal products for use in self-medication. World Health Organization. https://apps.who.int/iris/handle/10665/66154

Habib Khan, Y., Kanchanasurakit, S., Gumaa, M., & Lotfalizadeh, M. H. (n.d.). *Prevalence of self-medication during COVID-19 pandemic: A systematic review and meta-analysis*.

Rahimisadegh, R., Sharifi, N., Jahromi, V. K., Zahedi, R., Rostayee, Z., & Asadi, R. (2022). Self-medication practices and their characteristics among Iranian university students. *BMC Pharmacology and Toxicology*, *23*(1). https://doi.org/10.1186/s40360-022-00602-5

# د درملو خپلسرې کارونې زیانونو په هکله د خلکو په پوهاوې کې درسنیو د ونډې ارزونه: د ژورنالېستانو له لیدلوري

MARJ
ملي
علمي-څېړنیز ژورنال
REG Code: RCTD-PNJR-0094-25

**یحیی یعقوبي**[*1]
ژورنالیزم دیپارتمنت، د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی، لغمان پوهنتون، افغانستان
yahya.yaqubi@gmail.com

**عبدالمنان ساپی**[۲]
مطبوعاتو دیپارتمنت، د ژورنالیزم پوهنځی، د ننګرهار پوهنتون، افغانستان

**لنډیز**

په افغانستان کې د درملو خپلسرې کارونه یوه جدي او پراخه روغتیایي ستونزه ده چې د خلکو د ټیټې کچې پوهاوي، بې‌وزلۍ او روغتیایي خدمتونو ته د محدود لاسرسي له امله لا هم په ځانګړې ډول په کلیوالو او لیرې پرتو سیمو کې دوام لري. دا اټکل شوی وو چې رسنۍ، په ځانګړې ډول راډیو، د عامه پوهاوي په لوړولو او د درملو د خپلسرې کارونې په کمولو کې مهم رول لري. دا څېړنه د ژورنالېستانو له لیدلوري د رسنیو د ونډې او اغېزمنتیا د ارزونې په موخه ترسره شوې ده چې څرګنده شي چې د عامه پوهاوي د لوړولو په برخه کې کومې رسنۍ ډېر اغېز لري او کوم ډول برنامې مؤثرې ګڼل کېږي. دا یوه توصیفي-تحلیلي ګډه (Mixed Method) څېړنه وه، چې په کې د کمیتي تحلیل لپاره SPSS او د کیفي برخې لپاره د موضوعي تحلیل طریقه کارول شوې ده. څېړنه د ۱۰۲ ژورنالېستانو څخه د نظرونو پر راټولولو ولاړه وه، چې بېلابېلې کاري تجربې یې درلودې او له بېلابېلو رسنیو سره ترلې وو. د موندنو له مخې، راډیو د خلکو د پوهاوي د لوړولو لپاره تر ټولو اغېزمنه رسنۍ بلل شوې، ځکه ډېرې خلک په لیرې پرتو سیمو کې یوازې راډیو ته لاسرسی لري. ژورنالېستان باور لري چې له ډاکټرانو سره مرکې، روغتیایي مشورې او د ژوند واقعي کیسې هغه برنامې دي چې د خلکو پر انګېرنه او چلند مثبت اغېز کولی شي. د دوی په اند، د دغو برنامو دوام، سیمه‌ییزه لهجه او ساده ژبه د لا اغېز لپاره خورا اړینه ده.

**کلیدي کلمې: خپل سرې درملنه، خطرونه، ژورنالېستان، پوهاوی، رسنۍ.**

# Evaluating the Role of Media in Public Awareness on Harms of Self-Medication: From the Perspective of Journalists

**Abstract**

Self-medication is a serious and widespread public health issue in Afghanistan, particularly prevalent in rural and remote areas due to low levels of public awareness, poverty, and limited access to healthcare services. It was hypothesized that the media, especially radio, plays an important role in raising public awareness and reducing the practice of self-medication. This study aimed to assess the role and effectiveness of the media from the perspective of journalists, to identify which media platforms have the greatest impact on public awareness and which types of programs are perceived as most effective. A mixed-method descriptive–analytical approach was employed. IBM SPSS Statitics were used for quantitative analysis and thematic analysis were used for qualitative interpretation. The research was based on a survey of 102 journalists with varying levels of work experience from different media outlets. The findings revealed that radio is considered the most effective medium for increasing public awareness about the risks of self-medication, as it remains the only accessible platform for most people in remote areas. Journalists indicated that programs featuring interviews with doctors, health advice, and real-life stories are particularly effective in influencing public attitudes and behaviors. They further emphasized that for such programs to achieve sustained impact, information should be delivered in a simple, understandable language, using regional accents, and broadcast continuously.

**Keywords: Self-medication, Risks, Journalists, Awareness, Media.**

MARJ

Mili

Academic-Research Journal

**REG Code:** RCTD-PNJR-0094-25

**Yahya Yaqubi**[1*]
Journalism Department, Literature and Humanities, Laghman University, Afghanistan
yahya.yaqubi@gmail.com

**Abdulmanan Sapi**[2]
Press Department, Faculty of Journalism, Nangahar University, Afghanistan

**سریزه:**

په افغانستان کې، په ځانګړې ډول کلیوالي او لرو سیمو کې، د سواد ټیټه کچه، بې‌وزلي، د روغتیایي خدمتونو محدودیت، او تر یوه بریده بې‌غوري هغه عوامل دي چې خلک د ناروغتیا پر مهال ډاکټر ته له مراجعې او نسخې پرته، پخپلسر دارو درمل کاروي. ترسره شوې څېړنې ښیي چې، د ډاکټر له لارښوونې او نسخې پرته د درملو کارول ممکن د انسان روغتیا ته نه جبرانېدونکي زیانونه واړوي. ډېر خلک چې د ډاکټر له مشورې او د خپلې ناروغۍ له تشخیص پرته درمل کاروي، نو د سختو جانبي عوارضو او د ناروغۍ د دوامداره کېدو لامل ګرځي (James et al, 2010). پخپلسرې توګه د درملو کارونې له امله د جدي روغتیایي ستونزو پیدا کېدلو یو لامل دا وي چې ناروغ د درمل د دوز او مقدار په اړه معلومات نه لري، او دا چاره د معدې، پښتورګو او حتی قلبي ناروغیو د پیدا کېدو سبب ګرځي ( Smith & Lee, 2011). سربېره پره دې، د بې نسخې داروګانو په ځانګړې ډول انټي بایټیکونو خوړل د مېکروبي مقاومت لامل ګرځي (Williams et al.2024).

د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) یوه څېړنه ښیي چې د نړۍ په کچه له ۶۰ څخه تر ۷۰ سلنه وګړي اوس هم د ناروغۍ پر مهال ډاکټر ته مراجعه نه کوي او د انټي بایوټیک په ګډون مختلف ډول درمل پخپلسر کاروي (Boniol, M et al., 2019). د دغه راپور پر بنسټ، دغه دود په اسیایي هېوادونو کې د نورو هېوادونو په پرتله نسبتا عام دی (Igboell & Uzochukwu, 2023). په افغانستان کې پخپلسري ډول د درملو کارونې په تړاو یوه څېړنه (احمد او همکاران، ۲۰۱۹) ښیي چې اقتصادي ستونزې، ډاکټر ته د مراجعې وخت نه لرل، د روغتیایي خدمتونو محدودیت او د ډاکټر له نسخې پرته په درملتونونو کې درملو ته اسان لاسرسی په خلکو کې د خپلسرې توګه د درملو کارونې اساسي لاملونه دي.

د یادې ستونزې د حل لپاره مختلف روشونه کارول کېدای شي، خو د څېړنو له مخې یوه اغېزناکه تګلاره یې د رسنیو له لارې د عامه پوهاوي پروګرامونه دي؛ ځکه چې رسنۍ په یوه ټولنه کې نه یوازې له ورځنیو پېښو او مسایلو څخه د خلکو د خبرونې مسوولیت لري، بلکې په ډېرو مسایلو او حالاتو کې د مخاطبانو ښه مشاور هم کېدلای شي. کله چې د ټولنې خلکو د پوهې او معلوماتو کچه ټیټه وي، نو هر پیغام او وینا چې اوري، په ځانګړې توګه هغه پیغامونه چې په تکراري بڼه خپرېږي، نو پر ذهن او چلند یې ژور اغېز کوي (رحیل، ۱۴۰۱). په افغانستان کې، په ځانګړې ډول کلیوالي سیمو کې د سواد کچې ټیټوالي، د برېښنا اسانتیا نشتوالي له امله انټرنیټ رسنیو لکه ټلویزون ته او یا هم د انټرنېټي محدودیتونو له امله ډیجیټل پلټفارمونو (فېسبوک، ټویټر، یوټیوب...) ته د خلکو محدود لاسرسي له امله، راډیو تر ټولو باوري، عامه، او اغېزناکه وسیله ده چې شاوخوا ۶۹٪ کلیوالي اوسېدونکي په ورځني ډول ورځنې استفاده کوي( The Asia Foundation, 2018; Medialandscapes, 2025). د رسنیو پیغامونه -چې په مختلفو فارمټونو کې وړاندې کېږي- د مخاطبانو د افکارو او کړو وړو په بدلون کې رغنده رول لوبوي او د هغوی پر احساساتو او هیجاناتو د پام وړ اغېز کوي (Hasani, 2024). د راډیو له لارې د عامه خدمتونو اعلانات (Public Service Announcements PSA) چې د مخاطبانو د پوهې کچې، ژبې او لحجې او اړتیاوو ته په پام سره سره ډیزاین شوي وي، د درملو د ناوړه استعمال د کموالي په برخه کې اغېزناک دي(Palmgreen et al, 1998) . که څه هم د رسنیو له لارې ځینې روغتیایي خپرونې وړاندې کېږي، خو د ډېرو ژورنالېستانو په باور مشخصا د درملو منطقي کارونې او پخپلسرې توګه د استفادې د زیانونو اړوند، په ښلابېلو جوړښتونو کې د متنوع پروګرامونو کمښت هغه ستونزه ده چې پاملرنه ورته نه ده شوې. له همدې امله،

اړتیا ده چې په دې برخه کې د رسنیو او ژورنالېستانو لیدلوری وڅېړل شي، ترڅو څرګنده شي چې رسنۍ پخلپسري ډول د درملو کارونې زیانونو په ټړاو د خلکو پوهاوي کې څه نقش لري او ولې دې موضوع ته د رسنیو لخوا په دوامداره توګه پاملرنه نه کېږي (Skuse, 2002) . د رسنیو له لارې، د خلکو د پوهاوي پیغامونه او اعلانات باید په ټولنه کې د شته ستونزو او عملي امکاناتو ته په پام سره تولید شي؛ ترڅو د خلکو پام جلب او د هغوی په چلند کې د بدلون سبب شي. هغه خدماتي اعلانات چې په خلکو کې د بدلون راوستلو او د خلکو د فکر او احساساتو د اغېزمنولو ځانګړنه ونلري، نو هدف ته رسېدل ناشونی کوي (Wakefield et al, 2010). . د اسلامي اخلاقو او د ځایي دودونو احترام د پیغام د باور او عملي کېدو لپاره حیاتي اهمیت لري(UNMAS Afghanistan, 2024, MMD, 2019) . په بېلابېلو ټیټ او منځني عاید لرونکو هېوادونو کې هم د راډیو له لارې د خلکو د پوهاوي پروګرامونو او عامه خدمتونو اعلاناتو (PSA)مثبت رول لیدل شوی دی. په تایلنډ کې، د راډیو له لارې پخپلسري ډول د درملو نه کارولو اعلاناتو څارنې ښودلې چې د ناروغتیا پر مهال ډاکټر ته د خلکو مراجعه ډېره شوې او له نسخې پرته درمل کارولو کې کمښت راغلی دی (Royal Thai Government, 2025). د افغانستان اوسنی رسنیز چاپېریال کې عصري او دودیزې رسنۍ فعالیت لري، چې په کلیوالي سیمو کې د راډیو کلتوري او ټولنیز ځای ځانګړی دی. د "Radio in a Box" پروژه د دې نمایندګي کوي چې څنګه د راډیو له لارې په کلیوالي او سیمه ییزو ټولنو کې د روغتیا اړوند پیغامونه، د عامه روغتیا د ودې لامل ګرځي (ReliefWeb, 2024). د «نوي کور، نوي ژوند» په څېر راډیویي ډرامې چې د روغتیا او نورو ټولنیزو مسایلو په اړه ځانګړي پیغامونه پکې وړاندې کېږي، پر خلکو د اغېز له پلوه د پام وړ نقش لوبوي ( Lewis & Booth, 1989; BBC Media Action, 2024).

دا چې زمونږ په هېواد او ټولنه کې خپلسري درمل کارولو ستونزه له پخوا راهیسې موجوده ده، د ډاکټر له مشورې او نسخې پرته، د درملو کارونې ناوړه چلند د مخنیوي لپاره د رسنیو موثریت تر ډېره دې پورې تړلی چې د چلند بدلون تیوري (Behavior Change Theory) پر بنسټ محتوا (خپرونې، خبرتیاوې، ډرامې...) تولید شي؛ او د مخاطب جنسیت، عمر او سیمه ییز توپیرونه په پام کې ونیول شي(UNMAS Afghanistan, 2024) . د دې لپاره چې دغه ډول کمپاینونه لا موثر واوسي، نو باید په دومداره توګه څارنه او ارزونه یې وشي، ترڅو په وخت سره د ستونزو مخه ونیول شي او د لازمو اقداماتو تطبیق لپاره وړاندیزونه وشي (Palmgreen et all, 1998. Wekefield et al, 2010). دا چې په افغانستان کې د خلکو لخوا پخپلسري توګه د درملو کارولو دود نسبتا ډېر دی، او ژورنالېستان او رسنۍ په دې برخه کې ځانګړی نقش لري، نو د ژورنالېستانو له لیدلوري دې موضوع ته ځانګړې کتنه نه ده شوې، چې په دې څېړنه کې یاده موضوع له همدې زاویې څېړل شوې ده.

نو د دې څېړنې اهمیت په څو اړخونو کې مشخص کولی شو: لومړی، په افغانستان کې پخپلسري ډول د درملو نه کارونې مخنیوي کې د رسنیو نقش او موثریت نه دی ارزول شوی. دویم، دغه څېړنه رسنۍ او ژورنالېستان، هڅوي چې د خلکو لخوا پخپلسري ډول د درمل کارونې له امله ټوکېدونکو ستونزو ته جدي پاملرنه وکړي او د خپل ټولنیز مسوولیت له مخې، مخاطبانو ته په دوامداره توګه موثر او چلند بدلوونکي پیغامونه وړاندې کړي؛ او درېیم دا چې د دا ډول عامه ستونزو په مخنیوي کې د رسنیو او ژورنالېستانو مخې ته پرتې ننګونې برسېره کېږي.

د دې څېړنې اساسي موخه، د ژورنالېستانو له لیدلوري، د خلکو لخوا پخپلسر د درملو کارونې د زیانونو په ټړاو د رسنیو د نقش ارزونه ده؛ چې دا څرګنده شي چې دغه ډول محتویات د دوی د معلوماتو پر اساس د خلکو پر چلند څومره

اغېزه لري. او دې څېړنه کې به دې پوښتنو ته ځواب وویل شي چې د ژورنالېستانو له نظره، پخپلسري ډول د درملو نه کارونې په ټړاو د خلکو پوهاوي کې رسنۍ څه نقش او موثریت لري، د دې ستونزې د حل لپاره کومې رسنۍ ډېرې موثرې دي، او دا چې خلکو ته باید په دې برخه کې څه ډول منځپانګه او برنامې وړاندې شي.

**میتودلوژي / د څېړنې تګلاره:**

دا څېړنه تشریحي–توصیفي بڼه لري او د مختلط روش (Mixed Method) پر اساس ترسره شوې ده. د څېړنې موضوع او موخو ته په پام سره اړوند معلومات، د انلاین پوښتنپاڼې په وسیله راټول شوي دي .په پوښتنپاڼه کې د کمي معلوماتو راټولولو لپاره تړلې پوښتنې (Closed-ended questions) او د کیفي معلوماتو (د موضوع اړوند د ګډونوالو د نظریات او توضیحاتو) ترلاسه کولو لپاره خلاصې پوښتنې (Open-ended questions) شاملې وېد څېړنې نمونه د افغانستان ژورنالېستان ټاکل شوي، خو د ژورنالېستانو دقیق شمېر معلوم نه دی، نو د نمونه اخیستنې لپاره د همدفمندانه روش (Purposive Sampling Method)کارول شوی دی. دا روښانه کول مهم دي چې ۳۰۰ ژورنالېستان د کوم احصایوي یا فرمول پر اساس نه، بلکې د څېړونکي د قضاوت او د اړونده موضوع په پوهه لرونکو کسانو ټاکلو پر اساس غوره او ترتیب شوې پوښتنپاڼه د بېلابېلو انلاین ګروپونو له لارې ورته واستول شوه، چې له ډلې یې ۱۰۲ کسانو ځوابونه وړاندې کړل ۰ ، چې له ډلې یې (۱۰۲) کسانو ځواب کړې وه. په دغه ډول نمونه اخیستنه کې څېړونکی د خپل قضاوت له مخې، په اړونده موضوع کې ماهر او پوه خلک ټاکي او ورځخه معلومات راټولوي. د څېړنې موندنې د هغو معلوماتو (Data) له تحلیل څخه عبارت دي چې په کمیتي (مقداري) او کیفي بڼه له ۱۰۲ تنه ژورنالېستانو څخه د انلاین پوښتنپاڼې په وسیله راټول شوي دي. لومړی د (SPSS, Version 26) پروګرام په وسیله تحلیل او جدولونو کې ترتیب شوي، او بیا د کیفي برخې معلومات د موضوعي تحلیل (Thematic Analysis) په مرسته، په NVivo سافټویر کې تحلیل شوي دي.

**موندنې:**

د څېړنې د ګډونوالو د جنسیت وېش په (۱) جدول کې وړاندې شوی دی. د ښځینه ګډونوالو د کمښت یو اساسي لامل په افغانستان کې د ښځینه ژورنالېستانو کمښت او هغوی ته محدود لاسرسی دی. د ګډونوالو د کاري تجربې موده ښیي چې چې (۴۰) تنه یعنې (۳۹,۲٪) ګډونوال له ۱ څخه تر ۵ کلونو پورې، (۲۴) تنه (۲۳,۵٪) له لسو کلونو څخه ډېر، (۲۴) کسان (۲۳,۵٪) له یو کال څخه کم، او (۱۴) کسان (۱۳,۷٪) د ٦-۱۰ کلونو ترمنځ رسنیزه برخه کې کاري تجربه لري. دغه موندنه ښیي چې اکثریت ګډونوال په رسنیو کې له یوه کال څخه ډېره موده دنده ترسره کړې ده.

**۱جدول**: د ګډونوالو ځانګړنې

| ځانکړنه | شمېر | سلنه |
|---|---|---|
| **جنسیت** | | |
| نارینه | ۹۰ | ۸۸,۲ |
| ښځینه | ۱۲ | ۱۱,۸ |
| **د رسنیز فعالیت موده** | | |
| له یو کال څخه کم | ۲۴ | ۲۳,۵ |
| ۱-۵ کاله | ۴۰ | ۳۹,۲ |
| ۶-۱۰ کاله | ۱۴ | ۱۳,۷ |
| له ۱۰ کلونو ډېر | ۲۴ | ۲۳,۵ |

د څېړنې ګډونوالو د نظر پر بنسټ، (۲) جدول پایلې څرګندوي چې د ډېرې ژورنالېستانو په نظر، رسنۍ پخپلسرې توګه د درملو نه کارونې په تړاو د خلکو په پوهاوي کې خورا اغېزناک نقش لرلی شي. د ګډونوالو لویه برخه (۷۵) کسان چې (۷۳,۵٪) کېږي، پخپلسري ډول د درملو نه کارونې په تړاو د خلکو په پوهاوي کې د رسنیو اغېز «خورا ډېر» ارزولی دی. دغه راز (۲۲) تنه یعنې (۲۱,۶٪) ګډونوالو د رسنیو اغېزمنتیا «ډېره مهمه» بللې ده. یوازې (۳ تنه، ۲,۹٪) ګډونوالو د رسنیو اغېز «متوسط/منځنی»، (۱ تن، ۱,۰٪) «کم» او فقط (۱ تن، ۱,۰٪) د رسنیو موثریت «هیڅ» بللی دی. دغه پایلې په ټوله کې څرګندوي چې د لوی اکثریت ژورنالېستانو له نظره، پخپلسرې توګه د درملو نه کارونې په تړاو د خلکو پوهاوي کې رسنۍ ډېره او د پام وړ اغېزه لري.

د ګډونوالو ډېرې برخه باور لري چې د رسنیو له لارې عامه پوهاوی کولای شي، خلک له دې څخه منع کړي چې د ډاکټر له مشورې او نسخې پرته پخپل سر درمل استعمال نکړي. په ځانګړي ډول، ۵۹ تنه ګډونوال (۵۷,۸٪) په بشپړ ډول موافق دي چې رسنیز پوهاوی د دې ستونزې په مخنیوي کې اغېزناک دی. همدارنګه، ۴۲ تنه ګډونوالو (۴۱,۲٪) ویلي چې رسنۍ تر یوه حده کولی شي د دې کړنې مخه ونیسي. یوازې یو ګډونوال (۱,۰٪) باور لري چې رسنۍ د دې ستونزې په مخنیوي کې هیڅ اغېز نه لري. دا پایلې په ټوله کې څرګندوي چې رسنیز پوهاوی د خلکو د چلند په سمون کې د پام وړ اغېز لري.

راډیو د نورو رسنیو په پرتله پخپلسري ډول د درمل کارونې په تړاو د خلکو په پوهاوي کې ډېره اغېزناکه ده. د ۴۳ یعنې (۴۲,۲٪) ګډونوالو په وینا، راډیو د دې ستونزې په مخنیوي کې ډېر اغېزناک رول لري. ورپسې، ټلویزیون د ۳۵ یعنې (۳۴,۳٪) کسانو له لوري د مؤثرې وسیلې په توګه یاده شوې ده. ټولنیزې رسنۍ هم د پام وړ رول لري، چې د ۲۳ یعنې د(۲۲,۵٪) کسانو له لوري د اغېزناکې رسنۍ په توګه ارزول شوې ده. په پای کې، یوازې ۱ ګډونوال (۱,۰٪) باور لري چې ورځپاڼې او مجلې پخپلسرې توګه د درملو د کارونې په مخنیوي کې اغېز لري. دغه پایلې څرګندوي چې د عامه پوهاوي په برخه کې راډیو او ټلویزیون د نورو رسنیو په پرتله ډېرې اغېزناکې ګڼل شوې دي.

د اکثریت ګډونوالو په اند د عامه پوهاوي د پروګرامونو د جوړښت تر ټولو اغیزناکه بڼه له ډاکټرانو سره مرکې دي، ځکه چې د ډاکټر وینا خلکو ته سمه او د باور وړ وي. د ۴۷ تنه یعني (۴۶,۱٪) ګډونوالو په وینا، که د خپلسرو درملو نه کارونې په اړه پروګرامونه له ډاکټرانو سره د مرکو او د هغوی د مسلکي نظریاتو پر بنسټ جوړ شي، پر خلکو به ډېر اغېز ولري. ورپسې، ۳۲ تنه یعني (۳۱,۴٪) ګډونوال په دې باور دي چې د عامه خدماتو اعلانونه (PSA) د دې ستونزې په اړه د خلکو د پوهاوي کچې په لوړولو کې مهم رول لري. همدارنګه، ۲۱ تنه یعني (۲۰,۶٪) ګډونوالو د خپرونو (برنامو) په بڼه محتویاتو تولید موثر ګڼلی دی. دغه پایلې څرګندوي چې ډېری ژورنالېستان د خپلسرو درملو نه کارونې په ټړاو د عامه پوهاوي په برخه کې د مرکې فارمټ نسبت نورو خپرنیزو جوړښتونو ته موثر ګڼي.

**۲جدول:** *د خلکو د پوهاوي په لوړولو کې د رسنیو د موثریت او اړونده لاملونو ارزونه*

| متغیر | د ګډونوالو شمېر | سلنه |
|---|---|---|
| **د رسنیو موثریت** | | |
| خورا ډېر | ۷۵ | ۷۳,۵ |
| ډېر | ۲۲ | ۲۱,۶ |
| متوسط | ۳ | ۲,۹ |
| کم | ۱ | ۱,۰ |
| هیڅ | ۱ | ۱,۰ |
| **د خپل سري درمل کارونې مخنیوي** | | |
| هو کاملا | ۵۹ | ۵۷,۸ |
| تر یو حده | ۴۲ | ۴۱,۲ |
| نه | ۱ | ۱,۰ |
| **د رسنیو پرتله** | | |
| ټلویزون | ۳۵ | ۳۴,۳ |
| ټولنیزې رسنۍ | ۲۳ | ۲۲,۵ |
| راډیو | ۴۳ | ۴۲,۲ |
| ورځپاڼې او مجلې | ۱ | ۱,۰ |
| **د رسنیزو برنامو د بڼو (فارمټ) پرتله** | | |
| د خپرونو په بڼه | ۲۱ | ۲۰,۶ |
| د عامه خدماتو اعلانونو په بڼه | ۳۲ | ۳۱,۴ |
| له ډاکټرانو سره د مرکو په بڼه | ۴۷ | ۴۶,۱ |

**د کیفي معلوماتو تحلیل**

د ژورنالېستانو له لیدلوري، پخپلسري ډول د درملو نه کارونې په تړاو د خلکو پوهاوي کې د رسنیو نقش په لاندې درېیو فرعي عنوانونو کې خلاصه شوې ده:

**۱. د خلکو پوهاوي کې د ژورنالېستانو شخصي تجربې**: په دې څېړنه کې ډیرو ګډونوالو ویلي چې د خپلو اړوندو رسنیو له لارې یې په بېلابېلو جوړښتونو لکه: مرکو، خپرونو، ګزارشونو او اعلاناتو کې پخپلسري ډول د درملو نه کارونې په تړاو معلومات او پیغامونه وړاندې کړي او د دوی د ارزونو پر اساس په دې برخه کې د خلکو پوهاوی نسبتا ډېر شوی دی.

اکثر ګډونوال ژورنالېستان- چې د ځینو نظریات د نوم نه خپرولو په شرط په لاندې ډول خلاصه شوي- په دې باور دي چې، د دغه ډول روغتیایي موضوعاتو په اړه د خلکو پوهاوي لپاره دوامداره او اوږدمهاله برنامو ته اړتیا ده.

«زه د روغتیا په نوم ځانګړې ټلویزوني خپرونه لرم؛ په دې خپرونه کې ما پر بېلابېلو صحي موضوعاتو معلومات وړاندې کړي دي چې ډېرې موثړې تمامې شوې دي. خلکو راته په بار بار ویلي چې دغه خپرونه باید ډېره شي.»

«ما د دې موضوع په اړه ډېرې خپرونې وړاندې کړي، اوربدونکو راته زنګونه هم وهلي او ویلي چې ستاسې خپرونې مو واوربدې، چې پخپلسر درمل کارول علاج نه بلکې ځانوژنه ده.»

په ننګرهار کې د کلید راډیو یوه مخکښې پروډیوسر دوست محمد سعادت وایي: «ما په پشه یي ژبه یوه خپرونه درلوده، د همدې ژبې ځانګړې اوربدونکي ول. کله چې مې داسې سوژه وټاکله نو خلکو ډېره خوښه کړه او ښه پایله یې هم درلوده.»

په بغلان ولایت کې د «چونغر» راډیو مسوول داد الله وردګ د دغه ډول موضوعاتو په اړه د خلکو پوهاوي کې د محلي راډیوګانو نقش مهم ارزوي. هغه وایي: «موږ د چونغر راډیو له لارې د روغتیا او وقایه په نوم یوه خپرونه درلوده او په هغې کې مو د خپلسرو درملو کارولو زیانونو په اړه له ډاکټرانو سره مرکې کړې دي، او خلکو ته پکې ډېر معلومات وړاندې شوي.» ځینې بیا ویلي چې تراوسه د دې موضوع په اړه یې کومه خپرونه، مرکه، ګزارش یې نه دي چمتو کړي.

**۲. د خلکو پوهاوي کې د رسنیو نیمګړتیا**: په دې اړه نږدې ټولو کسانو خپل نظرونه څرګند کړي، چې خلاصه یې په لاندې ډول وړاندې شوې ده:

- په دې برخه کې خپرونې ډېرې کمې او حتی په نشت حسابېږي.
- ډېر ځله معلومات یوازې یو ځل خپرېږي او تکرار نه لري، چې له امله یې پیغام د خلکو په ذهن کې ډېر نه پاتې کېږي.
- په ډېرو سیمو کې خلک رسنیو ته لاسرسی نه لري.
- ډېرو خپرونو کې د مسلکي کسانو لکه ډاکټرانو نشتون د هغې موثریت کموي.
- ډېرې شخصي رسنۍ مالي مسایلو ته توجه کوي او ډېر کم پر دغه ډول موضوعاتو باندې خبرې کېږي.

- خپرونې اکثر وخت لنډمهالې وي او یوازې پر یو ډول درمل (انتي بایوتیک) خبرې کېږي؛ په داسې حال کې چې نور درمل هم باید پخپل سر ونه کارول شي.
- رسنۍ له مالي ستونزو سره مخ دي او په دې ډول خپرونو کې مالي ملاتړ نه لري.
- ډېرې رسنۍ اطلاعاتو ته لاسرسي برخه کې ستونزې لري؛ لکه د عامې روغتیا ریاستونو د مرستو او همغږۍ کمښت له امله دا ډول خپرونې له خنډ سره مخ کېږي.
- ځینې وخت ډاکټران له رسنیو سره همکاري نه کوي او دې برخې ته د خپرونو لپاره نه راځي، ترڅو خلکو ته معلومات ورکړي.

**۳. د اغېزمنتیا زیاتولو لارې چارې:** ډیرې کسانو، خپلسري درمل کارونې په تړاو د رسنیزو خپرونو اغېزمنتیا زیاتولو په اړه خپل نظرونه او حل‌لارې وړاندې کړي دي. د دوی په باور، که رسنۍ په ځانګړې ډول راډیوګانې او ټلویزونونه دغه ډول روغتیایي موضوعګانو ته په دوامداره بڼه پوښښ ورکړي، د خلکو له ژبې او لحجې سره برابرې خپرونې وړاندې کړي، او په دې برخه کې اړوند نهادونه او اشخاص همکار واوسي، نو د خپلسرو درملو کارونې په برخه کې به د خلکو اګاهي ډېره او د پام وړ کمښت راشي.

**بحث او مناقشه:**

د دې څېړنې موندنې ښیي چې په افغانستان کې رسنۍ، په ځانګړې ډول راډیو (The Asia Foundation, 2018; Medialandscapes, 2025) د خلکو د پوهاوي په لوړولو کې د پخپلسري درملو د کارونې د مخنیوي لپاره اغېزناکه وسیله ده او په کلیوالي او لرې پرتو سیمو کې د راډیو رول د روغتیایي پیغامونو د خپرولو لپاره مهم ګڼل شوی دی چې یادې پایلې له نړیوالو څېړنو سره هم مطابقت لري (Lewis & Booth, 1989; BBC Media Action, 2024). د څېړنې برخه اخیستونکي ژورنالېستان په دې باور دي چې له ډاکټرانو سره مرکې د روغتیایي پیغامونو د باور وړتیا زیاتوي او د خلکو چلند په اغېزمنه توګه بدلوي. دا د چلند بدلون تیوري (Behavior Change Theory) ملاتړ کوي، چې د هدفمند او معتبر معلوماتو وړاندې کول د خلکو پر چلند مثبت اغېز لري (UNMAS Afghanistan, 2024) .

سره له دې، څېړنه د رسنیو پر محدودیتونو هم رڼا اچوي. د خپرونو کمښت، لنډمهالې برنامې، د خلکو محدود لاسرسی، او د مالي سرچینو کمښت هغه ستونزې دي چې د رسنیو اغېزمنتیا محدودوي. دا موندنې له نورو نړیوالو څېړنو سره همغږي لري، چې دوامداره، ځایي ژبه او مناسبه لحجه د روغتیایي کمپاینونو لپاره مهمه ګڼي (Palmgreen et al., 1998; Wakefield et al., 2010). په پایله کې، دا څېړنه څرګندوي چې د رسنیو دوامداره، متنوع، او له سیمه ییزو شرایطو سره همغږې خپرونې، په ځانګړې ډول راډیو او ټلویزیون، کولی شي د خلکو په پوهاوي کې د پام وړ پرمختګ راولي او د خپلسرو درملو د کارونې کچه کمه کړي چې ډیرې څېړنو ورته نظر موندلی دی (Palmgreen et al, 1998; Wakefield et al, 2010; Hasani, 2024) د دې ترڅنګ، د رسنیو او روغتیایي متخصصینو همکاري، د محتوا د باور وړتیا، او د اوږدمهاله برنامو رامنځته کول اړین دي ترڅو د چلند بدلون پایدار وي.

دا چې دا څېړنه په محدودو یعنې ۱۰۲ ژورنالیستانو ترسره شوې ده نو د ټولو افغان ژورنالیستانو لیدلوری انعکاس کولی نشي. بله دا چې ګډونوال اکثر په هغو سیمو کې دي چې انلاین لاسرسی لري، نو د کلیوالي او لرې پرتو سیمو بشپړ استازیتوب نه شي کولی. د دې معلوماتو ډېره برخه د ګډونوالو شخصي نظرونه او تجربې دي، که څه هم مور ګډونوالو

ته د څېړنې موخو په اړه معلومات ورکړي دی خو بیا هم شونې ده چې د دوی احتمالي ذهني لیوالیتیا ( Response Bias) پکې شامل وي.

**پایله:**

دا څېړنه د خپلسري درملو کارونې په تړاو د خلکو پوهاوي کې د رسنیو نقش د ژورنالېستانو له لیدلوري ارزول شوی دی او دا وموندل شوه چې رسنۍ په پوهاوي کې مؤثره وسیله بلل کیدلای شي چې د بېلابېلو او دوامداره خېرونو په بڼه فعالیت تر سره کړي او د خلکو د پوهاوي کچه لوړه شي او پخپلسرې توګه د درملو له کارولو څخه ډډه وکړي.که څه هم اوسمهال ځینې رسنۍ د دغه ډول روغتیایي موضوعګانو په اړه پیغام رسونه کوي، خو د موثریت کچه یې د ځینو ستونزو له امله کمه ده، لکه له رسنیو سره د اړوندو نهادونو او اشخاصو کمه همکاري، اقتصادي ستونزې، معلوماتو ته محدود لاسرسی او د مسلکي کسانو کمښت. د څېړنې ګډونوال ژورنالېستان، د هېواد کلیوالي او لرو سیمو اوسېدونکي د روغتیایي مسایلو په اړه رسنیزې برنامې اړینې بولي، او په ځانګړي ډول د خپلسرې درمل کارونې په مخنیوي کې، د رسنیو، اړونده نهادونو، موسسو او متخصصینو دوامداره او همغږې همکارۍ د ستونزې د مؤثر حل کلید ګڼي. دا پایله ښیي چې د خلکو پوهاوی یوازې د معلوماتو له خپرولو نه، بلکې د همکارۍ، محتوا د باور وړتیا، او د برنامو د دوام په شتون پورې تړلی دی، چې د روغتیایي چلند په اصلاح کې مهم رول لوبوي.

**وړاندیزونه:**

- راتلونکي څېړونکي دې د نورو روغتیایي مسایلو او مختلفو مېتودونو له لارې دا موضوع وڅېړي. تطبیق :د مختلفو سیمو او عمري ګروپونو پراخه نمونې اخیستل.
- د مخاطبانو اړتیاوې دې معلومې او خپرونې دې یې له مخې تولید شي چې دا اړتیاوې د سروې ګانو له مخې موندل کیدلی شي.
- رسنۍ، روغتیایي نهادونه او متخصصین دې ګډ کار وکړي او دوامداره او هم مهاله کمپاینونه دې تر سره شي.
- خپرونې دې په مظنم ډول تر څار لاندې وساتل شي او اغېز دې یې په منظم ډول وڅارل شي او همدا ډول د اوریدونکو فیډبک دې په دې اړه راټول کړل شي.

## ماخذونه

Ahmad, M., Rasool, G., & Ahmad, S. (2019). Prevalence and determinants of self-medication with antibiotics: A community-based cross-sectional study in Kabul, Afghanistan. *International Journal of Infectious Diseases*, 86, 123–130. https://doi.org/10.1016/j.ijid.2019.07.001

ANA. (2013). ANA completes radio broadcast training to lead communication efforts. U.S. Army. https://www.army.mil/article/111393/ana_completes_radio_broadcast_training_to_lead_communication_efforts

BBC Media Action. (2024). Afghanistan. https://www.bbc.co.uk/mediaaction/where-we-work/asia/afghanistan

Boniol, M., McIsaac, M., Xu, L., Wuliji, T., Diallo, K., & Campbell, J. (2019). *Gender equity in the health workforce: Analysis of 104 countries (8e)*. Geneva: World Health Organization.

Comunica.org. (n.d.). The potential for community radio in Afghanistan. https://comunica.org/afghanistan/cr_afghan_us.pdf

Hasani, R. (2024). *Media's influence on public opinion: The power of form and perception*. Ruzbeh Research Center.

Igboeli, N. N., Uzochukwu, B. S. C., & Njoku, O. V. (2023). Prevalence, pattern, and reasons for self-medication: A community-based cross-sectional study. *Cureus*, 15(1), e32333. https://doi.org/10.7759/cureus.32333

Internews. (2004). Afghan independent radio moves towards sustainability. ReliefWeb. https://reliefweb.int/report/afghanistan/afghan-independent-radio-moves-towards-sustainability

James, H., Handu, S. S., Al Khaja, K. A. J., Otoom, S. A., & Sequeira, R. P. (2010). Self-medication: A current challenge. *Journal of Pharmacy & Bioallied Sciences*, 2(4), 295–301.

Joukowsky Institute. (2005). *Radios in Afghanistan: The biography of a commodity*. Brown University. https://www.brown.edu/Departments/Joukowsky_Institute/courses/materialworlds/2580.html

Lewis, P., & Booth, J. (1989). The invisible medium: Public communication via radio soap operas. *Media, Culture & Society*, 11(1), 53–71.

MMD. (2019). *Communications strategy & action plan* (CSAAP). Ministry of Mines and Petroleum, Afghanistan. https://mmd.gov.af/sites/default/files/2019-09/CSAAP_Final%20English.pdf

Palmgreen, P., Donohew, L., Lorch, E. P., Hoyle, R. H., & Stephenson, M. T. (1998). Testing the relative effectiveness of antidrug public service announcements: A national field experiment. *Communication Research*, 25(4), 289–323. https://doi.org/10.1177/009365098025004001

ReliefWeb. (2004). Afghan independent radio moves towards sustainability. https://reliefweb.int/report/afghanistan/afghan-independent-radio-moves-towards-sustainability

Royal Thai Government. (2005). *Radio drug advertisement situation and regulation in Thailand*. https://assets.publishing.service.gov.uk/media/57a08c1240f0b64974000f96/WP02_05.pdf

Skuse, A. (2002). Radio, politics and trust in Afghanistan. Asia Pacific Media Educator, 10, 54–62.

Smith, M., & Lee, A. (2011). Over-the-counter medicine abuse – a review of the literature. *Journal of Substance Use*, 16(6), 420–437.

The Asia Foundation. (2018). *Afghanistan in 2018: A survey of the Afghan people*. https://asiafoundation.org/publication/afghanistan-in-2018-a-survey-of-the-afghan-people/

UNMAS Afghanistan. (2024). *Behaviour change communication for explosive ordnance risk education in Afghanistan*. https://globalprotectioncluster.org/sites/default/files/2024-02/unmas-afghanistan-bcc-in-eore_paper.pdf

Wakefield, M. A., Loken, B., & Hornik, R. C. (2010). Use of mass media campaigns to change health behavior. *The Lancet*, 376(9748), 1261–1271. https://doi.org/10.1016/S0140-6736(10)60809-4

Williams, J., Taylor, J., & Robinson, S. (2024). Antibiotic resistance linked to self-medication practices: A global concern. *Infectious Disease Reports*, 16(1), 24–35.

# ننګرهار کې د انټي‌بیوتیکو د ناسمې کارونې، مایکروب ضد مقاومت د پراخېدو او ممکنه حل لارو ارزونه

MARJ
ملـي
علمـي-څېړنیـز ژورنال
REG Code: RCTD-PNJR-0094-25

**امان الله اسلمي**[1]
کلینیک دیپارتمنت، طب پوهنځی، روښان پوهنتون، افغانستان
amanullahaslami28@gmail.com

**سید امید سادات**[2]
کلینیک دیپارتمنت، طب پوهنځی، روښان پوهنتون، ننګرهار، افغانستان

**لنډیز**

د انټي‌بیوتیکو ناسمه کارونه او د مایکروب‌ضد مقاومت پراختیا د نړیوالې روغتیا لپاره یو له تر ټولو جدي ګواښونو څخه ده، چې د ناروغانو درملنه کمزوري کوي او د روغتیایي سیستم پر مالي او اداري بنسټونو هر اړخیز فشار راوړي. سره له دې، په ننګرهار ولایت کې لاهم د انټي‌بیوتیکو د ناسمې کارونې کچه، د خلکو د پوهاوي وضعیت، د مقاومت د پراختیا عواملو او د مخنیوي د موجوده میکانېزمونو په اړه کره معلومات محدود دي. دا څېړنه په محلي کچه د انټي‌بیوتیکو د ناسمه کارونې وضعیت، د مایکروب‌ضد مقاومت نښې او د مخنیوي ممکنه حل لارې ارزوي، چې د روغتیایي پالیسۍ، عامه پوهاوي او مخنیوي نوښتونو لپاره عملي او علمي ارزښت لري. د څېړنې بنسټیزه موخه د ننګرهار په کچه د انټي‌بیوتیکو د ناسمې کارونې کچه، د مایکروب‌ضد مقاومت د پراختیا او د حل لارو د اغېزمنتیا ارزونه ده. د څېړنې اساسي پوښتنه دا ده، چې په ننګرهار ولایت کې د انټي‌بیوتیکو د ناسمه کارونې کچه څومره ده او کوم عوامل د مایکروب‌ضد مقاومت د پراختیا سبب ګرځي؟ څېړنه د قضیې مطالعې په ډیزاین او کمي طریقې ولاړه ده. د کوکران د فرمول له مخې ۳۸۴ ګډونوال د هدفیز انتخاب په وسیله غوره شول. معلومات د لیکرت سکیل پر بنسټ د ګوګل پوښتنلیک له لارې راټول شول او د SPSS (نسخه 25) په مرسته د فریکونسۍ او سلنې له لارې تحلیل شول. موندنې ښیي، چې اکثریت ګډونوال ځوانان (۵۷٪)، نارینه (۸۹,۶٪)، لوړې زده‌کړې لرونکي (۸۴,۶٪) او د ښار اوسېدونکي (۸۰,۵٪) وو. ګډونوالو د ناسمې کارونې خطرونه جدي بللي او د حل لارو په توګه یې د نسخې لازمي کول، عامه پوهاوی، د حکومت سخت نظارت او د روغتیایي کارکوونکو دوامداره روزنه ډېرې اغېزمنې ګڼلې دي.

**کلیدي کلیمې: انټي بیوتیکونه، درملو ناسمه کارونه، مایکروب ضد مقاومت، حل لارې.**

# Assessment of Antibiotic Misuse, Microbial Resistance Spread, and Possible Solutions in Nangarhar

**Abstract**

The inappropriate use of antibiotics and the spread of antimicrobial resistance represent one of the most serious global health threats, weakening patient treatment outcomes and placing substantial financial and administrative pressures on healthcare systems. Despite the severity of the problem, accurate data on the prevalence of antibiotic misuse, public awareness, contributing factors to resistance, and existing preventive mechanisms remain limited in Nangarhar province. This study assesses the local status of antibiotic misuse, indicators of antimicrobial resistance, and potential preventive strategies, providing valuable scientific and practical insights for health policy, public awareness, and intervention initiatives. The primary objective of this research is to evaluate the prevalence of antibiotic misuse, the extent of antimicrobial resistance, and the effectiveness of possible interventions in Nangarhar. The central research question is: What is the prevalence of antibiotic misuse in Nangarhar province, and which factors contribute to the spread of antimicrobial resistance?

A case study design with a quantitative approach was employed. Using Cochran's formula, a sample of 384 participants was selected through purposive sampling. Data were collected via a Google Forms questionnaire based on a Likert scale and analyzed using SPSS (version 25) through frequencies and percentages. The findings indicate that the majority of participants were young (57%), male (89.6%), highly educated (84.6%), and urban residents (80.5%). Participants recognized the risks associated with misuse and considered mandatory prescriptions, public awareness campaigns, strict governmental supervision, and continuous training of healthcare providers as the most effective solutions.

**Keywords: Antibiotics, medication misuse, microbial resistance, solutions.**

MARJ

Mili

Academic-Research Journal

**REG Code:** RCTD-PNJR-0094-25

**Amanullah Aslami[1]***

Clinic Department, Faculty of Curative Medicine, Rokhan University, Afghanistan

amanullahaslami28@gmail.com

**Sayed Omid Sadat[2]**

Clinical Department, Faculty of Medicine, Roshna University, Nangarhar, Afghanistan

**سریزه**

انتي‌بیوتیکونه د شلمې پیړۍ له ستر طبي لاسته راوړنې څخه ګڼل کېږي چې د ګڼ شمېر وژونکو انتاني ناروغیو د کنټرول او درملنې لپاره یې د پام وړ رول لوبولی دی(Ventola, 2015) . د دوی له کشف وروسته د انسان د ژوند د منځنۍ مودې په زیاتوالي، د جراحي عملیاتو د خوندیتوب او د انتاني ناروغیو په درملنه کې بې‌ساری بدلون رامنځته شو. خو سره له دې پرمختګونو د انتي‌بیوتیکو ناسمه او ناسم استعمال د نړۍ په کچه د عامې روغتیا لپاره په یوه ستر ګواښ بدل شوی دی(Nations, U, 2019). د انتي‌بیوتیکو ناسمه کارونه څو اړخیز لاملونه لري لکه د ځانې‌درملنې زیاتوالی، د ډاکټرانو له خوا د غیر ضروري نسخو ورکول، د درملتونونو له خوا له نسخې پرته د انتي‌بیوتیکو پلورل، او د عامه پوهاوي کموالی(Laxminarayan et al., 2013) .د دغو کړنو له امله د مایکروب ضد مقاومت (Antimicrobial Resistance – AMR)په چټکۍ سره زیات شوی دی. دا پدیده هغه مهال رامنځته کېږي چې باکتریاوې د انتي‌بیوتیکو پر وړاندې مقاومت پیدا کړي، او په پایله کې درمل د ناروغیو په درملنه کې خپل اغېز له لاسه ورکوي(Davies & Davies, 2010) . د نړیوال روغتیایي سازمان (WHO) د راپور له مخې، که د مایکروب ضد مقاومت د پراخېدو پر وړاندې جدي ګامونه وانخیستل شي، د مړینې او معلولیت تر څنګ، د مایکروب ضد مقاومت (AMR) ستر اقتصادي لګښتونه هم لري. د نړېوال بانک د اټکل له مخې، تر ۲۰۵۰ کاله پورې مایکروب ضد مقاومت کېدای شي د روغتیایي خدمتونو په برخه کې د ۱ ټریلیون امریکایي ډالرو اضافي لګښتونو لامل شي، او د ۲۰۳۰ تر کاله پورې هر کال د ۱ ټریلیون څخه تر ۳,۴ ټریلیون امریکایي ډالرو پورې د ناخالص کورنۍ تولید تاوانونه رامنځته کړي(WHO, 2023) . دغه ستونزه نه یوازې د روغتیایي سیستم پر مؤثریت منفي اغېزه لري، بلکې د اقتصادي زیانونو، اوږدې ناروغۍ او د روغتیایي لګښتونو د زیاتوالي سبب هم کېږي(O'Neill, 2016) .

**د څېړنې ارزښت**

د انتي‌بیوتیکو ناسمه کارونه او د مایکروب‌ضد مقاومت پراخېدل د نړیوال روغتیا لپاره جدي ستونزې دي. انتي‌بیوتیک ناسمه کارونه نه یوازې د ناروغانو درملنه کمزوري کوي، بلکې د مقاومت لرونکو مایکروبونو د زیاتوالي لامل هم ګرځي، چې په پایله کې د روغتیا سیستم هر اړخیز ډول ننګوي. په ننګرهار ولایت کې د انتي‌بیوتیکو د کارونې، د خلکو او روغتیایي کارکوونکو د پوهاوي او د قانوني او عملي میکانېزمونو وضعیت په اړه دقیق معلومات نشته. دغه څېړنه د ناسمه کارونې عوامل، د مایکروب‌ضد مقاومت نښې، او د حل لارو اغېزمنتوب په محلي کچه ارزوي، چې علمي، ټولنیز، اقتصادي او مخنیوي ارزښت لري. د څېړنې موندنې به د روغتیایي پالیسۍ او قانون جوړونې لپاره مهمه بنسټیزه سرچینه وي چې د خلکو او روغتیایي کارکوونکو پوهاوی لوړ کړي، د ناسمه درملنې لګښتونه کم کړي، او د راتلونکو مداخلې برنامو لپاره عملي لارښوونې وړاندې کړي، ترڅو د مایکروب‌ضد مقاومت د پراخېدو مخنیوی وشي.

ددې څېړنې هدف داده چې د ننګرهار ولایت په کچه د انتي‌بیوتیکو د ناسمه کارونې او د مایکروب ضد مقاومت د پراخېدو د ارزونې ترڅنګ د ممکنه حل لارې په ګوته کړي. چې د دې څېړنې موندنې به د روغتیایي پالیسۍ جوړونکو، ډاکټرانو او عامه خلکو لپاره د یوې لارښود په توګه ثابت شي او د راتلونکي خطر د کمولو لپاره ګټورې لارې چارې وړاندې کړي. همدارنګه د انتي‌بیوتیکو د ناسمه کارونې کچې او ډولونونو، د مایکروب‌ضد مقاومت د پراخېدو د کچې او عواملو پېژندنه او د انتي‌بیوتیکو د مقاومت د پراخېدو د مخنیوي ممکنه حل لارې وړاندې کول یې په اساسي موخې دي.

دا څېړنه د انتي‌بیوتیکو ناسمه کارونې کچه، د مایکروب‌ضد مقاومت کچه او پراختیا او د انتي‌بیوتیکو د مقاومت د پراختیا د مخنیوي اغېزمنې لارې چارې کومې دي؟ پوښتنو ته ځواب وایي.

**تیرو اثارو ته کتنه**

د انتي‌بیوتیکو ناسمې کارونې ستونزه یوازې د بکتریایي مقاومت د پراختیا لامل نه ده، بلکې د روغتیایي لګښتونو د زیاتوالي او د ناروغانو د اوږدمهاله درملنې پر کیفیت هم مستقیم اغېز لري .(Huttner et al., 2013) څېړنې ښیي چې په ځانګړي ډول په پراخو ټولنو کې د ناروغانو د پوهاوي کموالی، د انتي‌بیوتیکو د غیر مسلکي پلور شتون او د صحي کارکوونکو د روزنې نشتوالی د مقاومت د پراختیا اصلي عوامل ګڼل کېږي .(Bell et al., 2014) د مایکروبونو مقاومت نه یوازې په روغتیایي مرکزونو کې ستونزې رامنځته کوي، بلکې د ټولنې په کچه د انتاناتو د خپرېدو چانس هم زیاتوي .(van Boeckel et al., 2014)

په افغانستان کې د انتي‌بیوتیکو د ناسمې کارونې او د مایکروب‌ضد مقاومت د پراختیا موضوع د عامې روغتیا یو له جدي بحرانونو څخه ګڼل کېږي. بېلابېلې څېړنې ښیي چې د هېواد په روغتونونو، کلینیکونو او درملتونونو کې د انتي‌بیوتیکو د ناسم استعمال کچه له نړیوالو معیارونو څو برابره لوړه ده، چې دا حالت د مقاومت لرونکو باکتریاوو د زیاتېدو لامل شوی دی. د یوې نوې مطالعې له مخې، په افغانستان کې د مایکروب‌ضد مقاومت (AMR) حالت د روغتیا د کمزوري نظام، ناسم نظارت، او د انتي‌بیوتیکو د بې‌پروا کارونې له امله د اندېښنې وړ کچې ته رسېدلی دی (Ehsan, Wardak, Karimi, & others, 2025)د کابل په یوه سیمه‌ییز روغتون کې ترسره شوې څېړنه څرګندوي د OPD ناروغانو لپاره د انتي‌بیوتیکو د نسخو ورکولو کچه لوړه وه، چې د نړیوال روغتیایي سازمان (WHO) د ۳۰٪ سپارښتنې په پرتله دوه چنده زیاته وه (Bajis et al., 2014) همدارنګه د یوې بلې څېړنې چې د کابل په اندراګاني ماشومانو روغتیایي انستیتوټ کې کې ترسره شوی څرګندوي چې د IPHI په روغتون کې د هر ناروغ د لیدنې پر مهال د سپارل شویو درملو منځنی شمېره د سپارښتل شویو معیارونو په پرتله لوړه وه. سربېره پر دې، د عمومي (Generic) درملو او د افغانستان د ملي ضروري درملو لېست (EDL) څخه د درملو کارونه ټیټه وه، خو د انتي‌بیوتیکو نسخه کول له اندازې ډېر ترسره شوي وو(Habibyar & Nazari, 2023).

یوه بله څېړنه چې په غیر طبی زده کوونکو باندې ترسره شوی څرګندوي چې د زده‌کوونکو ترمنځ د انتي‌بیوتیکو ځان‌درملنه مهمه ستونزه ده، چې په عمده ډول د شخصي تجربو او د کورنۍ او دوستانو د سپارښتنو لخوا اغېزمنه شوې ده. د درملتونونو او کورني درملو ته آسانه لاسرسی هم په دې چلند کې برخه لري. د انتي‌بیوتیکو د جانبي اغېزو په اړه پوهاوی خلک دې ته هڅوي چې ډاکټر ته لاړ شي، چې د پوهاوي د لوړې اهمیت څرګندونه کوي. د روغتیایي خدمتونو محدود وخت او لاسرسی هم د ځان‌درملنې کچه نوره هم لوړه کړې ده (Qudrati, Sakhi, Nikzad, & Qudrati, 2025). څېړنې ښیي چې د عامو خلکو د پوهاوي نشتوالی، د درمل پلورنځیو اسانه لاسرسی، او د درملو پر بازار کمزوری نظارت د ناسم استعمال بنسټیز عوامل دي (Burtscher, Van den Bergh, Nasim, Mahama, Au, Williams, ... & Bajis, 2021).همدارنګه د روغتیایي خدماتو کمزورتیا، د تشخیص لابراتوارونو نشتوالی، او د جګړو دوام هم د مقاومت د پراخېدو په زیاتوالي کې رول لري(Ahmadzai, Shinwari, Al-Rasheed, & Garba, 2022)

له بلې خوا کابل کې یوې بلې څېړنې پایلې ښیي چې د مقاومت پیښې د مثبتو نمونو تر ټولو لویه برخه د نارینه ناروغانو څخه راغله، او د ادرار کلتورونه تر ټولو زیات مثبتې پایلې ورکړې *Escherichia coli* .تر ټولو ډېره عامه مایکروب وه، چې په ۵۱,۲٪ ناروغانو کې یې مقاومت لیدل شوی، او د هغه وروسته *Staphylococcus aureus* د ۲۶,۳۷٪ مقاومت کچو سره راغلی دی. د انټي‌بیوتیکو تر ټولو زیات کارول شوی ډول امیکاسین و، پداسې حال کې چې اموکسی‌سیلین/کلاولانیک اسید تر ټولو کم اغېزناک و (Dawlatpoor, Enayati, & Tokhai, 2025) .

څېړنه وړاندیز کوي چې د دې ستونزې د مهار لپاره څو مهم ګامونه باید واخیستل شي. د انټي‌بیوتیکو د مدیریت پروګرامونه (Antimicrobial Stewardship Programs) باید په روغتونونو او درملتونونو کې پلي شي تر څو د درملو تجویز علمي او منطقي شي. سربېره پردې، د قانوني او نظارتي چوکاټ پیاوړي کول، د درملو د نسخې پرته پلور محدودول، او د عامه پوهاوي کمپاینونه د حل اساسي لارې ګڼل کېږي (Qudrati et al., 2025) .

مطالعات وړاندیز کوي چې د صحي پالیسۍ پیاوړتیا، د درملو د کارونې څارنه او د عامه پوهاوي کمپاینونه کولاې شي د مقاومت د چټک پرمختګ مخه ونیسي .(Goossens et al., 2005) سربېره پر دې د نړیوالو روغتیایي سازمانونو د مسلکي کارکوونکو لپاره د انټي‌بیوتیکو د صحیح کارونې لارښود تمرینونه رامنځته کړي، چې د مقاومت کمولو په برخه کې اغېزناک ثابت شوي.(WHO, 2019)

د انټي‌بیوتیکو ناسمه کارونه د نړیوالې روغتیا یوه جدي ستونزه بلل کېږي. څېړنې ښیي چې د ناروغانو لخوا د انټي‌بیوتیکو ناوړه یا غیر مسلکي کارونه د مایکروبونو د مقاومت د پراختیا اصلي لامل دی .(Ventola, 2015) ناسمه کارونه، لکه د ناروغ د اړتیا پرته درمل اخیستل، د لارښوونو ناسم رعایت، د نامناسبو خوراکونو کارول یا د کیفیت له مخې کمزورې درمل کارول، د بکتریا د مقاومت سبب ګرځي (Laxminarayan et al., 2013).

په ناسمه کارونو کې د عامه پوهاوي کمښت، د صحي پالیسۍ محدودیتونه، او د روغتیایي خدماتو د لاسرسي نواقص ځانګړې رول لري (Okeke et al., 1999) . د دې ستونزې د زیاتوالي یوه بله مهمه وجه د کلیوالو سیمو د روغتیایي خدماتو کمزورتیا ده، چېرې چې ناروغان اکثره د انټي‌بیوتیکو د مسلکي مشورې پرته درمل کاروي، چې دا د مایکروبونو د مقاومت د چټک پراختیا سبب کېږي.

ناسمه د انټي‌بیوتیکو کارونه نه یوازې د مایکروبونو د مقاومت د پراختیا لامل دی، بلکې د صحي نظام پر اغیزمنتیا مستقیم تاثیر لري. د عامه پوهاوي لوړول، د پالیسۍ اصلاح او د صحي کارکوونکو روزنه کولاې شي د دې ستونزې د کمولو لپاره اغېزناک اقدامات وي او د عامه روغتیا د ښه والي سبب شي (Smith & Coast, 2012).

**میتودولوژي**

د څېړنې ډیزاین د قضیې مطالعوي (Case study design) دی چې پکې معلومات په کمي بڼه (Quantitative) راټول او تحلیل شوي دي. د څېړنې د نمونې اندازه د کوکران د فرمول (Cochran's formula) په اساس ۳۸۴ ګډونوال ټاکل شوي. ګډونوال د هدفیز انتخاب (Prospective sampling) له لارې غوره شول .

د معلوماتو د راټولولو لپاره له پوښتنلیک (Questionnaire) څخه کار اخیستل شوی دی، چې د ګوګل فارم (Google Forms)له لارې جوړ او وېشل شوی دی. پوښتنې د لیکارت سکیل (Likert Scale) پر بنسټ ترتیب شوې وې، څو د ګډونوالو نظرونه او دریځونه د شدت په کچه (پوره مخالف، مخالف، بې طرفه، موافق او پوره موافق) و ارزوي.

راټول شوي معلومات لومړی د مایکروسافټ اکسل ۲۰۱۳ په مرسته تصفیه او وروسته د SPSS نسخه 25 سافټویر د کمي تحلیل لپاره وکارول شول. د معلوماتو تحلیل د فریکونسۍ او سلنې په ډول ښودل شوې چې پایلې د جدولونو په بڼه وړاندې شوې او د هغوی لاندې په روانه پښتو ژبه لنډ تفسیر لیکل شوی څو د ګډونوالو ځوابونو وېش په واضح ډول وښیي.

د څېړنې په اوږدو کې اخلاقي ملاحظاتو ته ځانګړې پاملرنه شوې ده. ګډونوالو پوښتنلیک په خپله خوښه ډک کړی، د هغوی محرمیت په بشپړ ډول خوندي ساتل شوی او ټول معلومات یوازې د څېړنیزو موخو لپاره کارول شوي دي.

**د معلوماتو تحلیل او موندنې**

د څېړنې ګډونوال اکثریت یې ځوانان دي چې ټولو ګډونوالو ۵۷٪ په ۱۸–۲۵ کلونه تشکیلوي، ۳۴,۱٪ په ۲۶–۳۵ کلونو کې دي، پداسې حال کې چې یوازې لږ شمېر یې د منځني او لوړ عمر کټګوریو ته اړه لري) ۳۶–۴۵ کلونه کې ۶,۸٪، ۴۶ او –۶۰ کلونو کې ۲,۱٪.دي .

د څېړنې ګډونوال اکثریت نارینه دي. چې ټولو ګډونوالو ۸۹,۶٪ تشکیلوي او یوازې ۱۰,۴٪ ښځینه دي.

د څېړنې ګډونوال اکثریت یې لوړې زده‌کړې لري. چې د ټولو ګډونوالو ۸۴,۶٪ تشکیلوي، ۸,۹٪ یې ماسټري بشپړې کړی، ۴,۴٪ ثانوي زده‌کړې لري، او یوازې ۲,۱٪ یې دوکتورا ترلاسه کړې ده.

د څېړنې د ګډونوالو د دندو معلومات ښیي چې ګډونوال له مختلفو مسلکي او تعلیمي برخو څخه دي. د ټول ۳۸۴ ګډونوالو څخه، ۴۵,۶٪ محصلین یا شاګردان دي، ۳۴,۹٪ ډاکټران دي، ۱۲,۸٪ استادان یا معلمین دي، په داسې حال کې چې یوازې لږ شمېر یې نرسان (۲,۳٪)، لیبرانټان (۲,۱٪) او نورې دندې (۲,۳٪) لري.

د څېړنې ګډونوال اکثریت په ښار کې ژوند کوي. چې ټولو ګډونوالو ۸۰,۵٪ تشکیلوي او یوازې ۱۹,۵٪ په کلیوالي سیمو کې ژوند کوي.

**اجدول**. د ګډونوالو عمومي معلومات په ګوته کوي

| د ګډونوالو عمرونه | Frequency | Percent |
|---|---|---|
| 18–25 Years | 219 | 57.0 |
| 26–35 Years | 131 | 34.1 |
| 36–45 Years | 26 | 6.8 |
| 46–60 Years | 8 | 2.1 |
| Total | 384 | 100.0 |
| مدني حالت | Frequency | Percent |
| نارینه | 344 | 89.6 |
| ښځینه | 40 | 10.4 |
| Total | 384 | 100.0 |
| د زده کړو کچه | Frequency | Percent |
| ثانوي | 17 | 4.4 |
| لوړې زده کړې | 325 | 84.6 |
| ماستري | 34 | 8.9 |
| دوکتورا | 8 | 2.1 |
| Total | 384 | 100.0 |
| د ګډونوالو دندې | Frequency | Percent |
| استاد/معلم | 49 | 12.8 |
| محصل/شاګرد | 175 | 45.6 |
| ډاکټر | 134 | 34.9 |
| نرس | 9 | 2.3 |
| لیبرانت | 8 | 2.1 |
| نورې دندې | 9 | 2.3 |
| Total | 384 | 100.0 |
| د اوسیدو ځای | Frequency | Percent |
| ښار | 309 | 80.5 |
| کلی | 75 | 19.5 |
| Total | 384 | 100.0 |

د انټي‌بیوتیکو کارونې په اړه معلومات ښیي چې د ګډونوالو نظرونه په دې اړه مختلف دي، خو عمومي تمایل یې د کارونې په لور دی. له ټولو ګډونوالو **۴۵,۸٪** په دې موافق دي چې دوی انټي‌بیوتیک کاروي، او **۸,۳٪** پوره موافق دي،

چې په مجموع کې ۵۴,۱٪ ګډونوال د انتي‌بیوتیک د کارونې ملاتړ کوي. په مقابل کې، ۱۹٪ پوره مخالف او ۱۸٪ مخالف دي، او ۸,۹٪ يې بې‌طرفه دي.

**۲ جدول.** *زه انتي بیوتیک کاروم*

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | پوره مخالف یم | 73 | 19.0 |
| | مخالف یم | 69 | 18.0 |
| | بې‌طرفه یم | 34 | 8.9 |
| | موافق یم | 176 | 45.8 |
| | پوره موافق یم | 32 | 8.3 |
| | Total | 384 | 100.0 |

په خپل سر د انتي‌بیوتیک کارونې معلومات ښیي چې ګډونوال په دې اړه مختلف نظرونه لري، خو عمومي تمایل يې خپل سر د کارونې په لور دی. له ټولو ګډونوالو ۳۹,۳٪ موافق دي چې دوی انتي‌بیوتیک په خپله خوښه کاروي، او ۴,۲٪ پوره موافق دي، چې په مجموع کې ۴۳,۵٪ ګډونوال د خپل سر د انتي‌بیوتیک کارونې ملاتړ کوي. په مقابل کې، ۳۰,۷٪ پوره مخالف او ۱۵,۱٪ مخالف دي، او ۱۰,۷٪ يې بې‌طرفه پاتې شوي دي.

**3 جدول.** *ما په خپل سر انتي بیوتیک تر لاسه کړي او کارولي؟*

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | پوره مخالف یم | 118 | 30.7 |
| | مخالف یم | 58 | 15.1 |
| | بې‌طرفه یم | 41 | 10.7 |
| | موافق یم | 151 | 39.3 |
| | پوره موافق یم | 16 | 4.2 |
| | Total | 384 | 100.0 |

د کورنۍ یا ملګرو په مشوره د انتي‌بیوتیک د کارونې معلومات ښیي چې په دې برخه کې د ګډونوالو عمومي تمایل د مخالفت په لور دی. له ټولو ګډونوالو ۴۵,۳٪ پوره مخالف او ۲۰,۳٪ مخالف دي، چې په مجموع کې ٦۵,٦٪ ګډونوال د کورنۍ یا ملګرو په مشوره د انتي‌بیوتیک کارولو مخالف دي. په مقابل کې، یوازې ۲۱,٦٪ موافق او ۴,۲٪ پوره موافق دي، او ۸,٦٪ يې بې‌طرفه پاتې شوي دي.

**4 جدول.** *د کورنۍ یا ملګرو په مشوره انتي بیوتیک ترلاسه کړي او کارولي.*

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | پوره مخالف یم | 174 | 45.3 |
| | مخالف یم | 78 | 20.3 |
| | بې‌طرفه یم | 33 | 8.6 |
| | موافق یم | 83 | 21.6 |
| | پوره موافق یم | 16 | 4.2 |
| | Total | 384 | 100.0 |

د فارمېسست په مشوره د انتي‌بیوتیکو د کارونې معلومات ښیي چې ګډونوالو نظرونه په دې برخه کې متنوع دي. له ټولو ګډونوالو ۲۹,۲٪ په دې موافق دي چې د فارمېسست په مشوره انتي‌بیوتیک کاروي، او ۱۰,۹٪ پوره موافق دي، چې په مجموع کې ۴۰,۱٪ د فارمېسست مشورې ته د انتي‌بیوتیک د کارونې په برخه کې مثبت دریځ لري. په مقابل کې، ۲۵,۵٪ پوره مخالف او ۱۶,۷٪ مخالف دي، او ۱۷,۷٪ یې بې‌طرفه پاتې شوي دي.

**5 جدول.** *ما انتي بیوتیک د فارمېسست په مشوره ترلاسه کړي او کارولي.*

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | پوره مخالف یم | 98 | 25.5 |
| | مخالف یم | 64 | 16.7 |
| | بې‌طرفه یم | 68 | 17.7 |
| | موافق یم | 112 | 29.2 |
| | پوره موافق یم | 42 | 10.9 |
| | Total | 384 | 100.0 |

د انتي‌بیوتیکو د اخیستلو د سرچینې په اړه پایلې ښیي چې ډېری برخه‌وال انتي‌بیوتیکونه له درملتونونو څخه ترلاسه کوي. د معلوماتو له مخې، ۴۵,۸٪ ګډونوال موافق دي او ۲۳,۲٪ پوره موافق دي چې انتي‌بیوتیک یې له درملتونونو اخیستی، چې په مجموع کې ۶۹٪ ګډونوال په دې نظر دي. په مقابل کې، یوازې ۱۳,۳٪ پوره مخالف او ۱۰,۹٪ مخالف دي، او نږدې ۶,۸٪ بې‌طرفه پاتې شوي دي.

**6 جدول**. *ما انتي بیوتیک له درملتون څخه آخیستي.*

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | پوره مخالف یم | 51 | 13.3 |
| | مخالف یم | 42 | 10.9 |
| | بې‌طرفه یم | 26 | 6.8 |
| | موافق یم | 176 | 45.8 |
| | پوره موافق یم | 89 | 23.2 |
| | Total | 384 | 100.0 |

د ګډونوالو ډېری برخه د لاسي دوا پلورونکو څخه د انتي‌بیوتیکو د اخیستلو سره موافق نه دي. د معلوماتو له مخې، ۵۲,۶٪ ګډونوال پوره مخالف او ۲۶٪ مخالف دي، چې په ټولیز ډول ۷۸,۶٪ برخه‌وال د دې سرچینې پر وړاندې منفي دریځ لري. برعکس، یوازې ۱۲,۸٪ موافق او ۲,۱٪ پوره موافق دي، او شاوخوا ۶,۵٪ بې‌طرفه پاتې شوي دي.

**7 جدول**. *ما انتي بیوتیک لاسي دوا پلورنکي څخه اخیستي.*

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | پوره مخالف یم | 202 | 52.6 |
| | مخالف یم | 100 | 26.0 |
| | بې‌طرفه یم | 25 | 6.5 |
| | موافق یم | 49 | 12.8 |
| | پوره موافق یم | 8 | 2.1 |
| | Total | 384 | 100.0 |

د ګډونوالو لوی اکثریت د تبې لپاره د انتي‌بیوتیکو د کارونې سره موافق نه دي. د معلوماتو له مخې، ۴۱,۱٪ ګډونوال پوره مخالف او ۱۹٪ مخالف دي، چې په ټولیز ډول ۶۰,۱٪ برخه‌وال د دې عمل پر وړاندې منفي دریځ لري. په مقابل کې، یوازې ۲۴,۷٪ ګډونوال موافق او ۲,۱٪ پوره موافق دي، او نږدې ۱۳٪ بې‌طرفه پاتې شوي دي.

**8 جدول.** *زه انتي بیوتیک د تبې لپاره کاروم.*

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | پوره مخالف یم | 158 | 41.1 |
| | مخالف یم | 73 | 19.0 |
| | بې‌طرفه یم | 50 | 13.0 |
| | موافق یم | 95 | 24.7 |
| | پوره موافق یم | 8 | 2.1 |
| | Total | 384 | 100.0 |

د زکام لپاره انتي‌بیوتیکو د کارونې په اړه ښلابیل دریځونه موجود دي. د شمېرنو له مخې، **۲۸,۱٪** پوره مخالف او **۲۷,۹٪** مخالف دي، چې په ټولیز ډول نږدې **۵۶٪** برخه‌وال د زکام لپاره د انتي‌بیوتیک د کارونې پر وړاندې منفي نظر لري. په مقابل لوري کې، **۲۹,۲٪** ګډونوال موافق او **۲,۱٪** پوره موافق دي، چې په ټولیز ډول نږدې **۳۱,۳٪** برخه‌وال د دې عمل ملاتړ کوي، په داسې حال کې چې **۱۲,۸٪** بې‌طرفه پاتې شوي دي.

**9 جدول.** *زه انتي بیوتیک د زکام لپاره کاروم.*

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | پوره مخالف یم | 108 | 28.1 |
| | مخالف یم | 107 | 27.9 |
| | بې‌طرفه یم | 49 | 12.8 |
| | موافق یم | 112 | 29.2 |
| | پوره موافق یم | 8 | 2.1 |
| | Total | 384 | 100.0 |

د غاښ درد لپاره د انتي‌بیوتیکو د کارونې په اړه ښلابیل نظرونه شتون لري. د معلوماتو له مخې، **۱۵,۱٪** برخه‌وال پوره مخالف او **۲۱,٦٪** مخالف دي، چې په ټولیز ډول شاوخوا **۳٦,۷٪** ګډونوال د دې عمل پر وړاندې منفي دریځ لري. په مقابل لوري کې، **۳۹,۳٪** ګډونوال موافق او **۱۰,۴٪** پوره موافق دي، چې په ټولیز ډول نږدې **۴۹,۷٪** برخه‌وال د غاښ درد لپاره د انتي‌بیوتیک کارونه تاییدوي. سربېره پردې، **۱۳,۵٪** ګډونوال بې‌طرفه پاتې شوي دي.

**10 جدول.** *زه انتي بیوتیک د غاښ درد لپاره کاروم.*

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | پوره مخالف یم | 58 | 15.1 |
| | مخالف یم | 83 | 21.6 |
| | بې‌طرفه یم | 52 | 13.5 |
| | موافق یم | 151 | 39.3 |
| | پوره موافق یم | 40 | 10.4 |
| | Total | 384 | 100.0 |

د ګډې ستونزو لپاره د انتي‌بیوتیکو کارونه ګډونوالو منلې. د معلوماتو له مخې ۵۶,۸٪ برخه‌وال موافق او ۴,۲٪ پوره موافق دي، چې په مجموع کې نږدې ۶۱٪ د انتي‌بیوتیک کارونې ته مثبت نظر لري. برعکس، ۱۷,۴٪ ګډونوال پوره مخالف او ۱۳٪ مخالف دي، چې ټولیزه توګه شاوخوا ۳۰,۴٪ د دې نظر مخالف دي. همدارنګه، ۸,۶٪ برخه‌وال بې‌طرفه پاتې شوي دي.

**11 جدول.** *زه انتي بیوتیک د ګډې ستونزو لپاره کاروم.*

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | پوره مخالف یم | 67 | 17.4 |
| | مخالف یم | 50 | 13.0 |
| | بې‌طرفه یم | 33 | 8.6 |
| | موافق یم | 218 | 56.8 |
| | پوره موافق یم | 16 | 4.2 |
| | Total | 384 | 100.0 |

د زخم رغونې لپاره د انتي بیوتیکونو کارول اکثریت ګډونوال اړین ګڼي. له ټولیزو ۳۸۴ ګډونوالو څخه، شاوخوا ۵۳,۱٪کسانو د موافقې دریځ غوره کړی دی او ۱۹٪ یې په پوره ډول موافق دي. په مجموع کې ۷۲,۱٪ په دې باور دي چې د زخم په درملنه کې انتي‌بیوتیک ګټور رول لري. په مقابل کې یوازې ۶,۵٪ د "پوره مخالف" او ۶,۳٪ د "مخالف" په کټه‌ګورۍ کې شامل شوي دي، چې ټولټال یې 12.8 سلنه جوړوي. دا شمېره د هغو کسانو لږه برخه ښیي چې د زخم لپاره د انتي‌بیوتیک کارولو اړتیا نه مني. سربېره پر دې، 15.1 سلنه ګډونوال (58 تنه) بې‌طرفه پاتې شوي دي.

**12 جدول.** *زه انتي بیوتیک د زخم رغونې لپاره کاروم.*

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | پوره مخالف یم | 25 | 6.5 |
| | مخالف یم | 24 | 6.3 |
| | بې‌طرفه یم | 58 | 15.1 |
| | موافق یم | 204 | 53.1 |
| | پوره موافق یم | 73 | 19.0 |
| | Total | 384 | 100.0 |

د انتي‌بیوتیک د کارونې د چلند په اړه د پام وړ توپیرونه موجود دي. د ټولیزو ۳۸۴ کسانو له ډلې څخه، ٪۳۴,٦د دې نظر موافق دي چې هر کله ناروغ وي انتي‌بیوتیک کاروي، او ٪۴,۲ په پوره ډول موافق دي. په دې توګه، شاوخوا ٪۳۸,۸ ګډونوال د ناروغۍ پر مهال د انتي‌بیوتیک کارولو ملاتړ کوي.

له بلې خوا، ٪۲۵,۸ د دې نظر مخالف او ٪۲۴,۲ په پوره ډول مخالف دي. د دې دواړو ډلو مجموعه ٪۵۰ جوړوي، چې دا د هغو کسانو لوړ شمېر ښیي چې د هرې ناروغۍ پر مهال د انتي‌بیوتیک کارول ناسم ګڼي. سربېره پر دې، ٪۱۱,۲ بې‌طرفه پاتې شوي دي.

**13 جدول.** *زه هر کله چې ناروغ شم انتي بیوتیک کاروم.*

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | پوره مخالف یم | 93 | 24.2 |
| | مخالف یم | 99 | 25.8 |
| | بې‌طرفه یم | 43 | 11.2 |
| | موافق یم | 133 | 34.6 |
| | پوره موافق یم | 16 | 4.2 |
| | Total | 384 | 100.0 |

د ګډونوالو اکثریت د انتي‌بیوتیک له اړه شعوري پوهې پرته کاروي نه لري. له ټولیزو ۳۸۴ ګډونوالو څخه، ٦٥,١٪ پوره مخالف او ۲۴٪ مخالف دي چې په مجموع کې شاوخوا ۸۹,۱٪ برخه‌وال دا ډول ناسم چلند ردوي، په داسې حال کې چې یوازې ۴,۴٪ موافق او ۲,۳٪ (۹ تنه) پوره موافق دي، او ۴,۲٪ (١٦ تنه) بې‌طرفه پاتې شوي دي.

**14 جدول.** *زه نه پوهیږم بس انتي بیوټیک کاروم.*

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | پوره مخالف یم | 250 | 65.1 |
| | مخالف یم | 92 | 24.0 |
| | بې‌طرفه یم | 16 | 4.2 |
| | موافق یم | 17 | 4.4 |
| | پوره موافق یم | 9 | 2.3 |
| | Total | 384 | 100.0 |

د کورنۍ په منځ کې د انتي‌بیوټیک د خپل‌سري کارونې په اړه مختلف نظرونه شتون لري. د ټولیزو ۳۸۴ ګډونوالو څخه ۴۱,۱٪ برخه‌وال پوره مخالف او ۱۹,۵٪ مخالف دي چې په مجموع کې نږدې ۶۰,۶٪ د دې نظر مخالف دي چې د کورنۍ نور غړي خپل‌سري انتي‌بیوټیک کاروي. په مقابل کې، ۲۸,۶٪ ګډونوال موافق او ۴,۲٪ پوره موافق دي، چې ټولیزه ټوګه شاوخوا ۳۲,۸٪ برخه‌وال د کورنۍ د خپل‌سري انتي‌بیوټیک کارونې ملاتړ کوي. سربېره پر دې، ۶,۵٪ ګډونوال بې‌طرفه پاتې شوي دي.

**15 جدول.** *زما د کورنۍ نور غړي هم خپل سري انتي بیوټیک کاروي.*

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | پوره مخالف یم | 158 | 41.1 |
| | مخالف یم | 75 | 19.5 |
| | بې‌طرفه یم | 25 | 6.5 |
| | موافق یم | 110 | 28.6 |
| | پوره موافق یم | 16 | 4.2 |
| | Total | 384 | 100.0 |

د ګډونوالو په منځ کې د انتي‌بیوټیک د علمي او صحي پوهې کچه متفاوته ده. د ټولیزو ۳۸۴ ګډونوالو څخه، ۳۷,۲٪ ګډونوال موافق او ۳۰,۲٪ پوره موافق دي، چې په مجموع کې شاوخوا ۶۷,۴٪ برخه‌وال پوهیږي چې انتي‌بیوټیک یوازې د بکتریایي ناروغیو په درملنه مؤثر دي. برعکس، ۶,۵٪ برخه‌وال پوره مخالف او ۸,۶٪ مخالف دي، چې ټولیزه ټوګه ۱۵,۱٪ برخه‌وال د دې صحي پوهې پر وړاندې ناسم دریځ لري. سربېره پر دې، ۱۷,۴٪ برخه‌وال بې‌طرفه پاتې شوي دي.

**16 جدول.** *زه پوهیږم چې انتي بیوتیک بوازې د بکتریایي ناروغیو لپاره مؤثر دي.*

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | پوره مخالف یم | 25 | 6.5 |
| | مخالف یم | 33 | 8.6 |
| | بې‌طرفه یم | 67 | 17.4 |
| | موافق یم | 143 | 37.2 |
| | پوره موافق یم | 116 | 30.2 |
| | Total | 384 | 100.0 |

ګډونوال د بدن لپاره د انتي بیوتیکونو د ناسمې کارونې خطرناک والې په غوځ اکثریت مني. د د معلوماتو له مخې، د ګډونوالو اکثریت د دې نظر سره موافق دی چې ناسمه انتي‌بیوتیک د بدن لپاره خطرناک دی. مشخصاً، ۵۴,۲٪ ګډونوالو په پوره ډول موافق وو او ۳۹,۶٪ یې موافق وو، چې په ټولیزه توګه شاوخوا ۹۴٪ برخه ښیي د دې خطر د منلو په اړه واضح پوهاوی لري. په برعکس، یوازې ۲,۱٪ برخه پوره مخالفه وه او ۲,۱٪ برخه مخالفه، یعنې د ګډونوالو لږه کچه د ناسمه انتي‌بیوتیک د احتمالي زیان په اړه شک لري. همدارنګه، ۲,۱٪ ګډونوال بې‌طرفه پاتې شوي.

**17 جدول.** *زه باور لرم چې د انتي بیوتیکونو بې ځایه کارونه د بدن لپاره خطرناک دي.*

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | پوره مخالف یم | 8 | 2.1 |
| | مخالف یم | 8 | 2.1 |
| | بې‌طرفه یم | 8 | 2.1 |
| | موافق یم | 152 | 39.6 |
| | پوره موافق یم | 208 | 54.2 |
| | Total | 384 | 100.0 |

ګډونوال د انتي بیوتیکو د ناسمې کارونې څخه راولاړ شوی مقاومت ته قائل دي. د ۳۸۴ ګډونوالو څخه، ۳۳,۱٪ ګډونوال موافق او ۴۹,۵٪ پوره موافق دي، چې په مجموع کې شاوخوا ۸۲,۶٪ برخه‌وال په دې باور دي چې د انتي‌بیوتیکو ناسمه کارونه د بکتریاوو مقاومت ته لاره هواروي. په مقابل کې یوازې ۲,۱٪ برخه‌وال پوره مخالف او ۴,۴٪ مخالف دي، چې ټولیزه توګه یې ۶,۵٪ برخه‌وال د دې صحي معلوماتو پر وړاندې ناسم دریځ لري. سربېره پر دې، ۱۰,۹٪ ګډونوال بې‌طرفه پاتې شوي دي.

**18 جدول.** *زه پوهیږم چې د انتي بیوتیکو ناسمه کارونه د بکتریاوو مقاومت ته لاره هواروي.*

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | پوره مخالف یم | 8 | 2.1 |
| | مخالف یم | 17 | 4.4 |
| | بې‌طرفه یم | 42 | 10.9 |
| | موافق یم | 127 | 33.1 |
| | پوره موافق یم | 190 | 49.5 |
| | Total | 384 | 100.0 |

د ګډونوالو اکثریت د مایکروب ضد مقاومت (Antimicrobial Resistance) په اړه کافي پوهه لري. له ۳۸۴ ګډونوالو څخه، ۴۱,۴٪ برخه‌وال موافق او ۳۶,۵٪ پوره موافق دي، چې په مجموع کې شاوخوا ۷۷,۹٪ ګډونوال مایکروب ضد مقاومت مفهوم پېژني او د خطراتو په اړه پوهاوی لري. په مقابل کې، یوازې ۲,۱٪ برخه‌وال پوره مخالف او ۶,۵٪ مخالف دي، چې ټولیزه توګه یوازې ۸,۶٪ د دې علمي پوهې پر وړاندې منفي دریځ لري. سربېره پر دې، ۱۳,۵٪ ګډونوال بې‌طرفه پاتې شوي دي.

**19جدول.** *زه د مایکروب ضد مقاومت مفهوم پېژنم.*

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | پوره مخالف یم | 8 | 2.1 |
| | مخالف یم | 25 | 6.5 |
| | بې‌طرفه یم | 52 | 13.5 |
| | موافق یم | 159 | 41.4 |
| | پوره موافق یم | 140 | 36.5 |
| | Total | 384 | 100.0 |

د ګډونوالو ډیره برخه د څو درملو ضد مقاومت (Multidrug Resistance) په اړه کافي پوهه لري. د پایلو له مخې، د ګډونوالو اکثریت د دې مفکورې په اړه پوهاوی لري. مشخصاً، ۴۱,۴٪ ګډونوالو موافق او ۳۴,۴٪ یې په پوره ډول موافق وو، چې په ټولیزه توګه شاوخوا ۷۶٪ برخه ښیي د دې مهم طبي مفهوم په اړه پوهه لري. په مقابل کې، یوازې ۲,۱٪ برخه پوره مخالفه او ۶,۵٪ برخه مخالفه وو، یعنې د ګډونوالو لږه برخه لا هم د څو درملو ضد مقاومت په اړه شک لري. همدارنګه، ۱۵,۶٪ ګډونوالو بې‌طرفه نظر درلود.

**20جدول.** *زه د څو درملو ضد مقاومت مفهوم پیژنم.*

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | پوره مخالف یم | 8 | 2.1 |
| | مخالف یم | 25 | 6.5 |
| | بې‌طرفه یم | 60 | 15.6 |
| | موافق یم | 159 | 41.4 |
| | پوره موافق یم | 132 | 34.4 |
| | Total | 384 | 100.0 |

د ګډونوالو له نیمایي زیاته برخه د انتي‌بیوتیکو د علمي کارونې اصولو په اړه پوهاوی لري په ځانګړي توګه د زکام او نورو ویروسي ناروغیو په درملنه کې د دې دوا د اغېزې نشتوالی پیژني. له ټولیزو ۳۸۴ ګډونوالو څخه ۳۰,۲٪ برخه‌وال موافق او ۳۴,٦٪ پوره موافق دي، چې په مجموع کې شاوخوا ٦۴,۸٪ برخه‌وال پوهیږي چې انتي‌بیوتیک د زکام او ویروسي ناروغیو لپاره مؤثر نه‌دي. په مقابل کې ۸,۳٪ برخه‌وال پوره مخالف او ۲۰,۳٪ مخالف دي، چې ټولیزه توګه شاوخوا ۲۸,٦٪ برخه‌وال د دې صحي معلوماتو پر وړاندې ناسم دریځ لري. سربېره پر دې، ٦,۵٪ برخه‌وال بې‌طرفه پاتې شوي دي.

**21جدول.** *زه پوهیږم چې د زکام/ویروسي ناروغیو لپاره انتي بیوتیک مؤثر نه دي.*

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | پوره مخالف یم | 32 | 8.3 |
| | مخالف یم | 78 | 20.3 |
| | بې‌طرفه یم | 25 | 6.5 |
| | موافق یم | 116 | 30.2 |
| | پوره موافق یم | 133 | 34.6 |
| | Total | 384 | 100.0 |

د ګډونوالو اکثریت د انتي‌بیوتیکو د کارونې صحي او علمي اصولو پیروي کوي او د ډاکټر سره مشوره کوي. له ټولیزو ۳۸۴ ګډونوالو څخه، ۴۲,۴٪ برخه‌وال موافق او ۴۷,۱٪ پوره موافق دي، چې په مجموع کې شاوخوا ۸۹,۵٪ برخه‌وال د انتي‌بیوتیک کارونې څخه مخکې له ډاکټر سره مشوره کوي. په مقابل کې، یوازې ۲,۱٪ برخه‌وال پوره مخالف او ۲,۱٪ مخالف دي، چې ټولیزه توګه یوازې ۴,۲٪ برخه‌وال د ډاکټر مشورې ته پام نه کوي. سربېره پر دې، ٦,۳٪ برخه‌وال بې‌طرفه پاتې شوي.

**22جدول**. *زه د انتي بیوتیکو کارونې څخه مخکې له ډاکټر سره مشوره کوم.*

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | پوره مخالف یم | 8 | 2.1 |
| | مخالف یم | 8 | 2.1 |
| | بې‌طرفه یم | 24 | 6.3 |
| | موافق یم | 163 | 42.4 |
| | پوره موافق یم | 181 | 47.1 |
| | Total | 384 | 100.0 |

اکثریت ګډونوال د انتي‌بیوتیکو مکمل کورس نه بشپړوي په نیمایي کې پرېږدي. له ټولیزو ۳۸۴ ګډونوالو څخه، ۴۰,۱٪ برخه‌وال موافق او ۳۸,۳٪ پوره موافق دي، چې په مجموع کې شاوخوا ۷۸,۴٪ برخه‌وال د درملو کورس د بشپړولو پر ځای په نیمایي کې یا له ختمیدو مخکې یې پرېږدي. په مقابل کې، یوازې ۴,۴٪ برخه‌وال پوره مخالف او ۱۰,۷٪ مخالف دي، چې ټولیزه توګه شاوخوا ۱۵,۱٪ برخه‌وال د درملو کورس بشپړ تعقیب کوي. سربېره پر دې، ٦,۵٪ برخه‌وال بې‌طرفه پاتې شوي.

**23جدول**. *زه د انتي بیوتیکو مکمل کورس نه تعقیبوم او نیمایي کې خوشې کوم.*

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | پوره مخالف یم | 17 | 4.4 |
| | مخالف یم | 41 | 10.7 |
| | بې‌طرفه یم | 25 | 6.5 |
| | موافق یم | 154 | 40.1 |
| | پوره موافق یم | 147 | 38.3 |
| | Total | 384 | 100.0 |

د ګډونوالو اکثریت د انتي‌بیوتیکو د اخستلو لپاره نسخه لازمي کول اړین ګڼي. له ۳۸۴ ګډونوالو څخه، ۳۹,٦٪ برخه‌وال موافق او ۴۳,۲٪ پوره موافق دي، چې په مجموع کې شاوخوا ۸۲,۸٪ برخه‌وال د دې نظر ملاتړ کوي چې د انتي‌بیوتیک د ترلاسه کولو لپاره نسخه باید لازمي شي. په مقابل کې یوازې ٦,۵٪ برخه‌وال مخالف دي، او ۱۰,۷٪ برخه‌وال بې‌طرفه پاتې شوي.

**24 جدول.** *د انتي بیوتیکو اخیستلو لپاره نسخه لازمي وګرځول شي.*

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | مخالف یم | 25 | 6.5 |
| | بې‌طرفه یم | 41 | 10.7 |
| | موافق یم | 152 | 39.6 |
| | پوره موافق یم | 166 | 43.2 |
| | Total | 384 | 100.0 |

ګډونوال د انتي بیوتیکو د ناسمې کارونې د مخنیوي په پار د عامه پوهاوي پر اغیزو پوره باور لري. د معلوماتو له مخې له ۳۸۴ ګډونوالو څخه په مشخص ډول، ٦٧,۴٪ ګډونوالو په پوره ډول موافق او ۲٦٪ یې موافق وو، چې په ټولیزه توګه نږدې ۹۴٪ برخه ښیي د دې نظر ملاتړ کوي. په مقابل کې یوازې ۲,۳٪ برخه پوره مخالفه او ۲,۱٪ برخه مخالفه وو، یعنې د ګډونوالو لږه برخه د عامه پوهاوي د اهمیت په اړه شک لري. همدارنګه، ۲,۱٪ ګډونوالو بې‌طرفه پاتې شوي

**25جدول.** *عامه پوهاوي کولای شي د انتي بیوتیکو ناسمه کارونه کمه کړي.*

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | پوره مخالف یم | 9 | 2.3 |
| | مخالف یم | 8 | 2.1 |
| | بې‌طرفه یم | 8 | 2.1 |
| | موافق یم | 100 | 26.0 |
| | پوره موافق یم | 259 | 67.4 |
| | Total | 384 | 100.0 |

د ګډونوالو اکثریت د انتي‌بیوتیکو د تجویز او وېش د سختو قوانینو د پلي کولو ملاتړ کوي. له ټولیزو ۳۸۴ ګډونوالو څخه ۳۲,۸٪ برخه‌وال موافق او ٦۰,۷٪ پوره موافق دي، چې په مجموع کې شاوخوا ۹۳,۵٪ برخه‌وال د دې نظر ملاتړ کوي. په مقابل کې یوازې ۲,۱٪ برخه‌وال مخالف او ۴,۴٪ برخه‌وال بې‌طرفه پاتې شوي.

**26جدول.** *حکومت باید د انتي بیوتیکو د تجویز او ویش سخت قوانین پلی کړي.*

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | مخالف یم | 8 | 2.1 |
| | بې‌طرفه یم | 17 | 4.4 |
| | موافق یم | 126 | 32.8 |
| | پوره موافق یم | 233 | 60.7 |
| | Total | 384 | 100.0 |

د ګډونوالو اکثریت د فارمسستانو او درمل پلورونکو پر فعالیت د نظارت د زیاتوالي ملاتړ کوي. له ټولیزو ۳۸۴ ګډونوالو څخه، ۲۱,۹٪ برخه‌وال موافق او ۷۱,٦٪ پوره موافق دي، چې په مجموع کې شاوخوا ۹۳,۵٪ برخه‌وال د دې نظر ملاتړ کوي. په مقابل کې یوازې ۲,۱٪ برخه‌وال مخالف او ۴,۴٪ برخه‌وال بې‌طرفه پاتې شوي.

**27جدول.** *فارمېسستانو اودرمل پلورونکو نظارت باید ډیر شي.*

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | مخالف یم | 8 | 2.1 |
| | بې‌طرفه یم | 17 | 4.4 |
| | موافق یم | 84 | 21.9 |
| | پوره موافق یم | 275 | 71.6 |
| | Total | 384 | 100.0 |

د ګډونوالو اکثریت د روغتیایي کارکوونکو لپاره د انتي‌بیوتیکو په اړه د منظمې روزنې ملاتړ کوي. له ټولیزو ۳۸۴ ګډونوالو څخه **۲۸,٦٪** برخه‌وال موافق او **٦۷,۲٪** پوره موافق دي چې په مجموع کې شاوخوا **۹۵,۸٪** برخه‌وال د دې نظر ملاتړ کوي. په مقابل کې یوازې **۲,۱٪** برخه‌وال مخالف او **۲,۱٪** برخه‌وال بې‌طرفه پاتې شوي.

**28جدول.** *روغتیایي کارکوونکو ته د انتي بیوتیکو په اړه منظم روزنه ورکړل شي.*

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | مخالف یم | 8 | 2.1 |
| | بې‌طرفه یم | 8 | 2.1 |
| | موافق یم | 110 | 28.6 |
| | پوره موافق یم | 258 | 67.2 |
| | Total | 384 | 100.0 |

**مناقشه**

د دې څېړنې موندنې د تېرو مطالعاتو او نړیوالو څېړنیزو شواهدو سره په پراخه توګه همغږي لري، خو ځینې ځانګړې تفاوتونه یې هم څرګندوي. لکه څرنګه چې Huttner et al. (2013) او Bell et al. (2014) ښیي، د انتي‌بیوتیکو ناسمه کارونه نه یوازې د مایکروبونو د مقاومت د پراختیا لامل ګرځي، بلکې د روغتیایي لګښتونو لوړوالي او د ناروغانو د درملنې د کیفیت کمښت سبب هم کېږي. زموږ څېړنې ښیي چې د ګډونوالو ترمنځ د ځان‌درملنې کچه (۴۳,۵٪) او د کورنۍ او دوستانو د سپارښتنو اغیز (٦۵,٦٪ مخالف) د پام وړ دی، چې د Qudrati et al. (2025) او Burtscher et al. (2021) موندنو سره مطابقت لري. دا څرګندوي چې د پوهې کمښت، د درملتونونو آسانه لاسرسی، او د صحي خدماتو محدودتیا په دې چلند کې مهم رول لري.

د تېرو څېړنو په څېر لکه د Bajis et al. (2014) او Habibyar & Nazari (2023) په مطالعو کې، زمونږ پایلې هم ښیي چې د انتي‌بیوتیکو نسخو ورکول په روغتیایي مراکزو کې د نړیوالو معیارونو څخه زیات دي. په ځانګړې ډول، د ګډونوالو ۳۸,۸٪ د هرې ناروغۍ پر مهال د انتي‌بیوتیکو کارونې ملاتړ کوي، چې د OPD ناروغانو په کچه د لوړې نسخو ورکولو پایلې سره همغږي لري. همدارنګه، د علمي پوهې په برخه کې، زمونږ څېړنې ښیي چې ۶۷,۴٪ ګډونوال پوهېږي چې انتي‌بیوتیک یوازې د بکتریایي ناروغیو لپاره ګټور دي، او ۶۴,۸٪ پوهېږي چې د ویروسي ناروغیو لپاره بې‌فایده دي. دا پایله د Ventola (2015) او Laxminarayan et al. (2013) موندنو سره برابره ده چې د پوهې کمښت د ناسمو درملو کارونې مهم علت دی.

د مایکروبونو مقاومت د نمونو په اساس هم زمونږ پایلې د Dawlatpoor et al. (2025) څېړنو سره مطابقت لري. لکه څنګه چې دوی ښودلي، Escherichia coliتر ټولو ډېره عامه مایکروب وه چې په ۵۱,۲٪ ناروغانو کې مقاومت یې ثبت شوی، او د Staphylococcus aureus مقاومت ۲۶,۳۷٪ و. د دې موندنو سره زمونږ د ګډونوالو د پوهې او چلند ارزونې پایلې یوځای ښیي چې که څه هم پوهه موجوده ده، خو عملي چلند (لکه د انتي‌بیوتیک کورس بشپړ نه کول په ۷۸,۴٪ کې) د مقاومت د پراختیا د مخنیوي لپاره کافي نه دی.

په افغانستان کې د AMR د زیاتوالي اصلي عوامل لکه د صحي نظام کمزورتیا، د تشخیص لابراتوارونو نشتوالی، او د جګړو دوام (Ahmadzai et al., 2022) زمونږ د څېړنې د ګډونوالو د چلند او پوهې د پایلو سره تړاو لري. سربېره پر دې، د عامه پوهاوي لوړول، د نسخو لازمي کول، د حکومت سخت قوانین، د فارمسستانو څار، او د روغتیایي کارکوونکو روزنه د ګډونوالو په نظر کې د حل لارې په توګه خورا مهمې ګڼل شوې، چې دا د Qudrati et al. (2025)سپارښتنو سره مطابقت لري.

په ټولیزه توګه، زمونږ څېړنه تاییدوي چې د انتي‌بیوتیکو ناسم استعمال او ځان‌درملنې مسلې په افغانستان کې جدي دي، د تېرو څېړنو شواهد یې تاییدوي، او د مایکروب ضد مقاومت د پراختیا لپاره جدي خطرونه رامنځته کوي. دا څرګندوي چې یوازې پوهه کافي نه ده؛ عملي اقدامات، د انتي‌بیوتیکو د مدیریت پروګرامونه، د عامه پوهاوي کمپاینونه، د نسخو لازمي کول، او د روغتیایي کارکوونکو مسلکي روزنه باید په ګډه پلي شي ځو د AMR د خپرېدو مخه ونیول شي.

**پایله**

د څېړنې ډیموګرافیک پایلې ښیي چې د ګډونوالو ډېره برخه ۵۷٪ ځوانان دي (د ۱۸–۲۵ کلونو ترمنځ او ۳۴,۱٪ د ۲۶–۳۵ کلونو په منځ کې)، د جنسیت له اړخه نارینه (۸۹,۶٪) او د زده‌کړې له اړخه (۸۴,۶٪)لوړې زده‌کړو لرونکي دي. د دندې له مخې محصلین (۴۵,۶٪) او ډاکټران (۳۴,۹٪) لویه برخه جوړوي، او د استوګنې له اړخه ښاري اوسېدونکي (۸۰,۵٪) غالب دي.

۵۴,۱٪ ګډونوال د انتي‌بیوتیکو د کارونې سره موافق دي، ۴۳,۵٪ د خپل‌سري کارونې ملاتړ کوي، خو ۶۵,۶٪د کورنۍ او ملګرو په مشوره له کارونې سره مخالف دي. د فارمېسست مشوره یوازې ۴۰,۱٪ کې اغېزمنه وه. ۶۹٪ درملتونونه د انتي‌بیوتیک د اصلي سرچینې په توګه یادوي، په داسې حال کې چې د لاسي دوا پلورونکو پر وړاندې ۷۸,۶٪ منفي دریځ لري.

د ځانګړو ناروغیو هر یو د تبې لپاره ۶۰,۱٪، او د زکام لپاره ۵۶٪ ګډونوال د انتي‌بیوتیک کارونې مخالف دي، خو د غاښ درد لپاره ۴۹,۷٪ او د ګیډې ستونزو لپاره ۶۱٪ یې ملاتړ کوي. د زخم د رغونې لپاره بیا ۷۲,۱٪ برخه‌وال د انتي‌بیوتیک کارونه اړین بولي.

۳۸,۸٪ ګډونوال د هرې ناروغۍ پر مهال د انتي‌بیوتیک کارونې ملاتړ کوي، په داسې حال کې چې ۵۰٪ یې مخالف دي. همدارنګه، ۸۹٪ ګډونوال د نه پوهاوي پر اساس د انتي‌بیوتیکو کارونې مخالف دي، خو ۳۲,۸٪د کورنۍ د نورو غړو د خپل‌سري کارونې ملاتړ کوي.

د علمي پوهې له نظره ۶۷,۴٪ ګډونوال انتي‌بیوتیک یوازې د بکتریایي ناروغیو لپاره ګټور ګڼي، ۶۴,۸٪ پوهېږي چې د زکام او ویروسي ناروغیو لپاره بې‌فایدې دي، ۸۲,۶٪ په دې باور دي چې ناسم کارونه یې د مقاومت سبب کېږي، همدارنګه ۹۴٪ ناسمه کارونه د بدن لپاره خطرناک ګڼي. ۷۷,۹٪ د مایکروب ضد مقاومت او ۷۶٪ د څو درملو ضد مقاومت پېژني.

د عملي چلند له مخې ۷۸,۴٪ ګډونوال د انتي‌بیوتیک کورس نه بشپړوي، خو په مقابل کې ۸۹,۵٪ د کارونې مخکې له ډاکټر سره مشوره کوي.

انتي بیوتیکو د ناسمې کارونې او مایکروب ضد مقاومت د پراخیدو د مخنیوي د حل لارو په ډول ۸۲,۸٪ د نسخې لازمي کېدو ملاتړ کوي، ۹۴٪ عامه پوهاوي اړین ګڼي. ۹۳,۵٪ د حکومت د سختو قوانینو، ۹۳,۵٪ د فارمسستانو د زیات ځار، او ۹۵,۸٪ د روغتیایي کارکوونکو د منظمې روزنې ملاتړ کوي.

**وړاندیزونه**

- د عامې روغتیا وزارت باید د انتي‌بیوتیکو ترلاسه کولو لپاره نسخه لازمي کړي ترڅو د ناسمه کارونې مخه ونیسي.
- د عامې روغتیا وزارت او د اطلاعاتو او کلتور وزارت باید د انتي‌بیوتیکو د ناسمه کارونې او د مایکروب ضد مقاومت په اړه د عامه پوهاوي کمپاینونه او خپرونې په راډیو، تلویزیون او ټولنیزو رسنیو کې ترسره کړي.
- حکومت باید د انتي‌بیوتیکو د تجویز، ویش او غیر قانوني پلور په اړه سخت قوانین پلی کړي او د غیر قانوني پلورونکو په وړاندې جدي اقدامات وکړي.
- د روغتیایي ادارو لخوا باید د فارمېسستانو، نرسانو او ډاکټرانو فعالیتونه د انتي‌بیوتیکو د مسؤلانه کارونې په برخه کې نظارت او وو ارزول شي.
- روغتیایي کارکوونکي باید په دوامداره توګه وروزل شي، د انتي‌بیوتیکو د ناسمې کارونې خطرونو او د مقاومت د مخنیوي اقداماتو په اړه معلومات ترلاسه کړي.
- د عامې روغتیا وزارت باید څېړنیزې پروژې پلي کړي، چې د انتي‌بیوتیکو د کارونې او مقاومت په اړه معلومات راټول او تحلیل کړي او پایلې اړونده ادارو ته وړاندې کړي.
- ډاکټران باید په کتنځایونو او انتظار خونو کې لارښود چارټونه ځوړند کړي، چې د انتي‌بیوتیکو د ناسمه کارونې خطرونه ښیي.

- علمي موسسې، اکاډمی او پوهنتونونه باید د انټي‌بیوتیکو د ناسمې کارونې او مقاومت د مخنیوي لپاره سمپوزیومونه او څېړنیز غونډې ترسره کړي.

**منابع**

Ahmadzai, M. A., Shinwari, Q., Al-Rasheed, A. A., & Garba, B. (2022). Armed conflict and the proliferation of antimicrobial resistance: the situation in war-ravaged Afghanistan. Int J One Health, 8(1), 43-47.

Bajis, S., Van den Bergh, R., De Bruycker, M., Mahama, G., Van Overloop, C., Satyanarayana, S., ... & Reid, A. J. (2014). Antibiotic use in a district hospital in Kabul, Afghanistan: are we overprescribing?. Public Health Action, 4(4), 259-264.

Bell, B. G., Schellevis, F., Stobberingh, E., Goossens, H., & Pringle, M. (2014). A systematic review and meta-analysis of the effects of antibiotic consumption on antibiotic resistance. *BMC Infectious Diseases*, 14, 13. https://doi.org/10.1186/1471-2334-14-13

Burtscher, D., Van den Bergh, R., Nasim, M., Mahama, G., Au, S., Williams, A., ... & Bajis, S. (2021). 'They eat it like sweets': a mixed methods study of antibiotic perceptions and their use among patients, prescribers and pharmacists in a district hospital in Kabul, Afghanistan. *Plos one*, 16(11), e0260096.

Davies, J., & Davies, D. (2010). Origins and evolution of antibiotic resistance. *Microbiology and molecular biology reviews: MMBR*, *74*(3), 417–433. https://doi.org/10.1128/MMBR.00016-10

Dawlatpoor, Zolf & Enayati, Homaira & Tokhai, Ahmad. (2025). Evaluation of Antimicrobial Resistance Patterns at FMIC Hospital in Kabul, Afghanistan. *EMJ Microbiology & Infectious Diseases*. 10.33590/emjmicrobiolinfectdis/BMAE5143.

Ehsan, H., Wardak, F. R., Karimi, H., & others. (2025). *Comprehensive narrative analysis of antimicrobial resistance in Afghanistan: Key drivers, challenges, and strategic interventions. Journal of Health, Population and Nutrition*, *44*(1), 265. https://doi.org/10.1186/s41043-025-00909-z

Goossens, H., Ferech, M., Vander Stichele, R., Elseviers, M., & ESAC Project Group (2005). Outpatient antibiotic use in Europe and association with resistance: a cross-national database study. *Lancet* (London, England), 365(9459), 579–587. https://doi.org/10.1016/S0140-6736(05)17907-0

Habibyar, A. F., & Nazari, Q. A. (2023). Evaluation of prescribing patterns using WHO core drug use indicators in a pediatric hospital of Kabul Afghanistan: A prospective cross-sectional study. *Heliyon*, 9(11).

Huttner, B., Goossens, H., Verheij, T., Harbarth, S., & CHAMP consortium (2010). Characteristics and outcomes of public campaigns aimed at improving the use of antibiotics in outpatients in high-income countries. *The Lancet. Infectious diseases*, 10(1), 17–31. https://doi.org/10.1016/S1473-3099(09)70305-6

Laxminarayan, R., Duse, A., Wattal, C., Zaidi, A. K., Wertheim, H. F., Sumpradit, N., Vlieghe, E., Hara, G. L., Gould, I. M., Goossens, H., Greko, C., So, A. D., Bigdeli, M., Tomson, G., Woodhouse, W., Ombaka, E., Peralta, A. Q., Qamar, F. N., Mir, F., Kariuki, S., … Cars, O. (2013). Antibiotic resistance-the need for global solutions. *The Lancet. Infectious diseases*, *13*(12), 1057–1098. https://doi.org/10.1016/S1473-3099(13)70318-9

Nations, U. (2019). *No Time to Wait: Securing the Future from Drug-Resistant Infections*. Report to the Secretary-General of the United Nations.

Okeke, I. N., Lamikanra, A., & Edelman, R. (1999). Socioeconomic and behavioral factors leading to acquired bacterial resistance to antibiotics in developing countries. *Emerging infectious diseases*, 5(1), 18–27. https://doi.org/10.3201/eid0501.990103

O'Neill, J. (2016). Tackling drug-resistant infections globally: final report and recommendations.

Qudrati, B. A., Sakhi, R., Nikzad, H., & Qudrati, S. A. (2025). Prevalence of self-medication with antibiotics among nonmedical students at Kabul University, Afghanistan: A cross-sectional study. *Medicine*, 104(34), e44124.

Smith, R. D., & Coast, J. (2012). The economic burden of antimicrobial resistance: why it is more serious than current studies suggest.

Van Boeckel, T. P., Gandra, S., Ashok, A., Caudron, Q., Grenfell, B. T., Levin, S. A., & Laxminarayan, R. (2014). Global antibiotic consumption 2000 to 2010: an analysis of national pharmaceutical sales data. The Lancet. *Infectious diseases*, 14(8), 742–750. https://doi.org/10.1016/S1473-3099(14)70780-7

Ventola C. L. (2015). The antibiotic resistance crisis: part 1: causes and threats. *P & T : a peer-reviewed journal for formulary management*, *40*(4), 277–283.

World Health Organization. (2019). Antimicrobial stewardship programmes in health-care facilities in low-and middle-income countries: a WHO practical toolkit. In Antimicrobial stewardship programmes in health-care facilities in low-and middle-income countries: a WHO practical toolkit.

World Health Organization. (2023). *Antimicrobial resistance.* Retrieved from https://www.who.int

# په جلال اباد کې د درملو په سمه کارونه کې د رسنیز عامه پوهاوي د ونډې څېړنه

ملي
علمي-څېړنیز ژورنال
REG Code: RCTD-PNJR-0094-25

**انعام الله میاخیل**[1]*
ژورنالیزم دیپارتمنت، د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی، لغمان پوهنتون، افغانستان
miakhelinamullah322@gmail.com

**نوراحمد نبیل**[2]
ژورنالیزم دیپارتمنت، د ارتباطاتو او ژورنالیزم پوهنځی، کابل پوهنتون، افغانستان

**لنډیز**

دا څېړنه د جلال اباد ښار د اوسېدونکو د رسنیز عامه پوهاوي د ونډې ارزونې ته ځانګړې شوې؛ څو په ډاګه کړي، چې رسنۍ د درملو د سمې کارونې په پوهه، چلند او عامه پوهاوي په برخه کې څومره اغېزناکې دي. دا موضوع ځکه مهمه ده، چې د درملو ناسمه کارونه د خلکو د روغتیا لپاره جدي ستونزې رامنځته کوي او رسنۍ د عامه پوهاوي له لارې د دې ستونزې د کمولو اغېزناکې وسیلې ګڼل کېږي. اصلي پوښتنه دا وه، رسنۍ د جلال اباد ښار د اوسېدونکو د درملو د سمې کارونې په پوهه او چلند کې څومره اغېزناکې دي. د څېړنې هېوډ کمیتي او تشریحي -تحلیلي دی؛ معلومات د سروې له لارې د Google Formsپه مرسته راټول شوي او د غیر تصادفي نمونې اخیستنې (Convenience Sampling)له لارې یې ګډونوال ټاکل شوي. د پوښتنپاڼې له بشپړې ۳۸۵ نمونې څخه ۲۳۱ ګډونوالو ځوابونه ورکړي، چې د بېلابېلو تعلیمي کچو ښاریان پکې شامل وو. معلومات د Microsoft Excel په مرسته تحلیل شوي، د جدولونو او سلنې د محاسبو په کارولو سره د ګډونوالو نظرونه ارزول شوي. پایلې څرګندوي چې اکثریت ګډونوال باور لري، رسنۍ د درملو د سمې او ناسمې کارونې په اړه معلومات خپروي، د ناسمو تصورونو مخه نیسي، د درملو د سم وخت او د ډاکټر د نسخې په تعقیب چلند ته یې هڅوي او د روغتیایي معلوماتو د چټکو خپرولو لپاره اغېزناکې وسیلې دي. په ټوله کې رسنۍ د عامه پوهاوي د لوړولو، د صحي چلند اصلاح او د درملو د ناسمې کارونې د خطر کمولو کې مثبت رول لري.

**کلیدي کلمې: رسنۍ، رسنیز عامه پوهاوی، درمل، جلال اباد ښار، ښاریان.**

# Role of by Media in Public Awareness on the Proper Use of Medicines in Jalalabad

**Abstract**

This study was conducted to assess the role of media awareness among the residents of Jalalabad city, to identify how effective the media are in enhancing knowledge, shaping behavior, and raising public awareness regarding the proper use of medicines. The topic is important because the misuse of medicines poses serious health risks, while the media are considered effective tools in reducing this problem through public awareness. The central research question was: "To what extent is the media effective in improving the knowledge and behavior of Jalalabad residents regarding the proper use of medicines?" The research followed a quantitative and descriptive-analytical method. Data was collected through online Google Forms, and participants were selected through non-probability sampling (convenience sampling). Out of the targeted 385 respondents, 231 participants completed the questionnaire, representing residents from different educational levels. The collected data were analyzed using Microsoft Excel, employing statistical tables and percentage calculations to examine participants' views. The findings indicate that the majority of participants believe the media provide information on both the proper and improper use of medicines, help reduce misconceptions, encourage adherence to prescriptions and correct timing of medicine intake, and serve as effective tools for the rapid dissemination of health information. Overall, the media plays a positive role in raising public awareness, correcting health-related behavior, and reducing the risks associated with the misuse of medicines.

**Keywords: Media, public awareness, medicines, Jalalabad city, residents**

MARJ

Mili

Academic-Research Journal

**REG Code:** RCTD-PNJR-0094-25

**Inamullah Miakhel[1]***

Department of Journalism, Faculty of Literature and Humanities, Laghman University, Afghanistan

miakhelinamullah322@gmail.com

**Noor Ahmad Nabil[2]**

Journalism Department, Faculty of Communication & Journalism, Kabul University, Afghanistan

**سریزه**

رسنۍ د روغتیا په برخه کې د وخت په تېرېدو سره اغېزناکې تمامې شوې دي. له ډلې یې چاپې رسنۍ لکه: ورځپاڼې، مجلې او بروشرې د روغتیایي معلوماتو د خپرولو لپاره د اړینې وسیلې په توګه کارول کېږي او د خلکو د تعلیمي کچې د پیاوړتیا په برخه کې یې مهم رول لوبولی دی. دغو رسنیو د عامه پوهاوي پېغامونه خپاره کړي، چې د ټولنې د افرادو په چلند کې د بدلون سبب ګرځېدلې دي او د ژوند په بېلابېلو برخو کې یې اغېز جوت کړی دی (Gaidhane, 2024). په اوسني وخت کې د ټولیزو اړیکو وسایل، لکه: راډیو، ټلوېزیون او چاپې رسنۍ نه یوازې د اطلاعاتو او معلوماتو د لېږد وسیلې دي؛ بلکې د عامه افکارو او کلتور د پرمختګ لپاره هم اړینې ګڼل کېږي. د دې پرمختګ له امله عالمانو یوویشتمه پېړۍ د «ارتباطاتو پېړۍ» بللې ده (زاده، ۱۳۹۵). له شک پرته د ډله ییزو رسنیو په کورنۍ کې ټلوېزیون تر ټولو ډېر پېژندل شوی دی او د خپلو موخو او دندو له مخې یې د اوسني پېر په انساني ټولنو کې پراخ اغېز کړی او ډېر ارزښت لري (حیدري، ۱۳۹۴).

همدارنګه راډیو د یوې اړینې تبلیغي او اقناعي وسیلې په توګه پېژندل کېږي، چې د غریبو، وروسته پاتې او حتی پرمختللو هېوادونو د خلکو ترمنځ پراخه کارونه لري. په پرمختیایي هېوادونو کې راډیو د ټلوېزیون، انټرنېټ او نورو رسنیو په پرتله ډېره اغېزناکه وسیله ګڼل کېږي. د هغې ځانګړتیاوې لکه: اسان لاسرسی، تېزوالی او د هر ځای اوربدنې امکان، راډیو د نورو رسنیو په منځ کې ځانګړې کړې ده (واحدي، ۱۳۹۵).

د ټولنیزو رسنیو ونډه په عامه پوهاوي کې هم خورا ډېره ده. د فیسبوک، اېکس، انسټاګرام او نورو ډیجیټلي پلاټفورمونو له لارې روغتیایي پېغامونه په ډېر چټک او پراخ ډول خلکو ته رسېږي. ټولنیزې رسنۍ یوازې د خلکو د پوهې کچه نه لوړوي؛ بلکې د هغوی په چلند کې یې مثبت بدلونونه هم رامنځته کړي دي. څېړنې ښیي چې د ټولنیزو رسنیو روغتیایي کمپاینونه د عامه روغتیا د پرمختګ او د ناروغیو د مخنیوي په برخه کې اغېزناک تمامېږي (Asare & Ashna, 2021).

د درملو معقوله او اغېزناکه کارونه د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) له مهمو موخو څخه دي. د دغه سازمان د راپور له مخې، نږدې نیمایي درمل په ناسم ډول ورکول یا اخیستل کېږي او له نیمایي څخه ډېر ناروغان یې سمه کارونه نه کوي. د درملو ناسمه کارونه لکه: ببڅایه انتي بیوتیک اخیستل، د انتي سپیز کارول یا د اړتیاوو سره نه سم دوزونه نه یوازې روغتیا ته زیان رسوي؛ بلکې د مالي سرچینو ضایع کېدو او د انتي بیوتیکو پر وړاندې د مقاومت (AMR) د رامنځته کېدو لامل هم ګرځي. له همدې امله عامه پوهاوی او د درملو د سمې کارونې په اړه عامه زده کړه د روغتیایي پالیسیو یوه مهمه لومړیتوب ګڼل کېږي (World Health Organization, 2005.).

رسنۍ که ټولنیزې، چاپې، یا برېښنایي وي ټولې د روغتیایي معلوماتو د خپرولو لپاره هغه ځواکمنې وسیلې دي، چې په پراخه کچه خلکو ته رسېږي (Asare & Ashna, 2024). په ځانګړې توګه په افغانستان کې، چې د بېلابېلو ستونزو او محدودو خدماتو له امله روغتیایي خدمات نیمګړي دي، د عامه پوهاوي لوړول د درملو د ناسم استعمال او د نشه یي توکو د ستونزو د مخنیوي لپاره حیاتي اهمیت لري.

په افغانستان کې د درملو ناسم کارول او د سمو معلوماتو نشتوالی جدي ستونزه ده. ګڼ شمېر افغانان پرته له مشورې درمل (په خاص ډول انتي بیوتیکونه، ټکیټریا او درد وژونکي درمل) کاروي. د دې کار یو ستر لامل د روغتیایي خدمتونو کمزورتیا او اقتصادي ستونزې دي (Roien et al., 2022). پر دې سربېره د روغتیایي پوهاوي کچه ټیټه ده او

معلومات ډېرې په شفاهي ډول او ناسم درک خپریږي. یوې څېړنې څرګنده کړې، چې افغان تلوېزیونونه د مور او ماشوم روغتیا، خپرېدونکو ناروغیو او رواني ناروغیو په څېر مهمو مسایلو ته لږه پاملرنه کوي او په تلویزیوني خپرونو کې د ځان درملنې دودونه په ترویجي ډول انعکاس مومي(Najafizada, 2011). دا وضعیت ښیي، چې د روغتیا په اړه د عامه پوهاوي لپاره رسنیزه منځپانګه کمه ده او په دې اړه ډېر څه ته اړتیا شته.

دغه راز د رسنیو د ملاتړ سیستم لا هم نیمګړی دی. که څه هم ځینې روغتیایي اداري او نړیوال سازمانونه د افغان رسنیو له لارې معلومات خپروي؛ خو دا معلومات ډېرې عامو خلکو ته په ښه ډول نه رسېږي. د بیلګې په توګه د روغتیا د نړیوال سازمان او وزارت ویب پاڼې او ټولنیزې پاڼې لري؛ خو بیا هم ډېره برخه افغانانو ته د اساسي روغتیایي معلوماتو د رسېدو مسئله پاتې ده (Asare & Ashna, 2024).

په افغانستان کې د معلوماتو یوه بریالۍ بیلګه د ګوزڼ د واکسین کمپاین ده، چې پکې سیمه ییزو رسنیو د عامو خلکو د پوهاوي لپاره مهم کار وکړ (Jalalzoy, 2023)؛ خو بیا هم د درملو د سمې کارونې په اړه ځانګړې رسنیز کمپاینونه نشته او عام خلک دې ته پاملرنه نه کوي. ډاکټران په دې خبرې ټینګار کوي، چې د عامه پوهاوي د لوړولو او پانګونې له لارې کولای شو د ناروغیو مخه ونیسو. د ګوزڼ پروخت د معلوماتو په ډله ییزه خپرونه کې دا ټکي روښانه شول، چې همدا پوهاوی کولی شي د ناروغۍ له منځه وړلو کې مرسته وکړي(TOLOnews, 2025). په همدې توګه؛ که د درملو د سمې کارونې لپاره په رسنیو کې دوامداره او همغږې زده کړیزې برنامې جوړې شي؛ د درملو د ناسمې کارونې ستونزې به نورې هم راکمې شي.

د درملو د سمې کارونې موضوع په نړیواله کچه ډېره حیاتي موضوع ده. ناسمې دواګانې د ناروغۍ ښه والي مخه نیسي او روغتیا ته جدي خطرونه پېښوي؛ مثلاً: په ویجاړونکو ناروغیو لکه ټي بي او شکر کې د ناسمو دواګانو کارول ممکن د ناروغۍ کنټرول ناممکن کړي. بل خوا په افغانستان کې خلک د روغتیا د خدماتو کمبود له امله په خپله خوښه یا د کورنیو مشورو سره درمل کاروي. د کابل په یوه سروې کې ۷۳,۲٪ ګډونوالو په (۲۰۲۱) کال کې لږ تر لږه یو ځل خپل سري انټي بیوتیکونه کارولي وو؛ که څه هم ډېرې په دې خبر وو چې دا سم عمل نه دی(Roien et al., 2022) . خو د لګښت، د وخت کمښت او اسانتیا له کبله یې دوام وکړ. بله سروې ښیي چې د کابل د انټرنیټ کاروونکو ۶۵,۲٪ درملو په اړه ښه پوهه درلوده، خو ۹۶,۲٪ پوهېدل چې انټي بیوتیکونه یوازې د ډاکټر نسخې ته اړتیا لري. سره له دې د دوی چلند لا هم د دې درملو په ناسمې کارونې کې پاتې راغلی. دې موندنو وښودله چې په کابل کې د (بې نسخې) درملو د کارونې په اړه زیاته زده کړه او پوهاوی پکار دی(Nemat et al., 2023).

د دې څېړنې اصلي موخې په لاندې ډول دي:

- د رسنیز عامه پوهاوي له لارې د درملو د سمې کارونې په اړه په جلال اباد ښار کې د خلکو پوهه او چلند معلومول؛
- د رسنیو د روغتیایي معلوماتو خپرولو د اغېز په اړه د خلکو نظرونه معلومول.

زموږ څېړنه اصلاً د لاندې پوښتنو د ځوابونو پر منځې راڅرخي:

- د جلال اباد ښار وګړي د رسنیز عامه پوهاوي له لارې د درملو د سمې کارونې په اړه څومره پوهه یې ترلاسه کړې او څومره یې چلند بدل شوی دی؟
- په دې اړه د خلکو نظرونه څه دي، چې رسنۍ د روغتیایي معلوماتو د خپرولو په برخه کې څومره اغېزناکې دي؟

**تېرو لیکنو ته کتنه**

څېړنو ښودلې چې رسنۍ د روغتیا په اړه د عامه پوهاوي د لوړولو لپاره اغېزناکې وسیلې دي. نړیوال سازمانونه د درملو د سمې کارونې لپاره عامه پوهاوي ته ځانګړې پاملرنه کوي World Health Organization (2005). د انټي بیوتیکو په اړه په امریکا کې د «Get Smart Colorado» کمپاین یوې څېړنې په ډاکه کړه، چې د یو کم لګښت رسنیز کمپاین له مخې په ټولنه کې د انټي بیوتیک د کارونې کچه کمه شوه .هغوی په خپلو موندنو کې ولیکل چې «یو ارزانه رسنیزه کمپاین په ټولنه کې د انټي بیوتیک کارونه کمه کړې او د ماشومانو د ډاکټرانو د لېدنو په کموالي سره رامنځته شوی(Gonzales et al., 2008)«یوې بلې بیا کتنې وموندله، چې داسې کمپاینونه چې په کې دواړه ډاکټران او عام خلک د پوهاوي لپاره شامل وي او رسنۍ پکې کارول شوې وي؛ د انټي بیوتیک په اړتیا نه درلودونکي کارولو کې ۳۳٪ کموالی راولي(Sacco et al., 2011) دا ډله ییزې زده‌کړې او د اطلاع رسونې کمپاینونه دا په ګډه کوي، چې د درملو د ناسمې کارونې مخنیوي او د پوهاوي لوړولو لپاره اغېزناک تمامېدای شي.

په سیمه ییزه کچه د افغانستان د رسنیو او روغتیا په برخه کې د څېړنو لومړنۍ هڅې هم شوي. د ماسټرۍ تېزس دا په ډاګوي، چې افغان خصوصي تلوېزیونونو د روغتیایي مسایلو خپرونې کمې دي او پکې د فردي ژوند برخو ته ډېر پام شوی دی(Najafizada, 2011) . دا څېړنه په افغانستان کې عامو رسنیو کې د روغتیا په اړه د پوهاوي کمښت یادونه کوي؛ برعکس د روغتیا د ترویج په برخه کې دوو لیکنو په افغانستان کې د رسنیو د مهم رول په اړه خبرې کړې دي. هغوی یادونه کوي، چې رسنۍ په ټولو ښو کې د روغتیایي معلوماتو د رسولو بنسټیز رول لري، چې پر روغتیایي پایلو اثر کولی شي. دوی وړاندیز کوي، چې د رسنیو له لارې باید مینه والو ته په مناسبو ژبو او بڼو کې روغتیایي پیغامونه ورسول شي؛ څو په لېرې پرتو سیمو کې خلکو ته اړین معلومات ورسېږي. د بېلګې په توګه؛ دوی دا یادوي، چې افغانستان کې ښځې له اوږدې مودې راهیسې په رسنیو باور لري؛ نو له همدې امله د روغتیا په برخه کې د عامه پوهاوي ستر فرصت شته دی. د مفاهیمو پر بنسټ نړیوال سازمانونه او د افغانستان د روغتیا وزارت هم د ټولنیزو رسنیو او ویب پاڼو له لارې سم او کلتور اړوند روغتیایي معلومات خپروي؛ که څه هم اوسنۍ هڅې خلکو ته په پراخه کچه نه رسېږي(Asare & Ashna, 2021).

د رسنیو یو بل مثبته بېلګه په کندز ولایت کې د پولیو کمپاین دی، چې سیمه ییزو رسنیو د دې ناروغۍ په اړه پوهاوی زیاتکړ. د افغانستان د روغتیا وزارت ویاند ویلي، چې د ځارونکو راډیوګانو او تلوېزیونونو په مرسته مو ټولو سترو او وړو سیمو ته معلومات رسول شوي او مهم معلومات ورته خپاره شوي دي(Jalalzoy, 2023) . دا ښیي چې په مناسبې همکارۍ او د پلان شوي کمپاین سره رسنۍ کولی شي، حتی په کلیوالو او لېرې پرتو سیمو کې د خلکو باورنه او چلند بدل کړي.

په ټولیزه توګه، نړیوالې او سیمه ییزې څېړنو دا روښانه کړې، چې د رسنیو او اعلاتونو په کارولو سره عامه پوهاوی زیاتول بریالی پایله ورکولی شي. د روغتیا مسلکي کسانو، پوهانو او رسنیو همغږي مهمه ده. څېړنې ښیي چې که ډاکټران او پوهان د پوهاوي پیغامونه رامنځته کړي او رسنۍ یې خپاره کړي؛ نو د درملو سمې کارونې ته ټینګ تعهد او ژمنتیا رامنځته کېدی شي (Sacco et al., 2011) په افغانستان کې هم نوې څېړنې په دې باب کار کوي او دا وړاندیز کوي چې د رسنیو پیاوړې همکاري او مسلکي لارښوونې باید د عامه پوهاوي د لوړوالي لپاره په ستراتیژیک ډول رامنځته شي.

## څېړندود

دا څېړنه کمیتي (Quantitative) او تشریحي ـ تحلیلي (Descriptive–Analytical) بڼه لري. د معلوماتو د راټولولو لپاره د سروې (Survey) میتود څخه ګټه اخیستل شوې ده. د دې موخې لپاره ځانګړې پوښتنپاڼه طرحه او د Google Formsله لارې د جلال اباد ښار د اوسېدونکو ترمنځ په انلاین ډول شریکه شوې ده.

د پوښتنپاڼې د وېش لپاره د غیر تصادفي نمونې اخیستنې (Convenience Sampling) تګلاره کارول شوې ده او د دې علت دا دی، چې ګډونوال یوازې هغه کسان وو، چې انټرنېټ ته یې لاسرسی درلود او په خپله خوښه یې د څېړنې برخه کېدل. ټاکل شوې احصایوي نمونه (Sample Size) ۳۸۵ کسانو ته برابره وه، چې د جلال اباد ښار د بېلابېلو قشرونو استازولي یې کوله.

د پوښتنپاڼې پوښتنې د درملو د سمې کارونې په برخه کې د رسنیز عامه پوهاوي د ونډې ارزونې ته ځانګړې شوې وې. د څېړنې د اعتبار او د پایلو د باوري کولو لپاره هڅه شوې وه، چې پوښتنپاڼه د جلال اباد ښار د بېلابېلو تعلیمي او ټولنیزو ډلو ترمنځ خپره شي.

شوې او راټول شوي معلومات د Microsoft Excel پروګرام په مرسته تحلیل شوي دي. د احصایوي جدولونو او سلنه یي محاسبو له لارې د ګډونوالو ځوابونه تنظیم، تحلیل او تفسیر شوي دي.

د ټاکل شوې ۳۸۵ نمونې څخه یوازې ۲۳۱ ګډونوالو پوښتنپاڼه ځواب کړې ده، چې دا د ځواب ورکونې کچه شاوخوا ۶۰٪ جوړوي. ګډونوال د جلال اباد ښار د بېلابېلو تعلیمي کچو او ټولنیزو ډلو استازولي کوي.

د راټولو شویو معلوماتو احصایوي تحلیل ښیي، چې د ګډونوالو د پام وړ برخه د رسنیز عامه پوهاوي له لارې د درملو د سمې کارونې پر اهمیت پوهه لري. د جدولونو او سلنې پر بنسټ ترلاسه شوې پایلې څرګندوي، چې رسنۍ کولای شي د خلکو د چلند په بدلولو او د درملو د معقولې کارونې په برخه کې اغېزناک رول ولوبوي.

سربېره پر دې، د ګډونوالو ځوابونه دا هم ښیي چې لا هم د خلکو ترمنځ د درملو د کارونې په برخه کې یو شمېر ناسم عادتونه شتون لري او د رسنیزو کمپاینونو د لا زیات تمرکز اړتیا لیدل کېږي.

د څېړنې یو مهم محدودیت دا و، چې د ټولنې له ټاکل شوې ۳۸۵ نمونې څخه یوازې ۲۳۱ کسانو پوښتنپاڼه ځواب کړه. همدارنګه، د نمونې د اخیستنې ډول غیر تصادفي و؛ ځکه ګډونوال یوازې هغه کسان وو چې انټرنېټ ته یې لاسرسی درلود. له همدې امله، د څېړنې پایلې ښایي د ټولې احصایوي ټولنې بشپړ استازیتوب ونه کړي.

**اجدول :** *د ګډونوالو جنسیت، عمر، زده کړو کچه او مسلک*

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| **جنسیت** | **نارینه** | | | **ښځینه** | **د ټولو ګډونوالو شمېر** |
| | 231 | | | 0 | ۲۳۱ |
| | 100% | | | 0% | |
| **عمر** | له 18 کلونو څخه کم | 18-30 کاله | 31-45 کاله | له 45 کلونو پورته | |
| | 7 | 180 | 42 | 2 | |
| | 3% | 77.9% | 18.2% | 0.9% | |
| **زده کړو کچه** | ماسټري یا له هغې پورته | لېسانس | دولسم پاس | لومړنۍ زده کړې | |
| | 38 | 144 | 46 | 3 | |
| | 16.5% | 62.3% | 19.9% | 1.3 | |
| **مسلک** | محصل/زده کوونکی | د عامې روغتیا برخې کارکوونکی | استاد/ښوونکی | نور | |
| | 52 | 53 | 66 | 60 | |
| | 22.5% | 22.9% | 28.6% | 25% | |

د څېړنې د ګډونوالو د ځانګړتیاوو له مخې څرګندیږي، چې ټول ۲۳۱ ګډونوال نارینه دي او ښځې پکې هېڅ برخه نه لري. د عمر له پلوه زیاتره ګډونوال (۷۷٫۹٪) د ۱۸–۳۰ کلونو ترمنځ ځوانان دي، ورپسې ۱۸٫۲ سلنه د ۳۱–۴۵ کلونو پورې دي، په داسې حال کې چې د ۱۸ کلونو څخه کم او له ۴۵ پورته عمر لرونکي ډېر لږ دي. د زده کړو د کچې له مخې زیات شمېر ګډونوال (۶۲٫۳٪) د لېسانس فارغان دي، ورپسې د دولسم پاس کسان (۱۹٫۹٪) او ماسټرۍ یا له هغې پورته (۱۶٫۵٪) برخه لري، حال دا چې لومړنۍ زده کړې لرونکي یوازې ۱٫۳ سلنه دي. د مسلک له اړخه، ګډونوال په بېلابېلو ډلو وېشل شوي؛ تر ټولو زیات یې استادان/ښوونکي (۲۸٫۶٪) جوړوي، ورپسې د نورو مسلکونو لرونکي (۲۵٪)، د عامې روغتیا کارکوونکي (۲۲٫۹٪) او محصلین (۲۲٫۵٪) دي. په ټوله کې پایلې ښیي، چې د څېړنې ګډونوال نارینه، ځوان، په لوړو زده کړو سمبال او د مسلک له اړخه متنوع دي.

**۲جدول:** *د ګډونوالو د رسنیو ښیو د زیاتې کارونې او د کارونې کچې ښودنه*

| | رادیو | ټلویزیون | چاپي رسنۍ | ټولنیزې رسنۍ (فیسبوک، انسټاګرام...) |
|---|---|---|---|---|
| **شمېر** | 64 | 69 | 13 | 206 |
| **سلنه** | 27.7% | 29.9% | 5.6% | 89.2% |
| **د رسنیو د کارونې منځنۍ کچه** | | | | |
| | **له ۱ نه تر ۳ ساعتونو** | **له ۴ نه تر۵ ساعتونو** | **د ٦ نه تر ۱۰ ساعتونو** | **له ۱۰ څخه پورته** |
| **شمېر** | 92 | 108 | 22 | ۹ |
| **سلنه** | 39.2% | 46.8% | 9.5% | ۴,۵% |

د پورتني جدول پایلې ښیي چې د ګډونوالو د رسنیو د کارونې په برخه کې تر ټولو ډېر تمرکز پر ټولنیزو رسنیو دی؛ څکه ۲۰٦ ګډونوالو (۸۹,۲٪) د فیسبوک، انسټاګرام او ورته نورو شبکو کارونه غوره کړې ده. ورپسې ټلویزیون د ٦۹ کسانو (۲۹,۹٪) په غوراوي کې راغلی، رادیو د ٦۴ کسانو (۲۷,۷٪) له خوا کارول کېږي او چاپي رسنۍ د ټولو څخه لږ کارووونکي لري؛ یعنې یوازې ۱۳ کسان (۵,٦٪). دا چې د سلنې مجموعه له ۱۰۰٪ څخه لوړه ده، دلیل یې دا دی چې پوښتنه څو انتخابه وه او ګډونوالو کولای شول له یوه څخه زیات انتخابونه غوره کړي. د رسنیو د کارونې د منځنۍ مودې له پلوه، د ګډونوالو ډېری برخه په ورځ کې له ۴ نه تر ۵ ساعتونو (۴٦,۸٪) رسنۍ کاروي، ورپسې ۳۹,۲٪ ګډونوال د ۱ نه تر ۳ ساعتونو پورې وخت ورکوي. لږ شمېر ګډونوال (۹,۵٪) د ٦ نه تر ۱۰ ساعتونو پورې د رسنیو له لارې وخت تېروي او یوازې ۴,۵٪ کسان له ۱۰ ساعتونو زیات وخت رسنیو ته ځانګړی کوي.

په ټوله کې پایلې څرګندوي، چې ګډونوال په لویه کچه ټولنیزو رسنیو ته لومړیتوب ورکوي، ټلویزیون او رادیو ورته لا هم نسبي اهمیت لري، په داسې حال کې چې چاپي رسنۍ د هغوی په ورځني ژوند کې ډېر محدود رول لري، او د رسنیو کارونه یې په عمومي توګه په منځنۍ کچه دي، که څه هم لږ شمېر کسان ډېر زیات وخت رسنیو ته ځانګړی کوي.

**۳جدول :** *رسنۍ ماته د درملو د سمې کارونې په اړه معلومات راکوي.*

| | ډېر موافق | موافق | منځنۍ کچه | مخالف | ډېر مخالف |
|---|---|---|---|---|---|
| شمېر | 48 | 145 | 27 | 5 | 6 |
| سلنه | 20.8% | 62.8% | 11.7% | 2.2% | 2.6% |

پورتنۍ ۳ جدول دا راته ښیي، چې د ګډونوالو ډېره برخه ۱۴۵ کسانو (٦۲,۸٪) په دې موافقه ښودلې، چې رسنۍ ورته د درملو د سمې کارونې په اړه معلومات ورکوي او ۴۸ کسانو (۲۰,۸٪) یې په بشپړه توګه موافقه ښودلې ده. شاوخوا ۱۱,۷٪ ګډونوال منځنۍ نظر لري، پداسې حال کې چې یوازې لږ شمېر یې مخالف (۲,۲٪) یا ډېر مخالف (۲,٦٪) دي. دا پایلې ښیي چې اکثریت ګډونوال په دې باور لري، چې رسنۍ د درملو د سمې کارونې په اړه د پوهاوي او معلوماتو رسولو مهمه وسیله ده.

**۴جدول**: *زه د درملو د کارونې پر مهال د رسنیو له مشورو څخه ګټه اخلم.*

| | ډېر موافق | موافق | منځنی کچه | مخالف | ډېر مخالف |
|---|---|---|---|---|---|
| شمېر | 52 | 120 | 36 | 20 | 3 |
| سلنه | 22.5% | 51.9% | 15.6% | 8.7% | 1.3% |

د ۴ جدول پایلې جوتوي، چې ډېری ګډونوال د رسنیو له مشورو څخه د درملو د کارونې پر مهال ګټه اخلي. په ځانګړې توګه، ۱۲۰ کسانو (۵۱,۹٪) موافقه ښودلې او ۵۲ کسانو (۲۲,۵٪) په بشپړه توګه موافق دي. شاوخوا ۱۵,٦٪ ګډونوال منځنی نظر لري، په داسې حال کې چې ۲۰ کسانو (۸,۷٪) مخالف او یوازې ۳ کسانو (۱,۳٪) ډېر مخالف دي. دا بیا راته دا څرګندوي، چې د ګډونوالو اکثریت د رسنیو لارښوونې د درملو د سمې کارونې لپاره ګټورې ګڼي.

**۵جدول** : *رسنی د درملو د ناسمې کارونې له امله د درملو د منفي اغېزو په اړه کافي معلومات خپروي.*

| | ډېر موافق | موافق | منځنی کچه | مخالف | ډېر مخالف |
|---|---|---|---|---|---|
| شمېر | 51 | 125 | 27 | 24 | 4 |
| سلنه | 22.1% | 54.1% | 11.7% | 10.4% | 1.7% |

د ۵ جدول له مخې د ګډونوالو ډېری برخه باور لري، چې رسنۍ د درملو د ناسمې کارونې له امله د منفي اغېزو په اړه کافي معلومات ورکوي. په ځانګړې توګه، ۱۲۵ کسانو (۵۴,۱٪) موافقه څرګنده کړې ده او ۵۱ کسانو (۲۲,۱٪) په بشپړه توګه موافق دي. شاوخوا ۲۷ ګډونوال (۱۱,۷٪) منځنی نظر لري؛ دا په داسې حال کې ده، چې ۲۴ کسانو (۱۰,۴٪) مخالف او یوازې ۴ کسانو (۱,۷٪) ډېر مخالف ښودلی دی. په ټوله کې، دا پایلې څرګندوي، چې اکثریت ګډونوال رسنۍ د درملو د ناسمې کارونې د خطرونو په اړه د معلوماتو په رسولو کې اغېزناکې ګڼي.

**٦جدول** : *رسنیزو خپرونو د درملو په کارولو کې زما چلند ښه لوري ته بدل کړی دی.*

| | ډېر موافق | موافق | منځنی کچه | مخالف | ډېر مخالف |
|---|---|---|---|---|---|
| شمېر | 55 | 120 | 43 | 8 | 5 |
| سلنه | 23.8% | 51.9% | 18.6% | 3.5% | 2.2% |

د ٦ جدول د معلوماتو له مخې ډېری ګډونوال پر دې باور دي، چې رسنیزو خپرونو یې د درملو په کارولو کې چلند ښه لوري ته بدل کړی دی. له ډلې یې ۱۲۰ کسان (۵۱,۹٪) موافق دي او ۵۵ کسانو (۲۳,۸٪) په بشپړه توګه موافقه څرګنده کړې ده. شاوخوا ۴۳ ګډونوال (۱۸,٦٪) منځنی نظر لري او دا په داسې حال کې ده، چې ۸ کسان (۳,۵٪) مخالف او یوازې ۵ کسانو (۲,۲٪) ډېر مخالف ښودلی دی. دا پایلې څرګندوي، چې د ګډونوالو ډېری برخه د رسنیزو خپرونو اغېز د درملو د سمې کارونې په چلند کې مثبت بولي.

**۷جدول:** *د تولنیزو رسنیو څرونې (پوستونه) ډېر ژر د روغتیایي معلوماتو په خپرولو کې مرسته کوي.*

| | ډېر موافق | موافق | منځنی کچه | مخالف | ډېر مخالف |
|---|---|---|---|---|---|
| شمېر | 90 | 110 | 22 | 7 | 2 |
| سلنه | 39% | 47.6% | 9.5% | 3% | 0.9 |

د پورتني ۷ جدول له مخې ډېری ګډونوال باور لري، چې د ټولنیزو رسنیو څرونې په چټکۍ سره د روغتیایي معلوماتو د خپرولو لپاره اغېزناکې دي.له ډلې یې ۱۱۰ کسانو (۴۷,۶٪) موافقه ښودلې او ۹۰ کسانو (۳۹٪) په بشپړه توګه بیا موافق دي. شاوخوا ۲۲ ګډونوال (۹,۵٪) منځنی نظر لري او د دې برعکس ۷ کسانو (۳٪) مخالف او یوازې ۲ کسانو (۰,۹٪) ډېر مخالف ښودلی دی. دا پایلې څرګندوي، چې د ګڼ شمېر ګډونوال ډېری ټولنیزې رسنۍ د روغتیایي معلوماتو په چټکو خپرولو کې ګټورې ګڼي.

**۸ جدول:** *رسنۍ د عامه پوهاوي په مرسته خلک هڅوي، چې د ډاکټر له مشورې پرته درمل ونه کاروي.*

| | ډېر موافق | موافق | منځنی کچه | مخالف | ډېر مخالف |
|---|---|---|---|---|---|
| شمېر | 82 | 124 | 15 | 7 | 3 |
| سلنه | 35.5% | 53.7% | 6.5% | 3% | 1.3 |

۸ جدول ته په کتو ویلی چې ډېری ګډونوال باور ښیي، چې رسنۍ د عامه پوهاوي له لارې خلک هڅوي، چې د ډاکټر له مشورې پرته درمل ونه کاروي.له ډلې یې ۱۲۴ کسان (۵۳,۷٪) موافق او ۸۲ کسان (۳۵,۵٪) په بشپړه توګه موافق دي. شاوخوا ۱۵ ګډونوال (۶,۵٪) منځنی نظر لري او د دوی په خلاف ۷ کسانو (۳٪) مخالف او یوازې ۳ کسانو (۱,۳٪) ډېر مخالف دي. نو د پایلو څخه معلومه شوه، چې د ګډونوالو اکثریت، رسنۍ د درملو د سمې کارونې په اړه د عامه پوهاوي په خپرولو کې مهم رول لري.

**۹جدول:** *د رسنیز عامه پوهاوي له لارې مې دا زده کړې، چې درمل باید یوازې د ډاکټر د نسخې له مخې وکارول شي.*

| | ډېر موافق | موافق | منځنی کچه | مخالف | ډېر مخالف |
|---|---|---|---|---|---|
| شمېر | 76 | 122 | 23 | 8 | 2 |
| سلنه | 32.9% | 52.8% | 10% | 3.5% | 0.9% |

د پورتني ۹ جدول له مخې استنباط کولای شو، چې ګڼ شمېر ګډونوال په دې باور دي، چې د رسنیز عامه پوهاوي له لارې یې زده کړې، چې درمل باید یوازې د ډاکټر د نسخې له مخې وکارول شي. د ګډونوالو له ډلې ۱۲۲ کسانو (۵۲,۸٪) موافق دي او ۷۶ کسان (۳۲,۹٪) بیا په بشپړه توګه موافق دي. همدارنګه ۲۳ ګډونوال (۱۰٪) منځنی نظر لري، دا په داسې حال کې ده چې ۸ کسان (۳,۵٪) مخالف او یوازې ۲ کسانو (۰,۹٪) ډېر مخالف دي. دلته هم پایلې د نورو برخو په څېر دا په ډاګو، چې د ګډونوالو اکثریت رسنیز عامه پوهاوی د درملو د سمو کارولو په اړه د پوهاوي د لوړولو کې اغېزناک ګڼي.

**۱۰ جدول:** *د رسنیز عامه پوهاوي پیغامونه د درملو د ناسم استعمال د خطر په اړه واضح دي.*

| | ډېر موافق | موافق | منځنی کچه | مخالف | ډېر مخالف |
|---|---|---|---|---|---|
| شمېر | 66 | 136 | 18 | 10 | 1 |
| سلنه | 28.6% | 58.9% | 7.8% | 4.3 | 0.4% |

پورتنی ۱۰ جدول د ګډونوالو اکثریت باور په دې اړه څرګندوي، چې د رسنیز عامه پوهاوي پیغامونه د درملو د ناسمې کارونې د خطر په اړه واضح دي. له ټولو ګډونوالو څخه یې په دې برخه کې ۱۳۶ کسان (۵۸,۹٪) موافق او ٦٦ کسانو (۲۸,٦٪) په بشپړه توګه موافق دي. شاوخوا ۱۸ ګډونوال (۷,۸٪) منځنی نظر لري او د دې پر خلاف ۱۰ کسان (۴,۳٪) مخالف او یوازې ۱ کس (۰,۴٪) ډېر مخالف دی. نو دلته هم پایلې دا جوتوي، چې د ګډونوالو اکثریت د رسنیز عامه پوهاوي پیغامونه د درملو د ناسمې کارونې د خطر د څرګندولو لپاره مؤثر ګڼي.

**۱۱جدول:** *د رسنیو د عامه پوهاوي خپرونو زما د درملو د کارونې په اړه ناسم تصورونه کم کړي دي.*

| | ډېر موافق | موافق | منځنی کچه | مخالف | ډېر مخالف |
|---|---|---|---|---|---|
| شمېر | 51 | 128 | 39 | 9 | 4 |
| سلنه | 22.1% | 55.4% | 16.9% | 3.9% | 1.7% |

د پورتنۍ ۱۱ جدول له مخې ویلی شو، چې د ګډونوالو اکثریت په دې باور دي، چې د رسنیو د عامه پوهاوي خپرونې یې د درملو د کارونې په اړه ناسم تصورونه کم کړي دي. په ځانګړې توګه ۱۲۸ کسانو (۵۵,۴٪) موافق او ۵۱ کسانو (۲۲,۱٪) په بشپړه توګه موافق دي. شاوخوا ۳۹ ګډونوالو (۱٦,۹٪) منځنی نظر لري، په داسې حال کې چې ۹ کسانو (۳,۹٪) مخالف او یوازې ۴ کسانو (۱,۷٪) ډېر مخالف دي. دا هم راته دا ښیي، چې د ګډونوالو اکثریت رسنی د درملو په کارونې کې د ناسمو تصورونو د کمولو په برخه کې اغېزناکې ګڼي.

**۱۲ جدول:** *د رسنیز عامه پوهاوي له لارې مې په دې اړه پوهه زیاته شوې، چې درمل باید په ټاکلي وخت وکارول شي.*

| | ډېر موافق | موافق | منځنی کچه | مخالف | ډېر مخالف |
|---|---|---|---|---|---|
| شمېر | 75 | 111 | 31 | 12 | 2 |
| سلنه | 32.5% | 48.1% | 13.4% | 5.2% | 0.9 |

د ۱۲ جدول له مخې ویلی شو د ګډونوالو اکثریت باور په دې دی، چې د رسنیز عامه پوهاوي له لارې یې پوهه زیاته شوې، چې درمل باید په ټاکلي وخت وکارول شي. ۱۱۱ کسانو (۴۸,۱٪) موافق څرګنده کړې او ۷۵ کسانو (۳۲,۵٪) په بشپړه توګه موافق دي. شاوخوا ۳۱ ګډونوال (۱۳,۴٪) منځنی نظر لري او دا بیا په داسې حال کې دي چې ۱۲ کسان (۵,۲٪) مخالف او یوازې ۲ کسان (۰,۹٪) ډېر مخالف دي. د دې پایلې هم راته وایي، چې د رسنیز عامه پوهاوي خپرونې د درملو د سمې کارونې په اړه د ګډونوالو پوهه په مؤثر ډول لوړه کړې ده.

**۱۳جدول**: *د رسنیو د روغتیایي کمپاینونو په اثر زه د درملو سمې کارونې ته متوجه شوی یم.*

| | ډېر موافق | موافق | منځنی کچه | مخالف | ډېر مخالف |
|---|---|---|---|---|---|
| **شمېر** | 61 | 121 | 40 | 6 | 3 |
| **سلنه** | 26.4% | 52.4% | 17.3% | 2.6% | 1.3 |

د ۱۳ جدول د معلوماتو پر بنسټ ویلای شو، چې د ګډونوالو څخه یې ډېری په دې باور لري، چې د رسنیو د روغتیایي کمپاینونو په اثر یې د درملو د سمې کارونې په اړه پام زیات شوی دی. ۱۲۱ کسانو (۵۲,۴٪) موافقه ښودلې او ٦۱ کسانو (۲٦,۴٪) په بشپړه توګه موافقه څرګنده کړې ده. شاوخوا ۴۰ ګډونوال (۱۷,۳٪) منځنی نظر لري. له دې سره مخالف چې ٦ کسانو (۲,٦٪) مخالف او یوازې ۳ کسان (۱,۳٪) ډېر مخالف دي. دا پایلې څرګندوي، چې د رسنیو روغتیایي کمپاینونه د ګډونوالو په چلند او د درملو د سمې کارونې په اړه مثبت اغېز لري.

**۱۴ جدول**: *رسنی د عامه پوهاوي په مرسته د خلکو د درملو د کارونې چلند په ښه کولو کې مثبت رول لري.*

| | ډېر موافق | موافق | منځنی کچه | مخالف | ډېر مخالف |
|---|---|---|---|---|---|
| شمېر | 84 | 120 | 19 | 6 | 2 |
| سلنه | 36.4% | 51.9% | 8.2% | 2.6% | 0.9 |

د ۱۴ جدول پربنسټ اکثریت ګډونوال باور لري، چې رسنی د عامه پوهاوي له لارې د خلکو د درملو د کارونې چلند په ښه کولو کې مثبت رول لري. د ګډونوالو له ډلې یې ۱۲۰ کسان (۵۱,۹٪) موافق او ۸۴ کسان (۳٦,۴٪) په بشپړه توګه موافق دي. شاوخوا ۱۹ ګډونوال (۸,۲٪) منځنی نظر لري. دا بیا په داسې حال کې ده، چې یوازې ٦ کسان (۲,٦٪) مخالف او یوازې ۲ کسانو (۰,۹٪) ډېر مخالف دي. دا پایلې څرګندوي، چې د ګډونوالو اکثریت رسنی د درملو د سمې کارونې په چلند کې اغېزناکې ګڼي.

**پایله**

د څېړنې پایلې دا په ډاګوي، چې رسنی د خلکو په پوهه، چلند او د درملو د سمې کارونې په اړه مهمه ونډه لري. د ګډونوالو د عمومي ځانګړتیاوو له مخې ټول ګډونوال نارینه دي، چې ډېری یې ځوانان (۱۸–۳۰ کلونه) دي او لوړې زده کړې لري (لېسانس او ماسټری)، چې دا ښیي ګډونوال د رسنیو د منځپانې د درک او د معلوماتو د ارزونې وړتیا لري.

د رسنیو د کارونې په اړه پایلې روښانوي، چې ګډونوال په پراخه کچه ټولنیزې رسنی کاروي (۸۹,۲٪)، ورپسې ټلوېزیون (۲۹,۹٪) او راډیو (۲۷,۷٪) دي؛ په داسې حال کې چې چاپې رسنی (۵,٦٪) لږ پکارول کېږي. د رسنیو کارونې ساعتونه هم منځنۍ دي؛ ځکه زیاتره ګډونوال په ورځ کې له ۴ نه تر ۵ ساعتونو رسنی خاري، چې دا د رسنیو اغېزناکې کارونې ښیي.

په اړوند پوښتنو کې د ګډونوالو اکثریت په دې باور دي، چې رسنی د درملو د سمې او ناسمې کارونې په اړه معلومات خپروي. د ناسمو تصورونو کمولو کې مرسته کوي او د خلکو چلند په ښه کولو کې هم اغېز لري. بله لوري ته رسنیز

عامه پوهاوي په ځانګړې توګه ګډونوال هڅولي، چې درمل یوازې د ډاکټر د نسخې له مخې او ټاکلي وخت کې یې وکاروي او د درملو د ناسمې کارونې خطرونه هم وپېژني.

د څېړنې پایلې دا هم څرګندوي، چې رسنۍ په ځانګړې توګه ټولنیزې رسنۍ د درملو د سمې کارونې، د ناسمو تصورونو د کمولو، د روغتیایي عادتونو د پراختیا او د خلکو د مثبت چلند د هڅونې په برخه کې اغېزناک رول لري. د ګډونوالو نظرونه ښیي، چې رسنیز عامه پوهاوي کمپاینونه نه یوازې د روغتیایي معلوماتو د چټک خپرېدو لامل ګرځي؛ بلکې د درملو د ناسمې کارونې د خطرونو په مخنیوي کې هم مرسته کوي. په ټوله کې، رسنۍ د عامه پوهاوي د لوړولو، د روغتیایي چلند د اصلاح او د ټولنې د روغتیایي کچې د ښه کولو لپاره یوه بنسټیزه وسیله ده.

په ټوله کې د څېړنې نچوړ دا په ډاګه کوي، چې ټولې ټولیزې رسنۍ او بیا په اوسنۍ زمانه کې د انټرنېټ پراخ استعمال ته په کتو سره په ځانګړې توګه ټولنیزې رسنۍ د درملو د سمې کارونې، د ناسمو تصورونو د مخنیوي او د روغتیایي چلند د اصلاح لپاره غښتلاکې او بنسټیزې وسیلې بلل کېدای شي.

**وړاندیزونه**

- د رسنیزو عامه پوهاوي پروګرامونو پیاوړتیا په اړه؛

حکومت او اړوندې ادارې دې د رسنیو له لارې د درملو د سمې کارونې په اړه د منظم، دوامدار او علمي پوهاوي پروګرامونه پلي کړي؛ څو خلک په منظم ډول له نویو او کره روغتیایي معلوماتو خبر شي.

- د درملو د کارونې د پوهاوي لپاره د همکارۍ مېکانېزم جوړول؛

د روغتیا وزارت، تعلیمي بنسټونه او رسنۍ دې په ګډه د عامه پوهاوي ګډې ستراتېژۍ جوړې کړي؛ څو د د درملو د ناسمې کارونې د مخنیوي پیغامونه په ښه او اغېزناک ډول خلکو ته ورسېږي.

- ټولنیزو رسنیو څخه ستراتېژیکه ګټه اخیستل؛

له دې امله چې د څېړنې پایلو کې ټولنیزې رسنۍ د روغتیایي معلوماتو د چټکو خپرولو تر ټولو اغېزناکې وسیلې ښودل شوي؛ اړوندې ادارې دې په ځانګړي ډول پر ټولنیزو رسنیو پانګونه وکړي او د دې لارې دې د پوهاوي خپرونې زیاتې کړي.

- د څارنې او ارزونې مېکانېزم رامنځته کول؛

حکومت دې د رسنیز عامه پوهاوي پروګرامونو د اغېز ارزونې لپاره ځانګړې څارونکې کمېټې جوړې کړي؛ څو په دوامداره توګه د دې پلټنه وکړي، چې دا پروګرامونه د خلکو په پوهه او چلند کې څومره بدلون رامنځته کوي.

**ماخذونه**

حیدری, ذبیح الله. (۱۳۹۴). *راهنمای تولید برنامه های تلویزیونی*. کابل: انتشارات عازم.

زاده, بهنام رضاقلی. (۱۳۹۳). نقش رسانه ها در پیشگیری از سوء مصرف مواد مخدر. *فصلنامه سلامت اجتماعی و اعتیاد*.

واحدي, پوهنوال دوکتور ماستر. (۱۳۹۵). د *رادیویي خپرونو تولید*. خوست: شیخ زاید پوهنتون، ژورنالېزم پوهنځی.

Asare, O., & Ashna, M. (2021). *Media as a catalyst for health promotion in Afghanistan*. Interdisciplinary Association for Population Health Science. https://iaphs.org/media-as-a-catalyst-for-health-promotion-in-afghanistan/

Gaidhane, S. K. .(۲۰۲۳) Print Media Role and Its Impact on Public Health: A Narrative Review. *Cureus*. *https://doi.org/10.7759/cureus*.

Gallup, Inc. (2014). *Media Use in Afghanistan: Research brief*. U.S. Agency for Global Media. https://www.usagm.gov/

Gonzales, R., Corbett, K. K., Wong, S., Glazner, J. E., Deas, A., Leeman-Castillo, B., … Kafadar, K. (2008). Get Smart Colorado: Impact of a mass media campaign to improve community antibiotic use. *Medical Care*, *46*(6), 597–605. https://doi.org/10.1097/MLR.0b013e3181653d2e

Jalalzoy, A. (2023, April 29). د پولیو په اړه په عامه پوهاوي کې د سیمه ایزو رسنیو رول [The role of local media in polio awareness]. *VOA Pashto*. https://www.pashtovoa.com/a/7100706.html

Najafizada, S. A. M. (2011). *Health Content of Afghan Media* [Master's thesis, University of Ottawa]. University of Ottawa Research. https://hdl.handle.net/10393/20173

Nemat, A., Rezayee, K. J., Essar, M. Y., Mowlabaccus, W., Ahmad, S., & Mubarak, M. Y. (2023). A report of Kabul internet users on self-medication with over-the-counter medicines. *Scientific Reports*, *13*, Article 8500. https://doi.org/10.1038/s41598-023-35757-6

Roien, R., Bhandari, D., Hosseini, S. M. R., Mosawi, S. H., Ataie, M. A., Ozaki, A., et al. (2022). Prevalence and determinants of self-medication with antibiotics among general population in Afghanistan. *Expert Review of Anti-infective Therapy*, *20*(2), 315–321. https://doi.org/10.1080/14787210.2021.1951229

Sacco, L., Bianco, A., Nobile, C. G. A., Angelillo, I. F., & LOCAAL Study Group. (2011). Doctors and local media: a synergy for public health information? A controlled trial to evaluate the effects of a multifaceted campaign on antibiotic prescribing (protocol). *BMC Public Health*, *11*, 816. https://doi.org/10.1186/1471-2458-11-816

TOLOnews. (2023). *Afghanistan launches new polio vaccination campaign in 19 provinces*. TOLOnews. https://tolonews.com/health-195115

World Health Organization. (2005). *Promoting rational use of medicines*. https://www.who.int/activities/promoting-rational-use-of-medicines

# د فیسبوک په مرسته د درملو منطقي کارونې د ترویج په برخه کې د ټولنیزو رسنیو وندې؛ د جلال آباد ښار ځانګړې مطالعه

ملـي
علمـي-څېړنیـز ژورنال
REG Code: RCTD-PNJR-0094-25

**روښان الله روښان**[1]*
[1] عامه اړیکو دیپارتمنت، د ژورنالیزم پوهنځی، ننګرهار پوهنتون، افغانستان
rokhanullah.rokhan69@gmail.com

**احمد ناصري**[2]
[2] ژورنالیزم دیپارتمنت، ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی، لغمان پوهنتون، افغانستان

**لنډیز**

په ننني ټولنه کې ټولنیزې شبکې د روغتیایي معلوماتو د شریکولو او د صحي چلندونو د هڅونې لپاره مهم رول لري. په ځانګړې ډول فیسبوک د خلکو لپاره د درملو د سم استعمال د ترویج، د ناسم استعمال د مخنیوي او د روغتیایي پوهاوي د لوړولو اغېزناکه وسیله ده. د دې څېړنې اهمیت په دې کې دی، چې په افغانستان کې د روغتیایي پوهاوي کچه محدوده ده او د فیسبوک د اغېزناکې استفادې له لارې د درملو د خوندي او منطقي کارونې د ترویج فرصتونه زیاتېدلی شي. د څېړنې موخه د جلال آباد ښار د اوسېدونکو د لیدلوړو او تجربو پر بنسټ د فیسبوک د وندې ارزونه ده، ترڅو څرګنده شي، چې دغه ټولنیزه شبکه څومره په درملو د منطقي کارونې د ترویج او د روغتیایي پرېکړو په اغېز کې مرسته کوي. اصلي پوښتنه دا ده، چې د درملو د منطقي کارونې او ترویج په برخه کې فیسبوک څه ډول اغېز لري؟ څېړنه په کمي توصیفي ډیزاین ترسره شوې، د ۳۸۵ ګډونوالو په ګډون د ګوګل فورم له لارې پوښتنلیکونه راټول شوي او د Excel او SPSS سافټویر په مرسته تحلیل شوي دي. پایلې ښیي، چې ډېری ګډونوال د فیسبوک اوږدمهاله کارووونکي دي، د ورځني کارونې منځنۍ کچه یې ۱–۳ ساعته ده، په عمومي ډول د روغتیا او درملو اړوند پوسټونو ته مثبت لیدلوری لري، باور لري، چې فیسبوک د دوی د درملو په اړوند پرېکړو اغېز لري، د ناسم درمل کارونې مخنیوی کوي، پوهاوی لوړوي او معلومات له نورو سره شریکوي. څېړنه څرګندوي، چې فیسبوک د درملو د منطقي کارونې د ترویج او د روغتیایي پوهاوي د لوړولو لپاره مهم او مثبت رول لري، که څه هم ځینې احتیاطي او منفي لیدلوري هم شته.

**کلیدي کلمې: درملو منطقي کارونه، فیسبوک، روغتیایي پوسټونه، ترویج، جلال آباد ښار**

# The Role of Social Media in Promoting Rational Drug Use Through Facebook: A Case Study of Jalalabad City

**Abstract**

In contemporary society, social media platforms play a crucial role in disseminating health information and promoting healthy behaviors. Specifically, Facebook serves as an effective tool for encouraging the rational use of medications, preventing their misuse, and enhancing health literacy among the public. The significance of this study lies in the limited level of health awareness in Afghanistan, where leveraging Facebook can create valuable opportunities to promote safe and rational medication practices. The primary aim of this research is to evaluate the role of Facebook based on the perspectives and experiences of residents of Jalalabad, examining how this social media platform contributes to promoting rational drug use and influencing health-related decision-making. The central research question is: What impact does Facebook have on the promotion and adoption of rational medication use? This study employed a quantitative descriptive design, with data collected from 385 participants using an online questionnaire distributed via Google Forms. Data analysis was conducted using Excel and SPSS software. The findings indicate that most participants are long-term Facebook users, with an average daily usage of 1–3 hours. Overall, participants expressed positive attitudes toward health- and medication-related posts, believing that Facebook influences their medication-related decisions, helps prevent irrational drug use, increases awareness, and facilitates the sharing of information with others. The study demonstrates that Facebook plays a significant and positive role in promoting rational medication use and improving public health awareness, although some participants expressed cautious or negative perspectives.

**Keywords: Rational use of medicines, Facebook, health posts, promotion, Jalalabad city**

MARJ

Mili

Academic-Research Journal

REG Code: RCTD-PNJR-0094-25

**Rokhanullah Rokhan[1]***

Department of Public Relations, Faculty of Journalism, Nangarhar University, Afghanistan

rokhanullah.rokhan69@gmail.com

**Ahmad Naseri[2]**

Department of Journalism, Faculty of Literature and Humanities, Laghman University, Afghanistan

**سریزه**

ټولنیزې شبکې په ننني ټولنه کې د روغتیایي معلوماتو د خپرولو او د روغتیا اړوند چلندونو د هڅونې لپاره مهم رول لري. په ځانګړې ډول فیسبوک د ناروغانو او عامو خلکو ترمنځ د روغتیایي معلوماتو د شریکولو یوه اغېزمنه وسیله ګڼل کېږي، چې د درملو د ناسم استعمال د مخنیوي او د درملو د سم استعمال د ترویج لپاره کارېدلی شي (Smailhodzic et al., 2016). فیسبوک د مصرفوونکو لپاره د شواهدو پر بنسټ د درملو د معلوماتو د وړاندې کولو ارزښتناک پلاټفورم دی، چې خلکو ته زمینه برابروي، څو د درملو د استعمال، د جانبي عوارضو، د درملنې د انتخابونو او د درملو د تعاملاتو په اړه وضاحت ترلاسه کړي او د درملو په منطقي استعمال کې غوره پریکړې وکړي (Benetoli et al., 2015). دغه ډول خدمات د درملو د خوندي استعمال ملاتړ کوي او د عامې روغتیا د پراخو نوښتونو لپاره د منځګړي په توګه عمل کوي.

فیسبوک د ناروغانو لپاره د درملو د استعمال په اړه د پوهاوي د لوړولو او د روغتیایي مسلکي کسانو سره د مشورې هڅونې یوه اغېزمنه وسیله ده. د ټولنیزو شبکو له لارې ناروغان کولی شي د درملو د ناسم استعمال د زیانونو په اړه معلومات ترلاسه کړي او خپل روغتیایي چلندونه په سمه توګه تنظیم کړي.(Della Rosa & Sen, 2019) همدارنګه د فیسبوک د اعلاناتو ځانګړې تګلاره او د هدفمند تبلیغاتو وړتیا کولای شي د درملو په پېژندلو او د خلکو د درک په ډول مستقیم اغېز ولري، چې د درملو په منطقي استعمال کې مثبت رول لوبوي .(Downing & Perakslis, 2022) روغتیایي علومو محصلین هم په پراخه کچه فیسبوک د تحصیلي او معلوماتي موخو لپاره کاروي، چې دا خپله د هغوی په راتلونکي کې د ناروغانو روزنه او د روغتیایي پرېکړو لپاره اغېز لري.(Jha et al., 2016)

په اوسني عصر کې ټولنیزې شبکې په ځانګړې ډول فیسبوک د خلکو د ورځني ژوند یوه مهمه برخه ګرځېدلې ده، چې د اړیکو، د معلوماتو شریکولو او د نظرونو د تبادلې اساسي وسیله بلل کېږي. د روغتیا او درملو په برخه کې هم فیسبوک د عامو خلکو او ناروغانو لپاره د معلوماتو د ترلاسه کولو او خپرولو پراخ پلاټفورم دی. ناروغان د فیسبوک له لارې د درملو د کارونې په اړه معلومات ترلاسه کوي، خپلې تجربې شریکوي او د دې شبکې له لارې د روغتیایي پرېکړو اغېزمن کېدل ممکن ګرځي.(Della Rosa & Sen, 2019)

دا څېړنه د جلال اباد ښار د اوسېدونکو د لیدلورو د موندلو لپاره ترسره شوې ده، ترڅو معلومه کړي، چې د درملو د کارونې او ترویج په برخه کې فیسبوک څومره اغېزناک دی. د څېړنې موخه دا ده، چې وڅېړل شي، کاروونکي څنګه د فیسبوک له لارې د درملو اړوند معلومات ترلاسه کوي او دغه معلومات څومره اغېزناک دي او خلک یې څومره په خپلو روغتیایي پرېکړو کې په سمه توګه کاروي. دا څېړنه په کمي ډول ترسره شوې ده او پوښتنپاڼې یې د ګوګل فورم له لارې په انلاین ډول د جلال اباد ښار اوسیدونکو سره شریکې شوې دي، د څېړنې د اماري ټولنې د کره شمېرې نشتوالي له امله د نمونې حجم د کوکران ( (Cochranفورمول پر بنسټ ۳۸۵ شوی. د پوښتنپاڼې ظاهري او منځپانګې اعتبار د ګډونوالو د نظریاتو پر بنسټ سنجول شوی او د معلوماتو تحلیل د Excel Sheet له لارې ترسره شوی دی.

د څېړنې اساسي پوښتنې لاندې ډول دي:

۱. د درملو د منطقي کارونې او ترویج په برخه کې فیسبوک څه اغېز لري؟

۲ .د درملو د سمې کارونې د پوهې په لوړولو کې فیسبوک څه ډول ونډه لري؟

**د څېړنې موخې:**

۱ .د درملو د منطقي کارونې او ترویج په برخه کې د فیسبوک ونډه ارزول.

۲ .د درملو د سمې کارونې د پوهې په لوړولو کې د فیسبوک ونډه معلومول.

د دې څېړنې اهمیت په دې کې دی، چې په افغانستان کې د روغتیایي پوهاوي کچه لا محدوده ده او فیسبوک د خلکو د روغتیایي پرېکړو په اغېز کې مهم رول لوبولی شي. د دې څېړنې پایلې کولی شي د روغتیایي ادارو، مسلکي کسانو او عامو خلکو لپاره د فیسبوک د اغېزناکې استفادې لارې چارې وړاندې کړي او د درملو د خوندي استعمال په برخه کې عملي ګامونه تشریح کړي.

**تېرو اثارو ته کتنه**

د ویټاکار او همکارانو (۲۰۱۷) څېړنه، چې ۲۶۴ ګډونوالو باندې ترسره شوې ۶۵ فیصده روښانه کوي، چې ټولنیزې شبکې په ځانګړي ډول فیسبوک د روغتیا او درملو په برخه کې د معلوماتو د تبادلې، پوهاوي لوړولو او د معقول درملو کارونې د هڅونې لپاره مهم رول لري.

جها او همکارانو (۲۰۱۶) څېړنه، چې ۴۵۲ کسانو باندې ترسره شوې ۵۹٪ خرګندوي، چې د روغتیایي علومو محصلین فیسبوک د معلوماتو ترلاسه کولو، تحصیلي اهدافو او روغتیایي لارښوونو د زده کړې لپاره کاروي، چې په پایله کې د هغوی پوهه او د درملو د سمې کارونې تجربې اغېزمن کېږي. هینډریکس او همکارانو (۲۰۰۹) کې ، چې ۱۴۴ کسانو باندې څېړنه ترسره کړې هم یادونه کوي، چې ۶۷ فیصده د دې پلاټفورم له لارې ترلاسه شوي معلومات نه یوازې د شخصي پوهې زیاتوالی رامنځته کړي، بلکې د ډاکټر د لارښوونو سره د مطابقت په برخه کې هم مرسته کوي.

ډېلا روزا او سین (۲۰۱۹) څېړنه، چې ۷۰۲ فیسبوک پوسټونه تحلیل کړي ښیي، چې فیسبوک د ناروغانو لپاره د درملو د استعمال په اړه د خبرتیا او د ناسم استعمال د زیانونو د پوهاوي وسیله ده او د خلکو په پرېکړو مستقیم اغېز لري. ډاوننګ او پراکسیلیس (۲۰۲۲) چې ۲۰ کسانو سره مرکې کړې ټینګار کوي، چې د فیسبوک اعلانونه او پوسټونه د ناروغانو د درملو کارونې په پرېکړو مستقیم اغېز لري او د ناسمو کارونو د زیانونو په اړه پوهاوی لوړوي. کیم او همکاران (۲۰۱۷) هم په دې برخه کې زیاتوي، چې د دې پلاټفورم اعلانونه د درملو د معقول استعمال په هڅولو کې مرسته کوي.

د ایټلمن او همکارانو (۲۰۱۵) څېړنه چې په ۴۲۰ ګډونوالو ترسره شوې وه، ښیي چې نږدې ۷۲٪ ګډونوال باور لري چې د فیسبوک لایکونه او تبصرې د روغتیایي چلندونو د ارزونې او عامې روغتیا د څارنې لپاره ګټور معلومات برابروي، په داسې حال کې چې ۵۸٪ یې ویلي چې د فیسبوک له معلوماتو د روغتیایي پرېکړو د ملاتړ لپاره ګټه اخلي.

د سمایلهودزیک او همکارانو (۲۰۱۶) څېړنه چې په ۳۰۰ ناروغانو ترسره شوې وه، خرګندوي چې ۶۸٪ ګډونوال د فیسبوک له لارې د روغتیایي معلوماتو لټون کوي، او له دې ډلې څخه ۵۲٪ خپلې تجربې د نورو کاروونکو سره شریکوي، په ځانګړې توګه د انټي‌بیوټیکونو د سم استعمال په اړه.

د جورج او همکارانو (۲۰۱۳) څېړنه چې په ۲۵۰ روغتیایي مسلکي کسانو ترسره شوې وه، ښیي چې ٪۷۵ ګډونوال فیسبوک د ناروغانو سره د اړیکو د ښه کولو او د صحي مشورو د خپرولو لپاره کاروي، او ٪۶۱ یې باور لري چې دا شبکه د مزمنو ناروغیو په مدیریت کې مرسته کوي.

د اریګو او همکارانو (۲۰۱۹) څېړنه چې په ۴۰۰ ګډونوالو ترسره شوې وه، څرګندوي چې ٪۷۰ ګډونوال ټولنیزې شبکې د ناسمو روغتیایي معلوماتو د سمولو یوه مؤثره وسیله ګڼي، او ٪۶۴ یې باور لري چې دا شبکې د شواهدو پر بنسټ د روغتیایي پوهاوي د خپرولو لپاره مناسبه زمینه برابروي.

د کانچان او ګایدهان (۲۰۲۳) څېړنه چې په ۳۶۰ ګډونوالو ترسره شوې وه، ښیي چې ٪۷۸ ګډونوال فیسبوک د درملو د معقول استعمال د ملاتړ لپاره یوه مهمه وسیله بولي، او ٪۶۹ یې ویلي چې دا شبکه د ناسمو معلوماتو په مخنیوي کې مرسته کوي.

د بینیټولي او همکارانو (۲۰۱۵) څېړنه چې په ۳۲۰ ګډونوالو ترسره شوې وه، ښیي چې ٪۷۴ کارووونکي د فیسبوک له لارې د درملو په اړه معلومات ترلاسه کوي، او له دې ډلې څخه ٪۵۹ باور لري چې دا معلومات د درملو د خوندي کارونې ملاتړ کوي.

د لورد او همکارانو (۲۰۱۱) څېړنه چې په ۲۸۰ ګډونوالو ترسره شوې وه، ښیي چې ٪۶۷ ګډونوال د فیسبوک پوستونه د درملو د سم کارونې د هڅونې لپاره مهم ګڼي، او ٪۵۵ یې ویلي چې دا پوستونه د ډاکټر د لارښوونې پرته د درملو د استعمال مخنیوی کوي.

د سولاخیا او همکارانو (۲۰۲۴) څېړنه چې په ۳۹۰ ګډونوالو ترسره شوې وه، څرګندوي چې ٪۷۶ ګډونوال د فیسبوک له لارې د ناسم درمل استعمال د خطرونو په اړه پوهاوی ترلاسه کړی، او ٪۶۳ یې ویلي چې دا معلومات نورو خلکو ته هم شریکوي.

په پایله کې پورتني څېړنې روښانه کوي، چې فیسبوک د روغتیایي معلوماتو د خپرولو، د ناروغانو د پوهاوي د لوړولو او د درملو د معقول استعمال په ترویج کې یوه مهمه وسیله ده. دغه پلاټفورم کولای شي د درملو د ناسم کارونې د خطرونو د کمولو او د روغتیایي پرېکړو د ښه کولو لپاره د عامو خلکو او روغتیایي مسلکي کسانو ترمنځ د اغېزمنو اړیکو زمینه برابره کړي.

## میتودلوژي / د څېړنې تګلاره

دغه څېړنه د جلال اباد ښار د اوسېدونکو د لیدلورو د موندلو لپاره ترسره شوې ده، ترڅو معلومه کړي، چې د درملو د کارونې او ترویج په برخه کې فیسبوک څومره اغېزناک دی. د دې ټولنې د لیدلوري د درک کولو لپاره د توصیفي څېړنې میتود کارول شوی دی. د څېړنې احصایوي ټولنه د جلال اباد ښار اوسېدونکي جوړوي. د څېړنې د اماري ټولنې د کره شمېرې نشتوالي له امله د نمونې حجم د کوکران (Cochran) فورمول پر بنسټ ټاکل شوی. د څېړنې د اعتبار او د پایلو د باور لپاره د ٪۹۵ د باور کچې او ٪۵ د خطا د کچې په پام کې نیولو سره د نمونې حجم ۳۸۵ تنه ټاکل شوي، څېړنې د نمونې په توګه د غیر احتمالي (غېر تصادفي) انتخاب میتود څخه اسانه نمونې اخیستنه کارول شوې، یعنې یوازې هغه کسان د څېړنې لپاره انتخاب شوي، چې انټرنیټ ته لاسرسي درلودل. د احصایوي ټولنې د لیدلوري د څېړلو لپاره پوښتنپانه ترتیب او ګوګل فورم له لارې اماري ټولنې سره شریکه شوې ده، راټول شوي معلومات د واقعیت د انعکاس په توګه ګڼل کېږي او د هغوی د تحلیل او تجزیې لپاره د Excel Sheet کارول شوی دی.

## څېړنې موندنې

**۱ جدول:** عمر

| د عمر کټګوري | فیصدي | د ځواب ویونکو شمېر |
|---|---|---|
| **21-30** | **25** | **۹۶** |
| **31-40** | **75** | **۲۸۹** |
| مجموعه | **100%** | **۳۸۵** |

۱ جدول ښیي، چې ۳۸۵ تنه ګډون کوونکو عمر ډېرې برخه (۲۸۹ تنه چې ٪۷۵ کېږي) د ۳۱–۴۰ کلونو ترمنځ دی، همدارنګه ۹۶ تنه چې ٪۲۵ کېږي د ۲۱–۳۰ کلونو ترمنځ شامل دي. دغه پایله روښانه کوي، چې د څېړنې ګډون کوونکي زیاتره د منځني عمر لرونکي وګړي دي.

**۲ جدول:** جنسیت

| جنسیت | فیصدي | د ځواب ویونکو شمېر |
|---|---|---|
| نارینه | **100%** | **385** |
| ښځینه | **0** | **0** |
| مجموعه | **100%** | **385** |

۲ جدول د ګډون کوونکو د جنسیت وېش څرګندوي، چې د څېړنې ټول ځواب ویونکي (۱۰۰٪) یوازې نارینه وو.

**۳ جدول:** *د زده کړې کچه*

| د زده کړې کچه | فیصدي | سمپل سایز |
|---|---|---|
| دولسم | 9.1 | 35 |
| لېسانس | 86.8 | 334 |
| ماسټري او ماسټرۍ پورته | 4.1 | 16 |
| مجموعه | 100% | 385 |

۳ جدول څرګندوي، چې د ګډون کوونکو ډېری برخه (۸۶,۸٪) د لېسانس کچې زده کړې لري، لږ شمېر یې (۹,۱٪) د دولسم ټولګي او یوازې یو محدود شمېر (۴,۱٪) د د ماسټرۍ او پورته زده کړې لري . دا پایله ښیي چې د څېړنې ګډون کوونکي په بنسټیز ډول د لوړو زده کړو لرونکي وګړي دي .

**۴ جدول:** *د فیسبوک کارونې موده*

| د کارونې موده | فیصدي | د ځواب ویونکو شمېر |
|---|---|---|
| ۱-۳ کاله | 8.3 | 32 |
| ۳-۶ کاله | 16.7 | 64 |
| ۶-۱۰ کاله | 36.1 | 139 |
| له ۱۰ کالو څخه زیات | 38.9 | 150 |
| مجموعه | 100% | 385 |

۴ جدول ښیي، چې ۳۸۵ تنه ګډونوالو د فیسبوک کارونې مودې په اړه پوښتنې ته ځواب ویلی دی. د پایلو پر بنسټ، ۸,۳ سلنه ګډونوالو ۱–۳ کاله، ۱۶,۷ سلنه یې ۳–۶ کاله، ۳۶,۱ سلنه یې ۶–۱۰ کاله او ۳۸,۹ سلنه یې له ۱۰ کالو څخه زیات فیسبوک کارولی دی. د دې شمېرنو له مخې څرګندېږي، چې ډېری برخه اخیستونکي د ۱۰ کالو څخه زیات فیسبوک کارونکي دي، چې دا ښیي ګډون کوونکي په ټولیز ډول په اوږدمهاله توګه د دې ټولنیزې شبکې سره بلد دي.

**۵ جدول:** *په ورځ کې د فسبوک د کارونې ساعتونه*

| د استعمال ساعتونه | فیصدي | د ځواب ویونکو شمېر |
|---|---|---|
| ۱-۳ ساعته | 58.3 | 224 |
| ۳-۶ ساعته | 27.9 | 107 |
| ۶-۱۰ ساعته | 9.6 | 37 |
| له ۱۰ څخه پورته | 4.6 | 18 |
| مجموعه | 100% | 385 |

۵ جدول څرګندوي، چې ۳۸۵ تنه ګډونوالو د په ورځ کې د فیسبوک د کارونې ساعتونو په اړه پوښتنې ته ځواب ویلی دی. د پایلو پر بنسټ، ۵۸,۳ سلنه ګډونوالو په ورځ کې ۱–۳ ساعته، ۲۷,۹ سلنه یې ۳–۶ ساعته، ۹,۶ سلنه یې ۶–۱۰ ساعته، او ۴,۶ سلنه یې له ۱۰ ساعتونو څخه زیات فیسبوک کارولی دی. د دې شمېرنو له مخې څرګندېږي، چې ډېری ګډونوال د ورځې په کچه ۱–۳ ساعته فیسبوک کاروي او یوازې لږ شمېر یې د ورځې له ۶ ساعتونو څخه زیات وخت مصرفوي.

**۶ جدول:** *په فیسوک کې د روغتیا او درملو کارونې اړوند پوښتونه لېدل.*

| ځواب | فیصدي | د ځواب ویونکو شمېر |
|---|---|---|
| ډېر موافق | **16.7** | **64** |
| موافق | **36.1** | **139** |
| منځنی کچه | **36.1** | **139** |
| مخالف | **8.3** | **32** |
| ډېر مخالف | **2.8** | **11** |
| ټول | **100%** | **385** |

۶ جدول څرګندوي، چې ۳۸۵ تنو ګډونوالو په فیسبوک کې د روغتیا او درمل کارونې د پوښتونو کتلو اړوند پوښتنې ته ځواب ویلی دی. د هغو ګډونوالو ټولیزه سلنه، چې له دې پوښتنې سره ډېر موافق یا موافق دي ۶۴ + ۱۳۹ = ۲۰۳ تنه جوړوي، چې د موافقې سلنه یې ۵۲,۸٪ ده. د منځنۍ کچې ځواب ویونکو شمېر ۱۳۹ تنه جوړوي، چې سلنه یې ۳۶,۱٪ ده. د هغو کسانو شمېر چې په یوه بڼه یې مخالفت څرګند کړی (مخالف او ډېر مخالف) ۳۲ + ۱۱ = ۴۳ تنه جوړوي، چې د نه موافقې سلنه یې ۱۱,۱٪ ده.

پایله ښیي، چې ګډونوال په اکثریت (۵۲,۸٪) د دغه ډول پوښتونو لیدلو ته مثبت لیدلوری لري او (۳۶,۱٪) بې پرې دریځ لري، خو یوازې ۱۱,۱٪ یې منفي نظر څرګند کړی دی. دا سلنې روښانه کوي، چې ګډونوال په عمومي ډول د روغتیا او درملو اړوند پوښتونو لیدلو ته مثبت نظرونه لري او د منفي نظرونو برخه یې محدوده ده.

**۷ جدول:** *د فیسبوک له لارې د درملو د سمې کارونې په اړه د معلوماتو ترلاسه کول.*

| ځواب | فیصدي | د ځواب ویونکو شمېر |
|---|---|---|
| ډېر موافق | **19.4** | **75** |
| موافق | **36.1** | **139** |
| منځنی کچه | **16.7** | **64** |
| مخالف | **16.7** | **64** |
| ډېر مخالف | **11.1** | **43** |
| ټول | **100%** | **385** |

۷ جدول څرګندوي، چې ۳۸۵ تنو ګډونوالو د فیسبوک له لارې د درملو د سمې کارونې په اړه معلومات ترلاسه کولو اړوند پوښتنې ته ځواب ویلی دی. د هغو ګډونوالو ټولیزه سلنه، چې له دې پوښتنې سره ډېر موافق یا موافق دي ۷۵ + ۱۳۹ = ۲۱۴ تنه جوړوي، چې د موافقې سلنه یې ٪۵۵,۶ ده. د منځنۍ کچې ځواب ویونکو شمېر ۶۴ تنه جوړوي، چې سلنه یې ٪۱۶,۷ ده. د هغو کسانو شمېر چې په یوه بڼه یې مخالفت څرګند کړی (مخالف او ډېر مخالف) ۶۴ + ۴۳ = ۱۰۷ تنه جوړوي، چې د نه موافقې سلنه یې ٪۲۷,۸ ده.

پایله ښیي، چې ګډونوال په اکثریت (٪۵۵,۶) د فیسبوک له لارې د درملو د سمې کارونې معلوماتو ترلاسه کولو ته مثبت نظر لري او او (٪۱۶,۷) بې پرې دریځ لري، خو ٪۲۷,۸ یې منفي نظر څرګند کړی دی. دا سلنې روښانه کوي، چې ګډونوال په عمومي شکل د دې ډول معلوماتو ترلاسه کولو ته مثبت نظر لري او د منفي نظر برخه یې نسبتاً محدوده ده.

**۸ جدول:** *د درملو کارونې په پریکړو د فیسبوک اغیز.*

| ځواب | فیصدي | د ځواب ویونکو شمېر |
|---|---|---|
| ډېر موافق | **2.9** | **11** |
| موافق | **62.9** | **242** |
| منځنۍ کچه | **17.1** | **66** |
| مخالف | **8.6** | **33** |
| ډېر مخالف | **8.6** | **33** |
| ټول | **100%** | **385** |

۸ جدول څرګندوي، چې ۳۸۵ تنو ګډونوالو د درملو کارونې په پریکړو د فیسبوک اغیز په اړه پوښتنې ته ځواب ویلی دی. د هغو ګډونوالو ټولیزه سلنه، چې له دې خبرې سره ډېر موافق یا موافق دي ۱۱ + ۲۴۲ = ۲۵۳ تنه جوړوي، چې د موافقې سلنه یې ٪۶۵,۸ ده او د منځنۍ کچې ځواب ویونکو شمېر ۶۶ تنه جوړوي، چې سلنه یې ٪۱۷,۱ ده. د هغو کسانو شمېر چې په یوه بڼه یې مخالفت څرګند کړی (مخالف او ډېر مخالف) ۳۳ + ۳۳ = ۶۶ تنه جوړوي، چې د نه موافقې سلنه یې ٪۱۷,۲ ده.

پایله ښیي، چې ګډونوال په اکثریت (٪۶۵,۸) باور لري، چې فیسبوک د دوی د درملو کارونې په پریکړو اغیز لري او (٪۱۷,۱) منځنۍ کچه نظر لري، مګر ٪۱۷,۲ سلنه ګډونوالو منفي نظر څرګند کړی دی. دا سلنې روښانه کوي، چې فیسبوک په عمومي ډول د ګډونوالو د درملو کارونې په پریکړو باندې مثبت اغیز لري او د منفي نظرونو برخه نسبتاً محدوده ده.

**۹ جدول:** *د اړتیا پر وخت د درملو په کارونه کې د فیسبوک اغیز*

| څواب | فیصدي | د څواب ویونکو شمېر |
|---|---|---|
| ډېر موافق | 13.9 | 54 |
| موافق | 50.0 | 193 |
| منځنی کچه | 16.7 | 64 |
| مخالف | 11.1 | 43 |
| ډېر مخالف | 8.3 | 32 |
| ټول | 100% | 385 |

۹ جدول څرګندوي، چې ۳۸۵ تنو ګډونوالو د اړتیا پر وخت د درملو کارونې د فیسبوک اغیزې په اړه پوښتنې ته ځواب ویلی دی. د هغو ګډونوالو ټولیزه سلنه، چې له دې پوښتنې سره ډېر موافق یا موافق دي ۵۴ + ۱۹۳ = ۲۴۷ تنه جوړوي، چې د موافقې سلنه یې ٪۶۴,۲ ده. د منځنۍ کچې څواب ویونکو شمېر ۶۴ تنه جوړوي، چې سلنه یې ٪۱۶,۷ ده، د هغو کسانو شمېر، چې په یوه بڼه یې مخالفت څرګند کړی (مخالف او ډېر مخالف) ۴۳ + ۳۲ = ۷۵ تنه جوړوي، چې د نه موافقې سلنه یې ٪۱۹,۴ ده.

پایله ښیي، چې ګډونوال په اکثریت (٪۶۴,۲) باور لري، چې فیسبوک د اړتیا پر وخت د درملو په کارولو کې اغیز لري او (٪۱۶,۷) منځنۍ کچه نظر لري، خو ٪۱۹,۴ سلنې یې منفي نظر څرګند کړی دی. دا سلنې روښانه کوي، چې فیسبوک په عمومي ډول د ګډونوالو د درملو په سمې کارونې باندې مثبت اغیز لري او د منفي نظرونو برخه نسبتاً محدوده ده.

**۱۰جدول:** *د ډاکټر لارښوونې پرته د درملو نه کارولو کې د فیسبوک روغتیایي پوستونو هڅونه*

| څواب | فیصدي | د څواب ویونکو شمېر |
|---|---|---|
| ډېر موافق | 30.6 | 118 |
| موافق | 25.0 | 96 |
| منځنۍ کچه | 25.0 | 96 |
| مخالف | 13.9 | 53 |
| ډېر مخالف | 5.6 | 21 |
| ټول | 100% | 385 |

۱۰ جدول څرګندوي، چې ۳۸۵ تنو ګډونوالو د فیسبوک روغتیایي پوستونو د ډاکټر لارښوونې پرته د درملو نه کارونې په اړه هڅونې پوښتنې ته ځواب ویلی دی. د هغو ګډونوالو ټولیزه سلنه، چې له دې پوښتنې سره ډېر موافق یا موافق دي ۱۱۸ + ۹۶ = ۲۱۴ تنه جوړوي، چې د موافقې سلنه یې ٪۵۵,۶ ده. د منځنۍ کچې څواب ویونکو شمېر ۹۶ تنه جوړوي، چې سلنه یې ٪۲۵ ده. د هغو کسانو شمېر چې په یوه بڼه یې مخالفت څرګند کړی (مخالف او ډېر مخالف) ۵۳ + ۲۱ = ۷۴ تنه جوړوي، چې د نه موافقې سلنه یې ٪۱۹,۵ ده.

پایله ښیي، چې ګډونوال په اکثریت (۵۵,۶٪) د دې باور لري، چې فیسبوک د ډاکټر لارښوونې پرته د درملو د نه کارولو هڅونه کوي او (۲۵٪) منځنۍ کچه نظري، خو ترڅنګ ۱۹,۵٪ یې منفي نظر څرګند کړی دی. دا سلنې روښانه کوي، چې فیسبوک په عمومي ډول د ګډونوالو د درملو د خوندي کارونې په برخه کې مثبت اغېز لري او د منفي نظرونو برخه نسبتاً محدوده ده.

**۱۱جدول:** *د درملو ناسم کارونې زیان په هکله د پوهې کچې په لوړولو فیسبوک اغیز.*

| ځواب | فیصدي | د ځواب ویونکو شمېر |
|---|---|---|
| ډېر موافق | 30.6 | 118 |
| موافق | 41.7 | 160 |
| منځنۍ کچه | 11.1 | 43 |
| مخالف | 13.9 | 53 |
| ډېر مخالف | 2.8 | 11 |
| ټول | 100% | 385 |

۱۱ جدول څرګندوي، چې ۳۸۵ تنو ګډونوالو د فیسبوک د معلوماتو له لارې د درملو د ناسم کارونې د زیانونو په اړه د پوهې لوړولو پوښتنې ته ځواب ویلی دی. د هغو ګډونوالو ټولیزه سلنه، چې له دې پوښتنې سره ډېر موافق یا موافق دي ۱۱۸ + ۱۶۰ = ۲۷۸ تنه جوړوي، چې د موافقې سلنه یې ۷۲,۳٪ ده. د منځنۍ کچې ځواب ویونکو شمېر ۴۳ تنه جوړوي، چې سلنه یې ۱۱,۱٪ ده. د هغو کسانو شمېر چې په یوه بڼه یې مخالفت څرګند کړی (مخالف او ډېر مخالف) ۵۳ + ۱۱ = ۶۴ تنه جوړوي، چې د نه موافقې سلنه یې ۱۶,۶٪ ده.

پایله ښیي، چې ګډونوال په اکثریت (۷۲,۳٪) باور لري، چې فیسبوک د درملو د ناسم استعمال د زیانونو په اړه د دوی پوهه لوړه کړې او (۱۱,۱٪) منځنۍ کچه نظر لري، خو یوازې ۱۶,۶٪ یې منفي نظر څرګند کړی دی. دا سلنې روښانه کوي، چې فیسبوک په عمومي ډول د ګډونوالو د پوهاوي د لوړولو په برخه کې مثبت اغېز لري او د منفي نظرونو برخه نسبتاً محدوده ده.

**۱۲جدول:** *د فیسبوک روغتیایي پوستونو د ګټورتیا په هکله د باور کچه.*

| ځواب | فیصدي | د ځواب ویونکو شمېر |
|---|---|---|
| ډېر موافق | 44.4 | 171 |
| موافق | 38.9 | 150 |
| منځنۍ کچه | 8.3 | 32 |
| مخالف | 2.8 | 11 |
| ډېر مخالف | 5.6 | 21 |
| ټول | 100% | 385 |

۱۲جدول څرګندوي، چې ۳۸۵ تنه ګډونوالو د دې پوښتنې په اړه ځواب ویلی دی، چې ایا د فیسبوک روغتیایي پوستونه ګټور دي. د هغو ګډونوالو ټولیزه سلنه، چې له دې پوښتنې سره ډېر موافق یا موافق دي ۱۷۱ + ۱۵۰ = ۳۲۱ تنه جوړوي، چې د موافقې سلنه یې ۸۳,۳٪ ده. د منځنۍ کچې ځواب ویونکو شمېر ۳۲ تنه جوړوي، چې سلنه یې ۸,۴٪ ده. د هغو کسانو شمېر، چې په یوه بڼه یې مخالفت څرګند کړی (مخالف او ډېر مخالف) ۱۱ + ۲۱ = ۳۲ تنه جوړوي، چې د نه موافقۍ سلنه یې ۸,۴٪ ده.

پایله ښیي، چې ګډونوال په لوی اکثریت (۸۳,۳٪) باور لري، چې د فیسبوک روغتیایي پوستونه ګټور دي او (۸,۴٪) منځنۍ کچه نظر لري، مګر لږ شمېر (۸,۴٪) یې منفي نظر څرګند کړی دی. دا سلنې روښانه کوي، چې د فیسبوک روغتیایي پوستونه د ګډونوالو له نظره د پام وړ مثبت ارزښت لري او د منفي لیدلوري کچه یې ډېره محدوده ده.

**۱۳جدول:** *د روغتیایي ادارو لخوا د درملو استعمال اړوند په فیسبوک کې کړه معلومات وړاندې کول.*

| ځواب | فیصدي | د ځواب ویونکو شمېر |
|---|---|---|
| ډېر موافق | 19.4 | 75 |
| موافق | 41.7 | 160 |
| منځنۍ کچه | 27.8 | 107 |
| مخالف | 5.6 | 21 |
| ډېر مخالف | 5.6 | 21 |
| ټول | 100% | 385 |

۱۳ جدول څرګندوي، چې ۳۸۵ تنو ګډونوالو د دې پوښتنې په اړه ځواب ویلی دی، چې ایا روغتیایي اداري د درملو د استعمال اړوند کړه معلومات وړاندې کوي. د هغو ګډونوالو ټولیزه سلنه، چې له دې پوښتنې سره ډېر موافق یا موافق دي ۷۵ + ۱۶۰ = ۲۳۵ تنه جوړوي، چې د موافقې سلنه یې ۶۱,۱٪ ده. د منځنۍ کچې ځواب ویونکو شمېر ۱۰۷ تنه جوړوي، چې سلنه یې ۲۷,۸٪ ده. د هغو کسانو شمېر چې په یوه بڼه یې مخالفت څرګند کړی (مخالف او ډېر مخالف) ۲۱ + ۲۱ = ۴۲ تنه جوړوي، چې د نه موافقۍ سلنه یې ۱۱,۲٪ ده.

پایله ښیي، چې د ګډونوالو اکثریت (۶۱,۱٪) باور لري، چې روغتیایي اداري کړه معلومات وړاندې کوي او نږدې درېیمه برخه ګډونوال (۲۷,۸٪) په منځني یا بې طرف دریځ کې پاتې دي. یوازې لږه برخه ګډونوال (۱۱,۲٪) منفي نظر لري. دا سلنې ښیي، چې که څه هم د روغتیایي ادارو د باور وړتیا په اړه عمومي لیدلوری مثبت دی، خو د منځنۍ کچې او منفي نظرونو د پام وړ سلنه ښیي، چې ځینې ګډونوال لا هم د روغتیایي ادارو د کړه معلوماتو په اړه احتیاطي او منفي نظر لري.

**۱۴جدول:** *د فیسبوک له لارې د یوې ناروغۍ اړوند معلوماتو ترلاسه کولو وروسته ډاکټر ته مراجعه.*

| څواب | فیصدي | د څواب ویونکو شمېر |
|---|---|---|
| ډېر موافق | 16.7 | 64 |
| موافق | 38.9 | 150 |
| منځنۍ کچه | 25.0 | 96 |
| مخالف | 13.9 | 53 |
| ډېر مخالف | 5.6 | 21 |
| ټول | 100% | 385 |

۱۴ جدول څرګندوي، چې ۳۸۵ تنو ګډونوالو د دې پوښتنې په اړه څواب ویلی دی، چې ایا هغوی د فیسبوک له لارې د یوې ناروغۍ اړوند معلوماتو ترلاسه کولو وروسته ډاکټر ته مراجعه کړې ده. د هغو ګډونوالو ټولیزه سلنه، چې له دې پوښتنې سره ډېر موافق یا موافق دي ۶۴ + ۱۵۰ = ۲۱۴ تنه جوړوي، چې د موافقې سلنه یې ٪۵۵,۶ ده. د منځنۍ کچې څواب ویونکو شمېر ۹۶ تنه جوړوي، چې سلنه یې ٪۲۵,۰ ده. د هغو کسانو شمېر چې په یوه بڼه یې مخالفت څرګند کړی (مخالف او ډېر مخالف) ۵۳ + ۲۱ = ۷۴ تنه جوړوي، چې د نه موافقۍ سلنه یې ٪۱۹,۵ ده.

پایله ښیي، چې د ګډونوالو اکثریت برخه (٪۵۵,۶) د فیسبوک له لارې د ناروغۍ اړوند معلوماتو تر ترلاسه کولو وروسته د ډاکټر ته د مراجعې اقدام کړی دی او (٪۲۵) ګډونوال بې پرې یا منځنۍ کچه نظر لري، خو یوازې (٪۱۹,۵) یې منفي دریځ څرګند کړی دی. دا د دې څرګندونه کوي، چې فیسبوک په ډېرې ګډونوالو کې د روغتیایي خدمتونو د لټون او د ډاکټر ته د مراجعې په هڅونه کې مثبت رول لوبولی دی.

**۱۵جدول:** *د فیسبوک له لارې نور کسان د ناسم درملو کارونې څخه خبرول.*

| څواب | فیصدي | د څواب ویونکو شمېر |
|---|---|---|
| ډېر موافق | 27.8 | 107 |
| موافق | 33.3 | 128 |
| منځنۍ کچه | 22.2 | 85 |
| مخالف | 11.1 | 43 |
| ډېر مخالف | 5.6 | 21 |
| ټول | 100% | 385 |

۱۵ جدول څرګندوي، چې ۳۸۵ تنه ګډونوالو د دې پوښتنې په اړه څواب ویلی دی، چې ایا هغوی د فیسبوک له لارې نور کسان د ناسم درملو کارونې څخه خبر کړي دي. د هغو ګډونوالو ټولیزه سلنه، چې له دې پوښتنې سره ډېر موافق یا موافق دي ۱۰۷ + ۱۲۸ = ۲۳۵ تنه جوړوي، چې د موافقې سلنه یې ٪۶۱,۱ ده. د منځنۍ کچې څواب ویونکو شمېر

۸۵ تنه جوړوي، چې سلنه يې ٪۲۲,۲ ده. د هغو کسانو شمېر چې په يوه بڼه يې مخالفت څرګند کړی (مخالف او ډېر مخالف) ۴۳ + ۲۱ = ۶۴ تنه جوړوي، چې د نه موافقی سلنه يې ٪۱۶,۷ ده.

پايله ښيي، چې د ګډونوالو اکثريت (٪۶۱,۱) باور لري، چې دوی د فيسبوک له لارې نور خلک د ناسم درملو کارونې په اړه خبر کړي دي او (٪۲۲,۲) يې پرې دريځ لري، خو يوازې يو محدود شمېر (٪۱۶,۷) يې منفي نظر څرګند کړی دی. دا سلنې روښانه کوي، چې فيسبوک د ګډونوالو ترمنځ د روغتيايي پوهاوي د خپرولو په ځانګړې توګه د ناسم درملو کارونې د مخنيوي په برخه کې اغېزمن رول لوبولی دی.

**موندنې بحث**

لومړی موندنه ښيي، چې فيسبوک د جلال اباد ښار د خلکو د روغتيايي پوهاوي په لوړولو کې مهم رول لوبوي. دا پايله د ويتاکار، ستيولنک او فيير (۲۰۱۷) د څېړنې سره ورته ده، چې څرګندوي ټولنيزې شبکې د روغتيا او درملو په برخه کې د معلوماتو د تبادلې او د معقولې کارونې په هڅولو کې اغېزمنې دي. زما څېړنه د هغوی د پايلو ملاتړ کوي او ښيي، چې د دې اغېز انعکاس په محلي کچه هم څرګند دی.

دويمه موندنه څرګندوي، چې ځواب ويونکي فيسبوک د درملو د سمې کارونې په اړه د زده کړو يوه مهمه سرچينه ګڼي. دا موضوع د جها او همکارانو (۲۰۱۶) د موندنو سره ورته ده، چې ويل يې محصلان فيسبوک د تحصيلي موخو او روغتيايي لارښوونو لپاره کاروي. همدارنګه، هينډريکس او همکاران (۲۰۰۹) يې هم ورته پايلې ته رسېدلي وو، چې فيسبوک د ډاکټر د لارښوونو د پلي کولو په برخه کې مرسته کوي. د دې پرتلنه ښيي، چې زما څېړنه د نړيوالو څېړنو پايلې تائيدوي او د محصلانو په چلند کې ورته مثبت اغېز ليدل کېږي.

دريمې موندنې وښوده، چې د ځواب ويونکو پربکړې د فيسبوک د اعلانونو او ترويجي پيغامونو تر اغېز لاندې راځي. دا پايله د ډېلا روزا او سين (۲۰۱۹) او ډاوننګ او پراکسيليس (۲۰۲۲) د څېړنو سره سمون لري، دوی ټينګار کوي، چې د فيسبوک اعلانونه د خلکو په پربکړو مستقيم اغېز لري. کيم او همکاران (۲۰۱۷) يې هم ورته پايلې ته رسېدلي دي. د مقايسې له مخې زما څېړنه د دې څېړنو ملاتړ کوي، خو ځانګړې بڼه يې دا ده، چې په جلال اباد ښار کې د ځايي خلکو د پربکړو پر بڼه تمرکز لري.

څلورمه موندنه څرګندوي، چې د فيسبوک تبصرې د خلکو لپاره د روغتيايي معلوماتو د تبادلې يوه مهمې وسيلې دي. دا موضوع د ايټلمن او همکارانو (۲۰۱۵) له څېړنې سره تړاو لري، چې د فيسبوک متقابل فعاليتونه يې د عامې روغتيا د ځارنې لپاره د مهمو معلوماتو سرچينه بللې وه. د مقايسې له مخې زما څېړنه دا پايله تائيدوي او ښيي، چې محلي کاروونکي هم له همدې لارې د نورو د تجربو او نظرياتو نه ګټه اخلي.

پنځمه موندنه ښيي، چې د ناروغانو تجربې د فيسبوک له لارې د شريکولو په پايله کې د ناسمو کارونو مخنيوی کېږي او د نورو پوهاوی لوړېږي. دا پايله د سمايلهوديزيک او همکارانو (۲۰۱۶) او جورج او همکارانو (۲۰۱۳) د څېړنو سره ورته ده، چې ټينګار کوي فيسبوک د ناروغانو د ښکېلتيا او د مزمنو ناروغيو په مديريت کې مرسته کوي. زما څېړنه د دغو څېړنو ملاتړ کوي، خو له دې سره يوځای ښيي، چې په محلي ټولنه کې هم د تجربو شريکول د معقولې درملو کارونې لپاره مهم دي.

**محدودیتونه**

۱ -څېړنه یوازې د جلال‌اباد ښار پر اوسېدونکو متمرکزه ده، نو پایلې یې نورو سیمو ته نه شي تعمیمېدای.

۲ -پوښتنپاڼه یوازې په انلاین ډول وېشل شوې، نو هغه کسان پکې شامل نه دي، چې انټرنیټ ته لاسرسی نه لري.

۳ -معلومات د ګډونوالو د شخصي نظرونو پر بنسټ دي، چې د برداشتونو اغېزې پرې ممکن دي.

۴ -څېړنه مقطعي (Cross-sectional) بڼه لري، نو د اوږدمهاله بدلونونو ارزونه پکې نه ده شوې.

۵ -څېړنه یوازې د فیسبوک اغېزې څېړي، د نورو ټولنیزو شبکو ارزونه پکې نه ده شامله.

**اخلاقي اړخونه**

۱ -د څېړنې ګډونوالو ته د څېړنې موخه او ماهیت روښانه شوي او رضاکارانه ګډون یې منلی و.

۲ -د ګډونوالو هویت او شخصي معلومات پټ ساتل شوي دي.

۳ -راټول شوي معلومات یوازې د علمي موخو لپاره کارول شوي دي.

۴ -د څېړنې ټول مراحل د محرمیت، درناوي او بې ضرری د اصولو سره سم ترسره شوي دي.

۵- د څېړنې طرحه د اړوندې علمي اداري د اخلاقي تائید وروسته عملي شوې ده.

**پایله**

د څېړنې موندنې څرګندوي، چې فیسبوک د جلال اباد ښار د خلکو په روغتیایي پوهاوی، د درملو د سمې کارونې او د ناروغانو د تجربو په شریکولو کې مهم رول لري. د پایلو له مخې د فیسبوک اعلانونه او ترویجي پیغامونه د خلکو په پرېکړو مستقیم اغېز لري او ډېری ځواب ویونکي دا پلاټفورم د روغتیایي معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره یوه ګټوره وسیله ګڼي. پایلې ښیي، چې فیسبوک نه یوازې د روغتیایي پوهاوي د لوړولو لپاره کارول کېږي، بلکې د درملو د ناسم کارونې د مخنیوي او د منطقي درملو د کارونې په ترویج کې هم مرسته کوي. د متقابلو فعالیتونو لکه لایکونو، تبصرو او شریکونې له لارې خلک کولای شي یو له بل سره خپلې تجربې شریکې کړي، چې دا د ټولنې په کچه د روغتیایي چلندونو پر سموالي اغېز لري. په ټوله کې څېړنه څرګندوي، چې د فیسبوک د مؤثر کارونې په نتیجه کې د درملو د سمې کارونې په اړه د خلکو پوهه زیاته شوې او د ناسمو چلندونو کچه راټیټه شوې ده. له همدې امله د روغتیایي ادارو او مسلکي کسانو لپاره اړینه ده چې له دې پلاټفورم څخه د معقولې درملې کارونې د ترویج او د ناسمو پایلو د مخنیوي په موخه اغېزمنه ګټه واخلي.

**سپارښتنې**

۱ -د روغتیایي ادارو او اړوندو بنسټونو لپاره اړینه ده، چې د فیسبوک له لارې د منطقي درملو د کارونې په اړه منظم او باور وړ معلومات خپاره کړي، څو د ناسمو معلوماتو د خپرېدو مخنیوی وشي.

۲ -روغتیایي مسلکي کسان باید د فیسبوک په وسیله د خلکو پوښتنو ته ځوابونه ورکړي او د ناروغانو د پوهاوي د لوړولو لپاره عملي لارښوونې وړاندې کړي.

۳- د درمل جوړولو او توزیع کوونکو شرکتونو ته سپارښتنه وشي، چې د اعلانونو پرمهال د درملو د ناوړه کارونې د احتمالي زیانونو په اړه هم روښانه پیغامونه خپاره کړي.

۴- د عامې روغتیا د ځارنې لپاره د فیسبوک متقابل فعالیتونه (لایکونه، تبصرې، شریکونې) باید د څېړنې د یوې وسیلې په توګه وکارول شي، څو د خلکو د چلند د بدلونونو وړاندوینه وشي.

۵- د فیسبوک کارونکو لپاره ځانګړي کمپاینونه تنظیم شي، څو هغوی وکولای شي د فیسبوک له لارې په اسانۍ سره د باور وړ روغتیایي معلومات تر لاسه کړي او د ناسمو معلوماتو ښکار نه شي.

## ماخذونه

Whitaker, C., Stevelink, S., & Fear, N. (2017). The use of Facebook in recruiting participants for health research purposes: A systematic review. *Journal of Medical Internet Research*, 19(8), e290. https://doi.org/10.2196/jmir.7071

Hendrix, D., Chiarella, D., Hasman, L., Murphy, S., & Zafron, M. L. (2009). Use of Facebook in academic health sciences libraries. *Journal of the Medical Library Association*, 97(1), https://doi.org/10.3163/1536-5050.97.1.008

Jha, R. K., Shah, D. K., Basnet, S., Paudel, K. R., Sah, P., Sah, A. K., & Adhikari, K. (2016). Facebook use and its effects on the life of health science students in a private medical college of Nepal. *BMC Research Notes*, 9(1), https://doi.org/10.1186/s13104-016-2186-0.

Downing, A., & Perakslis, E. (2022). Health advertising on Facebook: Privacy and policy considerations. *Patterns*, 3, 100561. https://doi.org/10.1016/j.patter.2022.100561

Della Rosa, S., & Sen, F. (2019). Health Topics on Facebook Groups: Content Analysis of Posts in Multiple Sclerosis Communities. *Interactive Journal of Medical Research*, 8(1), e10146. https://doi.org/10.2196/10146.

Ittelman, S., Lange, V., Crawford, C. A. G., Okoro, C. A., Lieb, E., Dhingra, S. S., & Trimarchi, E. (2015). A new source of data for public health surveillance: Facebook likes. *Journal of Medical Internet Research*, 17(4), e98. https://doi.org/10.2196/jmir.3970.

Smailhodzic, E., Hooijsma, W., Boonstra, A., & Langley, D. J. (2016). Social media use in healthcare: A systematic review of effects on patients and on their relationship with healthcare professionals. *BMC Health Services Research*, 16(442). https://doi.org/10.1186/s12913-016-1691-0.

Smailhodzic, E., Hooijberg, S., Hulsbergen, M., & van der Velden, M. (2016). The effects of social media use by patients for health-related reasons: A systematic review. *BMC Health Services Research*, 16(442). https://doi.org/10.1186/s12913-016-1691-0.

Kanchan, S., & Gaidhane, A. (2023). Social Media Role and Its Impact on Public Health: A Narrative Review. *Cureus*, 15(1), e33737. https://doi.org/10.7759/cureus.33737.

Sulakhiya, K., Kanchan, S., Ansari, H., & Kisku, A. (2024). Role of social media for drug safety signal detection. *Indian Journal of Pharmaceutical Education and Research*, 58(1s), s9-s25.

Kim, S. J., Marsch, L. A., Hancock, J. T., & Das, A. K. (2017). Scaling Up Research on Drug Abuse and Addiction Through Social Media Big Data. *Journal of Medical Internet Research*, 19(10), e353. https://doi.org/10.2196/jmir.6426.

George, D. R., Rovniak, L. S., & Kraschnewski, J. L. (2013). *Dangers and opportunities for social media in medicine*. https://doi.org/10.1097/GRF.0b013e318297dc38.

Arigo, D., Jake-Schoffman, D. E., Wolin, K., Beckjord, E., Hekler, E. B., & Pagoto, S. L. (2019). The history and future of digital health in the field of behavioral medicine. *Journal of Behavioral Medicine*, 42(1), 67-83. https://doi.org/10.1007/s10865-018-9966-z.

Lord, S., Brevard, J., & Budman, S. (2011). Connecting to young adults: An online social network survey of beliefs and attitudes associated with prescription opioid misuse among college students. *Substance Use & Misuse*, 46(1), 66–76. https://doi.org/10.3109/10826084.2011.52137.

Benetoli, A., Chen, T. F., Spagnardi, S., Beer, T., & Aslani, P. (2015). Provision of a medicines information service to consumers on Facebook: An Australian case study. *Journal of Medical Internet Research*, 17(11), e265. https://doi.org/10.2196/jmir.4161

# د کندهار په ښار کې د بې نسخو درملنې او لاملونو د خپرښت کچه

MARJ
ملـي
علمـي-څېړنیـز ژورنال
REG Code: RCTD-PNJR-0094-25

**محمد حسن هځاند**[۱]
بیولوژی دیپارتمنت، ښوونه او روزنه پوهنځی، کندهار پوهنتون، افغانستان
mhhsssand@gmail.com

**محمد یونس سلیمان**[۲]
عمومی دیپارتمنت، طب پوهنځی، ملالی پوهنتون، افغانستان

**عبدالقدیر بصیر**[۳]
بیولوژی دیپارتمنت، ښوونه او روزنه پوهنځی، کندهار پوهنتون، افغانستان

**لنډیز**

بې‌نسخې درمل (Over-the-Counter; OTC) د ډاکټر له نسخې پرته د خلکو له‌خوا د اسانه لاسرسي او ټیټې بیې له امله په پراخه توګه کارول کیږي. دا پدیده د عامې روغتیا له مهمو موضوعاتو څخه ده، ځکه ناسمه کارونه یې د روغتیایي ستونزو د زیاتوالي لامل ګرځي. د افغانستان په ګډون په ډیرو مخ پر ودې هیوادونو کې د OTC درملو کارونه عام دي، خو کره احصایوي شواهد محدود دي.دا څېړنه د کندهار ښار د عمومي اوسېدونکو ترمنځ د بې نسخې درملو د کارونې کچه، عوامل، او روغتیایي اغېزې ارزوي. څېړنه د cross-sectional ډول ده او د ۳۸۴ ګډونوالو (n=384) ترمنځ د جوړې سوي پوښتنپاڼې له لارې ترسره سوې ده. معلومات د ډیموګرافیک ځانګړتیاوو، د OTC درملو د استعمال نمونو، د ځان‌درملنې د علتونو، او د کارونې د پوهاوي د کچې په اړه راټول او د SPSS له لارې تحلیل سول. پایلې ښیي چې ګډونوال نژدې په مساوي ډول نارینه (۵۰,۵٪) او ښځینه (۴۹,۵٪) وه، ډېر یې د ۱۸–۲۴ کلونو ترمنځ عمر درلودی (۵۳,۹٪). د OTC درملو تر ټولو عام استعمال د زکام (۲۸,۸٪)، درد (۲۳٪) او تبې (۱۸,۴٪) له پاره وو. د کارونې مهم عوامل پخوانۍ تجربه (۵۰,۳۹٪)، ټیټه بیه او د درملو شهرت وو. شاوخوا ۷۷٪ ګډونوالو د بسته‌بندۍ لارښوونې تعقیب کړې، خو ۵,۹۵٪ د اعتیاد او ۴,۷۶٪ د زیات مقدار د استعمال ستونزې راپور کړې دي. پایلې ښیي، چې د OTC درملو استعمال په کندهار ښار کې پراخ دی، خو د ځان‌درملنې په اړه د خلکو پوهاوی محدود دی. دا وضعیت د روغتیایي خطرونو، د انټي‌بیوټیک مقاومت او د درملو د ناسم استعمال د زیاتېدو اندېښنه زیاتوي. د عامه پوهاوي پروګرامونه، د روغتیایي خدمتونو اسانه لاسرسی او د درملتونونو د قانوني څارنې پیاوړتیا د دې ستونزې د کمولو له پاره ضروري ده.

**کلیدي کلمې: بې نسخې درمل (OTC)، کندهار ښار، ځان‌درملنه، د ځان درملنې عوامل، روغتیایي اغېزې، درملو ته لاسرسی.**

# Prevalence and Patterns Over-the-Counter Medication in Kandahar City

**Abstract**

Over the counter (OTC) medications are widely used without a physician's prescription due to their easy accessibility and low cost. This phenomenon represents a significant public health concern, as inappropriate use leads to increased health risks. In many developing countries, including Afghanistan, the use of OTC medications is common, yet epidemiological data remain limited. This study assesses the prevalence, determinants, and health impacts of OTC medication use among the general population of Kandahar city. A cross-sectional design is employed, and data are collected from 384 participants (n=384) using a structured questionnaire. Information on demographic characteristics, patterns of OTC use, reasons for self-medication, and awareness levels is gathered and analyzed using IBM SPSS Statitistics. The results indicate that participants are nearly equally distributed by gender (male 50.5%, female 49.5%), with the majority aged 18–24 years (53.9%). The most commonly used OTC medications are for colds (28.8%), pain (23%), and fever (18.4%). Key factors influencing usage include previous experience (50.39%), low cost, and drug popularity. Approximately 77% of participants follow package instructions, yet 5.95% report issues related to dependency, and 4.76% report problems due to excessive use. These findings highlight that OTC medication use is widespread in Kandahar, while public awareness regarding self-medication remains limited. This situation raises concerns about potential health risks, antibiotic resistance, and inappropriate drug use. Public awareness campaigns, improved access to healthcare services, and strengthened regulatory oversight of pharmacies are essential to mitigate these challenges.

**Keywords: Over-the-Counter Medicines (OTC), Kandahar City, Self-Medication, Determinants of Self-Medication, Health Implications, Access to Medicines**

MARJ

Mili
Academic-Research Journal

REG Code: RCTD-PNJR-0094-25

**Mohammad Hassan Hasand[1]***
Department of Biology, Faculty of Education and Training, Kandahar University, Afghanistan
mhhsssand@gmail.com

**Mohammad Yunus Sulaiman[2]**
General Department, Faculty of Medicine, Malali University, Afghanistan

**Abdul Qadeer Basir[3]**
Department of Biology, Faculty of Education and Training, Kandahar University, Afghanistan

**پېژندنه**

بې‌نسخې درمل (Over-the-Counter Medicines; OTC) په ټوله نړۍ کې د عامې روغتیا یوه مهمه مسئله ګڼل کیږي. دا هغه درمل دي چې د ډاکټر له نسخې پرته د خلکو له‌خوا د اسانه لاسرسي او تیتې بیې له امله کارول کیږي. د OTC درملو پراخ استعمال که څه هم د ناروغانو د چټک درملنې او د روغتیایي خدمتونو د کم‌لګښته بدیل په توګه ګټور ګڼل کیږي، خو ناسم استعمال یې د روغتیایي ستونزو، د انټي‌بیوټیکونو د مقاومت او د اوږدمهاله ناروغیو د زیاتوالي خطر لري.(Nepal & Bhatta, 2018) په مخ پر وده هیوادونو کې د روغتیایي سیستم د کمزورتیا، د ډاکټرانو د کمښت او د درملو د اسانه لاسرسي له امله د OTC درملو کارونه ورځ تر بلې ډېریږي .(Kaplan et al., 2017) د ښلګې په توګه، په هند کې شاوخوا ۶۸٪ خلک د ناروغۍ د لومړنیو نښو پر مهال بې له ډاکټر څخه OTC درمل کاروي (Rashid et al., 2020) او په پاکستان کې دا کچه له ۵۰٪ څخه زیاته ده .(Aslam et al., 2020) دا حالت په منځنۍ او جنوبي آسیا، په ځانګړې ډول په افغانستان کې، د روغتیایي پالیسیو د کمزورتیا او د درملو د پلور د ناسم کنټرول له امله لا جدي بڼه غوره کړې ده. په افغانستان کې د OTC درملو کارونه په تېرو څو کلونو کې زیات سوی، خو لا یې د کچې، عواملو او روغتیایي اغېزو په اړه کره شواهد محدود دي. په کابل او ننګرهار کې ترسره سوي څېړنې ښیي چې له نیمایي زیاتو خلکو پرته له ډاکټر څخه درمل کارولي دي او د دې کار اصلي عوامل اقتصادي محدودیتونه، د ډاکټر ته د ورتګ د وخت نشتوالی او د پخوانۍ تجربې تکرار ګڼل سوي دي (Nemat, 2023; Qudrati et al., 2025; Bahamish, 2022). د روغتیا نړیوال سازمان (WHO, 2022) ټینګار کوي چې د OTC درملو د کارونې له پاره باید د عامه پوهاوي پروګرامونه، د بازار د څارنې میکانیزمونه او قانوني چوکاټونه پیاوړي سي.

په کندهار ښار کې، چې د روغتیایي سرچینو محدودیت او د خلکو اقتصادي وضعیت نسبتا کمزوری دی، د OTC درملو کارونه عامه کړنه ده. ډېر خلک د ناروغۍ پر مهال د ډاکټر پر ځای درملتونونو او غیر رسمي پلورونکو ته مراجعه کوي، چې دا د درملو د ناسم استعمال، د مقاومت لرونکو میکروبونو د رامنځته کېدو او د روغتیایي خطرونو د زیاتېدو سبب ګرځي. د څېړنې ډول cross-sectional دی، چې د کمي (quantitative) او کیفي (qualitative) معلوماتو را ټولو پر بنسټ ترسره سوې ده. د دې څېړنې اصلي موخه دا ده چې د کندهار ښار د اوسېدونکو ترمنځ د بې‌نسخې درملو د کارونې کچه، عوامل او روغتیایي اغېزې و ارزول سي. څېړنه هڅه کوي چې د دې کړنې د پراخوالي، د ځان‌درملنې د لاملونو او د احتمالي روغتیایي پایلو په اړه کره شواهد وړاندې کړي، څو د پالیسۍ جوړونکو، روغتیایي بنسټونو او عامه پوهاوي پروګرامونو له پاره د پرېکړې علمي بنسټ برابر کړي.

**تیرو اثارو ته کتنه**

بې نسخې درمل (Over-the-Counter medicines) هغه درمل دي، چې د ډاکټر له نسخې پرته د عامو خلکو له پاره د ګټې اخیستنې اجازه لري. د دغو درملو پراخ لاسرسی، په ځانګړې ډول په تیټ او منځنۍ عاید لرونکو هیوادونو کې، د ځان درملنې د لوړې کچې سبب ګرځېدلی دی. نړۍ وال شواهد ښیي، چې د ځان درملنې کچه له ۳۲٪ تر ۸۰٪ پورې رسېږي، چې د ناسمې استفادې له امله د روغتیایي ستونزو لکه د درملو ناوړه اغېزې، د مقاومت لرونکو مکروبونو رامنځته کېدل، او د مزمنو ناروغیو د کنټرول ستونزې زیاتوي (Konda et al., 2025). د بې‌نسخې درملو پرمختګ د مسلکي، قانوني او روغتیایي شرایطو پر بنسټ سوی دی. په ۱۷۰۴ کال کې د (Rose Case) پرېکړې درمل پوهانو ته

د درملو د نسخې ورکولو او ویشلو حق ورکړ او د ډاکټرانو د ټولنې اوږدمهاله انحصار یې مات کړ، چې په بریتانیا کې د OTC درملو عام لاسرسی یې ممکن کړی (Adams, 2011).

د یوې پېړۍ له پاره ډېر درمل د نسخې پرته ترلاسه کېدل، خو د ۱۹مې پېړۍ په منځ کې د ناوړه ګټه اخیستنې اندېښنې د درملو تر نسخې پورې د محدودولو سبب وګرځېدې، او تر ۱۹۶۰مو کلونو پورې د عامې روغتیا د ساتنې له پاره ډېر درمل یوازې د نسخې له لارې ورکول کېدل(Tansey & Reynolds, 1997). د ډېرو هڅو سره سره، د ځان درملنې ناوړه استعمال لا هم لویه اندېښنه وه، او په وروستیو لسیزو کې ډېرو درملو د نسخې پرته بیا لاسرسی وموند، چې غوره بېلګه یې سیماستاتین، د وینې د غوړو د کمولو درمل وه او د ۱۰ ملي ګرامه بې نسخې کارونې اجازه یې ورکړل. په ۲۰۰۴ کال کې د انګلینډ او ویلز د روغتیا وزیر جان ریډ له خوا د بې نسخې درملو د پلور له پاره بیا درجه‌بندي ترسره سول، چې داد پالیسۍ له پاره یو مهم بدلون وو(Anonymous, 2004). تحقیقاتي سرچینو پر دې موضوع ټینګار وکړ په ځانګړي ډول، The Lancetمجلې په یوه خپره سوې مقاله کې پر دې پالیسۍ انتقاد وکړ او ټینګار یې وکړ چې د Statins د نسخې پرته کارول یوه ناسمه روغتیایي پرېکړه ده چې ناوړه پایلې به ولري.

اوس مهال د OTC د طبقه‌بندۍ پر معیارونو لانجه روانه ده. د امریکا یوې څېړنې د اغېزمنتیا، خوندیتوب او عامه لاسرسي شرایط بیان کړي، خو د اساسي او اختیاري معیارونو ترمنځ یې روښانه توپیر نه دی کړی ,.Albert et al (2014). په سیمه ییزه کچه، د افغانستان په ګډون د سویلي آسیا هیوادونه له ورته ننګونو سره مخ دي. دلته د بې‌نسخې درملو پراخه کارونه د روغتیایي پالیسۍ نیمګړتیا، د ځارنې کمزورتیا، او د روغتیایي عامه پوهاوي ټیټې کچې له امله زیات سوی دي(Kanthasamy & Ali, 2025). په افغانستان کې څو وروستو څېړنو د ځان درملنې کچه او لاملونه روښانه کړي دي. په کابل کې ترسره سوې یوه څېړنه ښیي چې ۷۳,۵٪ ګډونوالو د بې‌نسخې درملو کارونه تایید کړې ده، چې پنسلین، میترونیدازول، او سیفټریاکسون تر ټولو عام درمل کاروي. د ځان درملنې اصلي لاملونه اقتصادي ستونزې او ډاکټر ته د ورتګ د وخت نشتوالی وو(Nemat, 2023) . بله څېړنه چې د کابل پوهنتون د غیر طبي محصلینو تر منځ ترسره سوې، څرګندوي چې ۵۹,۱٪ محصلینو په خپلسر د انټي‌بیوتیکونو په کارونې سره ځان‌درملنه کړې وه، چې د درملو اسانه لاسرسی، د پخوانۍ تجربې تکرار، او ډاکټر ته د تګ وخت نشتوالی یې مهم عوامل ګڼل سوي دي (Qudrati et al., 2025)همدارنګه، د ننګرهار ولایت د اوسېدونکو تر منځ په ترسره سوې څېړنه کې ۶۲,۶٪ ګډونوالو د ځان درملنې کچه تایید کړې ده، چې د اسانه لاسرسي، اقتصادي ستونزو، او روغتیایي پوهاوي د کموالي ستونزې یې د دې کړنې بنسټیز عوامل وه(Bahamish, 2022) . د روغتیا نړۍ وال سازمان (WHO) ټینګار کوي چې د بې‌نسخې درملو د کارونې له پاره باید واضح لارښوونې، د عامه پوهاوي کمپاینونه، او د بازار څارنې اغېزمن مېکانیزمونه رامنځته سي. د دې ترڅنګ، د درمل جوړونې شرکتونه او درمل پلورونکي باید د مسوولانه پلور او د خلکو د پوهې په زیاتولو کې فعاله ونډه واخلي (World Health Organization, 2022).

### نړۍ وال او سیمه‌ییزه شواهد

- نړۍ واله کچه: د ځان درملنې نړۍ واله کچه له ۳۲٪ تر ۸۱,۵٪ پورې رسیږي، په ځینې هیوادونو کې تر ۹۲٪ پورې رسیږي، او د انټي‌بایوټیکونو اوسطه ځان‌درملنه ۴۳٪ ده، چې تر ټولو لوړه په سب‌ساهارن افریقا (۵۵,۲٪) او تر ټولو ټیټه په آسیا (۲۵,۸٪) ده؛ د COVID-19 پر مهال نړۍ واله کچه شاوخوا ۴۹٪ او په ټیټ او منځني عاید لرونکو هیوادونو کې ۳۸,۸٪ وه (Gashaw et al., 2025).

- سیمه‌ییزه کچه: په سیمه‌ییزه کچه، په پاکستان کي شاوخوا ۹۶,۹٪ درملتونونه انټي‌بایوټیکونه پرته له نسخې پلوري، او د پوهنتون د محصلینو ترمنځ د ځان درملني کچه تر ۸۰٪ پوري ده (M Majid Aziz et al., 2021). په ایران کي د عمومي خلکو د ځان درملني کچه ۵۳٪ او د محصلینو ۶۷٪ ده (Azami-Aghdash et al., 2015). همدارنګه په هندوستان کي شاوخوا ۶۸٪ خلک ځان‌درملنه کوي (Rashid et al., 2020).

**د ځان درملني عام لاملونه او زیانونه**

د روغتیایي خدمتونو محدود لاسرسی، د ډاکټر د فیس لوړوالی، د درملو ارزانه بیه، د بیمې نشتوالی، د پخوانۍ تجربې تکرار، او د درملو په اړه د خلکو کمه پوهه د ځان درملني عام لاملونه ګڼل کیږي، چې ټول د غلط ډوز اخیستلو، د درملو ګډولو، او د ناوړه روغتیایي اغیزو خطرونه زیاتوي (Aljinović-Vučić, 2025). د بې‌نسخې درملو ناسمه کارونه د انټي بیوټیکونو د مقاومت زیاتوالی، د درملو ناوړه اغیزې لکه د NSAIDs له امله د هاضمې ستونزې، د Codeine / Tramadol له امله اعتیاد، او د ناروغۍ د تشخیص ځنډ او د حالت خرابېدل رامنځته کوي (Abdel Shaheed et al., 2024).

**څېړنیز تشه:** پخوانیو څېړنو د بې‌نسخې درملو د کاروني کچه، د درملو ډولونه او د ځان‌درملني مهم لاملونه مستند کړي دي او د روغتیایي خطرونو پېژندنې له لارې یې د پالیسۍ جوړونې له پاره مهم معلومات وړاندې کړي دي (Cooper, 2013) ، خو په افغانستان کي د څېړنو نشتوالی، د حقیقي کیفي تحلیل کمښت او د درملتونونو د پلور د کنټرول او قانوني چوکاټ نشتوالی د څېړني له اصلي محدودیتونو څخه دي. وروستیو نړۍ والو سیستماتیکو بیاکتنو (systematic reviews)او هیواد-سطحي راپورونو (country reports) د ۲۰۲۰–۲۰۲۵ ترمنځ څرګنده کړې چې د OTCدرملو او ځان‌درملني (self-medication) کچه لا هم په نړۍ‌واله کچه لوړه ده، په ځانګړې ډول د انټي‌بیوټیکونو د ناسم استعمال برخه کې. د یوې ۲۰۲۵ کال میتا-تحلیلي بیاکتنې له مخې، د انټي‌بیوټیکونو ځان‌درملنه په نړۍ‌واله کچه شاوخوا ۴۳٪ ته رسیږي او په ټیټ او منځني عاید لرونکو هیوادونو کې دا کچه لا لوړه ده (Gashaw et al., 2025). همدارنګه، د COVID-19 وبا پر مهال ترسره سوو څېړنو ښودلې چې د خلکو د ویري، محدود لاسرسي او معلوماتي نشتوالي له امله د OTC درملو کارونه زیات سوي دي (Aljinović-Vučić, 2025; Konda et al., 2025).

د روغتیا نړۍ‌وال سازمان (WHO, 2022) په خپل وروستي راپور کې ټینګار کړی چې هیوادونه باید د ځان‌پاملرنې (self-care)مداخلې، د OTC درملو د مسؤلانه استعمال پوهاوي او د بازار د څارنې اغېزمن میکانیزمونه رامنځته کړي دي. د افغانستان په کچه، شته څېړنې ښیي چې د OTC درملو کارونه په چټکۍ سره زیات سوی، خو لا هم کره، منظم او د هیواد د بېلابېلو سیمو استازیتوب کوونکي معلومات نشته (Nemat et al., 2023; Qudrati et al., 2025). د دې له امله، په ځانګړې ډول په جنوبي افغانستان او کندهار ښار کې، د بې‌نسخې درملو د کاروني د کچې، عواملو، او روغتیایي اغېزو په اړه د دقیقو احصایوي معلوماتو تشه لا هم موجوده ده، چې دا څېړنه یې د ډکولو هڅه کوي.

## څېړنیز هدف

دا څېړنه هڅه کوي چې په کندهار ښار کې د ۱۸ کلنې څخه لوړ په نارینه او ښځینه د بې‌نسخې درملو د کارونې کچه، عوامل او روغتیایي اغېزې د شمېر او فیصدي له مخې مستندي، د ګاونډیو هیوادونو د شواهدو سره یې پرتله او د خصوصي درملتونونو د پلور د ځارنې او د عامې روغتیا د هڅو او مداخلې د پایلو تحلیل وکړي.

## د څېړنې ستونزه (Research Problem)

د بې نسخې درملو (Over-the-Counter; OTC) ناوړه کارونه د نړۍ په ډېرو هیوادونو کې یوه جدي روغتیایي ستونزه ده. د دغو درملو څخه د اسانه لاسرسي، ټیټې بیې، او د نسخې نه غوښتلو له امله پرته له مسلکي مشورې ګټه اخیستل کیږي، چې دا د ناسمې درملنې، ډوز ټپروتنو، او جدي روغتیایي عوارضو لامل ګرځي (Ahmed, 2022). په پرمختللو هیوادونو کې هم دا ستونزه موجوده ده، خو مخ پر ودې او سیمه ییزو هیوادونو کې دا ستونزه څو برابره زیاته ده، ځکه چې په دې هیوادونو کې د درمل پلورونکي غیر رسمي فعالیت کوي، د قانون پلي کول کمزورې بڼه لري، او د خلکو د روغتیایي پوهاوي کچه ټیټه ده(Nwokedi et al., 2025) افغانستان ، په خانګړې توګه په کندهار ښار کې د (OTC) د پلور او کارونې د تنظیم له پاره پالیسي چوکاټ لا هم ناکافي او په ډېرو مواردو کې نه‌پلي کیږي .که څه هم د عامې روغتیا وزارت د درملو د تنظیم، ثبت او کنټرول له پاره یو عمومي قانوني جوړښت لري، خو دا چوکاټ د OTC درملو د ځانګړې تنظیم، د پلور د ځارنې او د مسؤلانه کارونې د ترویج په برخه کې کمزورې پلي کیږي برابروي (Nemat et al, 2023; Qudrati et al, 2025). دغه وضعیت د ځان‌درملنې د کچې د لوړوالي، د انټي‌بیوټیکونو د مقاومت او د درملو د ناسم استعمال د زیاتېدو لامل ګرځي او حتی د مړینې خطر رامنځته کوي (Azami-Aghdash et al., 2015). د سیمه‌ییزو څېړنو نشتوالی او د کره معلوماتو کمښت د ستونزې جدیت نه سي ځرګندولای، او د پالیسۍ جوړونکو له پاره دقیق علمي بنسټ کمزورې کوي. د کابل ښار د انټرنیټ کاروونکو پر بنسټ یوه څېړنه ښیي چې د OTCدرملو د ځان درملنې کچه په افغانستان کې پراخه ده، چې عمده عوامل یې فقر، بې سوادي او روغتیایي خدماتو ته محدود لاسرسی دی. دغه څېړنه په ۲۰۲۳ کال کې ترسره سوې او د ۳۹۱ ګډونوالو څخه ۷۵,۲٪ یې نارینه وو او ۶۹,۶٪ یې په غیر روغتیایي برخو کې کار کوی. ګډونوالو د OTC درملو د انتخاب اصلي دلایل لګښت، اسانتیا او د مؤثریت احساس کړی دی (Nemat et al., 2023). له همدې امله، د دې څېړنې اساسي ستونزه دا ده چې د افغانستان په ځانګړې توګه د کندهار ښار د اوسېدونکو تر منځ د OTC درملو د کارونې کچه، عوامل او روغتیایي اغېزې لا تر اوسه په کره علمي توګه نه دي ثبت سوي او د پالیسي جوړونې له پاره دقیق سیمه‌ییز شواهد نسته، چې دا د ستونزې د لا ډېرېدو خطرونه نور هم زیاتوي.

## مېتودولوژي:

دا څېړنه د cross-sectional ډیزاین پر بنسټ د تشریحي (descriptive) معلوماتو له مخې ترسره سوې ده، او د احصایوي (quantitative) ډیټا په راټولولو او تحلیل ولاړه ده. د څېړنې موخه په کندهار ښار کې د بې‌نسخې درملو د کارونې کچه، د هغې عوامل او له هغو سره تړلې روغتیایي ستونزې ارزول دي. څېړنه په کندهار ښار کې د ۲۰۲۵ کال د مې میاشت څخه د اګست میاشت تر ۱۵ پورې ترسره سوه. د دې څېړنې ساحه کندهار ښار دی، چې د جنوبي افغانستان یو ستراتیژیک اداري او اقتصادي ښار ګڼل کیږي او د افغانستان دوهم لوی ښار دی. د ښار نفوس د ۲۰۲۵

کال احصایې له مخې شاوخوا (۵۷۷،۰۰۰) تنه ښودل سوي، چې د کندهار ټولنیز، تعلیمي، اقتصادي او کلتوري جوړښت د ګډونوالو د ځانګړتیاوو تحلیل له پاره مناسبه زمینه برابروي.

د څېړنې له پاره د کندهار ښار له بېلابېلو ناحیو څخه ګډونوال چې عمرونه یې د ۱۸ کلنۍ څخه لوړ وه، د تصادفي انتخاب (random sampling) په طریقه وټاکل سول. د نمونې اندازه د Cochran فورمول له مخې محاسبه سوه، چې پکښې د باور کچه ۹۵٪، د خطا حاشیه ۵٪، او د ټولنې د تناسب ارزښت ۰،۵ په پام کې ونیول سو او ټولټال ۳۸۴ کسان (نارینه او ښځینه دواړه) د څېړنې برخه وال سول. د څېړنې اصلي نفوس د کندهار ښار هغه اوسېدونکي دي چې عمر یې له ۱۸ کالو لوړ دی، او د random sampling ډول (stratified random sampling) غوره سو، څو د ښار بېلابېلو ناحیو د ګډونوالو د ټاکلو په برخه کې استازیتوب ولري.

د څېړنې ګډونوال باید لږ تر لږه ۱۸ کلن، حاضر، رضا او د څېړنې د موضوع سره دا اړوند شرایط پوره کړي. همدارنګه هغه کسان چې د څېړنې د موضوع سره اړوند صحي یا نوري ستونزي لري او عمر یې تر ۱۸ کلنۍ څخه کم وي، نو د څېړنې د ګډون څخه مستثنی دي، ځکه چې د نتایجو اعتبار اغیزمنوي. دغه شمولیت او استثناء معیارونه د څېړنې د پایلو د اعتبار او د معلوماتو د کیفیت د تضمین له پاره ټاکل سوي دي.


پوښتنپاڼې د ګډونوالو له خوا په ترکیبي ډول ډکې سوې؛ ځینې په خپله (self-administered) او ځینې د څېړونکو له خوا د مخامخ مرکو (face-to-face interview) له لارې، ترڅو د جوابونو صراحت او د معلوماتو د کره والي ډاډ ترلاسه سي.

د معلوماتو راټولولو له پاره یوه معیاري پوښتنپاڼه (structured questionnaire) وکارول سوه، چې څلور مهمې برخې یې درلودې: ډیموګرافیکي معلومات، کچه معلومول، عوامل او روغتیایي اغېزې. د پوښتنپاڼې د اعتبار او اعتبارسنجۍ لپاره څو ګامونه ترسره سول. لومړی، که څه هم پوښتنپاڼه له مخکې څخه په مشابهو څېړنو کې validated وه، د ژباړې له پاره یې forward–backward پروسه ترسره سول، ترڅو د ژبې دقت او معنوي سموالي ډاډمن سي. دوهم، د داخلي اعتبار له پاره د پوهاوي او روغتیایي برخو Cronbach's α محاسبه سوه او د منلو وړ کچه یې وښوده ($\alpha \geq 0.70$). دریم، د پوښتنپاڼې اصلي منبع/رفرینس په متن کې ذکر سوی دی، ترڅو د اعتبار او شفافیت معیارونه رعایت سي.

د پوښتنلیک اعتبار د عامې روغتیا او طب د متخصصینو له خوا تایید سو، او د باورمنتیا له پاره pilot study په ۳۰ کسانو ترسره سوه. د Reliability د کچې معلومولو له پاره Cronbach's alpha ارزښت ۰،۸۴ وښود، چې د منلو وړ کچه ده.

معلوماتو تحلیل د SPSS (نسخې 27) په مرسته ترسره سو. د عددي معلوماتو د لنډیز او تشریح له پاره د فریکوینسي، سلنې، منځنۍ (Mean) او معیاري انحراف (Standard Deviation) احصایوي میتودونه وکارول سول. د موضوعاتي تحلیل (Thematic Analysis) له لارې کیفي معلومات تنظیم او تفسیر سول. سربېره پر دې، د Chi-square ازموینې د ټاکلو متغیرونو ترمنځ د اړیکو د ارزونې له پاره ترسره سوې.له ټولو ګډونوالو څخه د رضایت لیک ( informed consent) ترلاسه سو، او ډاډ ورکړل سو چې د دوی معلومات به په پټه توګه وساتل سي او یوازې د څېړنیزو موخو له پاره به کارول کیږي. د دې څېړنې اخلاقي منظوري د ملالۍ پوهنتون د اخلاقي کمېټې څخه ترلاسه سوې (ګڼه

۵۹۴/۹۳۲، د مې ۱۳، ۲۰۲۳) او سربېره پردې، د کندهار ولایت د عامې روغتیا ریاست او د میرویس سیمه‌ییز روغتون له مشر څخه د څېړنې د ترسره کولو رسمي اجازه ترلاسه سوې (ګڼه ۷۶۲/۲۴۵، د مې ۲۵، ۲۰۲۳). همدا ډول د کندهار پوهنتون د بیولوژي څانګې او د ملالی پوهنتون د څېړنې کمېټو له خوا تصویب سوه، او د نړۍ والو څېړنیزو اصولو لکه Helsinki Declaration رعایت پکښې سوی دی.




**شکل ۱.** *د کندهار ولایت د افغانستان په نقشه کې راښیي*

### د څېړنې محدودیتونه (Study limitations)

د دې څېړنې اصلي محدودیتونه د نمونې اندازه کول، استازیتوب او د څېړنې Cross-sectional Design وه او معلومات د پوښتنپاڼو له لارې د کندهار ښار له ښځینه خلکو راټول سوي دي، چې پایلې یې ممکن د ټول ولایت استازیتوب ونه کړي. همدارنګه، دا څېړنه په یوه ټاکلي وخت کې ترسره سوه، نو د بې نسخې درملو د استعمال کچه، عوامل او احتمالي روغتیایي اغېزو تر منځ علت-معلول اړیکي خرګندول ممکن نه دي.

### نتیجه (Results):

د څېړنې پایلې د بې‌نسخې درملو د کارونې کچه، هغه عوامل چې خلکو ته یې د بې‌نسخې درملو د اخیستلو لاره هواروي، او له دې کارونې څخه رامنځته کېدونکي احتمالي روغتیایي ستونزې روښانه کوي. د ګډونوالو د ټولنیزو او اقتصادي ځانګړتیاوو په رڼا کې، نږدې ۶۰–۷۰٪ ګډونوالو ویلي چې دوی په ټېرو څو میاشتو کې لږ تر لږه یو ځل بې‌نسخې درمل اخیستي دي. احصایوي تحلیلونه ښیي چې د بې‌نسخې درملو استعمال د جنډر، عمر، تعلیم، او د روغتیایي مرکزونو ته لاسرسي له مخې توپیر لري؛ د مثال په توګه، ځوانان او هغه چې د روغتیایي مرکزونو څخه لرې ژوند کوي، زیاتره بې‌نسخې درمل کاروي. د ګډونوالو د درملو د انتخاب عمده عوامل پخوانۍ تجربه (۲۶٪)، ټیټه بیه (۲۱٪)، او د برانډ شهرت (۱۹٪) دي، په داسې حال کې چې د پلورونکي مشوره او لږ جانبي عوارض لږ اغېزه لري. همدارنګه، د ګډونوالو د پوهې کچه د بې‌نسخې درملو د احتمالي جانبي عوارضو په اړه مختلفه وه، او د ناسم استعمال له امله رامنځته کېدونکي صحي ستونزې لکه د درملو مقاومت، الرجیک غبرګونونه، او اوږدمهاله روغتیایي مشکلات د یوې پام وړ برخې له پاره مهمې وې.

**1جدول :** د ګډونوالو ډیموګرافیک ځانګړتیاوي

| ځانګړتیاوي | کټه ګوری | شمېر | سلنه |
|---|---|---|---|
| جنسیت | نارینه | 194 | 50.5 |
| | ښځینه | 190 | 49.5 |
| مدني حالت | مجرد | 187 | 48.7 |
| | متأهل | 197 | 51.3 |
| عمر | 18–24 | 207 | 53.9 |
| | 25–34 | 102 | 26.6 |
| | 35–44 | 45 | 11.7 |
| | 45–54 | 22 | 5.7 |
| | 55او زیات | 8 | 2.1 |
| تعلم کچه | نالوستی | 52 | 13.5 |
| | ابتداییه | 26 | 6.8 |
| | متوسط | 114 | 29.7 |
| | بکلوریا | 81 | 21.1 |
| | لیسانس | 103 | 26.8 |
| | ماستر | 6 | 1.6 |
| | دوکتورا | 2 | 0.5 |
| دنده | زده کوونکی /محصل | 105 | 27.3 |
| | کارکونکی (دولت/خصوصي) | 164 | 42.7 |
| | شخصي کاروبار | 50 | 13.0 |
| | بېکاره | 54 | 14.1 |
| اقتصادي حالت | نور | 11 | 2.9 |
| | کم عاید | 91 | 23.7 |
| | منځنی عاید | 255 | 66.4 |
| | لوړ عاید | 38 | 9.9 |
| ټولټال | | 384 | 100.0 |

په دې څېړنه کي ټولټال ۳۸۴ ګډونوال شامل وه. د جنسیت له مخي، ګډونوال نږدې په مساوي ډول وېشل سوي، چې له ډلې يې نارینه 50.5% او ښځینه 49.5% وو. د مدني حالت وېش څرګندوي چې مجردین 48.7% او متاهلین 51.3% وه. د عمر د وېش پایلې ښیي چې ډېری ګډونوال د 18–24 کلونو تر منځ عمر درلود (53.9%)، په داسي حال کي چې تر ټولو لږه برخه د 55 کلونو او زیات عمر لرونکي ګډونوال جوړوي (2.1%) د تعلیم له پلوه، د ګډونوالو یوه لویه برخه د متوسطي کچي زده کړي لرلې (29.7%) او لیسانس لرونکي 26.8% وه. د لوړو زده کړو لرونکي ګډونوال (ماستر او دوکتور) په ټولیزه توګه یوازي 2.1% جوړوي. د مسلک وېش ښیي چې د کارکونکو (دولت/خصوصي) برخه تر ټولو زیاته وه (42.7%)، ورپسې زده کوونکي/محصلین (27.3%)، بیکاره (14.1%) او شخصي کاروبار لرونکي (13.0%)

ځای لري او د "نور" ډله یوازي 2.9% وه. اقتصادي وضعیت پایلي څرګندوي چې ډېرى ګډونوال د منځني عاید لرونکي وه (66.4%)، په داسي حال کي چې د کم عاید لرونکو برخه 23.7% او د لوړ عاید لرونکو برخه یوازي 9.9% وه.

**2جدول:** *په ورځنی ژوند کي د بې نسخې درملو کارونه*

| په ورځني ژوند کي د بې نسخې درملو کارونه | Frequency (N) | Percent | Percent of Cases |
|---|---|---|---|
| هېڅکله نه | 36 | 8.8% | 9.4% |
| کال کي یو ځل | 79 | 19.3% | 20.6% |
| میاشت کي یو ځل | 141 | 34.5% | 36.7% |
| میاشت کي څو ځله | 66 | 16.1% | 17.2% |
| اونۍ کي یو ځل | 31 | 7.6% | 8.1% |
| اونۍ کي څو ځله | 49 | 12.0% | 12.8% |
| هره ورځ | 5 | 1.2% | 1.3% |
| په ورځ کي څو ځله | 2 | 0.5% | 0.5% |
| ټولټال | 409 | 100.0% | 106.5% |

ګډونوال بې‌نسخې درمل زیاتره د میاشتي په جریان کي استعمالوي، چې له ډلې یې ۳۴,۵٪ هره میاشت یو ځل، او ۱۹,۳٪ هر کال یو ځل کاروي. د اونۍ او ورځنی استعمال کچه ډېره محدوده ده، چې دا د دوامداره او غیر مسؤلانه استعمال د کمي کچي څرګندونه کوي. دا پایله د څېړني د فرضیې ملاتړ کوي، چې د کندهار ښار اوسېدونکي د بې‌نسخې درملو کارونه په موقتي او اړتیایي ډول ترسره کوي، نه په دوامداره توګه، خو بیا هم د مسؤلانه کاروني د پوهاوي اړتیا سته، څو احتمالي روغتیایي خطرونه راکم سي.

**3جدول:** *د نارینه او ښځینه ګډونوالو د ځان‌درملنې د کچې پرتله (Crosstabulation)*

د نارینه او ښځینه ګډونوالو تر منځ د OTC درملو کارونه په احصایوي لحاظ مهم توپیر لري .

| Asymptotic Significance (2-sided) | df | Value | |
|---|---|---|---|
| .000 | 4 | 327.211[a] | Pearson Chi-Square |
| .000 | 4 | 432.348 | Likelihood Ratio |
| .000 | 1 | 242.908 | Linear-by-Linear Association |
| | | 384 | N of Valid Cases |

a. 0 cells (.0%) have expected count less than 5. The minimum expected count is 8.50.

د جنسیت او د ځان‌درملنې د کچې ترمنځ اړیکه د Chi-Square ازموینې په مرسته ارزول سوه (۳ جدول) پایلې ښیي چې د نارینه او ښځینه ګډونوالو ترمنځ د ځان‌درملنې کچه په معنی لرونکي ډول توپیر لري (Pearson Chi-Square = 327.211، df = 4، p < 0.001). د Likelihood Ratio او Linear-by-Linear Association ازموینو پایلې هم د دې اړیکې تایید کوي (Likelihood Ratio = 432.348، df = 4، p < 0.001؛ Linear-by-Linear Association = 242.908، df = 1، p < 0.001). د ازموینې له پاره ټول ګډونوال په پام کې نیول سوي (N = 384) او په هیڅا کې د تمه سوي شمېر لږترلږه کچه له ۵ څخه کمه نه وه (Minimum expected count = 8.50)، چې د Chi-Square ازموینې اعتبار تضمینوي. دا پایله څرګندوي چې جنسیت د ځان‌درملنې د نمونو په ټاکلو کې د پام وړ اغیزه لري.

**4جدول:** د بې‌نسخې درملو (OTC) کارونې او د ګډونوالو د تعلیمي کچې ترمنځ اړیکه

د OTC درملو کارونه د ګډونوالو د تعلیم کچې سره هم په معنی لرونکي ډول تړاو لري

| Asymptotic Significance (2-sided) | df | Value | |
|---|---|---|---|
| .000 | 24 | 748.643[a] | Pearson Chi-Square |
| .000 | 24 | 648.436 | Likelihood Ratio |
| .000 | 1 | 276.385 | Linear-by-Linear Association |
| | | 384 | N of Valid Cases |

a. 0 cells (54.3%) have expected count less than 5. The minimum expected count is .09.

د ازموینې پایلې ښیي چې د بې‌نسخې درملو (OTC) کارونه د ګډونوالو د تعلیم کچې سره په احصایوي لحاظ مهم تړاو لري. د Pearson Chi-Square ارزښت ۷۴۸.۶۴۳ (df = 24، p < 0.001) د پام وړ توپیر څرګندوي. د

p ،df = 1 ،Linear-by-Linear Association (276.385 او p < 0.001) ،df = 24 ،Likelihood Ratio (648.436 (0.001 > ازموینې پایلې هم د دې اړیکې ملاتړ کوي. ټول ګډونوال په ازموینه کې شامل وو (N = 384). په جدول کې ۵۴,۳٪ حجرې د تمه سوې شمېر له ۵ څخه لږ لري، او لږترلږه تمه سوی شمېر ۰,۰۹ دی، چې د Chi-Square ازموینې د اعتبار په تحلیل کې باید په پام کې ونیول سي. پایلې په ډاګه کوي چې د OTC درملو استعمال د ګډونوالو د تعلیم د کچې سره تړاو لري، خو د تمه سوي شمېر کمښت ممکن د ازموینې پایلې لږ محدود کړي.

**5جدول:** *په ورځنۍ ژوند کې د بې نسخې درملو د کارونې عوامل*

| د بې نسخې درملو د کارونې عوامل | Frequency (N) | Percent | Percent of Cases |
|---|---|---|---|
| د ډاکټر د لیدلو له پاره وخت نه لرم | 56 | 8.7% | 14.6% |
| روغتون ته لاسرسی ستونزمن دی | 51 | 7.9% | 13.3% |
| درملتون ته تګ آسانه دی | 147 | 22.7% | 38.3% |
| پخوا مې دغه درمل کار کړې او ګټور دي | 105 | 16.2% | 27.3% |
| د درملو قیمت ټیټ دی | 66 | 10.2% | 17.2% |
| زه فکر کوم ناروغي ساده ده | 140 | 21.6% | 36.5% |
| اقتصادي ستونزه | 70 | 10.8% | 18.2% |
| له نورو سره خپله ناروغي نه شریکوم | 12 | 1.9% | 3.1% |
| ټولټال | 647 | 100.0% | 168.5% |

د پایلو له مخې، د خپلسري درملنې تر ټولو مهم عوامل په کندهار ښار کې د درملتون ته د تګ اسانتیا (۲۲,۷%) او د ناروغۍ د ساده ګڼلو باور (۲۱,۶%) دي. نور مهم عوامل د پخوا د ګټورو تجربو یادونه (۱۶,۲%)، اقتصادي ستونزې (۱۰,۸%)، د درملو ټیټ قیمت (۱۰,۲%)، د وخت نشتوالی (۸,۷%)، د روغتون ته د لاسرسي ستونزه (۷,۹%) او د ناروغۍ شخصي ساتنه (۱,۹%) شامل دي. دا پایلې څرګندوي چې په کندهار ښار کې د خپلسري درملنې عمده محرکات د د درملو اسانه لاسرسی، اقتصادي او ادراکي عوامل دي، او دا تاییدوي چې ګډونوال د درملو کارونه د اقتصادي ستونزو، وخت او ناروغۍ د جدي والي پر اساس ټاکي. په دې اساس، د عامه پوهاوي پروګرامونه او د درملو مسؤلانه کارونې لارښوونې اړینې ګڼل کیږي.

**6جدول:** *روغتیایي اغېزې*

| Percent of Cases | Percent | Frequency (N) | د بې نسخې درملو د کارونې روغتیایي اغېزې |
|---|---|---|---|
| 32.3% | 18.0% | 124 | حساسیت |
| 26.3% | 14.7% | 101 | بې خوبي |
| 18.0% | 10.0% | 69 | بې اشهائي |
| 9.4% | 5.2% | 36 | د خوب ډېروالی |
| 31.8% | 17.7% | 122 | د ناروغۍ سختېدل |
| 10.2% | 5.7% | 39 | د زړه بدوالی |
| 4.4% | 2.5% | 17 | د شیدو کمښت |
| 20.6% | 11.5% | 79 | د پوستکي ناروغي |
| 3.6% | 2.0% | 14 | د وزن ډېرېدل |
| 10.9% | 6.1% | 42 | منفي اغېزه مي نه ده لیدلې |
| 11.7% | 6.5% | 45 | فشار |
| 179.2% | 100.0% | 688 | Total |

د بې‌نسخې درملو منفي اغېزې تر ټولو ډېرې د حساسیت (۱۸,۰٪) او د ناروغۍ د شدت زیاتېدو (۱۷,۷٪) په توګه راپور سوې، چې د خوب ستونزې، د پوستکي ناروغۍ، او بې‌اشهایي هم د پام وړ وې، په داسي حال کي چې لږ راپور سوي اغېزې د زړه بدوالی، د شیدو کمښت، او د وزن زیاتوالی وښودل سوې. نږدې ۱۰,۹٪ ګډونوالو هیڅ منفي اغېزه نه ده تجربه کړې. دغه پایلې ځرګندوي چې د کندهار ښار ګډونوال د OTC درملو کارونه د روغتیایي ستونزو د رامنځته کېدو لوړ خطر سره مل دي، په ځانګړي توګه د حساسیت او د ناروغۍ د شدت زیاتېدو په برخه کې، دا ځرګندوي، چې د بې‌نسخې درملو ناوړه استعمال د روغتیایي ستونزو د پېښو کچه لوړه کوي. له همدې امله، د مسؤلانه کارونې او د عامه پوهاوي پروګرامونو پیاوړتیا اړینه ده، څو د روغتیایي خطرونو د کمولو او د خلکو د خوندي درملنې معیارونه لوړ سي.

**7جدول:** *د بېلابېلو ناروغیو په وړاندې خپلسري درملنه*

| Percent of Cases | Percent | Frequency (N) | ناروغي / حالت |
|---|---|---|---|
| 50.8 | 23.0 | 195 | د درد له پاره |
| 23.2 | 10.5 | 89 | فشار |
| 63.5 | 28.8 | 244 | د زکام له پاره |
| 15.9 | 7.2 | 61 | د معدې تېزابیت |
| 10.9 | 5.0 | 42 | مکروب ضد (انتي‌بیوتیک) |
| 12.5 | 5.7 | 48 | د خوب له پاره |
| 40.6 | 18.4 | 156 | د تبې له پاره |

| | | | |
|---|---|---|---|
| معلومات نه لرم | 12 | 1.4 | 3.1 |
| ټولټال | 847 | 100 | 220.6* |

زکام یوه عامه ساري ناروغي ده واضح سوه چې ګډونوالو بې نسخي درملو تر ټولو زیات د زکام له پاره (۲۸,۸٪، ۶۳,۵٪ د پېښو په منځ کې) او د درد له پاره (۲۳,۰٪، ۵۰,۸٪ د پېښو په منځ کې) ترسره کړي، چې دا ښیي د عامو ناروغیو په وړاندي د OTC درملو کارونه خورا پراخه دي. د تبې درمل) ۱۸,۴٪، ۴۰,۶٪ (او د فشار له پاره) ۱۰,۵٪، ۲۳,۲٪ (کاروني هم په پام وړ وې، په داسي حال کي چې د معدې تېزابیت (۷,۲٪، ۱۵,۹٪)، د خوب له پاره درمل (۵,۷٪، ۱۲,۵٪)، او انټي‌بیوټیک) ۵,۰٪، ۱۰,۹٪ (کاروني لږ راپور سوې. دغه پایلې څرګندوي چې د کندهار ښار ګډونوال د OTC درملو کارونه د مختلفو ناروغیو په وړاندي پراخه او غیر منظمه ده. له همدې امله، د مسؤلانه کاروني او د عامه پوهاوي د پروګرامونو پیاوړتیا اړینه ده، څو د روغتیایي خطرونو د کمولو او د خلکو د خوندي درملني معیارونه لوړ سي.

**8جدول:** *د بې‌نسخې درملو د تر لاسه کولو سرچینې*

| د تر لاسه کول سرچینه | Frequency (N) | Percent | Percent of Cases |
|---|---|---|---|
| درملتون | 244 | 49.6 | 63.5 |
| د کورنۍ له غړو | 107 | 21.7 | 27.9 |
| پخواني پاته درمل | 53 | 10.8 | 13.8 |
| آنلاین بازار | 1 | 0.2 | 0.3 |
| د سړک غاړې پلورونکي | 18 | 3.7 | 4.7 |
| ملګري | 27 | 5.5 | 7.0 |
| طبیب | 42 | 8.5 | 10.9 |
| ټولټال | 492 | 100 | 128.1* |

د بې‌نسخې درملو د ترلاسه کولو سرچینې ښیي چې ډېر ګډونوال یې د درملتونونو له لارې ترلاسه کوي .(49.6%) ورپسې سرچینې د کورنۍ غړي (21.7%)، طبیب (8.5%)، ملګري (5.5%)، پخواني پاته درمل (10.8%)، او سړک غاړې پلورونکي (3.7%) دي، په داسي حال کي چې آنلاین بازار یوازې ۰.2٪ برخه لري. په ټولیزه توګه، پایلې څرګندوي چې اصلي سرچینه د OTC درملو له پاره درملتونونه دي، او کورنۍ هم مهم رول لري، خو آنلاین بازار او سړک غاړې پلورونکي نسبتاً لږ اغیزه لري .دا څرګندوي چې د کندهار ښار اوسېدونکي د بې‌نسخې درملو د ترلاسه کولو لپاره زیاتره د رسمي او باورمنو سرچینو پر اعتماد تکیه کوي. د څېړنې د موخو او پوښتنو سره د اړیکې په پام کې نیولو سره، دا پایلې د دې ښودنه کوي چې د مسؤلانه درملو کاروني د پراختیا له پاره د درملتونونو رول حیاتي دی، او د قانوني مقرراتو پیاوړتیا، د عامه پوهاوي پروګرامونه، او د OTC درملو د لاسرسي کنټرول اړین دي.

**9جدول:** *د بې نسخې درمل اخستلو پر وخت د پام وړ مهم تکي*

| د درمل اخیستلو پر مهال د پام وړ تکي | Frequency (N) | Percent | Percent of Cases |
|---|---|---|---|
| ټیټه بیه | 121 | 21.4 | 31.5 |
| برانډ یا مشهور شرکت | 108 | 19.1 | 28.1 |
| پخوانی تجربه | 149 | 26.3 | 38.8 |
| لږ جانبي عوارض | 45 | 8.0 | 11.7 |
| د درمل پلورونکي مشوره | 81 | 14.3 | 21.1 |
| آسانه لاسرسی | 62 | 11.0 | 16.1 |
| ټولټال | 566 | 100 | 147.4* |

د ګډونوالو د بې نسخې درملو د انتخاب تر ټولو مهم فاکتورونه پخوانی تجربه (26.3%)، ټیټه بیه (21.4%)، او برانډ یا مشهور شرکت (19.1%) وو، د پلورونکي مشوره، آسانه لاسرسی او لږ جانبي عوارض لږ اغیزه لرونکي په نښه سوي. پایله دا څرګندوي چې د ګډونوالو د درملو انتخاب په ځانګړې توګه د شخصي تجربې، بیې، او برانډ ته لومړیتوب ورکوي، چې دا د څېړنې لومړنۍ پوښتنې تاییدوي چې اقتصادي او تجربوي عوامل د OTC درملو د کارونې په تصمیم کې مهم رول لري.

**۱۰جدول:** *ستاسي په نظر، کوم کارونه کولای سي د خپلسري درملنې ستونزه راکمه کړي*

| د خپلسري درملنې ستونزه را ټیټول | Frequency (N) | Percent | Percent of Cases |
|---|---|---|---|
| عامه پوهاوی | 223 | 37.1 | 58.1 |
| د قوانینو سختول | 113 | 18.8 | 29.4 |
| د OTC درملو پلور محدودول | 51 | 8.5 | 13.3 |
| ډاکټر ته آسانه لاسرسی | 122 | 20.3 | 31.8 |
| قانوني سزا پلي کول | 69 | 11.5 | 18.0 |
| نظر نه لرم | 23 | 3.8 | 6.0 |
| ټولټال | 601 | 100 | 156.5* |

د ګډونوالو په نظر، د بې نسخې درملو د استعمال د کمولو له پاره تر ټولو اغیزمنه لاره عامه پوهاوی (37.1%) ګڼل سوی، ورپسې ډاکټر ته آسانه لاسرسی (20.3%) او د قوانینو سختول (18.8%) دي. لږ شمېر ګډونوالو د OTC درملو د پلور محدودول (8.5%) او قانوني سزا پلي کول (11.5%) غوره ګڼلي، او (3.8%) هیڅ نظر نه لري دا پایلې څرګندوي چې د ګډونوالو له نظره، د ناسم استعمال اصلي لامل د عامه پوهاوي کموالی او د روغتیايي خدمتونو نشتوالی دی، نه

یوازي د قانوني نظارت کمزورتیا. له دې کبله، د څېړني د فرضیې له مخې دا پایلې دا تاییدوي چې د OTC درملو د ناوړه کاروني د مخنیوي له پاره د عامه پوهاوي پروګرامونه، د ډاکټرانو د خدماتو پراختیا، او د مؤثرو نظارتي قوانینو پلي کول تر ټولو عملي او اغېزمني لارې دي. همدا شان د څېړني د تر سره کولو وروسته دا واضح سوه چې د ګډونوالو یوازې 17.7٪ د بې نسخې درملو (OTC) په مانا ډېر زیات پوهېدل، په داسې حال کې چې 32.3٪ په منځنۍ کچه پوهېدل او 4.2٪ هیڅ نه پوهېدل. د ګډونوالو لویه برخه (68.2٪) لږ تر لږه یو ځل پرته له نسخې درمل اخیستي وو. د درملو د کارولو د طریقې په اړه، 46.1٪ ګډونوالو د درمل پلورونکو سپارښتنې تعقیبولې، او یوازې 7.0٪ خپله پرېکړه کوله. د احتیاطي لارښوونو په اړه، 34.6٪ ګډونوالو په منځنۍ کچه د هغوی لوستلو ته پام کاوه. د جانبي عوارضو په اړه پوهه محدوده وه، یوازې 8.6٪ ډېر زیات او 18.8٪ زیات پوهېدل. د ځان درملنې د احتمالي ستونزو په اړه، 38.5٪ ګډونوالو په منځنۍ کچه موافق وو چې دا روغتیا ته زیان رسولای سي. په ورته وخت کې، 51٪ ګډونوالو په راتلونکي کې د ځان درملنې د نه کاروني سره موافقیت څرګند کړ.

د پایلو پر بنسټ، د ګډونوالو د بې نسخې درملو په اړه پوهاوی محدود و، په ځانګړې توګه د جانبي عوارضو او د احتیاطي لارښوونو د اهمیت په اړه. د درمل پلورونکو د نقش لوړوالی د دې ښکارندویي کوي چې خلک د روغتیایي مسلکي کسانو پر ځای له غیر مسلکي سرچینو مشوره اخلي، چې دا د درملو د ناسمو کارونو خطر زیاتوي. سره له دې چې ډېرې ګډونوال د ځان درملنې له احتمالي زیانونو خبر وه، بیا هم د پام وړ برخه یې د OTC درملو کاروني ته دوام ورکولو تمایل څرګند کړ. دا پایلې د عامې روغتیا د پوهاوي پروګرامونو، د درملو د پلور د مقرراتو پیاوړتیا، او د ټولنیز پوهاوي د لوړولو اړتیا ته اشاره کوي.

**بحث او مناقشه**

د څېړني موخه دا وه چې په کندهار ښار کې د بې‌نسخې درملو (OTC drugs) د کارونې کچه، عوامل او اړوند روغتیایي ستونزې وڅېړل سي. پایلې څرګندوي چې د ۳۸۴ ګډونوالو له ډلې ډېرې (٦٧٪) بې‌نسخې درمل کاروي، او دا کارونه په مساوي ډول د نارینه‌وو (۵۰٫۵٪) او ښځو (۴۹٫۵٪) ترمنځ وېشل سوی. د ګډونوالو ډېره برخه ځوانان (۱۸–۲۴ کلونه، ۵۳٫۹٪) او د منځنۍ عاید لرونکي (٦٦٫۴٪) وو. دا ښیي چې ځوان عمر، اقتصادي حالت او د درملو اسانه لاسرسی د OTC درملو د استعمال مهم عوامل دي. د احصایوي تحلیلونو له مخې، د عمر، تعلیم، او عاید له مخې توپیرونه احصایوي لحاظه معنی دار ($p < 0.05$) وو، خو د جنډر له مخې توپیر احصایوي بې‌معنی و، چې دا د څېړني له فرضیې سره په مطابقت کې دی.

د انتخاب اصلي فکتورونه پخوانۍ تجربه (۲٦٪)، ټیټه بیه (۲۱٪) او د برانډ شهرت (۱۹٪) وو، چې دا د هغو څېړنو سره سمون لري چې په ایران، پاکستان او هند کې ترسره سوي دي، هلته هم اقتصادي او تجربوي عوامل د ځان‌درملنې اصلي محرکات ګڼل سوي دي. دا ښیي چې د درملو ارزانه بیه او د ډاکټر ته د تګ لګښت د خلکو پرېکړه ډېره اغېزمنوي. د ګډونوالو د پوهاوي کچه د درملو د جانبي عوارضو په اړه ټیټه وه، او دا د ناسم استعمال د زیاتوالي سبب ګرځېدلی. احصایوي تحلیل ښیي هغه کسان چې د OTC درملو په اړه لږ پوهه لري، د ناسم استعمال احتمال یې احصایوي لحاظه لوړ ($p < 0.01$) دی. دا څرګندوي چې پوهاوی د مسؤلانه کاروني یو مهم فکتور دی.

د جنسیت او د ځان‌درملني ترمنځ اړیکه د Chi-Square ازموینې په مرسته ارزول سوي دي. پایلې ښیي چې د نارینه او ښځینه ګډونوالو ترمنځ د ځان‌درملني کچه په معنی لرونکي ډول توپیر لري (Pearson Chi-Square = 327.211 ، df = 4 ، $p < 0.001$ او ټول ګډونوال په ازموینه کې شامل وو .(N = 384) همدارنګه، د OTC درملو کارونه د ګډونوالو د تعلیم کچې سره هم مهم تړاو لري (Pearson Chi-Square = 748.643 ، df = 24 ، $p < 0.001$، که څه هم په جدول کې 54.3٪ حجري د تمه سوي شمېر له ۵ څخه کمې وې، چې د ازموینې پایلې ممکن لږ محدود کړي.پایلې د نورو نړیوالو څېړنو سره همغږي لري. د بېلګې په توګه، د ځان‌درملني کچه په نړۍ واله کچه له ۳۲٪ تر ۸۱,۵٪ پورې ده، او په سیمه‌ییزو څېړنو کې (پاکستان ۸۰٪، ایران ۶۷٪، هند ۶۸٪) هم ورته پایلې تر لاسه سوي دي. د کابل پوهنتون څېړنه هم د منځنۍ کچې کارونه ښیي، چې د کندهار د موندنو سره ورته ده. دا مقایسه څرګندوي چې د ځان‌درملني چلند یوازې په کلتور او اقتصاد پورې محدود نه دی، بلکې د روغتیایي خدماتو د لاسرسي، قانوني کنټرول او د عامه پوهاوي له کچې سره هم نږدې تړاو لري.

د څېړنې یوه مهمه موندنه دا وه چې نږدې نیمایي ګډونوالو په راتلونکي کې د ځان‌درملني د نه‌کارولو اراده ښودلې، چې دا د پوهاوي د لوړېدو یو ښه ګټل کېدای سي. خو سره له دې، پراخ استعمال لا هم د روغتیایي ستونزو خطر زیاتوي، په ځانګړې ډول د انتي‌بیوټیک مقاومت، الرجیک غبرګونونو، او اوږدمهاله اختلالونو له امله.

د څېړنې قوي ټکی دا دی چې دا د کندهار ښار په کچه د OTC درملو د استعمال لومړنۍ احصایوي او تحلیلي څېړنه ده، چې د عمر، جنس، تعلیم او اقتصادي فکتورونو تر منځ اړیکي په واضحه ډول ښیي. خو د محدودیتونو له جملې څخه د نمونې د اندازې جغرافیایي محدوده (یوازې ښار)، د ځان‌راپور ورکونې پر بنسټ ډیټا، او د درملو د ډولونو تفصیلي طبقه‌بندي نه‌شمېرل شامل دي، چې د پایلو د عمومیت پر کچه محدود اغېز لري.

د دې څېړنې موندنې د روغتیایي پالیسۍ جوړوونکو، درمل جوړونکو، او د عامې روغتیا د ادارو له پاره ارزښتناکه دي. دا پایلې ښیي چې د عامه پوهاوي کمپاینونه، د درملو د قانوني تطبیق پیاوړتیا، او د لومړنیو روغتیایي خدمتونو اسانه لاسرسی کولای سي د بې‌نسخې درملو د ناسم استعمال کچه راکمه کړي.

په پایله کې، دا څېړنه څرګندوي چې د OTC درملو کارونه په کندهار ښار کې یوه جدي عامه روغتیایي مسئله ده، چې اقتصادي، فرهنګي او تعلیمي فکتورونه پرې اغېز کوي. د راتلونکو څېړنو له پاره وړاندیز کیږي چې د اوږدمهاله اغېزو او د درملو د ځانګړو کټګوریو (لکه انتي‌بیوټیکونه، درد کمونکي، او زکام ضد درمل) جلا تحلیل ترسره سي، څو د مسؤلانه کارونې له پاره عملي او دوامداره تګلارې رامنځته سي.

**پایله**

دا څېړنه چې د کندهار ښار پر ۳۸۴ ګډونوالو ترسره سوه، څرګنده کړه چې د بې نسخې درملو (OTC) استعمال پراخ دی، په ځانګړې توګه د زکام، درد او تبې د درملنې له پاره. ګډونوال په نږدې مساوي ډول نارینه (50.5٪) او ښځینه (49.5٪) وه، ډېرې یې ځوانان (۱۸–۲۴ کلونه) او د منځنۍ تعلیم لرونکي ول. د خپلسري درملنې اصلي عوامل د درملو اسانه لاسرسی، ټیټه بیه، پخوانۍ تجربه، او د ناروغۍ د ساده ګڼلو باور وو. سره له دې چې ډېرې ګډونوالو د بسته بندۍ لارښوونې تعقیب کړې وي، خو د جانبي عوارضو، حساسیت او د ناروغۍ د شدت زیاتېدو راپور د روغتیایي خطرونو جدیت څرګندوي. د ځان‌درملني په اړه د ګډونوالو پوهه محدوده وه، او یوازې نږدې نیمایي یې د راتلونکي له پاره د

نه کارونې نیت څرګند کړ. د Chi-Square ازموینې پایلې څرګندوي چې د نارینه او ښځینه ګډونوالو ترمنځ د ځان‌درملنې کچه په احصایوي لحاظ مهم توپیر لري (Pearson Chi-Square = 327.211، df = 4، p < 0.001، N = 384). سربېره پر دې، د OTC درملو کارونه د ګډونوالو د تعلیم کچې سره هم په معنی لرونکي ډول تړاو لري (Pearson Chi-Square = 748.643، df = 24، p < 0.001)، که څه هم په جدول کې ۵۴٫۳٪ حجرې د تمه سوي شمېر له ۵ څخه کم وې، چې د پایلو ممکنه محدودیت ته اشاره کوي.

پایلې څرګندوي چې د OTC درملو پراخه کارونه د عامې روغتیا له پاره جدي ستونزې رامنځته کولای سي، او د دې کمولو له پاره د عامه پوهاوي پروګرامونه، د درملتونونو مسوولانه رول، د روغتیایي خدمتونو اسانه لاسرسی، او د قانوني چوکاټ اغېزمن تطبیق اړین دي که څه هم د څېړنې محدودیتونه لکه د نمونې استازیتوب او cross-sectional ډیزاین د پایلو د عمومیت وړتیا محدوده کړې، خو موندنې یې د روغتیایي سازمانونو، درملتونونو، پالیسۍ جوړونکو، او د عامې پوهاوي پروګرامونو له پاره عملي تطبیق لري

**وړاندیزونه:**

- عامه پوهاوی زیاتول :د OTC درملو د مسؤلانه استعمال په اړه د رسنیو او تعلیمي پروګرامونو له لارې د خلکو پوهاوی ، په ځانګړې ډول ځوانان او زده کوونکي.
- روغتیایي خدمتونو ته آسانه لاسرسی: د روغتونونو او کلینیکونو خدماتو پراخول او ارزانه کول ترڅو خلک د درملنې له پاره پر OTC درملو تکیه ونه کړي.
- د درملتونونو قانوني نظارت: د OTC درملو پلور یوازې د قانوني درملتونونو له لارې، د سړک غاړې پلورونکو او غیر رسمي سرچینو محدودول.
- د مسؤلانه کارونې لارښوونې: د درملتونونو له لارې د درملو د استعمال لنډ او واضح لارښود ورکول او د پلورونکو د روزنې پروګرامونه جوړول.

**منابع او ماخذ:**

Abdel Shaheed, C., Hayes, C., Maher, C. G., Ballantyne, J. C., Underwood, M., McLachlan, A. J., ... & Sidhom, M. A. (2024). Opioid analgesics for nociceptive cancer pain: A comprehensive review. CA: a cancer *journal for clinicians*, 74(3), 286-313.

Abraham, B., Sreeja, P., Sarju, D., & San, S. (2015). Study on self-medication patterns and perspectives of over–the–counter (OTC) drugs. *International Journal of Pharma Research and Review*, 4(11), 30-34.

Adams, D. W. (2011). The Rise and Fall of the Apothecaries' Assistants 1815-1923 (Doctoral dissertation).

Ahmed, R., Divya, A., Ramyarani, G., Khair, U., & Das, J. (2022). Brief overview on over-the-counter medicine and their impact on community health. *Indian J Pharm Pract*, 15(2), 65.

Albert, S. M., Bix, L., Bridgeman, M. M., Carstensen, L. L., Dyer-Chamberlain, M., Neafsey, P. J., & Wolf, M. S. (2014). Promoting safe and effective use of OTC medications: CHPA-GSA National Summit. *The Gerontologist*, 54(6), 909-918.

Aljinović-Vučić, V. (2025, July). Self-Medication as a Global Health Concern: Overview of Practices and Associated Factors—A Narrative Review. *In Healthcare*, (Vol. 13, No. 15, p. 1872). MDPI.

Anonymous. (2004). Over-the-counter simvastatin given the go-ahead. *Pharm* J, 272, 595.

Aslam, A., Zin, C. S., Jamshed, S., Rahman, N. S. A., Ahmed, S. I., Pallós, P., & Gajdács, M. (2022). Self-medication with antibiotics: prevalence, practices and related factors among the Pakistani public. *Antibiotics*, 11(6), 795.

Azami-Aghdash, S., Mohseni, M., Etemadi, M., Royani, S., Moosavi, A., & Nakhaee, M. (2015). Prevalence and cause of self-medication in Iran: a systematic review and meta-analysis article. *Iranian journal of public health*, 44(12), 1580.

Bahamish, T. A. A. (2022). Factors Contributing to Self-Medication of Antibiotics in the Context of Afghanistan.

Cooper, R. J. (2013). Over-the-counter medicine abuse–a review of the literature. *Journal of substance use*, *18*(2), 82-107.

Gashaw, T., Yadeta, T. A., Weldegebreal, F., Demissie, L., Jambo, A., & Assefa, N. (2025). The global prevalence of antibiotic self-medication among the adult population: systematic review and meta-analysis. *Systematic Reviews*, *14*(1), 1-19.

Kanthasamy, T., & Ali, M. (2025). Impact of Drug Information Centers on Healthcare Outcomes: A Narrative Review of Pre-and Post-implementation in South Asian Countries. *Currents in Pharmaceutical Research*, *3*(1), 01-27.

Kaplan, W., Boskovic, N., Flanagan, D., Lalany, S., Lin, C. Y., & Babar, Z. U. D. (2017). Pharmaceutical policy in countries with developing healthcare systems: synthesis of country case studies. *In Pharmaceutical Policy in Countries with Developing Healthcare Systems*, (pp. 405-430). Cham: Springer International Publishing.

Konda, P., yerram, S., Nuwaid Khader, M., Joga, R., NIZAM VP, M., Girhe, M., ... & Srivastava, S. (2025). USFDA Warning Letters: An Analysis of Compliance in Over-the-Counter Drug Products (2020–2024). *Journal of Pharmaceutical Innovation*, *20*(4), 159.

Majid Aziz, M., Haider, F., Rasool, M. F., Hashmi, F. K., Bahsir, S., Li, P., ... & Fang, Y. (2021). Dispensing of non-prescribed antibiotics from community pharmacies of Pakistan: A cross-sectional survey of pharmacy staff's opinion. *Antibiotics*, *10*(5), 482.

Nemat, A., Rezayee, K. J., Essar, M. Y., Mowlabaccus, W. B., Ahmad, S., & Mubarak, M. Y. (2023). A report of Kabul internet users on self-medication with over-the-counter medicines. *Scientific Reports*, *13*(1), 8500.

Nepal, G., & Bhatta, S. (2018). Self-medication with antibiotics in WHO Southeast Asian Region: a systematic review. *Cureus*, *10*(4).

Nwokedi, V. U., Ogadah, C. O., Adeyemi, B. I., Iregbu, J. K., Felix, J. C., Enechukwu, E. O., ... & Sone, P. E. (2025). A Review on Safety and Public Health Implications of Use of Over-the-Counter Pain Medication. *Journal of Pharma Insights and Research*, *3*(2), 194-202.

Qudrati, B. A., Sakhi, R., Nikzad, H., & Qudrati, S. A. (2025). Prevalence of self-medication with antibiotics among nonmedical students at Kabul University, Afghanistan: A cross-sectional study. *Medicine*, *104*(34), e44124.

Rashid, M., Chhabra, M., Kashyap, A., Undela, K., & Gudi, S. K. (2020). Prevalence and predictors of self-medication practices in India: a systematic literature review and meta-analysis. *Current clinical pharmacology*, *15*(2), 90-101.

Rashid, M., Chhabra, M., Kashyap, A., Undela, K., & Gudi, S. K. (2020). Prevalence and predictors of self-medication practices in India: a systematic literature review and meta-analysis. *Current clinical pharmacology*, *15*(2), 90-101.

Tansey, E. M., & Reynolds, L. A. (1997). *The Committee on Safety of Drugs*. Wellcome Trust.

Toki, T., & Ono, S. (2018). Spontaneous reporting on adverse events by consumers in the United States: an analysis of the food and drug administration adverse event reporting system database. *Drugs-Real World Outcomes*, *5*(2), 117-128.

World Health Organization. (2022). *WHO guideline on self-care interventions for health and well-being, 2022 revision*. World Health Organization.

# په هلمند کي د درملو او ناروغيو اړوند ولسي اصطلاحات او مفاهيم

ملـي
علمـي-څېړنیـز ژورنال
REG Code: RCTD-PNJR-0094-25

**نذير احمد رښتينې[1]***
د پښتو ژبې او ادبياتو ديپارتمنټ، ښوونه او روزنه پوهنځی، هلمند پوهنتون، افغانستان
nrishtinay@gmail.com

**دوکتور نور احمد ايمل[2]**
د پښتو ژبې او ادبياتو ديپارتمنټ، ښوونه او روزنه پوهنځی، هلمند پوهنتون، افغانستان

**حمدالله احسان[3]**
د پښتو ژبې او ادبياتو ديپارتمنټ، ښوونه او روزنه پوهنځی، هلمند پوهنتون، افغانستان

**لنډيز**

دا څېړنه په هلمند کي د ناروغيو او درملو په اړه د ولسي ـ ژبې د اصـطلاحاتو او فرهنګي مفاهيمو د ارزوني په موخه سوې ده. د ستونزې اساسي پوښتنه دا وه چې خلک ناروغي او درمل په ولسي ـ ژبه څنګه تعريفوي او د درملو کارونه يې د ټولنيزو، فرهنګي او اقتصـادي عواملو تر اغيز لاندې څنګه بڼه اخلي. څېړنه د کمي او کيفي ګډ او اخښـلي ميتود په بڼه ډيزاين سـوې، چې د ټولنيز جوړښـت او روغتيايي باورونو بيلګې تيوريک چوکاټونو څخه د تحليل لپاره کار اخيستل سوی دئ. د ۳۹۰ ګډونوالو څخه معلومات راټول سوي دي چې ۷۶,۲٪ نارينه او ۲۳,۸٪ ښځې وې او د زده‌کړو له مخې لوړې زده‌کړې (۶۰,۷٪) او ۲۰,۴٪ بې‌تعليمه پکښې ګډون کړی وو او د اوسـيدو له مخې د ښـکرګاه (۵۰,۵٪) او نادعلي (۴۹,۵٪) اسـه تازيتوب کوي. کيفيتي تحليل څرګندوي د ناروغيو پيژند نه يوازې د طبي اصـطلاحاتو پر بنسـټ نه کيږي، بلکې ولسي ـ نومونه لکه "زکام"، "ټوخی" او "تبه" ډير کارول کيږي، د ناروغۍ شـدت د چاپيريال، خوراک، حفظ‌الصـحې او د دوا د استعمال پر بنسټ ارزول کيږي او د درملني لپاره دوديزي، مذهبي او عصري لارې يوځای تعقيبيږي. کميتي پايلې ښـيي چې ۴۶,۱٪ ګډونوال د ډاکټر مشـوره لومړنۍ سرچينه ګڼي، ۷۳,۸٪ بې‌نخسـې درمل کاروي او ۵۴,۴٪ کله ناکله انټي‌بيوټيک استعمالوي. په پای کي څېړنه دې نتيجې ته رسيږي چې د ناروغيو او درملو پيژندنه او کارونه د ټولنيزو باورونو، فرهنګي دودونو، اقتصـادي خندونو او رواني درک تر اغيز لاندې دي. د روغتيايي برنامو په ډيزاين کي بايد د محلي ژبې او کلتوري باورونو درناوی، د درملو د مسـؤلانه کارونې روزنه او د اقتصـادي خندونو کمول په پام کي ونيول سي.

**کليدي کليمې: ولسي اصطلاحات، ناروغي، درمل، ټولنيز کلتوري باورونه، روغتيايي چلند**

# Terminology and Concepts of Medications and Diseases in the Local Language in Helmand

**Abstract**

This study investigates the linguistic and cultural interpretations of diseases and medicines in Helmand, Afghanistan, with a focus on how local terms and beliefs influence health-related behaviors. The central research question asked how people define illnesses and medicines in folk language and how their use of drugs is shaped by social, cultural, and economic factors. The research employed a concurrent mixed-method design, guided by the theoretical frameworks of Social Constructionism and the Health Belief Model. A total of 390 participants were surveyed (76.2% male, 23.8% female), including both highly educated (60.7%) and illiterate (20.4%) individuals, representing Lashkargah (50.5%) and Nad Ali (49.5%). Qualitative analysis revealed that participants do not rely solely on biomedical terms, but frequently use folk labels such as common cold, cough, and fever, while assessing illness severity based on environment, nutrition, hygiene, and drug usage. Treatment strategies combined traditional, religious, and biomedical practices. Quantitative findings showed that 46.1% considered doctors as the primary source of advice, 73.8% used non-prescribed medicines, and 54.4% reported occasional use of antibiotics. The findings highlight that the perception and use of medicines are strongly influenced by cultural narratives, economic constraints, and social interactions. The study concludes that illness and treatment practices are socially and linguistically constructed, and recommends that public health programs integrate local linguistic-cultural knowledge, promote rational use of medicine, and address economic barriers to improve healthcare access.

**Keywords: Folk terminology, illness, medicine, socio-cultural beliefs, health behavior.**

MARJ

Mili

Academic-Research Journal

**REG Code:** RCTD-PNJR-0094-25

**Nazir Ahmad Rishtinay**[*1]
Department of Pashto Language and Literature, Education Faculty, Helmand University, Afghanistan
nrishtinay@gmail.com

**Ph.D. Noor Ahmand Emal**[2]
Department of Pashto Language and Literature, Education Faculty, Helmand University, Afghanistan

**Hamdullah Ehsan**[3]
Department of Pashto Language and Literature, Education Faculty, Helmand University, Afghanistan

**سریزه**

په هلمند کي د ناروغيو او درملو د ولسي اصطلاحاتو او باورونو د پوهيدو موضوع د عامي روغتيا او د درملو د منطقي کاروني له‌پاره بنسټيز اهميت لري. د خلکو روغتيايي پوهاوی يوازي پر طبي معيارونو نه، بلکي پر ولسي ژبه، کلتوري تجربو او ټولنيزو روايتونو ولاړ دئ (Helman, 2007). د ناروغۍ درک او درملنه ډيری وخت د کورنۍ او ټولني تر اغيز لاندي وي، نو له همدې امله د روغتيايي اصطلاحاتو او ولسي باورونو ژبنی ـ فرهنګي تحليل د روغتيايي چلند د سمي پوهي له‌پاره اړين دئ (Good, 1994).

په افغانستان کي، په ځانګړي ډول په هلمند کي، د درملو بې‌نخښ کارونه، د انټي‌بيوټيکونو ناسم استعمال، اقتصادي خنډونه او د دوديزو درملنو پراخ بازار لا هم د عامي روغتيا جدي ننګوني دي (Organization, 2022) . دا څېړنه هڅه کوي چې د ولسي اصطلاحاتو او باورونو علمي مستندول نه يوازي د ژبپوهني او فرهنګي څېړنو برخه غښتلې کړي، بلکي د روغتيايي پاليسۍ جوړونکو له‌پاره عملي لیدلوری هم وړاندي کړي.

په افغانستان، په ځانګړي ډول په هلمند کي، د ناروغيو او درملو د ولسي اصطلاحاتو او باورونو په اړه د سيستماتيکو علمي څېړني تعداد کم دئ، له همدې امله دا څېړنه د دې علمي تشې د ډکولو هڅه کوي.

**د څېړني موخه**: د هلمند د خلکو د ولسي اصطلاحاتو او د درملو د کاروني ژبنۍ او فرهنګي ځانګړتياوي روښانه کول دي.

**د څېړني اصلي پوښتنه**: څنګه ولسي اصطلاحات، ټولنيز باورونه او ژبني جوړښتونه د ناروغۍ او درملو په اړه د خلکو روغتيايي چلند اغيزمنوي.

**فرعي پوښتني:** د ناروغيو د ولسي اصطلاحاتو، د درملو د پيژندني سرچينو او د ټولنيزو باورونو د اغيز څرنګوالی څېړي.

**د څېړني فرضيه:** دا ده چې د ناروغۍ او درملو د پوهيدو چارچوب يوازي طبي نه، بلکي د ژبې، کلتور او ټولنيزو اړيکو له لاري جوړېږي. د Social Constructionism او Health Belief Model له مخې، د خلکو روغتيايي چلند د ناروغۍ د شدت، درک او ټولنيز پوهاوي له لاري ټاکل کيږي.

**تېرو څېړنو ته کتنه (Literature Review)**

د ناروغۍ او درملو د پوهيدو ټولنيز او فرهنګي اړخونه له څو لسيزو راهيسي د روغتيابوهانو او ټولنپوهانو د پام وړ موضوع ده. د ناروغۍ تعبير يوازي بيولوژيکي نه، بلکي د ژبني او کلتوري تعاملاتو محصول ګڼل کيږي (Helman, 2007). او دا ليدلوری د Social Constructionism بنسټ جوړوي (Conrad, 2010), (Conrad, 1995).

د روغتيايي چلند د تحليل له‌پاره، Health Belief Model (HBM) مهم چوکاټ دئ، چې د ناروغۍ د خطر احساس، د درملني د ګټې تمه او د خنډونو درک د روغتيايي پريکړو کليدي عوامل ګڼل کيږي (Bender, 2022 & Karl). وروستۍ څېړني ښيي چې HBM په واکسين اخيستني او نورو روغتيايي چلندونو کي د خلکو د چلند وړاندوينه په بريالیتوب سره کوي (Bender, 2022 & Karl).

په مختلفو جغرافیاوي سیمو کي څېړني ښیي چي ولسي باورونه، دودیزي روغتیایي تجربې او ژبني اصطلاحات د ناروغیو په تعبیر او درملو په کاروني اغیز لري. د خیبر پښتونخوا د قبایلي اقلیتونو په اړه یوې څېړني ښوولې چي خلکو د ناروغیو د درک، تشخیص او درملنې لپاره بډایه ولسي (محلي) درملیزه پوهه کارولې (Hassan Sher, 2015).

څېړنو په اروپا او آسیا کي څرګنده کړې ده چي د انټي‌بیوټیکونو ناضروري او زیات استعمال د خلکو له کلتوري باورونو، ټولنیزو دودونو او د درملو ته له اسانه لاسرسي سره په نږدې ډول تړاو لري (Touboul-Lundgren, 2015). په افریقا او مالیزیا کي دودیزي درملنې د ټولنیزو او کلتوري فکتورونو پر بنسټ پراخي سوي دي (Stanifer, et al., 2015).

په ټولیز ډول، دا څېړني څرګندوي چي د ناروغۍ او درملو پوهه د ژبې، کلتور، ټولنیزو اړیکو او باورونو په ګډ اغیز رامنځته کیږي. د همدې پر بنسټ، دا څېړنه د هلمند سیمه کي د ولسي اصطلاحاتو او کلتوري باورونو علمي مستندولو له لارې د HBM او Social Constructionism یوځای عملي کول نوښتګر علمي ګام ګڼي.

**میتودولوژي / د څېړنې تګلاره**

دا څېړنه توصیفي تحلیلي ده او د Concurrent Mixed-Method Design په کارولو ترسره سوې، چې په یوه پراو کي کمیتي او کیفیتي ډیټا ټولوي او وروسته یې د ګډ تحلیل له لارې ادغاموي. د معلوماتو ټولولو لەپاره درې ډوله پوښتنې کارول سوي دي:

Likert-scaleپوښتنې د Health Belief Model (HBM) پر بنسټ د ګډونوالو انفرادي باورونه او تمایلات په عددي ډول اندازه کوي.

څو انتخابي پوښتنې د درملو د کاروني نمونې او سرچینې څرګندوي.

پرانیستې پوښتنې د Social Constructionism په رڼا کي د ژبني-فرهنګي جوړښتونو ژور تحلیل ته لار هواروي.

په دې څېړنه کي د نمونې اندازه (n = 390) ټاکل سوې ده. د نمونې ټاکنه د Cochran د نمونه‌اخیستنې فورمول له مخې ترسره سوې، ترڅو د احصایوي دقت (Precision) او د باور کچې (Confidence Level = 95%) ترمینځ متوازن تناسب وساتل سي. دا اندازه د هلمند ولایت د نفوس د کچې، د څېړنې د موخې او د ممکنه ټېروتنې د حاشیې (Margin of Error ≈ ±5%) پر بنسټ محاسبه سوې ده.

د څېړنیزې ټولنې په توګه د هلمند د لښکرګاه ښار او نادعلي ولسوالۍ اوسیدونکي غوره سوي، چې د ناروغیو او درملو د استعمال تجربه لري. نمونې اندازه ۲۰۶ ګډونوال دي، د مقصدي (purposive) او تطبیقي (criterion-based) انتخاب له مخې، څو د تجربو تنوع تضمین سي.

ډیټا د مرکې پر بنسټ جوړ پوښتنلیک له لارې راټول سوې، هم په ساحه او هم د ګوګل فورم له لارې ډک سوي دي.

کمیتي ډیټا په SPSS او Excel کي تحلیل سوې، د فریکونسی، سلني، مینځنۍ (Mean) او معیاري انحراف (SD) محاسبه پکښې سوې او په اړتیا کي د Chi-square یا t-test ازموینې هم کارول سوې، خو په راپور کي ډیره توصیفي احصایوي ښوونه سوې ده.

کیفیتي ډیټا د Thematic Analysis په مرسته کوډ سوې (open coding, axial coding, theme generation) او وروسته مدغمي تحلیل سوې (Joint Display Analysis) ترڅو عددي احصایې او ټولنیزې معناوي یوځای وړاندې سي.

د څېړنې پر مهال ټول اخلاقي اصول رعایت سوي: ګډونوالو رضایت په شفاهي او لیکلې بڼه ترلاسه سوی، موخه او د معلوماتو د کارونې څرنګوالی تشریح سوی او هویت یې خوندي ساتل سوی. ټول معلومات یوازې د علمي څېړنې لهپاره کارول سوي، د تحقیقاتو د اخلاقي لارښوونو سره سم.

**پایلې او موندنې (Results / Findings)**

په دې برخه کي د څېړنې د کمیتي او کیفیتي ډیټا موندنې وړاندې کیږي. کمیتي پایلې د پوښتنلیک له فریکونسي جدولونو او سلنو څخه اخیستل سوي او د ګډونوالو د باورونو، د درملو د کارونې او د روغتیایي چلند د بڼو عمومي انځور وړاندې کوي. کیفیتي پایلې د پرانیستو پوښتنو د thematic analysis په مرسته ترلاسه سوي دی، چې د ناروغیو د ولسي اصطلاحاتو، د درملو د کارونې دودیزو او مذهبي لارو او د ټولنیزو باورونو د اغیز په اړه ژور وضاحت وړاندې کوي. د دواړو ډیټاګانو مدغم وړاندې کول (integration) دا فرصت برابروي چې عددي شواهد د ولسي روایتونو او ژبنې تجربو په رڼا کي وڅېړل سي او د موضوع ټولنیز-فرهنګي او رواني اړخونه په ښه ډول څرګند سي.

د څېړنې په ګډونوالو کي د نارینو شمیر په څرګند ډول ډیر دئ (۷۶,۲٪) او د ښځینو برخه یوازې ۲۳,۸٪ جوړوي. دا ګڼون دا څرګندوي چې د څېړنې ګډونوال تر ډیره نارینه دي.

***جدول ۱** : د ځواب ویونکو پیژندنه*

| جنسیت | شمیر | سلنه (٪) |
|---|---|---|
| نارینه | 297 | 76.2 |
| ښځینه | 93 | 23.8 |
| **ټولټال** | **390** | **100** |

*سرچینه: د ګډونوالو د ټولنیزو ځانګړنو فریکونسي او سلنه - Note. ډاټا د SPSS له لارې تحلیل سوې ده*

د ګډونوالو زده‌کړو ته په کتلو سره، د لوړو زده‌کړو لرونکي د پام وړ اکثریت (۸.۶۰٪) جوړوي. په ورته وخت کې، بې‌تعلیمه ګډونوال (۳.۲۰٪) هم د پام وړ برخه لري. د مینځنیو (۱۲,۶٪) او لومړنیو (۴.۶٪) زده‌کړو لرونکي لږ شمیر جوړوي.

*جدول۲ : د ځواب ویونکو پېژندنه*

| کچه | شمیر | سلنه (٪) |
|---|---|---|
| لوړې زده کړې | 237 | 60.8 |
| مینځنۍ زده کړې | 49 | 12.6 |
| لومړنۍ زده کړې | 25 | 6.4 |
| بې تعلیمه | 80 | 20.3 |
| **ټولټال** | **390** | **100** |

*سرچینه: د ګډونوالو د ټولنیزو ځانګړنو فریکونسي او سلنه - Note. ډاټا د SPSS له لارې تحلیل سوې ده.*

د ګډونوالو تر ټولو ستره برخه ښوونکي او استادان (۴.۱۷٪) او محصلین (۹.۱۴٪) جوړوي. بزګران (۹.۱۴٪) او روغتیایي پرسونل (۷.۹٪) هم د پام وړ دي. د بې‌دندې کسانو برخه ۳.۱۱٪ ده. پاته ۱.۲۳٪ ګډونوال د بېلابېلو نورو مسلکونو سره تړلي دي.

*جدول۳ : د ځواب ویونکو پېژندنه*

| مسلک/ دنده | شمیر | سلنه (٪) |
|---|---|---|
| ښوونکي/ استادان | 67 | 17.4 |
| زده‌کړیالان | 58 | 14.9 |
| بزګران | 56 | 14.4 |
| روغتیایي پرسونل (ډاکټران، نرسان، قابله ګان...) | 38 | 9.7 |
| دوکانداران/تاجران | 36 | 9.2 |
| بې دندې | 44 | 11.3 |
| نور مسلکونه (انجنیران، مدیران، ژورنالیستان، شاعران...) | 91 | 23.1 |
| **ټولټال** | **390** | **100** |

*سرچینه: د ګډونوالو د ټولنیزو ځانګړنو فریکونسي او سلنه - Note. ډاټا د SPSS له لارې تحلیل سوې ده*

د ګډونوالو د اوسیدو د ځای له مخې، لښکرګاه (۵۰,۵٪) او نادعلي (۴۹,۵٪) نږدې برابري برخې جوړوي چې د دواړو سیمو ترمینځ ښه توازن ښیي.

*جدول۴ : د ځواب ویونکو پیژندنه*

| استوګنځای | شمیر | سلنه (٪) |
|---|---|---|
| لښکرګاه | 197 | 50.5 |
| نادعلي | 193 | 49.5 |
| **ټولټال** | **390** | **100** |

*سرچینه: د ګډونوالو د ټولنیزو ځانګړنو فریکونسي او سلنه - Note. ډاټا د SPSS له لارې تحلیل سوې ده*

**موضوعي ډلبندي**

د کیفیتي برخې پایلې د thematic analysis په مرسته تنظیم سوي دي، چې د ولسي اصطلاحاتو، ټولنیزو باورونو او فرهنګي تجربو ژور اړخونه راښکاره کوي او د کمیتي موندنو د ښه درک لپاره بشپړوونکی چوکاټ وړاندي کوي.

**اوله موضوع- د ناروغیو د پیژندنې لپاره ولسي نومونه:** ګډونوالو د ناروغیو پیژندنې لپاره متنوع ولسي نومونه وړاندي کړل، چې د هغوی د ژبنې او فرهنګي تجربو څرګندونه کوي. کمیتي پایلې ښیي چې د عامو ناروغیو نومونه لکه زکام (۸٪.۵)، تبه (۳٫۹٪)، ټوخی (۹٪.۲) او سینه بغل (۱٫۹٪) تر ټولو زیات کارول سوي، چې د محلي او ورځني اصطلاحاتو پراختیا او عام پوهه څرګندوي. کیفیتي تحلیل نور وضاحت ورکوي، چې ځینې نومونه د بدن د ځانګړو برخو یا ځانګړو نښنو سره تړاو لري؛ لکه توره غاړه او د پښتورګي درد او ځینې غیر عام یا نوي نومونه لکه شری، لمبو وهل، چارګان/کلکان، چې د ټولنیزو باورونو، دودیزو تجربو او محلي پیژندنې انعکاس دئ. کم شمیر ګډونوالو غیرعام یا نایابه نومونه هم کارولي، لکه لمر وهل، چارګان/کلکان/ابلیج، چې د ځینې ځانګړو یا محدود پېښو ناروغیو محلي پیژندنه څرګندوي. سربېره پر دې، ځینې ګډونوال نوښتګر نومونه یا اصطلاحات کارولي؛ لکه: په نس کې جوړاړی، توره تبه، ابلیج، تپ یا لړمکي، نری رنځ، سیل، شنه ټوخلي یا توره غاړه، نزله ، نیمسری، بوزهکاني یا کڅوک؛ شری یا نورو جالب نومونه (محرکه، مریضي...) چې د ټولنیزو باورونو او دودیزو تجربو انعکاس دئ.

دا مدغم تحلیل د Social Constructionism چوکاټ ملاتړ کوي، ځکه څرګندوي چې د ناروغیو پیژندنه په ټولنه کې یوازې طبي نه ده، بلکې د ژبنې، فرهنګي او ټولنیز پوهې له لارې رامینځته کیږي. کمیتي معلومات د نومونو د پراخوالي او عامیت کچه څرګندوي، په داسې حال کې چې کیفیتي تعبیر د نومونو معنوي او فرهنګي اهمیت او د ناروغیو د پیژندنې محلي تګلاره تشریح کوي.

په ټولیز ډول، دا Theme څرګندوي چې د ناروغیو پیژندنه په محلي ټولنه کې یوازې طبي تشخیص نه دئ، بلکې د ژبنې-فرهنګي جوړښت او محلي پوهې له لارې شکل نیسي، چې د **Social Constructionism** تیوریک چوکاټ سره بشپړ سمون لري.

**جدول۵ :** د ځواب ویونکو پېژندنه

| Theme / Code | Frequency | Percentage (%) | Cumulative Frequency |
|---|---|---|---|
| زکام | 6 | 5.8% | 5.8% |
| تبه | 4 | 3.9% | 9.7% |
| ټوخی | 3 | 2.9% | 12.6% |
| سینه بغل | 2 | 1.9% | 14.5% |
| توره غاړه | 5 | 4.9% | 19.4% |
| سیل | 3 | 2.9% | 22.3% |
| میرگی | 4 | 3.9% | 26.2% |
| لړمکی / لړمگي | 3 | 2.9% | 29.1% |
| وچ موري | 2 | 1.9% | 31.0% |
| تي بي (نري رنځ) | 1 | 1.0% | 32.0% |
| اسهال | 2 | 1.9% | 33.9% |
| تور ژړی | 1 | 1.0% | 34.9% |
| د پښتورگي درد / گوردکو ناروغي | 2 | 1.9% | 36.8% |
| زیرش | 2 | 1.9% | 38.7% |
| معدې جوش / معدې درد | 2 | 1.9% | 40.6% |
| قبض | 1 | 1.0% | 41.6% |
| ستوني درد | 1 | 1.0% | 42.6% |
| سر درد | 1 | 1.0% | 43.6% |
| د ویني مکروب | 1 | 1.0% | 44.6% |
| نس درد | 1 | 1.0% | 45.6% |
| لمر وهل | 1 | 1.0% | 46.6% |
| چارگان / کلکان / ابلیج | 1 | 1.0% | 47.6% |

| Theme / Code | Frequency | Percentage (%) | Cumulative Frequency |
|---|---|---|---|
| اعصاب / ذهني ناروغي | 2 | 1.9% | 49.5% |
| شری | 2 | 1.9% | 51.4% |
| شنه غاړه | 1 | 1.0% | 52.4% |
| نورو جالب نومونه (محرکه، مریضي...) | 4 | 3.9% | 56.3% |

*سرچینه: د ګډونوالو د ټولنیزو ځانګړنو فریکونسي او سلنه - Note. ډاټا د SPSS له لارې تحلیل سوې ده*

**دوهمه موضوع- د ناروغیو پیژندنه د ټولنیزو او فرهنګي تجربو له مخي:** ګډونوالو د ناروغیو پیژندني له‌پاره متنوع ولسي نومونه کارولي، چې د هغوی د ټولنیزو او فرهنګي تجربو انعکاس دئ. کمیتي پایلي ښیي چې عام نومونه لکه زکام (۵۸,۳٪) او تبه (۴۳,۷٪) د ناروغیو د پیژندني تر ټولو عام اصطلاحات دي او نور عام نومونه؛ لکه سینه بغل، ټوخی، شري، توره غاړه، اسهال او میرګی په پراخه کچه یاد سوي، چې د ټولنیز پوهې عاموالی څرګندوي. کیفیتي تحلیل نور وضاحت ورکوي، چې ځینې ځانګړي او لږ پیژندل سوي نومونه لکه؛ لړمکي، وچ موري، تې بې، فشار لوړیدل، وینه غوړ، محرکه او چابکه مریضي د محلي تجربو، دودونو او کلتوري ځانګړتیاو انعکاس دئ. د Cumulative Frequencyجدول کمیتي لید وړاندي کوي، چې د ناروغیو پیژندني پراخوالی او د نومونو عامیت په ګډونوالو کي څرګنګه ویشل سوی دئ، په داسي حال کي چې کیفیتي تعبیر د نومونو معنوي، فرهنګي او ټولنیز اهمیت تشریح کوي. دا مدغم تحلیل د Social Constructionism چوکاټ ملاتړ کوي، ځکه دا څرګندوي چې د ناروغیو پیژندنه یوازي د طبي اصطلاحاتو په اساس نه، بلکي د ژبني، فرهنګي او ټولنیزو باورونو په رڼا کي رامینځته کیږي.

**جدول٦** : د ځواب ویونکو پېژندنه

| Theme / Code | Frequency | Percentage (%) |
|---|---|---|
| زکام | 120 | 58.3 |
| تبه | 90 | 43.7 |
| سینه بغل | 65 | 31.6 |
| ټوخی | 50 | 24.3 |
| شري | 35 | 17.0 |
| اسهال | 40 | 19.4 |
| توره غاړه | 45 | 21.8 |
| تور ژړی | 25 | 12.1 |
| میرګی | 20 | 9.7 |
| لړمکی / لړمګي | 18 | 8.7 |
| وچ موري | 10 | 4.9 |
| توره ټوخله | 8 | 3.9 |
| ټي بي | 12 | 5.8 |
| فشار لوړیدل | 7 | 3.4 |
| وینه غوړ | 6 | 2.9 |
| محرکه | 5 | 2.4 |
| چابکه مریضي | 4 | 1.9 |
| د بدن درد | 5 | 2.4 |
| د پښتورګي درد | 5 | 2.4 |
| نس او خولې ایله کیدل | 4 | 1.9 |
| سیل مریضي | 3 | 1.5 |
| داغه نمونه | 2 | 1.0 |

| Theme / Code | Frequency | Percentage (%) |
|---|---|---|
| زیرش / د نزلې اوبه | 3 | 1.5 |
| ګوردکو ناروغي | 2 | 1.0 |
| معده / معدې ناروغي | 8 | 3.9 |
| مریضي | 3 | 1.5 |
| د معدې جوش | 4 | 1.9 |
| قبض / قبضیت | 7 | 3.4 |
| ستوني درد | 6 | 2.9 |
| سر درد | 10 | 4.9 |
| د وینې مکروب | 2 | 1.0 |
| پزې بندښت | 2 | 1.0 |
| سیل د نس درد | 2 | 1.0 |
| لمبو وهل | 1 | 0.5 |
| چارګان، کلکان، ابلیج | 1 | 0.5 |
| ټوخی | 2 | 1.0 |
| شنه غاړه | 4 | 1.9 |
| شري نیولی | 1 | 0.5 |

سرچینه: د ګډونوالو د ټولنیزو څانګړنو فریکونسي او سلنه - *Note. ډاټا د SPSS له لارې تحلیل سوې ده*

**دریمه موضوع- د ناروغۍ شدت او د عوارضو درک:** ګډونوالو د ناروغۍ د شدت او عوارضو په اړه مختلف لیدلوري وړاندې کړل، چې د هغوی د تجربوي پوهې، فرهنګي باورونو او چاپېریالي شرایطو انعکاس دئ. کمیتي پایلې ښیي چې د چاپېریالي او حفظ الصحې اړوند عوامل د ناروغۍ د شدت د درک له‌پاره تر ټولو مهم ګڼل سوي (۴۳,۲٪) او د ناروغۍ د زیاتوالي یادونې (۱۵,۵٪) او د دوا نه استعمال/ بې‌دوا حالت (۱۱,۷٪) هم د عملي تجربو اهمیت څرګندوي. کیفیتي تحلیل څرګندوي چې ګډونوال د مرګ، کوما او وژونکو عوارضو په اړه هم یادونې کړې (۱۱,۲٪) او لږ شمیر یې د روحي/ اعصابي اغیزو، اعتقادي باورونو او کمزورتیا یادونې کړې، چې د ټولنیزو او فرهنګي باورونو اغیز ښیي. د مدغم تحلیل له مخې، د Social Constructionism چوکاټ څرګندوي چې د ناروغۍ د شدت او عوارضو درک یوازې د طبي معلوماتو په اساس نه، بلکې د ټولنیزو تعاملاتو، ژبنۍ جوړښتونو او کلتوري تجربو پر

بنسټ جوړ سوی، په داسي حال کي چې د Health Belief Model مرستندویه تیوري په دې کي مرسته کوي چې د ناروغۍ د شدت او احتمالي پایلو پر اساس د ګډونوالو د پوهې او عمل لور ټاکل کیږي.

***جدول۷** : د خواب ویونکو پېژندنه*

| Theme / Code | Frequency | Percentage (%) |
|---|---|---|
| چاپېریالي /حفظ الصحي عوامل (چټل خوراک اوبه، هوا، ککړتیا، نظافت /وقایه /پرهیز، ځان سم نه ساتل) | 89 | 43.2 |
| شدید /زیاتیدل /سختیدل (شدت /شدید /خرابوالی /ورځ په ورځ زیاتوالی) | 32 | 15.5 |
| که دوا ونه سي / بې دوا (نه ښه کیږي، سختیږي) | 24 | 11.7 |
| مرګ /کوما /وژونکي کیدل | 23 | 11.2 |
| نخښي: ټوخ /تبه /ستوني یا بدن /سر درد | 21 | 10.2 |
| نه شدید /خپله ښه کیدل /موسمي | 18 | 8.7 |
| میکروبي /ساري /ویروس /وراثتي یادوني | 16 | 7.8 |
| روحي /اعصابي (خفګان /تشویش /فشار /جنجال) | 14 | 6.8 |
| اعتقادي /د الله له خوا/ توکل پر خدای | 7 | 3.4 |
| کمزوري /ضعف /کمخوني /بې سبکه | 6 | 2.9 |
| ماشومانو ته ځانګړی اغیز /فشار | 2 | 1.0 |
| د دوا ډیر کارول /دوا اغیز نه کوي | 2 | 1.0 |
| نه پوهیږي /معلومات نسته | 2 | 1.0 |

*سرچینه: د ګډونوالو د ټولنیزو ځانګړنو فریکونسي او سلنه - Note. ډاټا د SPSS له لارې تحلیل سوې ده*

**څلرمه موضوع- د ناروغۍ د درملنې لارې:** ګډونوالو د ناروغۍ د درملنې له‌پاره مختلفې لارې بیان کړې، چې د ورځنۍ ژوند، فرهنګي باورونو او ټولنیزو دودونو انعکاس دئ. کمیتي پایلې ښیي چې ۱۹٪ ګډونوالو عمومي دودیزې لارې او کورنۍ درمل کارولې او د کورنۍ حل‌لارو او وقایوي تدابیرو یادونه په مجموع کې ۲۳٪ ده، چې د ټولنیزو او فرهنګي باورونو اهمیت څرګندوي. کیفیتي تحلیل څرګندوي چې ګډونوالو عصري صحي میتودونه، لکه؛ ډاکټر ته مراجعه، روغتون او واکسین هم یاد کړي، چې د رسمي روغتیایي سیستم درلودل، ښیي، په داسي حال کي چې د دمونو، تعویذونو او دعا کارونه (۷٪) د مذهبي او معنوي باورونو انعکاس دئ او د یوناني دوا او طبیعي بوټو یادوني (۶٪) د دودیزو او طبیعي درملو ګډ استعمال څرګندوي. د شات، مالګه غرغره، انار پوست او نور ځانګړي کورنۍ تجربه سوي درمل (۸٪) د محلي تجربې انعکاس وړاندې کوي. د مدغم تحلیل له مخې، د Social

Constructionismچوکاټ څرګندوي چې ګډونوال ناروغۍ او درملنې ته یوازې طبی یا علمي معنا نه ورکوي، بلکې د ژبني-فرهنګي، مذهبي او ټولنیزو باورونو په چوکاټ کې د ناروغۍ او درملنې پوهاوی جوړوي او د Health Belief Modelپه رڼا کې، د ناروغۍ د کنټرول له‌پاره د عملي تجربو، باورونو او د ګټې-خطر د ارزوني پراساس تصمیم نیول تشریح کیږي.

**جدول۸:** *د ځواب ویونکو پېژندنه*

| Theme / Code | Frequency | Percentage (%) |
|---|---|---|
| دودیزي لاري / کورني درمل (عمومي) | 40 | 19 |
| کورني درمل، کورني حل لاري | 25 | 12 |
| وقایه (پاکوالی، نظافت، پرهیز) | 22 | 11 |
| واکسین | 10 | 5 |
| ډاکټر ته تګ / روغتون | 18 | 9 |
| ورزش / ښه تغذیه / استراحت | 15 | 7 |
| دمونه، تعویذ، پیر او فقیر دعا | 14 | 7 |
| یوناني دوا / طبیعي بوټي | 12 | 6 |
| کورنۍ نخښې (اریږه، سپیرکي، پوسه...) | 20 | 9 |
| ځانګړي مواد (شات، مالګه غرغره، انار پوست...) | 16 | 8 |
| د الله امتحان / توکل پر خدای | 5 | 2 |
| نور نادر ځوابونه (بخاری، بدن غوړول... ) | 11 | 5 |

*سرچینه: د ګډونوالو د ټولنیزو ځانګړنو فریکونسي او سلنه - Note. ډاټا د SPSS له لارې تحلیل سوې ده*

**پینځمه موضوع- د دوا پېژندنې لاري Medication Knowledge and Sources:** ګډونوالو د دوا پېژندنې مختلفې لارې ښوولې، چې د دوی د ژبني-فرهنګي پوهې او ورځنیو تجربو انعکاس دئ. کمیتي پایلې څرګندوي چې تر ټولو زیاتو ګډونوال (۳۸,۳٪) دواوي د "ګولۍ/ ټابلیټ" په نوم پیژني، ۲۲,۸٪ یې د ډاکټر، روغتون یا کلینیک له لارې د دوا پېژندنه کړې او ۲۰,۴٪ دواوي د ناروغۍ پر اساس یا د "میکروب ضد/ چرک ضد دوا" په نوم پیژني. کیفیتي تحلیل څرګندوي چې ګډونوالو شربت، پیچکاري، کپسول، رنګین پاکټ ګولۍ او ځانګړي دواوي، لکه؛ اموکسیسلین، ceftfaxim او سیټریزین هم یاد کړي، چې د محلي بازار، شخصي تجربه او ټولنیزو باورونو اغیز څرګندوي. د مدغم تحلیل له مخې، د Social Constructionism چوکاټ څرګندوي چې دوا پېژندنه یوازې علمي یا فارماسیوي نومونو پورې محدوده نه ده، بلکې د ټولنیزو، فرهنګي او محلي جوړښتونو پر بنسټ رامینځته کیږي. د Health Belief Model له نظره، ګډونوال د دوا د شکل، رنګ، استعمال او د ناروغۍ د نښو په پام کې

نیولو سره خپل درملیز انتخاب کوي، چې د ناروغۍ د درملني پر تصمیم نیولو د محلي پوهې او کلتوري تجربو اغیز څرګندوي.

**جدول۹** : *د ځواب ویونکو پېژندنه*

| موضوع (Theme) | Frequency | Percentage (%) | Sample Quotes / Description |
|---|---|---|---|
| ګولۍ/ټابلیټ | 79 | 38.3 | ګډونوال اکثره دواوي په عامه ژبه د "ګولی" یا "ټابلیټ" په نوم یادوي، حتی که تخصصي نوم ولري. |
| ډاکټر/روغتون/کلینیک | 47 | 22.8 | د دوا نوم اکثراً له خدماتو سره ترلې، ګډونوال وایي: "ډاکټر مي دوا راکړه" یا "روغتون کې شربت راکړل سو." |
| میکروب ضد/چرک ضد دوا | 42 | 20.4 | ګډونوال دواوي د "میکروب ضد" یا "چرک ضد" په نوم پیژني، دا د کلتوري پوهې انعکاس دئ. |
| پیچکاري | 27 | 13.1 | د دوا زرقول/پیچکاري په اړه یادوني، په خاصو ناروغیو کې د محلي عام فهم سره تړاو لري. |
| شربت | 19 | 9.2 | شربت اکثره د ماشومانو له‌پاره یاد سوی، ګډونوال وایي: "شربت راکړل سو ځکه ګولۍ نه خوړل کیږي." |
| پوډر | 15 | 7.3 | دواوي چې د اوبو سره ګډیږي، په کلتوري تعبیر کې د پوډر په نوم یادیږي. |
| انټي بیوټیک | 12 | 5.8 | علمي/طبعي نومونه ځینې ګډونوال پیژني، خو دا لږ شمیر دئ. |
| کپسول | 11 | 5.3 | ګډونوال د کپسول شکل ته اشاره کوي، په عامه ژبه یې په ساده ډول "کپسول" یادوي. |
| رنګین پاکټ ګولۍ (شین/زرغون/ګلابي/سر عکس) | 9 | 4.4 | د دوا پیژندنه د رنګ او بسته بندۍ له مخې، چې ټولنیز او بصري پوهه ښیي. |
| زخم ګولۍ/زخم دوا | 7 | 3.4 | د ځانګړو دردونو یا زخم له‌پاره ځانګړي ولسي نومونه کارول سوي. |

| موضوع (Theme) | Frequency | Percentage (%) | Sample Quotes / Description |
|---|---|---|---|
| زرغون/شین دوا (د رنګ له مخي) | 6 | 2.9 | ګډونوال دواوي د رنګ له مخي پېژني، چې د کلتوري تعبیر یوه نمونه ده. |
| پوډري پیچکاري | 6 | 2.9 | دوا چې هم د زرق له‌پاره وي او هم د پوډر په بڼه ورکول کیږي. |
| درد ضد/درد ګولي | 4 | 1.9 | په ځانګړي فرهنګي متن کي د درد له‌پاره ځانګړي ولسي پېژندني. |
| پچکاری/پچکاری (ولسي بڼه) | 4 | 1.9 | محلي تعبیر د دوا د استعمال ډول ښیي. |
| واکسین | 4 | 1.9 | د وقایې دواوي، په علمي او عامه فهم کي توپیر لري. |
| پاراستامول | 1 | 0.5 | مشخصي دواوي د عامو نومونو تر څنګ یادي سوې. |
| امپولیسین | 1 | 0.5 | د علمي نومونو لږ انعکاس، عامه پوهه کي لږ پېژندنه. |
| اموکسیسلین | 4 | 1.9 | د دوا د معالجې په متن کي د علمي نومونو پېژندنه. |
| پوډري شربت | 4 | 1.9 | د ماشومانو له‌پاره یا د خوړلو له‌پاره خاص بڼه. |
| پوښ دار ګولی/پټ مخي ګولی | 3 | 1.5 | ځانګړي بڼې د ولسي تعبیر له مخي. |
| Disprin | 1 | 0.5 | مشخص نوم، لږ پېژندل سوی. |
| زکام دوا | 2 | 1.0 | ناروغۍ په نوم دوا پېژندنه. |
| ارکول | 1 | 0.5 | ځانګړی محصولي نوم، لږ شمیر ګډونوال پېژني. |
| بازاري دوا/کیفیت/خودسري | 6 | 2.9 | عامه تعبیر، د بازار د تجربې انعکاس. |
| اموکسیسلین (بلي بڼې سره یوځای) | 0 | 0.0 | نه دئ ځواب سوی. |
| معافیت لوړولو دوا | 1 | 0.5 | د طبعي ځواک او دفاعي نظام له مخي پېژندنه. |

| موضوع (Theme) | Frequency | Percentage (%) | Sample Quotes / Description |
|---|---|---|---|
| Ceftfaxim | 1 | 0.5 | علمي نوم، لږ پیژندل سوی. |
| ملهم | 1 | 0.5 | باندني استعمال، محلي درملنه. |
| سیټریزین | 1 | 0.5 | مشخص علمي نوم، لږ انعکاس. |

*سرچینه: د ګډونوالو د ټولنیزو څانګړنو فریکونسي او سلنه - Note. ډاټا د SPSS له لارې تحلیل سوې ده*

**شپږمه موضوع- د دوا پیژندني معیارونه / Criteria for Medication Identification:** ګډونوالو د دوا پیژندني له‌پاره مختلف معیارونه کارولي، چې د Social Constructionism چوکاټ سره بشپړ مطابقت لري. کمیتي پایلې ښیي چې ٦٦٪ ګډونوالو یوازې د "ګولۍ" عمومي نوم یاد کړی، ۳۲,۵٪ یې د پاکټ، رنګ او انځور له مخې دوا پیژني او ۲۲,۸٪ یې په څانګړي توګه د شین یا زرغون پاکټ له مخې توپیر کوي. کورني یا دودیز توکي لکه خاشخاش (۱٦,۵٪) او شربت/سیروپ (۱۴,٦٪) د محلي تجربو او دودیزو باورونو اغیز څرګندوي، په داسي حال کې چې ځینې ګډونوال د پیشې چاپ، زمري، ګوته یا اذان (۱۳,۱٪) او میکروب ضد/چرک ضد دوا (۱۲,٦٪) یادونه کړې، چې د دوا موخه یا نخښه هم د پیژندني له‌پاره مهمه ګڼي. د پوډري/پیچکاري/پوډر یادوني (۱۱,۲٪) د محلي طبي بڼو ښیي او یوازې لږ ګډونوال (۳,۴٪) ټیکنیکل یا علمي نوم یاد کړی، چې د علمي پوهې محدودیت او د محلي/دودیزې پوهې پر اغیز ټینګار کوي. کیفیتي تحلیل څرګندوي چې ګډونوال د دوا پیژندنه یوازې د علمي معیارونو پر بنسټ نه کوي، بلکې د کلتوري، ټولنیزو او لیدلوري جوړښتونو پر اساس یې جوړوي. د Social Constructionism له نظره، دا د ګډونوالو ژبنې-فرهنګي پوهه څرګندوي او د Health Belief Model (HBM) له مخې، د دوا اخیستنې پریکړه د ناروغۍ د احساس، نخښو او محلي باورونو پر اساس رامینځته کیږي، چې د دوا پیژندني او استعمال د فرهنګي او ټولنیزو اغیزو پراخ انځور وړاندې کوي.

**جدول ۱۰ :** *د خواب ویونکو پیژندنه*

| موضوع (Theme) | Frequency | Percentage (%) |
|---|---|---|
| ګولۍ (عمومي) | 136 | 66.02 |
| پاکټ / رنګ / انځور (بسته بندی) | 67 | 32.52 |
| شین پاکټي / زرغون پاکټ | 47 | 22.82 |
| خاش خاش / خاشخاشي | 34 | 16.50 |
| شربت / سیروم | 30 | 14.56 |

| Percentage (%) | Frequency | موضوع (Theme) |
|---|---|---|
| 13.11 | 27 | پيشي چاپ / زمري/ګوته/اذان (چاپ/نمونه) |
| 12.62 | 26 | ميکروب ضد / چرک ضد |
| 11.17 | 23 | پوډري / پيچکاري / پوډر |
| 8.74 | 18 | کاغذي/کاغذی/کاغذ |
| 6.80 | 14 | کولډ/زکام دوا/زکام ګولۍ |
| 6.31 | 13 | ټيکو ګولۍ / ټيکو |
| 5.34 | 11 | پوښداره ګولۍ / پوښ دار |
| 4.85 | 10 | پاراستامول/پيناډول/درد ضد |
| 4.37 | 9 | انټي بيوټيک / اموکسيسليلين / اموکسيسلين / پنسلين |
| 3.40 | 7 | کپسول |
| 3.40 | 7 | ټيکنيکل/علمي نوم/نوم پيژندنه |
| 2.43 | 5 | اموکسيسلين مشخص |
| 0.00 | 0 | زخم ګولۍ / زخم دوا |

*سرچينه: د ګډونوالو د ټولنيزو ځانګړنو فريکونسي او سلنه - Note. ډاټا د SPSS له لارې تحليل سوې ده*

**اوومه موضوع- د ناروغۍ پر وړاندې د ځان‌ساتنې لارې / Self-Care Practices:** ګډونوالو د ناروغۍ پر وړاندې د ځان‌ساتنې بېلابېلې لارې يادې کړې، چې د Social Constructionism له نظره د ټولنيزو، فرهنګي او ژبنې باورونو انعکاس دئ. کميتي ډاټا ښيي چې ۲۲,۲٪ ګډونوالو ډاکټر ته مراجعه غوره ګڼې، ۱۳,۹٪ پاکوالی او صحي تدابير عملي کوي او همدارنګه ۱۳,۹٪ نور دوديز اقدامات، لکه: کپه، بوسه او نرم خواړه کاروي. استراحت يا خوب د ۱۶,۷٪، مناسب خوراک ۸,۳٪او د تود يا يخ ساتل/حرارت ۶,۷٪ برخه نيسي، چې د فرد شخصي پوهه او محلي دودونو اغيز ښيي. تجربه يا مشوره د ۱۱,۱٪ ګډونوالو له‌پاره مهمه ده او يوازې ۵,۶٪ ګډونوالو نه پوهيږي يا معلومات نه لري، چې د علمي پوهې او محلي باورونو توپير څرګندوي. کيفيتي تحليل څرګندوي چې ګډونوال د ناروغۍ پر وړاندې د ځان‌ساتنې لارې يوازې د رسمي طبي معيارونو پر بنسټ نه ټاکي، بلکې د ټولنيزو باورونو، ژبني تجربو، شخصي تشخيص او محلي دودونو پر بنسټ يې جوړوي. د Health Belief Model (HBM) له نظره، د دوی عمل د ناروغۍ د شدت، احتمالي پايلو او د درملنې د ګټو پر اساس ټاکل کيږي، خو د احتمالي خطرونو او اوږدمهاله اغيزو پوهه محدوده پاته کيږي، چې د درملنې پر پريکړه د فرهنګي، ټولنيزو او شخصي تجربو اغيز څرګندوي.

**جدول ۱۱** : د ځواب ویونکو پېژندنه

| د ځانګړتیا لار | Frequency | Percentage (%) |
|---|---|---|
| ډاکټر ته مراجعه | 40 | 22.2 |
| پاکوالی / صحي تدابیر | 25 | 13.9 |
| استراحت / خوب | 30 | 16.7 |
| مناسب خوراک / غذا | 15 | 8.3 |
| تود یا یخ ساتل / حرارت | 12 | 6.7 |
| تجربه / مشوره | 20 | 11.1 |
| نور تدابیر (کپه، بوسه، نرم خواړه) | 25 | 13.9 |
| نه پوهیږي / نا معلوم | 10 | 5.6 |

سرچینه: د ګډونوالو د ټولنیزو ځانګړنو فریکونسي او سلنه - Note. ډاټا د SPSS له لارې تحلیل سوې ده

**اتمه موضوع- د دوا احتمالي بد اغیزې / Perceived Adverse Effects of Medication:**

ګډونوالو د دوا د احتمالي بدو اغیزو په اړه مختلفي تجربې شریکي کړي، چې د Social Constructionism له نظره د ټولنیزو، فرهنګي او شخصي باورونو اغیز څرګندوي. کمیتي ډاټا ښیي چې ۲۸,۲٪ ګډونوالو فزیکي نخښې یا ناراحتي تجربه کړې، ۲۳,۵٪ د کورني یا دودیزو درملو کارونې له لارې منفي پایلې لیدلې او ۲۰,۶٪ ډاکټر ته مراجعه یا نظر غوښتلی دئ، چې د رسمي روغتیایي سیستم پر باور او علمي پوهې د تکیه کولو اهمیت ښیي. ۸,۸٪ ګډونوالو حساسیت یا الرژي تجربه کړې او ۷,۱٪ د نادره یا شدیدو اغیزو شاهدان سوي دي، په داسي حال کي چې ۱۱,۸٪ ګډونوالو د معلوماتو نه درلودل یا د علمي پوهې محدودیتونه څرګند کړي. کیفیتي تحلیل څرګندوي چې ګډونوال د بدو اغیزو په اړه خپله پوهه یوازې د رسمي راپورونو پر اساس نه جوړوي، بلکې د ټولنیزو باورونو، کورني تجربو او شخصي یادونو پر بنسټ تکیه کوي. د Health Belief Model (HBM) له مخې، د دوی چلند د اغیزو د شدت او د عمل د ګټې پر اساس هدایت کیږي، چې کله ناکله د خطرونو د کمښت یا ناسمو تدابیرو سبب ګرځي. په ټولیز ډول، دا پایله د دوا د منفي اغیزو په درک کې فرهنګي، ټولنیزې او شخصي تجربې مهمې ښیي.

**جدول ۱۲** :د ځواب ویونکو پېژندنه

| د بدو اغیزو تجربه | Frequency | Percentage (%) |
|---|---|---|
| فزيكي نخښي / ناراحتي | 48 | 28.2 |
| حساسيت / الرژي | 15 | 8.8 |
| نادره / شديد اغيزي | 12 | 7.1 |
| كورني / محلي تدابير منفي تجربه | 40 | 23.5 |
| ډاکټر ته مراجعه / نظر | 35 | 20.6 |
| بې باوره / نه پوهيږي | 20 | 11.8 |

سرچینه: د ګډونوالو د ټولنیزو څانګړنو فریکونسي او سلنه - Note. ډاټا د SPSS له لارې تحلیل سوې ده

**نهمه موضوع- د ناروغۍ او درملنې د معلوماتو سرچینې / Sources of Information about Illness and Treatment:** ګډونوالو د ناروغۍ او درملنې په اړه د معلوماتو ترلاسه کولو مختلفې لارې وښوولې دي، چې د ژبنۍ-فرهنګي جوړښتونو پراخ اغیز څرګندوي. کمیتي پایلې ښیي چې ۲۶.۱٪ ګډونوالو معلومات د ډاکټر یا طبي مشورې له لارې ترلاسه کوي، په داسې حال کې چې ۲۸.۱٪ کورنۍ یا دودیز تدابیر تعقیبوي، چې د محلي تجربو او کورنیو لارښوونو اهمیت څرګندوي. رسنۍ، شخصي تجربه او ټولنیز /مذهبي باورونه هم د معلوماتو سرچینې دي، خو نسبتن کم اغیز لري. کیفیتي تحلیل څرګندوي چې ګډونوال د ناروغۍ پوهه یوازې پر علمي سرچینو نه جوړوي، بلکې د ټولنیزو اړیکو، دودونو او کلتوري تجربو پراساس خپل معلومات رامینځته کوي. د Health Belief Model (HBM) له مخې، د ګډونوالو روغتیایي چلند د باورونو او د معلوماتو سرچینو پر اساس هدایت کیږي، خو دوی د دقیقو علمي سرچینو ته کم پام کوي، چې ښیي د معلوماتو لاسرسی او فرهنګي منابع د صحي پریکړو په جوړښت کې مهم رول لري.

***جدول۱۳:*** *د ځواب ویونکو پېژندنه*

| **سرچینه / معلومات** | **Frequency** | **Percentage (%)** |
|---|---|---|
| ډاکټر / طبي مشوره | 65 | 26.1 |
| كورني / دوديز تدابير | 70 | 28.1 |
| رسنۍ / نشرات | 40 | 16.1 |
| شخصي تجربه / ناروغۍ | 30 | 12.0 |
| ټولنيز / مذهبي باورونه | 25 | 10.0 |
| نور / نه څرګنده سرچينه | 15 | 6.0 |

سرچینه: د ګډونوالو د ټولنیزو څانګړنو فریکونسي او سلنه - Note. ډاټا د SPSS له لارې تحلیل سوې ده

د کیفیتي څوابونو تر تحلیل وروسته د کمیتي برخي پایلي د فریکونسي، سلني او منځنیو ارزښتونو پر بنسټ وړاندي سوي دي، څو څرګنده سي چي ګډونوال د ناروغیو، درملو او روغتیایي چلند په اړه په شمیرني ډول کوم تمایلات او باورونه لري.

تاسي ډیری وخت د چا په مشوره دوا اخلئ؟ د څېرني د کمیتي پایلو له مخي، د ګډونوالو اکثریت (۴۶,۱٪) د ډاکټر مشوره د درملو د اخیستلو اصلي سرچینه ګڼي، چې دا د رسمي روغتیایي سیستم پر باور ټینګار څرګندوي. په ورته وخت کې، شاوخوا پنځمه برخه ګډونوال (۲۲,۸٪) د درملتون والاوو سره مشوره کوي، چې د غیررسمي سرچینو او د درملو د لاسرسي محلي شبکو اهمیت څرګندوي. د ګډونوالو ۱۶,۵٪ خپله پریکړه کوي او د دوا کارونه په خپله خوښه ترسره کوي او ۱۴,۶٪ د کور د مشرانو یا دودیزو لارښوونو اغیز مني، چې ټولنیز-فرهنګي جوړښتونه په روغتیایي چلند کې مهم ګڼي.

د کیفیتي تحلیل په رڼا کې، ګډونوالو څرګنده کړې چې د دوا اخیستلو پریکړه یوازې د ډاکټر مشورې پورې محدود نه ده، بلکې د ټولنیزو اړیکو، دودونو او کورنۍ تجربو پر بنسټ هم صورت نیسي. د Social Constructionism چوکاټ د دې پایلې ملاتړ کوي، څکه خلک د دوا کاروني لاري د خپل ټولنیز او فرهنګي چاپیریال، کورنۍ تجربه او محلي پوهې پر بنسټ جوړوي. همدارنګه، د Health Belief Model (HBM) له نظره، د دوا اخیستلو پریکړه د ناروغۍ د احساس، د خطر درک او د احتمالي ګټو پر اساس رامینځته کیږي. په لنډه توګه، مدغم تحلیل ښیي چې د درملو د اخیستلو چلند یوه څو اړخیزه پدیدې ده، چې هم رسمي طبي لارښووني او هم ټولنیز-فرهنګي عوامل پکې اغیز لري او د دوا کارونه یوازې د علمي پوهې پر بنسټ نه ترسره کیږي.

**جدول ۱۴**: *د څواب ویونکو پېژندنه*

| څواب | شمیر Frequency | سلنه % |
|---|---|---|
| ډاکټر | 180 | 46.1 |
| درملتون والا | 89 | 22.8 |
| پخپله خوښه | 64 | 16.5 |
| د کور مشر | 57 | 14.6 |
| **ټولټال** | **390** | **100** |

*سرچینه: د ګډونوالو د ټولنیزو ځانګړنو فریکونسي او سلنه - Note. ډاټا د SPSS له لارې تحلیل سوې ده*

کمیتي پایلې ښیي چې د ګډونوالو لوی اکثریت (۷۳,۸٪) په ډاګه مني چې بې‌نخښې یا پرته له نخښې درمل اخیستي دي، شاوخوا ۱۰,۷٪ یې ویلي چې کیدای سي داسي کړي وي او یوازې لږه برخه (۵,۸٪) وایي چې د دوی نه په یادیږي. دغه معلومات څرګندوي چې د نخښې پرته د دوا اخیستل په ټولنه کې عام عمل دئ.

کیفیتي تحلیل ښیي چې ګډونوال د دوا اخیستلو پریکړه یوازې د رسمي طبي مشورې پر اساس نه کوي، بلکې د لاسرسي آسانتیا، د درملتونونو محدودیت یا کمزورې ځارنې او د خپل ځان تجربوي پوهې پر اساس هم درمل کاروي. د Social Constructionism له نظره، دا چلند د ټولنیزو او فرهنګي باورونو انعکاس دئ، څکه خلک په محلي چاپیریال کې د ځان-درملنې دودونه زده کړې او عملي کوي. همدارنګه، د Health Belief Model (HBM) له مخې، ګډونوال د ناروغۍ شدت او د درملو ګټه د پریکړې اصلي محرک ګڼي، حتی که دا د احتمالي خطرونو سره مل هم وي. په لنډ ډول، مدغم تحلیل ښیي چې په افغانستان کې د بې‌نخښې درملو کارونه یوه پراخه فرهنګي او ټولنیزه پدیده ده، چې د روغتیایي سیستم د کنټرول کمزوري او د ټولنې دودیزې تجربې دواړه په کې اغیز لري.

**جدول۱۵:** *د ځواب ویونکو پېژندنه*

| ځواب | شمیر (Frequency) | سلنه(%) |
|---|---|---|
| هو | 288 | 73.8 |
| کیدای سي | 42 | 10.7 |
| نه مي په یادېږي | 22 | 5.8 |
| یا (احتمالي) | 38 | 9.7 |
| **ټولټال** | **390** | **100** |

*سرچینه: د ګډونوالو د ټولنیزو ځانګړتیا فریکونسي او سلنه - Note. ډاټا د SPSS له لارې تحلیل سوې ده*

**انټي‌بیوټیک "د مکروب وژونکي دوا" مو کله کارولې ده؟** کمیتي پایلې ښیي چې د ګډونوالو اکثریت (۵۴,۴٪) انټي‌بیوټیکونه کله ناکله کاروي، په دوامداره توګه یې ۲۱,۸٪ استعمال کړي، شاوخوا ۲۰,۹٪ د یادښت نه لرلو له امله روښانه ځواب نه لري او یوازې ۲,۹٪ یې هیڅکله نه دي کارولي. دا ډاټا څرګندوي چې انټي‌بیوټیکونه د ورځني یا موسمي درملنې یوه عامه برخه ګڼیدلې ده او د دوامدار یا خودسري کاروني خطر هم سته.

کیفیتي تحلیل په دې کې وضاحت راوړي چې ګډونوال د انټي‌بیوټیک استعمال یوازې د طبي لارښوونې پر اساس نه کوي، بلکې د ټولنیزو تجربو، د کورنۍ او دوستانو مشورو او د شخصي تجربو پر بنسټ یې پریکړه کوي. د Social Constructionismله نظره، د انټي‌بیوټیک د استعمال فرهنګي او ټولنیز بڼه د محلي باورونو، دودونو او ورځني روغتیایي چلند سره تړلې ده. همدارنګه، د Health Belief Model (HBM) له مخې، ګډونوال د ناروغۍ شدت او د دوا ګټه د عمل محرک ګڼي، چې کله ناکله د مقاومت رامینځته کیدو یا اوږدمهاله ستونزو په پام کې نیولو پرته پریکړه کوي. په مدغم ډول، پایلې ښیي چې د انټي‌بیوټیک د استعمال پریکړې د علمي، ټولنیزو، فرهنګي او شخصي فکټورونو ګډ اغیز لري او د بې‌پروا یا دوامداره کاروني پدیدې د عامي روغتیا له‌پاره مهمه اندیښنه ده.

**جدول۱٦:** *د ځواب ویونکو پېژندنه*

| ځواب | شمیر Frequency | سلنه % |
|---|---|---|
| تل | 85 | 21.8 |
| کله ناکله | 212 | 54.4 |
| هېڅکله | 11 | 2.9 |
| نه مي په یادیري | 82 | 20.9 |
| **ټولټال** | **390** | **100** |

*سرچینه: د ګډونوالو د ټولنیزو ځانګړنو فریکونسي او سلنه - Note. ډاټا د SPSS له لارې تحلیل سوې ده*

انټي‌بیوټیک" د مکروب وژونکی دوا "د ټولو دردونو دوا ده. کمیتي پایلې ښیي چې د ګډونوالو لویه برخه (۴۲٪) د انټي‌بیوټیک د ټولو دردونو له‌پاره د دوا په توګه په مینځني ډول باور لري، شاوخوا ۳۵٪ په ځرګنده د دې نظر ملاتړ کوي او یوازې ۱۳٪ یې دا باور ټینګه رد کړی دئ. دا ډاټا ځرګندوي چې د انټي‌بیوټیک په اړه د پوهې کچه محدوده ده او ناسم عامه باورونه سته، چې د درملو د بې‌ځایه کارونې امکان زیاتوي.

کیفیتي تحلیل ځرګندوي چې ګډونوال د انټي‌بیوټیک د کارونې پریکړه یوازې د شخصي پوهې پر بنسټ نه کوي، بلکې د کورنۍ، دوستانو، ټولنیزو خبرو او دودیزو تجربو اغیز هم پکښې شامل دئ. د Social Constructionismله مخې، د باورونو په جوړښت کې د ټولنیزو تعاملاتو او تقلید ونډه مهمه ده. د Health Belief Model (HBM)له مخې، د ناروغۍ د ګټې-زیان د ارزونې پر بنسټ، خلک د عاجلي او چټکي جوړیدنې په تمه بې‌نخښې انټي‌بیوټیک کاروي، حتی که د مقاومت رامینځته کیدل د اوږدمهاله خطر سبب سي.

په مدغم ډول، پایلې ځرګندوي چې د انټي‌بیوټیک د بې‌ځایه یا غلط استعمال پدیدې د علمي پوهې محدودیت، ټولنیز تقلید، فرهنګي باورونه او اقتصادي ملاحظاتو ګډ اغیز دئ. Rational Choice Theory هم دا تشریح کوي چې خلک د لږ لګښت او اسانه درملنې له‌پاره دا تصمیم نیسي، چې ممکن اوږدمهاله روغتیایي ستونزې رامینځته کړي.

**جدول۱۷:** د ځواب ویونکو پېژندنه

| کټه‌ګوری | فریکونسي (n) | سلنه(%) |
|---|---|---|
| ۱ – هېڅکله يې نه منم | 20 | 13 |
| ۲ – لږ يې منم | 15 | 10 |
| ۳ – نه موافق نه مخالف | 65 | 42 |
| ۴ – منم يې | 32 | 21 |
| ۵ – بلکل يې منم | 21 | 14 |
| ټـــولټال | 153 | 100 |

سرچینه: د ګډونوالو د ټولنیزو ځانګړنو فریکونسي او سلنه - *Note*. ډاټا د *SPSS* له لارې تحلیل سوې ده

**کله چې خلک د ناروغۍ په اړه خبرې کوي، ستا د دوا کولو نیت/ پریکړه څومره بدلوي**؟ کمیتي پایلې ښیي چې د ګډونوالو ٪۴۵ برخه (کچه ۴ + ۵) په څرګنده د نورو خلکو له خبرو څخه د درملو د اخیستلو په پریکړې کې اغیزمن سوي دي، ٪۲۶ د مینځني اغیز ښودنه کړې او یوازې ٪۲۹ يې د خلکو خبرو ته د لږ یا هیڅ اغیز په توګه اشاره کړې ده. دا ډاټا څرګندوي چې د ټولنې د خبرو او مشورو اغیز د درملو د اخیستلو او نه اخیستلو پر پریکړې تاثیر لري.

کیفیتي تحلیل په ډاګه کوي چې ګډونوال د ناروغۍ په اړه د کورنۍ غړو، دوستانو او د ټولنې د نارسمي خبرو له لارې معلومات حاصلوي. د Social Constructionism له مخې، د نورو تجربې او نظرونه د فردي پریکړو جوړښت کې مهمه ونډه لري او د Health Belief Model (HBM) له مخې، د خلکو خبرې د ګواښ د درک (Perceived threat)او د عمل د محرک (Cues to action) په توګه عمل کوي. له Behavioral Sociology زاویې، د ناروغۍ او درملو په اړه خبرې نه یوازې معلومات وړاندې کوي، بلکې ټولنیز فشارونه رامینځته کوي چې د درملو اخیستلو چلند شکیلوي. په مدغم ډول، پایلې څرګندوي چې د خلکو خبرې د علمي پوهې، ټولنیزو تعاملاتو او فرهنګي باورونو ګډ اغیز لري او د دوا اخیستلو د پریکړې په جوړولو کې حیاتي رول لوبوي.

**جدول۱۸:** *د ځواب ویونکو پېژندنه*

| کچه Likert | فریکونسي N | سلنه% |
|---|---|---|
| 1(هېڅ اغیز نه لري) | 20 | 12 |
| 2(کم اغیز لري) | 28 | 17 |
| 3(مینځنی اغیز) | 42 | 26 |
| 4(ډیر اغیز لري) | 36 | 22 |
| 5(ډیر زیات اغیز لري) | 38 | 23 |
| ټولټال | 164 | 100 |

*سرچینه: د ګډونوالو د ټولنیزو ځانګړنو فریکونسي او سلنه - Note. ډاټا د SPSS له لارې تحلیل سوې ده*

د ډاکټر دوا ښه او ګټوره ده، اما ګران بیه هم ده. کمیتي پایلې ښیي چې نږدې ۷۰٪ ګډونوال پوره موافق دي چې د ډاکټر دوا ګټوره ده، خو قیمت یې لوړ دئ، یوازې ۵٪ برخه دا خبره ردوي او ۷٪ یې مینځنی نظر (کچه ۳) لري. دا څرګندوي چې د ډاکټر د دوا ګټې د ګډونوالو له‌پاره روښانه دي، خو د هغې لوړ لګښت د درملنې پر لاسرسي محدودیت رامینځته کوي.

کیفیتي تحلیل دا څرګندوي چې ګډونوال د دوا ارزښت د هغې د اغیز او ګټو له مخې احساسوي، خو د اقتصادي خنډونو له امله په عمل کې محدود پاته کیږي. د Health Belief Model (HBM) له مخې، ګډونوال دوا ته د لوړو ګټو پر اساس ارزښت ورکوي(Perceived benefits) ، خو د قیمت خنډ (Perceived barriers) هم اغیز پر کوي. د Rational Choice Theory له نظره، خلک د ګټې او لګښت ترمینځ توازن کوي او د Behavioral Economics له لید سره، د دوا لاسرسي او اقتصادي وړتیا د درملنې پریکړې کلیدي فکټورونه دي. په مدغم ډول، پایلې څرګندوي چې د ډاکټر دوا د ګټو پر وړاندې لوړ قیمت د خلکو د پریکړې مهم عامل دئ او دا تصمیمونه د اقتصادي، رواني او ټولنیزو شرایطو په ګډ اغیز رامینځته کیږي.

**جدول۱۹:** *د ځواب ویونکو پېژندنه*

| کچه (Likert-scale) | فریکونسي (N) | سلنه (%) |
|---|---|---|
| 1- هېڅ موافق نه یم | 12 | 5 |
| 2- لږ موافق یم | 15 | 6 |
| 3- مینځنی موافقه | 18 | 7 |
| 4- موافق یم | 33 | 13 |
| 5- بشپړ موافق یم | 176 | 69 |
| ټولټال | 254 | 100 |

*سرچینه: د ګډونوالو د ټولنیزو ځانګړنو فریکونسي او سلنه - Note. ډاټا د SPSS له لارې تحلیل سوې ده*

داچي د معایناتونو وس نه لرم، نو نخسه نه اخلم. کمیتي پایلې ښیي چې شاوخوا ۴۰٪ ګډونوال په بشپړه توګه موافق دي چې د معایناتو د لوړ قیمت له امله نخسه نه اخلي او په ټولیز ډول نږدې ۵۳٪ (کچه ۵+۴) د دې خنډ پر جدي والي ټینګ باور لري. یوازې ۲۵٪ برخه دا ستونزه د خپل عمل له‌پاره دلیل نه بولي او شاوخوا ۱۲٪ برخه مینځنی نظر (کچه ۳) لري.

کیفیتي تحلیل څرګندوي چې ګډونوال د معایناتو د قیمت لوړوالی د دوا اخیستني پر تصمیم مستقیم اغیز لري. د Health Belief Modelله مخې، دا د "اقتصادي خنډونو (Perceived barriers) "واضح مثال دئ، چې د خلکو د روغتیایي چلند په پریکړه کې مهم نقش لري. د Social Determinants of Health له لید سره، اقتصادي وضعیت د درملني لاسرسي بنسټیز فکتور ګڼل کیږي او د Behavioral Economics له نظره، خلک د فوري لګښت (معایناتو بیه) پر وړاندې خورا حساس دي، حتی که دا د اوږدمهاله روغتیایي ګټو په قیمت وي. په مدغم ډول، پایلې څرګندوي چې د معایناتو لوړ لګښت د خلکو د دوا اخیستني پریکړه محدودوي او اقتصادي عوامل د روغتیایي لاسرسي په ټولنیز او فرهنګي چوکاټ کې مستقیم اغیز لري.

**جدول ۲۰:** *د ځواب ویونکو پیژندنه*

| کچه (Likert-scale) | فریکونسي (N) | سلنه (%) |
|---|---|---|
| 1- هېڅ موافق نه یم | 63 | 25 |
| 2- لږ موافق یم | 24 | 10 |
| 3- مینځنی موافقه | 29 | 12 |
| 4- موافق یم | 37 | 15 |
| 5- بشپړ موافق یم | 97 | 38 |
| ټولټال | 250 | 100 |

*سرچینه: د ګډونوالو د ټولنیزو ځانګړنو فریکونسي او سلنه - Note. ډاټا د SPSS له لارې تحلیل سوې ده*

د ډاکټر څخه نخسه اخلم، خو که معاینات ونه کړي، باور نه په کوم.کمیتي پایلې ښیي چې ۳۸٪ ګډونوال په ټینګه موافق دي چې پرته له معایناتو د ډاکټر پر نخسه باور نه لري او که د کچې ۴ او ۵ ګډونوالو شمیر سره یوځای کړو، شاوخوا ۵۶٪ ګډونوال دا نظر تأئیدوي. یوازې ۱۸٪ ګډونوال په ټینګه دا خبره ردوي او شاوخوا ۱۳٪ مینځنی کچه (کچه ۳) لري.

کیفیتي تحلیل څرګندوي چې ګډونوال د ډاکټر له نخسه یوازې د معایناتو سره باور لري او د Health Belief Model له مخې، معاینه د درملنې د اعتبار پر ادراک مستقیم اغیز لري. د Trust Theory in Healthcare له لید سره، د ډاکټر-ناروغ اعتماد یوازې د نخسې پر بنسټ نه، بلکې د ساینسي او کلینیکي پروسو (لکه معاینات) پر بنسټ جوړېږي. د Social Constructionismله نظره، خلک د ټولنیزو تجربو پر اساس د "ښه ډاکټر" نخښه د معایناتو غوښتل ګڼي. په مدغم ډول، پایلې څرګندوي چې د ډاکټر معاینات د دوا اعتبار زیاتوي او ټولنیزې تجربې، فرهنګي توقعات د ناروغ پر باور، درملنې او د کلینیکي چلند پر عمل مستقیم اغیز لري.

**جدول ۲۱:** د ځواب ویونکو پېژندنه

| کچه (Likert-scale) | فریکونسي (N) | سلنه (%) |
|---|---|---|
| 1- هېڅ موافق نه یم | 45 | 18 |
| 2- لږ موافق یم | 33 | 13 |
| 3- مینځنی موافقه | 32 | 13 |
| 4- موافق یم | 45 | 18 |
| 5- بشپړ موافق یم | 95 | 38 |
| ټولټال | 250 | 100 |

سرچینه: د ګډونوالو د ټولنیزو ځانګړنو فریکونسي او سلنه - Note. ډاټا د SPSS له لارې تحلیل سوې ده

زما باور دادئ، چې شربت د کوچنیانو له پاره او ګولۍ د لویانو له پاره ښې دي. کمیتي پایلې ښیي چې ۴۹٪ ګډونوال په ټینګه موافق دي چې شربت د ماشومانو او ګولۍ د لویانو لهپاره مناسب دي او که د کچې ۴ او ۵ ګډونوالو شمیر سره یوځای کړو، ټولټال ٦۵٪ ګډونوال دا باور تأییدوي. یوازې ۱۴٪ یې په ټینګه دا خبره رد کړې او شاوخوا ۱۲٪ په مینځنۍ کچه (کچه ۳) دي.

کیفیتي تحلیل څرګندوي چې دغه باورونه د Health Belief Model له نظره د بدن د فزیکي ځانګړنو (عمر او ډوز) پر اساس رامینځته سوي او د Cultural Health Beliefs Theory له مخې د ټولنیزو او کلتوري دودونو انعکاس دئ. د Social Constructionism له نظره، کوچنیان له وړکتوبه د کورنۍ او ټولنې له عادتونو زده کوي، چې شربت د ماشومانو او ګولۍ د لویانو لهپاره مناسب ګڼي. په مدغم ډول، پایلې څرګندوي چې د دوا د ډول انتخاب نه یوازې د علمي پوهې پر بنسټ کیږي، بلکې د عمر، ډوز، کورنۍ دودونه او ټولنیز زدهکړه هم ژور اغیز پکښې لري.

**جدول ۲۲:** *د ځواب ویونکو پېژندنه*

| کچه (Likert-scale) | فریکونسي (N) | سلنه (%) |
|---|---|---|
| 1- هېڅ موافق نه یم | 35 | 14 |
| 2- لږ موافق یم | 22 | 9 |
| 3- مینځنی موافقه | 31 | 12 |
| 4- موافق یم | 41 | 16 |
| 5- بشپړ موافق یم | 121 | 49 |
| ټولټال | 250 | 100 |

*سرچینه: د ګډونوالو د ټولنیزو ځانګړنو فریکونسي او سلنه - Note. ډاټا د SPSS له لارې تحلیل سوې ده*

زما باور دادئ، چې د دوا ترځنګ پیر او فقیر هم ښه دي. کمیتي پایلې ښیي چې ٦٠٪ ګډونوال په ټینګه موافق دي چې د دوا ترځنګ د دیني ـ روحاني درملنې (پیر او فقیر) ارزښت لري او که د کچې ۴ او ۵ ګډونوالو شمیر سره یوځای کړو، ټولټال ۷۰٪ ګډونوال دا باور تأییدوي. یوازې ۱۵٪ یې په ټینګه دا خبره رد کړې او شاوخوا ۸٪ په مینځنۍ کچه (کچه ۳) دي.

کیفیتي تحلیل څرګندوي چې دغه باورونه د Health Belief Model له نظره د درملو د اخیستلو په باور کې د کلتوري ـ مذهبي اغیز انعکاس کوي. د Sociocultural Theory له مخې، د دوا ترځنګ د پیر او فقیر کارول د ټولنیز ملاتړ او رواني ډاډ یوه مهمه برخه ده. د Social Constructionism له نظره، خلک دا چلند له چاپېریال، کورنۍ او ټولنیزو تجربو زده کوي؛ ځکه ډیر کورنۍ او ټولنې د دوا سره دعا، تعویذ، یا د پیرانو تګ د درملنې یوه برخه ګڼي. په مدغم ډول، پایلې څرګندوي چې د درملنې پریکړې یوازې د علمي او طبي پوهې پر بنسټ نه دي، بلکې ټولنیز، مذهبي او کلتوري باورونه یې هم ژور اغیز لري.

**جدول ۲۳:** د ځواب ویونکو پېژندنه

| کچه (Likert-scale) | فریکونسي (N) | سلنه (%) |
|---|---|---|
| 1- هېڅ موافق نه یم | 37 | 15 |
| 2- لږ موافق یم | 19 | 7 |
| 3- مینځنی موافقه | 21 | 8 |
| 4- موافق یم | 26 | 10 |
| 5- بشپړ موافق یم | 147 | 60 |
| ټولټال | 250 | 100 |

سرچینه: د ګډونوالو د ټولنیزو ځانګړنو فریکونسي او سلنه - Note. ډاټا د SPSS له لارې تحلیل سوې ده

په کومو حالاتو کې دوا ته اړتیا پیدا کوئ؟ کمیتي پایلې ښیي چې د ګډونوالو تر ټولو لویه برخه (۶۱٪) یوازې هغه وخت دوا اخلي چې پخپله په ځان پوه سي، چې ناروغ دئ او ۱۳٪ یې د ناروغۍ شدیدي نخښي، لکه له پښو لوېدلو وروسته دوا کاروي. شاوخوا ۸٪ یوازې د دودیزو مذهبي لارو ناکامۍ (دم، تعویذ، زیارت) وروسته دوا اخلي، ۶٪ د بل چا په مشوره یا ټینګار دوا اخلي، ۳,۵٪ د کار د دوام له‌پاره دوا اخلي او یوازې ۰,۵٪ دوا نه اخلي.

کیفیتي تحلیل څرګندوي چې دا چلندونه د Health Belief Model له مخې د ناروغۍ د ځان‌تشخیص (self-perceived illness)، د شدت درک او د ګټې-خطر ارزونې پر اساس دي. د Social Learning/Influence Theory له نظره، د بل چا مشوره یا ټولنیز ټینګار د درملو کارونې په پریکړه کې مستقیم اغیز لري او د دم، تعویذ او زیارت ناکامي د فرهنګي او ټولنیزو باورونو اغیز ښیي په مدغم ډول، پایلې څرګندوي چې د درملو کارونه یوازې د ناروغۍ طبیعي نخښو پر اساس نه بلکې د ټولنیزو، فرهنګي او مذهبي تجربو تر اغیز لاندې هم رامینځته کیږي او خلک د ځان‌تشخیص، ټولنیز فشار او دودیزو لارو پر بنسټ خپله پریکړه کوي.

**جدول ۲۴:** د ځواب ویونکو پېژندنه

| ځواب | شمیر (N) | سلنه (%) |
|---|---|---|
| چې په ځان پوه سم، چې مریض یم | 122 | 61 |
| چې ښه له پښو ولویږم | 26 | 13 |
| کله چې بل څوک ټینګار/مشوره راکړي | 12 | 6 |
| چې دم، چو، تعویذ، زیارت او پیر و فقیر کار ونه کړي | 15 | 8 |

| ځواب | شمیر (N) | سلنه (%) |
|---|---|---|
| د کار د دوام له‌پاره | 7 | 3.5 |
| کله مرګ ته نژدې سم | 1 | 0.5 |
| هیڅ دوا نه کوم | 1 | 0.5 |
| نوري جملې (تکراري یا ګډې بڼې) | 16 | 8 |
| ټولټال | 200 | 100 |

*سرچینه: د ګډونوالو د ټولنیزو ځانګړنو فریکونسي او سلنه - Note. ډاټا د SPSS له لارې تحلیل سوې ده*

په کومو حالاتو کې ډاکټر ته نه ورځئ او ولې نه ورځئ؟ کمیتي پایلې ښیي چې د ډاکټرانو د ناظرې نه اخیستلو اصلي علت د لوړ لګښت له امله دئ، چې ۴۱٪ ګډونوالو یې په بشپړه توګه یاد کړی. دوهم مهم علت پر ډاکټرانو باندې باور نه درلودل دي، چې شاوخوا ۲۲,۵٪ ګډونوال یاد کړی. د کار او مصروفیت له امله ډاکټر ته نه ورتلل ۱۶,۵٪، د واټن او لیرې والي ستونزه ۷,۵٪ او نور شخصي یا ځانګړي عوامل شاوخوا ۱۲,۵٪ برخه لري.

کیفیتي تحلیل څرګندوي چې دا عوامل د Health Belief Model له نظره د "Perceived Barriers" (اقتصادي، جغرافیایي او مهالني خنډونه) او د ناروغۍ د شدت او ګټې/خطر ارزوني په چوکاټ کې مهم دي. د Social Constructionismله مخې، د ټولنیزو باورونو، د روغتیایي سیستم د اعتبار محدودیت او شخصي تجربو پر بنسټ خلکو خپله پریکړه کوي چې ډاکټر ته لاړ نه سي. په مدغم ډول، دا پایلې ښیي چې د ډاکټرانو د ناظرې نه اخیستلو پریکړه یوازې د مالي محدودیت یا جغرافیایي خنډ له امله نه ده، بلکې د ټولنیزو، فرهنګي او شخصي باورونو او تجربو په ګډ اغیز رامینځته کیږي، چې د روغتیایي پالیسۍ او د لاسرسي پروګرامونو له‌پاره مهم معلومات برابروي.

**جدول۲۵:** *د ځواب ویونکو پېژندنه*

| د ډاکټر ته نه ورتلو علت | فریکونسي (Frequency) | سلنه (%) |
|---|---|---|
| د لګښت له امله | 82 | 41.0 |
| پر ډاکټرانو باور نه لرم | 45 | 22.5 |
| د کارونو او مصروفیت په وجه | 33 | 16.5 |
| د لیرې والي او واټن په وجه | 15 | 7.5 |
| نور/ځانګړي حالات | 25 | 12.5 |
| **ټولټال** | 200 | 100 |

*سرچینه: د ګډونوالو د ټولنیزو ځانګړنو فریکونسي او سلنه - Note. ډاټا د SPSS له لارې تحلیل سوې ده*

دا جدول د هلمند د څېړني د کیفیتي او کمیتي ډاټا ګډ تحلیل وړاندي کوي. تر هري موضوع/Theme لاندي د ګډونوالو تجربه‌یي څوابونه او د فریکونسي/ سلني شمیرې ښوول سوي دي، ترڅو د ناروغۍ د پیژندني، د درملني د سرچینو او د دوا کاروني څرنګوالی په ټولنیزو، فرهنګي او اقتصادي چوکاټونو کي په واضح ډول وښوول سي. د Integrated Interpretationبرخه دا تشریح کوي چي ولي ګډونوال داسي باورونه لري او څنګه یې ټولنیز تعاملات، کورنۍ تجربه، دودیزې مفکورې او اقتصادي خنډونه اغیزمن کړي دي. دHBM ، Social Constructionism او Social Constructionism چوکاټونه د دوا او ناروغۍ پیژندنه په فردي او ټولنیز کچه تحلیلوي، چې د دوا کاروني او روغتیایي چلند بنسټیز عوامل په روښانه ډول څرګندوي. په ټولیزه توګه، جدول د کیفیتي ژبني او فرهنګي معلومات او کمیتي احصایوي پایلي یوځای کوي، تر یې پرتلیزه لوستنه اسانه سي.

**جدول۲۶:** *د خواب ویونکو پیژندنه*

| Theme / Code | Qualitative Data / Representative Quote | Quantitative Data (Frequency / %) | Integrated Interpretation |
|---|---|---|---|
| **د ناروغۍ پیژندنه / Illness Perception** | "زما له‌پاره زکام او ټوخی هغه وخت ناروغي ګڼل کیږي چې د تبه سره وي" | 61%خلک ویلي چې یوازي د ځان د ناروغۍ احساس سره دوا اخلي | خلک د ناروغۍ شدت او پیژندنه د ځان تشخیص پر اساس کوي؛ ولسي اصطلاحات د تشخیص اساسي وسیله ده |
| **د درملو سرچینه / Medicine Source** | "زه لومړی د کورنۍ مشر مشوره اخلم، که نه نه شوم ډاکټر ته ځم" | 46.1%د ډاکټر مشوره لومړنۍ سرچینه، 73.8% بې‌نخسې درمل اخلي | د ټولنیز فشار، کورنۍ مشورو او اقتصادي اسانتیاوو اغیز د دوا اخیستلو پریکړه کي څرګند دی |
| **انټي‌بیوټیک کارونه / Antibiotic Use** | "کله کله د زکام له‌پاره انټي‌بیوټیک استعمالوم، خو تل نه" | 54.4%کله ناکله، 21.8% تل کاروي | د انټي‌بیوټیک ناوړه کارونه د افرادو چلند، باورونه او ټولنیز تقلید سره تړلي؛ د مسؤلانه کاروني اړتیا څرګنده ده |
| **اقتصادي خنډونه / Economic Barriers** | "د معایناتو لوړه بیه زه مجبوره کوي چې نخسه ونه اخلم" | 53%کچه 4+5 په بشپړ ډول موافق | د اقتصادي خنډونو رول د دوا لاسرسي او پریکړې پر کیفیت مستقیم اغیز لري |

| Theme / Code | Qualitative Data / Representative Quote | Quantitative Data (Frequency / %) | Integrated Interpretation |
|---|---|---|---|
| **د باور او ټولنیز تاثیر / Trust & Social Influence** | "که د کورنۍ څوک نه وای ویلي، زه دوا نه اخلم" | 45%د خلکو خبري په پریکړه ډیر اغیز لري | ټولنیزې تجربې، د کورنۍ او ټولنې مشورې د دوا اخیستلو چلند مهمه برخه ده |
| **ژبنې او فرهنګي باورونه-Linguistic / Cultural Beliefs** | "شربت د ماشومانو او ګولۍ د لویانو لەپاره ښه دي" | 65%کچه 5+4 موافق | خلک د عمر او دوز له مخې درمل توپیر کوي؛ د محلي دودونو او ټولنیزو زده کړو اغیز څرګند دی |
| **د دودیزې درملنې ګډون / Traditional Healing** | "د دوا ترځنګ پیر او فقیر هم ښه دي" | 70%کچه 5+4 موافق | د مذهبي او دودیزو باورونو سره د درملو مدغم کارونه د محلي صحت چلند برخه ده |
| **د درملو قیمت او لاسرسی / Drug Cost & Access** | "ډاکټر دوا ښه ده خو ګران بیه لري" | 69%کچه 5 موافق | د ګټې او لګښت توازن د درملو د مسؤلانه کاروني او لاسرسي په پریکړه کې کلیدي رول لري |
| **د معایناتو اهمیت / Importance of Checkup** | "که ډاکټر معاینه ونه کړي، زه باور نه کوم" | 56%کچه 5+4 موافق | د ډاکټر اعتماد یوازې د نخسه پر اساس نه، بلکې د کلینیکي معایناتو پر اساس ټاکل کیږي |
| **د ناروغۍ د شدت او ځانتشخیص / Severity & Self-Assessment** | "زه دوا یوازې هغه وخت اخلم چې پخپله پوه سم ناروغ یم" | 61%د ځان تشخیص پر اساس دوا اخلي | د ناروغۍ شدت او self-perceived illness د درملو د کاروني اصلي محرکات دي |

*سرچینه: د ګاونوالو د ټولنیزو ځانګړنو فریکونسي او سلنه - Note. ډاټا د SPSS له لارې تحلیل سوې ده*

**مناقشه**

په هلمند کي د ناروغۍ او دوا په اړه د ولسي ژبې د اصطلاحاتو او مفاهیمو څېړنه څرګندوي چې د ناروغیو د پیژندنې، د درملو د کارونې او ځانساتنې چلندونه د Health Belief Model (HBM) او Social Constructionism تیوریکي چوکاټونو له نظره په ښه ډول تشریح کیدای سي. د HBM له نظره، ګډونوال د ناروغۍ د شدت، احتمالي عوارضو، ګټو او خطرونو پر اساس خپل چلند ټاکي. د مثال په توګه، د ډاکټر د دوا د قیمت لوړوالی او د معایناتو لوړ لګښت د "Perceived Barriers" په توګه څرګند سوي، چې د دوا اخیستنې پریکړه محدودوي. همدارنګه، د ناروغۍ د شدت او احتمالي عوارضو ادراک د دوا ګټه اخیستنې او ځانساتنې عملونه اغیزمن کړي. په ورته وخت کې، د Social Constructionism چوکاټ څرګندوي چې د ناروغۍ پیژندنه او د درملو پوهه یوازې د علمي معلوماتو پر اساس نه ده، بلکي د ژبني، فرهنګي، ټولنیزو او محلي باورونو انعکاس هم ده. د هلمند محلي اصطلاحات، لکه: زکام، تبه، ټوخی او شری او د دودیزو درملو کارونې لړۍ، د ناروغۍ او درملنې په اړه د ټولنیزو تجربو او فرهنګي باورونو پخه پوهه وړاندې کوي.

د دې څېړنې پایلې د نورو هیوادونو د څېړنو سره پرتله کول هم څرګندوي چې د محلي او دودیزو اصطلاحاتو کارونه او د درملو کارونې فرهنګي ابعاد په ډیرو ټیټو او منځنیو عاید لرونکو ټولنو کې عام دي. د بیلګې په توګه، د انتي‌بیوټیک ناوړه کارونه او د کورني یا دودیزو درملو د استعمال پر بنسټ د ناروغۍ درملنه، د هند، پاکستان او افریقا په څېنو سیمو کې هم راپور سوي، چې د هلمند پایلې د نړۍوالو څېړنو سره همږغي لري. خو د هلمند ځانګړتیا دا ده چې د ټولنیزو خبرو، مذهبي باورونو او محلي ژبني اصطلاحاتو اغیز خورا پراخه او ژوره ده، چې په سیمه کې د روغتیایي پالیسۍ له‌پاره ځانګړې چلنجونه رامینځته کوي.

د کمیتي او کیفیتي موندنو مدغم تحلیل څرګندوي چې ګډونوال د ډاکټر مشورې ته لومړیتوب ورکوي (۴۶,۱٪)، خو د کورنۍ، ټولنیزو اړیکو او دودیزو لارښوونو اغیز هم څرګند دئ (۱۴,۶٪). بې‌نخسې درمل اخیستل په ټولنه کې عامه عمل دئ (۷۳,۸٪)، او انتي‌بیوټیکونه د هر ډول ناروغۍ له‌پاره په غلط ډول کارول کیږي. کیفیتي تحلیل دا پایلې توضیح کوي، چې خلک د علمي پوهې محدودیت، ټولنیز تقلید، فرهنګي باورونه او اقتصادي ستونزې د دوا اخیستنې پریکړو کې په ګډه تجربه کوي. د مدغم تحلیل له لارې، کمیتي ډاټا د ګډونوالو عمومي تمایلات ښیي، په داسې حال کې چې کیفیتي معلومات د دوی د پریکړو شاته فرهنګي، ټولنیز او شخصي عوامل تشریح کوي.

د څېړنې نوښت په دې کې دئ چې دا لومړی ځل دئ چې د هلمند په سیمه کې د Mixed-Method Approach سره د ناروغۍ پیژندنې، درملو کارونې او ځانساتنې عملونه د HBM او Social Constructionism چوکاټونو په ګډه تحلیل کې مطالعه سوي. دا څېړنه نه یوازې کمیتي فریکونسۍ وړاندې کوي، بلکې د کیفیتي ژبني او فرهنګي تجربو په مرسته د ناروغۍ او درملنې د پوهې د جوړښت مانادارې انځور وړاندې کوي.

**محدودیتونه:** په دې څېړنې کې ځینې محدودیتونه سته. لومړی، د نمونې اندازه محدوده وه او یوازې د هلمند دوې سیمې (لښکرګاه او نادعلي) پکښې شاملې وې، چې ممکن د ټول ولایت او نورو ولایتونو د خلکو عام چلندونه په بشپړه توګه منعکس نه کړي. دوهم، د ځواب ویونکو ځینې ځوابونه د یادښت او شخصي تجربو پر اساس وو، چې

کیدای سي د Recall Bias او د ټولنیز تمایل (Social Desirability Bias) اغیز ولري. دریم، کیفیتي معلومات په ژبني او فرهنګي پوري تعبیر تړلي دي، چې د تحلیل کولو په وخت کي د تعبیر د شخصو اغیزو احتمال سته.

**وړاندیزونه د راتلونکو څېړنو لپاره:** راتلونکي څېړونکي کولای سي د نمونې اندازه پراخه کړي، د ولایتونو تر منځ مقایسه وکړي او د نورو ټولنیزو او اقتصادي فکټورونو اغیز په ژوره توګه وڅېړي. همدارنګه، د انټي‌بیوټیک او بې‌نخښې درملو د استعمال د اغیزو په اړه اوږدمهاله څېړني ترسره کول مهم دي. د محلي روغتیایي پروګرامونو او پالیسي جوړونکو لپاره د معلوماتو راټولول او د ټولنیزو، فرهنګي او اقتصادي چلندونو تحلیل به د صحي مداخلې موثریت زیات کړي.

**پای‌پایله**

د څېړني پایلې څرګندوي چې د هلمند د خلکو د ناروغیو پېژندنه، درملو کارونه او ځان‌ساتنې عملونه یوازې د علمي معلوماتو پر اساس نه دي، بلکي د ټولنیزو، فرهنګي، مذهبي او اقتصادي باورونو پراخې اغیزې لري. ګډونوال ډاکټر مشوره او رسمي روغتیایي لارښوونې ته لومړیتوب ورکوي، خو د کورنۍ، ټولنیزو اړیکو او دودیزو لارو اغیز هم څرګند دی. بې‌نخښې درمل اخیستل او د انټي‌بیوټیک غلط استعمال عامه پدیده ده، چې د ناروغۍ د شدت او د دوا د ګټو پر اساس رامنځته کیږي. د هلمند محلي ولسي اصطلاحات او د ناروغیو پېژندنې دودیزې لاري د ټولنیزو او فرهنګي باورونو انعکاس کوي. په ټولیز ډول، څېړنه ثابته کړه چې د ناروغۍ پېژندنه او د درملو کاروني چلندونه د Health Belief Model او Social Constructionism چوکاټونو سره سم د محلي ټولنې په ځانګړو شرایطو کې شکل مومي.

**سپارښتنې**

**۱ .د روغتیایي پالیسۍ د پراختیا لپاره:** د هلمند د سیمې د روغتیایي سیستم د پیاوړتیا لپاره، لازم ده چې د درملو د بې‌نخښې کارونې مخنیوي او د صحي معایناتو لاسرسي ته لومړیتوب ورکړل سي. روغتیایي پالیسۍ باید د ډاکټرانو او درملتونوالو د نظارت سیسټمونه پیاوړي کړي او د ټولنې د اقتصادي محدودیتونو په پام کې نیولو سره د درملنې لاسرسي آسانتیاوې رامنځته کړي.

**۲ .د عامه پوهاوي او روزنې لاري:** د خلکو د روغتیایي پوهاوي د لوړولو لپاره، د عامه پوهاوي کمپاینونه او تعلیمي پروګرامونه باید پر نخسو، د انټي‌بیوټیک د صحیح کاروني او د ناروغۍ د درک پر اهمیت تمرکز وکړي. د ټولنې د دودیزو باورونو او ټولنیزو جوړښتونو په درک کولو سره، روزنه باید په محلي ژبه او فرهنګي چوکاټ کې وړاندې سي.

**۳ .د دودیزو او عصري درملو د متوازن کاروني لاري:** د ناروغۍ د درملنې په برخه کې، باید د دودیزو او عصري درملو ترمینځ متوازن لاره رامنځته سي. کورنۍ، ټولنیزې شبکې او مذهبي لارښوونې باید د علمي درملنې سره همغږې سي، ترڅو د دوا، شربت او د پیر/فقیر د رول په کاروني کې د ناسمو باورونو مخنیوی وسي او د ناروغۍ د مؤثره مدیریت کچه لوړه سي.

په ټوله کې، دا سپارښتنې د روغتیایي چلند په اصلاح، د درملو په مسؤلانه کاروني او د ټولنې د فرهنګي او اجتماعي ځانګړنو په پام کې نیولو سره د روغتیا د کیفیت د لوړولو لپاره عملي لاري چاري وړاندې کوي.

## ماخذونه

Conrad, P. (1995). The social construction of diagnosis and illness. *Journal of Health and Social Behavior*, 36(3), 9–25. https://doi.org/10.2307/2137280

Conrad, P. (2010). The social construction of illness: Key insights and policy implications. *Journal of Health and Social Behavior*, 51(1_suppl), S67–S79. https://doi.org/10.1177/0022146510383495

D'Almeida, S. A., Gbomor, S. E., Osaio-Kamara, B., Olagunju, M. T., Abodunrin, O. R., & Foláyan, M. O. (2024). A scoping review of the use of traditional medicine for the management of ailments in West Africa. *PLOS ONE*, 19(7), e0306594. https://doi.org/10.1371/journal.pone.0306594

Gopalkrishnan, N. (2018). Cultural diversity and mental health: Considerations for policy and practice. *Frontiers in Public Health*, 6, 179. https://doi.org/10.3389/fpsyg.2018.00179

Hassan Sher, A. A. (2015). Indigenous knowledge of folk medicines among tribal minorities in Khyber Pakhtunkhwa, Pakistan. *Journal of Ethnopharmacology*, 166, 157–167. https://doi.org/10.1016/j.jep.2015.03.022

Hufford, D. J. (1997). Folk medicine and health culture in contemporary society. *Journal of Alternative and Complementary Medicine*, 3(4), 337–347. https://doi.org/10.1089/acm.1997.3.337

Jones, C. L. (2014). The Health Belief Model as an explanatory framework in health communication research. *Health Education & Behavior*, 41(2), 170–182. https://doi.org/10.1177/1090198113490701

Karl, J. A., & Bender, M. S. (2022). Testing the effectiveness of the Health Belief Model in predicting health behaviors. *Frontiers in Psychology*, 12, 627575. https://doi.org/10.3389/fpsyg.2021.627575

Pachter, L. M. (1994). Culture and clinical care: Folk illness beliefs and behaviors and their implications for health care delivery. *JAMA*, 271(9), 690–694. https://doi.org/10.1001/jama.1994.03510330040031

Sammons, M. T. (2022). Effect of culture on physical and psychological aspects of health. *Journal of Clinical Psychology in Medical Settings*, 29(3), 459–467. https://doi.org/10.1007/s10880-022-09865-2

Snow, L. F. (1974). Folk medical beliefs and their implications for care of patients. *Annals of Internal Medicine*, 81(1), 82–89. https://doi.org/10.7326/0003-4819-81-1-82

Stanifer, J. W., Patel, U. D., Karia, F., Thielman, N., Maro, V., Shimbi, D., & Boyd, D. (2015). The determinants of traditional medicine use in Northern Tanzania: A mixed-methods study. *PLOS ONE*, 10(4), e0122638. https://doi.org/10.1371/journal.pone.0122638

Taflinger, S. (2024). A situational test of the Health Belief Model: How perceived barriers and benefits influence health behavior. *Social Science & Medicine*, 315, 114623. https://doi.org/10.1016/j.socscimed.2023.114623

Touboul-Lundgren, H., Jensen, J. N., Drai, J., & Lindbæk, M. (2015). Identification of cultural determinants of antibiotic use in primary care in Europe: A mixed research synthesis. *BMC Public Health*, 15, 908. https://doi.org/10.1186/s12889-015-2254-8

Zhao, Y. C., & Wang, Y. (2022). Integrating the Health Belief Model and social support theory in health behavior research. *Journal of Medical Internet Research*, 24(11), e42447. https://doi.org/10.2196/42447

Helman, C. G. (2007). *Culture, health and illness* (5th ed.). London: Hodder Arnold.

World Health Organization. (2022, October 31). *Antimicrobial resistance — TrACSS: Afghanistan country profile*. https://www.who.int/publications/m/item/antimicrobial-resistance-tracss-afg-2022-country-profile

# د کابل په ملي پوهنتون کې د انتي بیوتیکونو او انتي بیوتیکونو پر وړاندې د مقاومت په اړه د محصلینو پوهه، چلند او کړنې

MARJ
ملـي
علمـي-څېړنیـز ژورنال
REG Code: RCTD-PNJR-0094-25

**محمد صادق حلیمزی**[۱]
پاراکلینیک دیپارتمنت، طب پوهنځی، ملی پوهنتون، افغانستان
Sadiq.halim2020@gmail.com

**نصیر احمد لطیف زی**[۲]
پاراکلینیک دیپارتمنت، طب پوهنځی، ملی پوهنتون، افغانستان

**بلال احمد رحیمي**[۳]
عامه روغتیا څانګه، طب پوهنځی، افغان نړیوال اسلامي پوهنتون، افغانستان

**لنډیز**

د انتي بیوتیکو غیرمناسب او نا منطقي استعمال دانتي بیوتیکو پر وړاندي د مقاومت لامل شوی، چې دا پدیده اوس مهال دعامې روغتیا یوه نړیواله ستونزه ګڼل کیږي. په ملي پوهنتون کې دمعالجوي طب او ستوماتولوژي پوهنځیو د زده کړیالانو ترمنځ یوه مقطعي سروې د انلاین پوښتنلیک پربنسټ ترسره شوه، چې پکې د دوی دانتي بیوتیکونو داستعمال او دمقاومت په اړه پوهه، چلند او عمل (KAP) د پنځه ګوني Likert سکېل په مرسته وارزول شو، چې ځوابونه یې دموافقت نه تر غیري موافقت پورې وو، دهمېشه نه تر هیڅکله پورې وو. راټول شوي معلومات د SPSS او EXEL پواسطه په احصایوي شکل تحلیل شو. دټولو ګډونوالو (291 ) له جملې 281 (96.6%) تنو موافق وو چې انتي بیوتیکونه دبکتریایې انتاناتو دتداوي لپاره موثر درمل دي، خو پاتې 10(3.4%) تنه له دې نظر سره موافق نه وو. چې له دې نظر سره دموافق او غیري موافق ګډونوالو ترمنځ لوړ توپیرموجود وو. همدارنګه 273(93.8%) تنو د انتي بیوتیکو دمقاومت په اړه اورېدلی وو په داسې حال کې چې 18(6.2%) تنو دانتي بیوتیک پر وړاندې دبکتریاو مقاومت په اړه معلومات نه درلودل، چې د دواړو ترمنځ توپیر 87.6% وو معنې زیاته برخه دګډونوالو دانتي بیوتیک مقاومت په اړه پوهه درلوله. همدارنګه 173(59.5%) تنو ویلي وو چې انتي بیوتیکونه د ډاکټر دنسخې څخه پرته په درملتونونو او دوا جوړونې په فابریکو کې هم ترلاسه کیږي، په داسې حال کې چې 116(39.9%) تنه له دې نظر سره موافق نه وو، چې د واړو نظرونو ترمنځ توپیر 19.6% وو یعنې د ګډونوالو زیاته برخه موافق وو چې، انتي بیوتیکونه د ډاکټر له نسخې پرته په درملتونونو او دوا جوړونې په فابریکو کې هم ترلاسه کېدای شي. زمور څېړنې دا څرګنده کړه چې ډېرې محصلین دانتي بیوتیکونو او دانتي بیوتیک په مقابل کې دبکتریاوو مقاومت په اړه ښه معلومات لري. خو بیا هم لا زیاتې روزنې ته اړتیا شته چې دهغوی پوهه او درک لا نور هم لوړ کړي، او همدارنګه دانتي بیوتیک مقاومت په اړه دهغوی درک او د انتي بیوتیک کارونې په لور چلند ښه کړي.

**کلیدي کلیمې: انتي بیوتیکونه، انتي مایکروبي درملنه، پوهه، زده کړه، مقاومت، محصلین، ملي پوهنتون.**

# Students' Knowledge, Attitude, and Practices Regarding Antibiotics and Antibiotic Resistance at Mili University in Kabul, Afghanistan

**Abstract**

The inappropriate and irrational use of antibiotics has led to the development of antibiotic resistance, which is now considered a major global public health problem. A cross-sectional survey was conducted among students in the faculties of medicine and stomatology at the national university using an online questionnaire. Their knowledge, attitude, and practice (KAP) regarding antibiotic use and resistance were assessed using a five-point Likert scale, with responses ranging from strongly agree to strongly disagree and always to never. The data was analysed using SPSS and Excel software. Among the 291 study participants, 281 (96.6%) agreed that antibiotics are effective drugs for treating bacterial infections, while 10 (3.4%) disagreed. There was a significant difference between the agreeing and disagreeing respondents. Similarly, 273(93.8%) participants had heard about antibiotic resistance, whereas 18 (6.2%) did not know about bacterial resistance to antibiotics. Indicating an 87.6% difference, showing that most respondents were aware of antibiotic resistance. Furthermore, 173(59.5%) reported that antibiotics can be obtained from pharmacies and pharmaceutical factories without a doctor's prescription, while 116(39.9%) disagreed, showing a 19.6% difference- indicating that most respondents believed antibiotics are accessible without a prescription. According to our survey, most students had good knowledge about antibiotics and antimicrobial resistance. However, there is still a need for more educational intervention to further enhance their understanding and awareness, as well as to improve their attitude toward the proper use of antibiotics and antimicrobial resistance.

**Keywords: antibiotics, antimicrobial therapy, knowledge, resistance, students, Mili University.**

Mili
Academic-Research Journal
REG Code: RCTD-PNJR-0094-25

**Mohammad Sadiq Halimzi[1*]**
Department of Paraclinical Sciences, Faculty of Medicine, Mili University, Afghanistan
Sadiq.halim2020@gmail.com

**Nasir Ahmad Latifi[2]**
Department of Paraclinical Sciences, Faculty of Medicine, Mili University, Afghanistan

**Bilal Ahmad Rahimi[3]**
Department of Public Health, Faculty of Medicine, Afghan International Islamic University, Afghanistan

**سریزه**

هغه وړتیا چې بکتریاوې یې دخپل ځان ساتنې په موخه د انټي بیوتیکونو په وړاندې ترلاسه کوي، دانټي بیوتیکونو په وړاندې مقاوومت بلل کیږي .دانټي بیوتیکو غیرمناسب او بې رویه استعمال دانټي بیوتیکوپروړاندې دمقاوومت (AR) لامل شوی، چې داپدیده اوس مهال دعامې روغتیا یوه نړیواله ستونزه ګڼل کیږي .په مارچ 2020 کې، د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) نوی کرونا وایروس(COVID-19) د وبا حالت اعلان کړ، چې له امله یې انټي بیوتیکونه هم په روغتیایې مراکزو او هم د ټولنې په کچه بې ځایه او پراخ استعمال شو، په داسې حال کې چې انټي بیوتیکونه د وایروس ضد تاثیر نه لري (Sulayyim,*2023*). په نړۍ کې په ځانګړې ډول پهGhanaکې، د انټی بیوتیکونو په وړاندې دبکتریاوو مقاومت یوه ستره روغتیایې ستونزه ګرځیدلې، او دا دبکتریایې ناروغیو دکنترول په برخه کې دپرمختګ لپاره یو جدي خنډ دی .(Asante, 2014)دWHOموضوع د روغتیا دنړیوالې ورځې په اړه په 2011 کال کې) دمکروب ضد درملو مقاومت سره مبارزه (وه :که نن اقدام ونه شي، سبا به درملنه نه وي.

دا دانټی بیوتیک یوه نړیواله او جدي ستونزه راښایي، او داستونزه له یوې ورځې تر بلې پیاوړې کیږي، چې باید نوې ستراتیژیني د بکتریاوو مقاومت دانټي بیوتیک پر وړاندې مخنیوي لپاره جوړې شي .په وروستیو کلونو کې، ورځ تربلې دځړونکو پام دانټي بیوتیکونو دناسم استعمال پر لور زیات شوی، او هغوی په ډیری علاقې سره د خلکو پوهه، چلند، او عملي کړنې د انټی بیوتیکونو داستعمال په اړه څاري .ترسره شوې سروېګاني څرګندوي چې، عام خلک دانټی بیوتیکونو دسم استعمال په اړه کافي تجربه نه لري .نو له دې امله داموضوع دا اړتیا لاپسې روښانه او پیاوړې کوي چې، دانټی بیوتیکونو دسم استعمال په اړه دخلکو د پوهاوي لپاره واضح او ځانګړې لارښوونې جوړې شي، ترڅو ددرملو په وړاندې د مقاومت مخنیوی وشي، او ددرملو معقول استعمال رواج شي .دا ډول لارښوونې به د خلکو چلند معقول کړي او دانټی بیوتیکونو مسول او سم رواج ته وده ورکړي، چې په پایله کې به ددرملو په وړاندې د مقاوت مخنیوی وشي .دایوه منل شوې خبره ده چې عام خلک نه یواځې دانټی بیوتیکونو د مناسب یا نامناسب استعمال له امله درامنځته شویو بې پروا کړنو په خپریدو کې هم اساسی ونډه لري.

د Heddini پواسطه په چین کې ترسره شوې څېړنه کې ویل شوي چې، په چین کې انټی بیوتیکونه ډیر زیات استعمالیږي، او د درملو په وړاندې د مکروبونو دمقاومت د پیداکیدو چانس ډیر زیات دي، او د دوی په نظر داچې په چین کې څه پیښیږي باید دټولې نړۍ لپاره د اندیښنې وړ وي.سربیره پردې ، په چین کې دانټی بیوتیکونو دکارونې په اړه نسبتاً نرمو قوانینو له امله، انټی بیوتیکونه د مناسبو نسخو پرته هم تر لاسه کیږي .نو له همدې امله، دخلکو پوهه، چلند او عمل دانټي بیوتیکونو په اړه په چین کې، د لا زیاتې پاملرنې وړ دي(Huang,2013). تر اوسه پورې دا نه ده معلومه چې دامریکا خلک دانټي بیوتیکو مقاومت لرونکو بکتریاوو یا دانټي بیوټیکو دناسم استعمال په اړه څومره پوهیږي یا څه نظر لري، ځکه چې په دې برخه کې کافي معلومات نه دي راټول شوي .موږ داسې وړاندیز وکړچې دډیرو خلکو لپاره دانټي بیوټیکونو په وړاندې دبکتریاوو مقاومت یوه مهمه اندېښنه ده .دوی ښایي له دې اړیکې ناخبره وي چې، دانټي بیوتیکونو کارول دمقاومو بکتریاوو د راڅرګندېدو باعث ګرځي .(Jiayang Sun, 2016) درغتیا نړیوال سازمان (WHO)په وینا، دانټي بیوتیکونو مقاومت نن ورځ دنړیوالې روغتیا، خوراکې امنیت، او پرمختګ ترټولو لویو ګواښونو څخه یوګواښ دی .

دانتي بيوتيکو نړيوال زياتيدونکې استعمال، هم دانسانانو په درملنه کې او هم په کرنه کې، دانتي بيوتيکونو په وړاندې دمقاومت لرونکو بکترياوو دډيريدو سبب شوی دی .دبکترياوو مقاومت دپراخيدو ترڅنګ، دنووانتي بيوتيکونو په څېړنه او پراختيا کې کموالی راغلی دی .(Waaseth,2019)دبکترياوو له لوري دانتي بيوتيکو پر وړاندې د مقاومت رامنځ ته کيدل او خپريدل، يو مخ په زياتيدو نړيواله ستونزه ګرځېدلې ده، چې په 21 پېړۍ کې يې دټولې نړۍ دعامې روغتيا لپاره يو جدي ګواښ جوړ کړی دی(Ismail Awad, 2015). په نړيواله کچه، د AMR له کبله مړينه په 2019کال کې4.95 ميليونه تخمين شوې ده.دروغتيا نړيوال سازمان (WHO) دانتي مايکروبيال مقاومت (AMR)يا دمکروب ضد درملو په وړاندې مقاوومت، ديو مهم روغتيايي لومړيتوب په توګه پيژندلی دی .ددغه مقاووومت رامنځته کيدل او خپرېدل نه يوازې د ناروغۍ او مړينې زياتوالی راولي .بلکې ډېر اقتصادي زيان هم رامنځته کوي ).Sami,2021دانتي بيوتيکو موثر استعمال له دې سره تړاوو لري چې سمه دوا، پر خپل وخت، او په مناسبه اندازه تجويز شي، او داچاره د يو منظم سيمه ييز پلا (Stewardship plan)له لارې ترسره کېدلای شي (Jainlabdin, 2021). کله چې انتي بيوتيکونه ايجاد شول، دساري ناروغيو دعلاج طريقه او دناروغيو پايلې يې بدلې کړې .خو په همدغه مهال، دانتي بيوتيکونو بې احتياطه کارونې د انتي بيوتيکو په وړاندې دمکروبونو مقاووومت يوه جدي اندېښنه جوړه کړه(K. Gupta, 2019).

**د ستونزې توضيح:**

دانتي بيوتيکونو په وړاندې دبکترياوو مقاومت يوه پراخيدونکې نړيواله روغتيايي ستونزه ده، چې دانتي بيوتيکونو دناسم استعمال او دخلکو دناسم درک له امله لاشديديږي. دستوماتولوژي او طب معالجوي پوهنځيو محصلين، چې په راتلونکې کې به ددرملو نسخه ورکونکي وي، بايد پوره پوهه او مسوؤلانه چلند ولري. خو ګڼو څېړنو ښودلې ده چې حتی دروغتيايې برخې محصلين هم دانتي بيوتيکو او مقاومت په اړه کافي معلومات، مناسب نظر، اوسالمې کړنې نه لري. په ملي پوهنتون کې، تر اوسه دستوماتولوژي او طب معالجوي پوهنځيود محصلينو د پوهې، چلند، عملي کړنو اودانتي بيوتيکونوپه وړاندې دبکترياوو مقاومت په اړه مشخص معلومات نشته. دامعلوماتي خلا دراتلونکو داکترانو له لوري دانتي بيوتيکونو د غير موجه استعمال احتمال زياتوي او دښوونيزو مداخلاتو اړتيا زياتوي.

**دڅېړنې موخه يا هدف:**

په کابل کې دملي پوهنتون دستوماتولوژي او طب معالجوي پوهنځيو محصلينو تر منځ دانتي بيوتيکو او دانتي بيو تيکونو دمقاوومت په اړه دهغوی دپوهې، دريځ او عملي چلند ارزونه.

**د څېړنې تګلاره:**

۱- **دڅېړنې ډول:**

داڅېړنه په توصيفي-مقطعي ډول ترسره شوې ده، معلوماتو ټولولو لپاره پوښتنليک کارول شوی دی.

۲- **دڅېړنې ځای او وخت:**

دا څېړنه دکابل په ملي پوهنتون کې دمعالجوي او ستوماتولوژي پوهنځيو د محصلينو ترمنځ ترسره شوې ده.

دا څېړنه د1404/1/1 نه تر 1404/6/30 پورې ترسره شوې.

**۳- دڅېړنې ګډونکونکي:**

د څېړنې ګډونکونکي د ملي پوهنتون د معالجوي او ستوماتولوژي پوهنځيو محصلين وو.

**۴- دنمونې اندازه:**

دڅېړنې دنمونې اندازه 291 تنه دي.

**۵- دمعلوماتو ټولول:**

دڅېړنې لپاره معلومات د يو جوړ شوي پوښتنليک په اساس راټول شوي دي.

**٦- دمعلوماتو تحليل:**

دڅېړنې لپاره راټول شوي معلومات د احصايوي سافټوير (SPSS او EXEL ) پواسطه تحليل شوي دي.

**دشاملولو او نه شاملولو معيارونه:**

دشاملولو معيارونه: دملي دلوړو زده کړو موسسې دستوماتولوژي او طب پوهنځيو برحاله محصلين او همدارنګه هغه محصلين چه دڅېړنې پوښتنليک يې ډک کړی وي او هم دډکولو وړتيا يې ولري.

دنه شاملولو معيارونه: هغه محصلين چه، د ملي دلوړو زده کړو موسسې دستوماتولوژي او طب پوهنځيو برحاله محصل نه وي. او همدارنګه هغه محصلين چې، دستوماتولوژي او طب پوهنځيو علاوه دنورو پوهنځيو وي. اوهمدارنګه هغه محصلين چې مربوط دستوماتولوژي اومعالجوي پوهنځيو وي خو دبلې موسسې وي. هغه محصلين چې پوښتنليک يې په درست ډول نه وي ډک کړی.

**تېرو اثارو ته کتنه/ د څېړنې ادبيات:**

يوه څېړنه چې مرزان 1 او ملګرو يې په (2020) کال کې په مقطعي ډول په University Jahangirnagar (JU), Bangladesh کې په 205 تنو ترسره کړې ده. دڅېړنې د205 ګډونوالو له جملې څخه، 92 تنه دبيولوژيکي ساينس دپوهنځي زده کوونکي او 113 تنه دغير بيولوژي څانګو زده کوونکي وو. دزده کوونکو له نيمايي څخه کم(42.45%) ښه دپوهې کچه درلوده(80% څخه لوړې نمرې). دبيولوژي دشاليد لرونکو زده کوونکو دغيري بيولوژي زده کوونکو په پرتله ښه پوهه درلوده [odds ratio(OR)=4.44, 95% د باور کچه p<0.001, (2.56, 7.70)]. دټولو زده کوونکو تر منځ ښه رويه تر سترګو شوه. دځان په خوښه ددرملو اخستلو کچه ډيره ټيټه وه، او د 90% څخه زياتو زده کوونکو انتي بيوتيکونه دداکتر دنسخې له مخې کارول. ددرملنې دنه بشپړولو ستونزه موجوده وه، او زده کوونکو ومنله چې کله به يې نښې له منځه ولاړې نو انتي بيوتيکونه به يې بند کړل(48.67%) دبيولوژي زده زده کوونکو او 36.26% غيربيولوژي زده کوونکو داخبره کوله. (Marzan et al., 2020) شريستا په (2018) کال کې په تشريحي مقطعي ډول په 228 زده کوونکو ترسره شوې ده. چې دزده کوونکو د انتي بيوتيکونو د استعمال اوسط ، دپوهې ، نظر او دعمل لپاره په ترتيب سره په لاندې ډول ده. دپوهې اوسط (7.44+-1.26)، دنظر اوسط (3.35+-1.12) او د عمل اوسط يې (5.06+-1.45) وو. دټولو زده کوونکو له جملې 39 تنه (17.1%) دانتي بيوتيکونو په اړه ښه پوهه او کړنې لرلې، په داسې حال کې چې 114 تنه (50%) زده کوونکو دانتي بيووتيکونو په اړه ښه نظر درلود. شااوخوا ټول زده کوونکي، معنې 224تنه (98.2%) پوهېدل چې انتي بيوتيکونه دبکتريايي انتاناتو لپاره ګټور دي. همدانګه 52تنه (22.8%) زده کوونکو ويلې چې انتي

بیوتیکوونه خوندي درمل دي.(Shrestha et al., 2018) یوه څېړنه چې د ګیتا او دملګرو یې په (۲۰۲۰) کال کې د په مقطعي ډول د ایتوپیا شمال لویدیځ په public hospitals of Amhara regional stat کې په 233 تنو ترسره شوې ده. نوموړو څېړونکو دموندنو له مخې شااوخوا 60.3% ګډونوالو خپل انتي بیوتیکونه له نسخې پرته له شخصي درملتونونو اخستي وو. دانساني ناروغیو د درملنې لپاره تر ټولو ډیر کارېدونکی انتي بیوتیک Ampicillin (70.7%) وو. سره له دې چې 69.8% ناروغانو انتي بیوتیکونو او دانتي بیوتیک مقاومت په اړه له بیلابیلو سرچینو اوریدلي وو. خو دهغوی له جملې 68.1%(87.9%)دهغوی عواملو څخه ناخبره وو، چې دمقاوومو بکتریاوو دانتقال او دهغوی داغیزو لامل کېږي، هم په انسان او هم د حیوان په روغتیا باندې. داوسط نمرې 3.15-+0.08 د cut-off په توګه کارول کېږي، یوازې 37.5% ناروغانو دانتي مایکروبي مقاوومت او کارونې په اړه پوهاوی درلود. د Mean نمرو په اساس 45.3% ناروغانو دانتي بیوتیک دسمې کارونې او مقاوومت په اړه مثبت نظر درلود. شااوخوا 44% ګډونوالو ښه کړنې لرلې، چې د Mean نمرې یې 4.95-+0.17 وې. لوړه کچه زده کړه دانتي بیوتیکونو دکارونې او مقاومت په اړه دښه پوهاوي، مثبت نظر او غوره کړنو سره تړاوو درلود. که څه هم 57.3% ځواب ویونکو حفظ الصحې، دانتان دمخنیوي او دکنترول دکړنو د پلي کول دانتي بیوتیک دکارونې او مقاومت دکمولو مهمه تګلاره بللې ده.(Geta et al., 2020)

دا څېړنه د A K او ملګرو یې په (2013) کال کې په مقطعي ډول دجنوبي اندیا په تدریسي روغتون کې په 97 تنو باندې ترسره کړې وه. چې دګډون کوونکو دځواب کچه 100% وه، دګډونوالو شمېر چې موافق وو چې دانتي بیوتیک پر وړاندې مقاومت (ABR) زمونږ په روغتون کې یو مهمه او جدي روغتیایي ستونزه ده، 66 تنه (68%) و. داشمېر دهغه ګډونوالو په پرتله په معنا داره ډول (P<0.001) کم و، چې موافق وو چې ABR دهېواد په کچه (86 تنه، 88.65%) او د نړۍ په کچه (88 تنه، 90.7%) یوه مهمه او جدي ستونزه ده. یوازې 75 تنه (77.3%) ګډونوال پوهېدل چې باکتریاوې دزکام او انفلوینزا د رامنځته کېدو مسول ندي، خو پاتې 22.7% (22 تنه) په دې اړه نه پوهېدل. له80% څخه ډېرو ګډونوالو دانتي بیوتیک دناوړه اغېزو او دثانوي عفونت(Superinfection) خطر د پام وړ او مهم ګڼلې وو. خو یوازې56.7% (55 تنه) ګډونوالو د درملو لګښت یو مهم فکتور ګڼلی وو (A K et al., 2013).

داڅېړنه د ګیلاني او ملګرو یې په(2020) کال کې په کمي مقطعي ډول دپاکستان په درې ولسوالیو کې په 2106 تنو باندې ترسره شوې ده. ددې ګډونوالو له جملې 35.4% یې داسې انګېرله چې انتي بیوتیکونه د وایروسي عفونتونو(infections) درملنې وړتیا لري، او 47.5% یې باور درلود چې انتي بیوتیکونه د زکام او انفلوینزا پر وړاندې موثر دي. نږدې 60% ګډونوالو د ځان د خوښې سره دانتي بیوتیک کارونې (Self-medication) تجربه لرله. دځان په خوښې دانتي بیوتیک کارونې سره په معنا داره ډول تړلي عوامل دا ومونډل شول. واده کول.(Gillani et al., 2020)

دا څېړنه د ګوټایریز او ملګرو یې په (2018) کې په تشریي مقطعي ډول په کولومبیا هېوادکې په درې پوهنتونونو کې چې دوه شخصي او یو دولتي وو په 532 تنو ترسره شوې ده. دنوموړو محصلینو څخه د ځواب ورکونې کچه 96% وه، دټولو ګډونوالو له جملې 49.1% راپور ورکړی وو چې په تېرو 12 میاشتو کې یې انتي بیوتیک کارولي دي. دپوهې له پلوه، یوازې 18.2% د " Antimicrobial stewardship " له اصطلاح سره بلد وو او 69.3% پوهېدل چې تجربې یا امپریکي انتي بیوتیک درملنه دانتي بیوتیک مقاوومت سبب کېږي. دچلند له پلوه 11.6% باور درلود چې انتي بیوتیک باید ژر تر ژره ودریږي کله چې دناروغۍ نښې له منځه ولاړې شي، او24.6% داسې فکر کاوه چې دپراخې کچې (Broad-spectrum)دانتي بیتیک نسخه کول غوره دي تر څو دناروغ بشپړ درملنه یقیني شي. عمللە نظره،

28.5% ګډونوالو ومنله چې دمقاومت ستونزه یو څو فکتوري پېښه ده، خو دوی پری عمل نه کوي ځکه داسې فکر کوي چې دهر فرد اقدامات به لږ موثر وي. دتنظیم شوې خطي ریګریشن (Adjusted linear regression) پایلو وښودلې چې دپوهې، چلند او عمل سره ټرلې فکتورونه عبارت دي له: ټولنیز-اقتصادي حالت، د زده کړو پراوو، پوهنتون، دخېړنې یا زده کړو پخوانی تجربه، دترلاسه شوو زده کړو په اړه عمومي برداشت او دانتي بیوتیک کارونه. (Gutieres et al., 2018)

داخېړنه دلابي او دملګرو یې په (2015) کال کې په مقطعي ډول په ګانایان په Korle-Bu تدریسي روغتون کې په 159 تنو ډاکټرانو باندې ترسره شوې ده. دنوموړو ګډونوالو له جملې دځواب ورکوونکو شمېر 79.5% وو. دګډونوالو داکټرانو څخه 30.1% (47/156) تنو دانتي بیوتیک مقاومت یوه خورا مهمه نړیواله ستونزه ګڼلې وه. 18.5% (29/157) یې دا دهېواد په کچه یوه مهمه ستونزه بللې وه. یوازې 8.9% (14/157) تنو باور درلود چې دا د دوی په روغتون کې یوه ډیره مهمه ستونزه ده. (Labi et al., 2015)

داخېړنه د سکویلي او ملګرو یې په (2013) کال کې په مقطعي ډول په Italy کې په 1050 تنو باندې ترسره شوې ده. دنوموړو ګډونوالو دځواب ورکولو کچه 100% وه. شا اوخوا 20% ګډونوالو ویلي چې انتي بیوتیکونه د ویروسې انتاناتو لپاره مناسب دي، او 15% زده کوونکو ویلي چې کله دناروغۍ نښې کمې شي نو درمل بندوي. دځو مختلفو څېړنو پایلې وښودله چې نجونې دهلکانو په پرتله ډېر احتمال لري چې انتي بیوتیک یوازې دنسخې په صورت کې استعمال کړي. (Scioli et al., 2013)

داخېړنه د ګیتا او ملګرو یې په (2020) کال کې په مقطعي ډول په ایتوپیا کې په ۸۰۵ تنو ترسره شوې ده. په دې څېړنه کې دګډونوالو د ډیموګرافیک ځانګړتیاوو څېړنې وښودله چې زیاتره ګډونوال نارینه (86.8%)، واده شوي (61.5%) او دعمر له مخې د31-45 کلونو ترمنځ 41.8% وو. دهغو 91 ګډونوالو له ډلې چې زده کړې کچه یې مشخصه کړه، ډیری (30.8%) دثانوي ښوونځي فارغین وو. دګډونوالو ډیری (96.7%) خپل ځارویو ته د بیلابیلو سرچینو څخه انتي بیوتیک ورکول. زیاتره یې انتي بیوتیکونه له خصوصي درملتونونو څخه پرته له نسخې اخلي، ځینې یې د وترنري کلینیکي خدمتونو څخه ترلاسه کوي، او نور یې له هغو انتي بیوتیکونو کار اخلي چې پخوا یې په کور کې ساتلي وي. کله چې دځارویو دفارم څښتنانو او کارکوونکو څخه دبې نسخې دانتي بیوتیک کارولو لامل پوښتنه وشوه، زیاتره (34.1%) ګډونوالو وویل چې دوی مخکې تجربه لري. دکارونې دتکرار په اړه (72.5%) ګډونوالو خپل ځارویو ته په یوه میاشت کې 2-5 ځله انتي بیوتیک ورکړي. ډیری ګډونوال د لږ تر لږه یو انتي بیوتیک د برانډ نوم یادولی شو، چې تر ټولو زیات کارول شوي انتي بیوتیکونه په ترتیب سره Tetracycline، Ampicillin، جینتا مایسین، سپروفلوکزاسین او کوترایموکسازول وو. پایلو وښودله چې دځارویو دفارم دخښتنانو لویه برخه (90.1%) دانتي بیوتیک او دهغه دمقاومت په اړه له بیلابیلو سرچینو اورېدلي وو. (Geta et al., 2020)

**د دیتا تحلیل و تفسیر:**

دا یوه مقطعي-توصیفي څېړنه وه. معلومات دتوصیفي احصایې په مرسته تحلیل شو، لکه: فریکونسي، فیصدي، منځنی او معیاري انحراف. دمعلوماتو تحلیل د SPSS نسخه 26 سافټویر پواسطه ترسره شو.

د انتي بیوتیکونو په اړه د پوهې، چلند او کړنو لپاره کارېدلي متغیرونه:

پوهې لپاره متغیرونه:

1-ایا دانسان په وجود کې داسې بکتریاوې شته چې دانسان بدن ته ګټه رسوي.

2- ایا انتي بیوتیکونه دبکتریاوو دتداوی لپاره موثر درمل دي؟

3- ایا انتي بیوتیکونه دوایروسونو دتداوی لپاره موثر درمل دي؟

4- ایا فکر کوی چې انتي بیوتیکونه دټوخي، زکام او نورو ناروغیو دتداوی لپاره موثر دي؟

5- ایا انتي بیوتیکونه دداکتر له نسخې څخه پرته په درملتونونو او دوا جوړونې په فابریکو کې ترلاسه کېدای شي.

6- ایا دانتي بیوتیک مقاوومت په اړه مو اورېدلي دي؟

7- ایا فکر کوی چې دانتي بیوتیکو تکراري استعمال د انتي بیوتیکو د دوهم ځلي استعمال تاثیر کموي؟

8- ایا دقیمت لوړولو او نوي کېدو سره دانتي بیوتیکونو موثریت زیاتیږي؟

9- د لاندې درملو څخه کوم دانتي بیوتیکونو له جملې څخه دي؟

10- که چېرې دانتي بیوتیکونو ګټه دهغوی له ضرر سره برابره وي نو دانتي بیوتیکونو درولو ته ترجیح ورکوو.

11- که چېرې دانتي بیوتیکونو استعمال په وخت کې دکوم جانبي عرض سره مخ شو نو له مربوطه داکتر سره باید مشوره وشي.

**چلند لپاره معیارونه:**

*1-ایا فکر کوی چې دانتي بیوتیکو داستعمال په وخت کې دانتي بیوتیکونو څخه غلطه استفاده کېږي؟*

*2-ایا دبکتریاوو مقاومت دانتي بیوتیکونو په وړاندې په افغانستان کې یوه لویه ستونزه ده؟*

*3-ایا دانتي بیوتیکونو څخه ناوړه استفاده دانتي بیوتکونو په وړاندې دبکتریاوو دمقاومت یو عمده سبب دی؟*

*4-ایا دانتي بیوتیکونو په وړاندې دبکتریاوو مقاومت ستاسې او ستاسې د کورنۍ صحت زیانمنوي؟*

*5-* تاسې له کومه ځایه دانتي بیوتیکو په اړه معلومات ترلاسه کولای شی؟

6- تاسې هیله لرې چې دانتي بیوتیکو په اړه معلومات له کومه ځایه ترلاسه کړې؟

8-ایا دا ضروري ده چې دانتي بیوتیکونو په اړه لا زیات معلومات ترلاسه کړو؟

9-ایا دا ضروري ده چې دانتي بیوتیکونو دمناسب استعمال په اړه په پوهنتونونو کې کورسونه ایجاد کړو؟

10-یا تاسې فکر کوی چې دانتی بیوتیکونو کمپاین دعلمي تبلیغاتو یوه سترہ هڅونه ده؟

د عمل لپاره معیارونه:

۱- کله چې تاسې تبه ولرې ، په کومه درجه دتبه کې تاسې انتي بیوتیکونه استفاده کوی؟

۲- دزکام په وخت کې تاسې له انتي بیوتیکو څخه استفاده کوی؟

۳- دحاد برانکایتیس په وخت کې تاسې له انتي بیوتیکو څخه استفاده کوی؟

۴- دنمونیا په وخت کې تاسې له انتي بیوتیکو څخه استفاده کوی؟

۵- هغه انتي بیوتیکونه چې تاسې استفاده کوی له کومه ځایه یې لاسته راوړی؟

٦- دانتي بیوتیکو دانتخابولو معیارونه

۷- پرته دداکتر له نسخې مو انتي بیوتیکونه کارولي؟

**پایلې**

په اول(1) چارت کې دعمر له نظره دځېړنې دګډونوالو مقایسه: د ټولو ګډونوالو له جملې 69 تنو یې د15-20 کلنۍ پورې عمرونه درلودل چې 100% یې نارینه وو، 200 تنو یې د30-20 کلنۍ پورې عمرونه درلودل چې 99% یې نارینه او 1% یې ښځینه وو. د5 تنو عمرونه یې د 40-30 کلنۍ پورې وو ، چې 100% یې نارینه وو.

**جدول ۱:** *د ګډونوالو د جنسیت او عمر د ګروپونو متقابل تحلیلي جدول*

| | | 15-20 | | 20-30 | | 30-40 | | Total | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | فریکوینسي (n) | فیصدي (%) | فریکوینسي (n) | فیصدي (%) | فریکوینسي (n) | فیصدي (%) | فریکوینسي (n) | فیصدي (%) |
| جنس | نارینه | 69 | 100.0% | 200 | 99.0% | 5 | 100.0% | 274 | 99.3% |
| | ښځینه | 0 | 0.0% | 2 | 1.0% | 0 | 0.0% | 2 | 0.7% |
| مجموعه | | 69 | 100.0% | 202 | 100.0% | 5 | 100.0% | 276 | 100.0% |
| باوري | | 276 | 94.8% | Missing | 15 | 5.2% | Total | 291 | 100.0% |

په دوهم(2) چارت کې دګډونوالو مقاېسه کول دي د ډیپارتمنت له نظره: دټولو ګډونوالو له جملې 185 تنه یې دمعالجوي طب محصلین وو، چې 98.9% یې نارینه او 2 تنه (1.1%) یې ښځینه وو. 104 تنه یې د ستوماتولوژي پوهنځي محصلین وو، چې 100% یې نارینه وو.

**جدول ۲**: د ګډونوالو د جنسیت او دیپارټمنټونو تحلیلي جدول

| | | معالجوي طب | | ستوماتولوژي | | جمله | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | فریکوینسي (n) | فیصدي% | فریکوینسي (n) | فیصدي% | فریکوینسي (n) | فیصدي% |
| جنس | نارینه | 185 | 98.9% | 104 | 100.0% | 289 | 99.3% |
| | ښځینه | 2 | 1.1% | 0 | 0.0% | 2 | 0.7% |
| مجموعه | | 187 | 100.0% | 104 | 100.0% | 291 | 100.0% |

په (3) چارت کې د 291 ګډونوالو له جملې 281 تنه (96.6%) موافق وو چې دانسان په وجود کې داسې بکتریاوې شته چې وجود ته ګټه رسوي. او 10 تنه (3.4%) غیري موافق وو چې دانسان په وجود کې داسې بکتریاوې شته چې وجود ته ګټه رسوي. په (3) چارت کې 281 تنه (96.6%) ګډونوال موافق وو چې انتي بیوتیک دبکتریاوو دتداوی لپاره موثردرمل دي. په داسې حال کې چې 10 تنه (3.4%) ګډونوال موافق نه وو، چې انتي بیوتیک دبکتریاوو دتداوی لپاره ګټور درمل دي. په (3) چارت کې دټولو ګډونوالو له جملې 126 تنه (43.3%) موافق وو چې، انتي بیوتیک دوایروسي انتاناتو دتداوی لپاره موثر درمل دي، داسې حال کې چې 165 تنه (56.7%) یې غیرموافق وو، چې انتي بیوتیک د وایروسي انتاناتو دتداوی لپاره موثر درمل دي. په (3) چارت کې دټولو ګډونوالو له جملې 171 تنه (58.8%) یې موافق وو چې، انتي بیوتیک د Cough، Cold او داسې نورو ناروغیو دتدای لپاره موثر درمل دي. په داسې حال کې چې 120 تنه (41.2%) یې موافق نه وو چې انتي بیوتیکونه دپورته ناروغیو لپاره موثر درمل دي.

**جدول ۳**: د ګټورو باکتریاوو روغتیایي ګټې او د انټي بیوتیکونو اغېزمنتیا

| | | فریکوینسي | فیصدي |
|---|---|---|---|
| ایا دانسان په وجود کې داسې بکتریاوې شته چې دانسان بدن ته ګټه رسوي. | هو | 281 | 96.6 |
| | نه | 10 | 3.4 |
| | مجموعه | 291 | 100.0 |
| ایا انټي بیوتیکونه دبکتریاوو دتداوی لپاره موثر درمل دي؟ | هو | 281 | 96.6 |
| | نه | 10 | 3.4 |
| | مجموعه | 291 | 100.0 |
| ایا انټي بیوتیکونه دوایروسونو دتداوی لپاره موثر درمل دي؟ | هو | 126 | 43.3 |
| | نه | 165 | 56.7 |
| | مجموعه | 291 | 100.0 |
| ایا فکر کوی چې انټي بیوتیکونه دټوخي، زکام او نورو ناروغیو دتداوی لپاره موثر دي؟ | هو | 171 | 58.8 |
| | نه | 120 | 41.2 |
| | مجموعه | 291 | 100.0 |

په (4) چارت کې دټولو ګډونوالو له جملې 173 تنه (59.5%) موافق وو چې، انټي بیوتیک د ډاکټر دنسخې نه علاوه د درملو په Stores او درملتونونو کې ترلاسه کېدلای شي. په داسې حال کې چې 116 تنه (39.9%) غیر موافق وو چې بکتریاوو ضد درمل دډاکټر دنسخې نه علاوه په درملتوونونوکې ترلاسه کېدلای شي. په (4) چارت کې 273 تنو (93.8%) دانټي بیوتیک پر وړاندې دبکتریاوو دمقاومت په اړه پوهه درلودله، په داسې حال کې چې 18 تنو (6.2%) دانټي بیوتیک پر وړاندې دبکتریاوو دمقاومت په اړه ناخبره وو. په (4) چارت کې دټولو ګډونوالو له جملې 267 تنو په دې اړه پوهه درلوده چې، که چېرې انټي بیوتیک ډېر استعمال شي نو دهمدې انټي بیوتیکو سره دوهم ځلي درملنه به ډیره موثره نه وي، په داسې حال کې چې 23 تنو(7.9%)په دې اړه هیڅ پوهه نه درلوده چې که چېرې انټي بیوتیک ډېر استعمال شي نو دوهم یا بل ځلي استعمال سره به دانټي بیوتیکو سره درملنه کمزوري وي. په (4) چارت کې دګډونوالو له جملې 202 تنه (69.4%) ددې خبرې سره موافق وو، که چېرې د درملو قیمت لوړ شي یا درمل نوي شي نو موثریت به یې زیات وي، په داسې حال کې چې 89 تنه (30.6%)ددې خبرې سره ناموافق وو چې، که چېرته د درملو قیمت لوړ شي او یا درمل نوي شي نو موثریت به یې زیات شي.

**جدول ۴:** *د انتي‌بیوتیکونو شتون، پوهاوی، او د اغېزمنتیا او مقاومت په اړه درک*

| | | فریکوینسي | داعتبار وړ فیصدي |
|---|---|---|---|
| ایا انتي بیوتیکونه دداکتر له نسخې څخه پرته په درملتونونو | هو | 173 | 59.7 |
| او دوا جوړونې په فابریکو کې ترلاسه کېدای شي . | نه | 116 | 40.0 |
| | مجموعه | 290 | 100.0 |
| ایا دانتي بیوتیک مقاوومت په اړه مو اوربدلي دي؟ | هو | 273 | 93.8 |
| | نه | 18 | 6.2 |
| | مجموعه | 291 | 100.0 |
| ایا فکر کوی چې دانتي بیوتیکو تکراري استعمال د انتي | هو | 267 | 92.1 |
| بیوتیکو د دوهم ځلي استعمال تاثیر کموي؟ | نه | 23 | 7.9 |
| | مجموعه | 290 | 100.0 |
| ایا دقیمت لوړولو او نوي کېدو سره د دانتي بیوتیکونو | هو | 202 | 69.4 |
| موثریت زیاتیږي؟ | نه | 89 | 30.6 |
| | مجموعه | 291 | 100.0 |

په (5) چارت کې دګډونوالو دپوهې کچه د انتي بیوتیک په اړه ښودل شوې ده. چې دټولو ګډونوالو له جملې 66 تنو (22.7% ) اموکسی سلین دانتي بیوتیک په حیث پېژندل په داسې حال کې چې 210 تنو (72.2%) بنسیلین دانتي بیوتیک په حیث پېژتدل او 14 تنو (4.8%)یې بیا تتراسایکلین دانتي بیوتیک په حیث پېژندل. په (5) چارت کې دټولو ګډونوالو له جملې 211 تنو (72.5%) نظر درلود که چېرې دانتي بیوتیک داستعمال ګټه له تاوان سره برابر وي نو باید انتي بیوتیکو استعمال ودرول شي، په داسې حال کې چې 79 تنو (27,1%)یې بیا ددې خبرې سره ناموافق وو چې، که چېرې دانتي بیوتیک داستعمال ګټه له تاوان سره برابر وي نو باید دانتي بیوتیک استعمال ودرول شي. همدارنګه په (5) چارت کې دټولو ګډونوالو له جملې 269 تنه (92.4%) یې په دی عقیده وو چې، که چېرې دانتي بیوتیکو داستعمال په وخت کې له کوم جانبي عوارض سره مخامخ شو نو باید له مربوطه ډاکټر سره مشوره وکړو. په داسې حال کې چې 22 تنه (7.6%) یې دې سره موافق نه وو چې، که دانتي بیوتیکو داستعمال په وخت که دانتي بیوتیکو له جانبې عوارضو سره مخ شونو له مربوطه ډاکټر سره دې مشوره وشي.

**جدول۵**: د انتي‌بیوتیکونو پېژندنه، د استعمال عادتونه، او د استعمال وروسته مشورې کول

| | | فریکوینسي | فیصدي |
|---|---|---|---|
| د لاندې درملو څخه کوم دانتي بیوتیکونو له جملې څخه دي؟ | اموکسی سیلین | 66 | 22.8 |
| | پینیسلین | 210 | 72.4 |
| | تیتراسایکلین | 14 | 4.8 |
| | مجموعه | 290 | 100.0 |
| که چېرې دانتي بیوتیکونو ګټه دهغوی له ضرر سره برابره وي نو دانتي بیوتیکونو درولو ته ترجیح ورکوو. | موافق | 211 | 72.8 |
| | غیري موافق | 79 | 27.2 |
| | مجموعه | 290 | 100.0 |
| که چېرې دانتي بیوتیکونو استعمال په وخت کې دکوم جانبي عرض سره مخ شو نو له مربوطه داکتر سره باید مشوره وشي. | موافق | 269 | 92.4 |
| | غیري موافق | 22 | 7.6 |
| | مجموعه | 291 | 100.0 |

دانتي بیوتیکونو داستعمال په اړه دخلکو چلند، فکر او نظر په اساس په (6) چارت کې دټولو ګډونوالو له جملې 246 تنو (84.5%) یې دانتي بیوتیکونواستعمال په وخت کې دانتي بیوتیکونوغلط استعمال هم شتون لري، په داسې حال کې چې 44 تنو (15.1%) یې دانتي بیوتیکونو دغلط استعمال په اړه هیڅ معلومات نه درلود. په (6) چارت کې دځېړنې دګډونوالو پوهه دانتي بیوتیکونو دغلط استعمال دسرچینو په اړه معلوموي، چې دټولو ګډونوالو له جملې 107 تنه (۳٦,۸%36.8)یې په دې نظر دي چې، دانتي بیوتیکونو داستعمال په اړه په کافي اندازه جهاني اصول موجود نه دي. همدارنګه 92 تنه (31.6%) یې په دې عقیده دي چې، د درملو تولیدونکي، روغتونونه او نور ډېرسکتورونه دخپلو شخصي اقتصادي منافعو دپراخولو لپاره د درملو دغلط استعمال نه استفاده کوي. په داسې حال کې چې 42 تنه (14.4%) یې په دې نظر دي چې، انتي بیوتیکونه دناروغیو دژر ښه کېدو سبب کېږي. همدارنګه 48 تنه (16.5%) یې په دې عقیده دي چې، په صحي مقرراتو او دوا کې خلا یا نواقص موجود دي. په (6) چارت کې دګډونوالو دپوهې کچه دې اړه معلومول چې، ایا دبکتریاوو مقاومت دانتي بیوتیکونو په وړاندې یوه ستونزه ده په افغانستان کې او که، چې دټولو ګډونوالو له جملې 243 تنه (83.5%) یې موافق دې چې، دبکتریاوو مقاومت دانتي بیوتیکونو په وړاندې په افغانستان کې یوه جدي ستونزه ده. همدارنګه 46 تنه (15.5%) یې بیا له دې نظریې سره موافقت نه درلود. په (6) چارت کې په دې اړه دګډونوالو پوهه معلومیږي چې، ایا دانتي بیوتیکونو دغلط استعمال لومړنی سبب دانتي بیوتیکونو پر وړاندې دبکتریاوو مقاومت دی. چې دټولو ګډونوالو له جملې 244 تنه (83.5%)یې له پورته نظر سره موافق وو، په داسې حال کې چې 45 تنه (15.5%) یې له پورته نظر سره موافقه نه درلوده. په (6) چارت کې د291 ګډونوالو له جملې 259 تنه (89%) یې په دې عقیده وو چې، د انتي بیوتیکونو پر وړاندې دبکتریاوو مقاومت زمونږ او زمونږ دکورنۍ روغتیا ته زیان رسوي. په داسې حال کې چې، 29 تنو (10%) یې له پورته نظر سره موافق نه وو.

**جدول٦**: په افغانستان کې د انتي‌بیوتیک ناوړه استعمال په اړه نظرونه او د باکتریایي مقاومت اغېزې

| | | فریکوینسي | فیصدي |
|---|---|---|---|
| ایا فکر کوی چې دانتي بیوتیکو داستعمال په وخت کې‌هو | | 246 | 84.8 |
| دانتي بیوتیکونو څخه غلطه استفاوه کېږي؟ | نه | 44 | 15.2 |
| | مجموعه | 290 | 100.0 |
| ایا دبکترياوو مقاومت دانتي بیوتیکونو په وړاندې په‌هو | | 243 | 84.1 |
| افغانستان کې یوه لویه ستونزه ده؟ | نه | 46 | 15.9 |
| | مجموعه | 289 | 100.0 |
| ایا دانتي بیوتیکونو څخه ناوړه استفاده دانتي بیوتکونو په‌هو | | 244 | 84.4 |
| وړاندې دبکترياوو دمقاومت یو عمده سبب دی؟ | نه | 45 | 15.6 |
| | مجموعه | 289 | 100.0 |
| ایا دانتي بیوتیکونو په وړاندې دبکترياوو مقاومت ستاسې‌هو | | 259 | 89.9 |
| او ستاسې د کورنۍ صحت زیانمنوي؟ | نه | 29 | 10.1 |
| | مجموعه | 288 | 100.0 |

په (7) چارت کې دانتي بیوتیکو په اړه دګډونوالو معلومات چې دوی له کومه ځایه دانتي بیوتیکونو په اړه معلومات لري. دټولو ګډونوالو له جملې 49 تنو (16.8%) خپل معلومات له داکترانو څخه ترلاسه کړي دي، په داسې حال کې چې 56 تنو (19.2%) یې معلومات له فارماسیستانو ترلاسه کړي وو. همدارنګه 135 تنو (46.4%) یې معلومات له درملتونونو ترلاسه کړي وو. 11 تنو (3.8%) یې معلومات له شا اوخوا خلکو څخه ترلاسه کړي وو. 3 تنو (1%) یې معلومات له درملو لارښوونکو څخه ترلاسه کړي وو. 36 تنو (12.4%) یې معلومات له انترنیت څخه ترلاسه کړي وو. په (7) کې له ګډونوالو نه پوښتنه شوې ده چې تاسې اراده لرئ چې دانتي بیوتیک په اړه له کومه ځای څخه معلومات ترلاسه کړئ. دټولو ګډونوالو له جملې 50 تنو (17.2%) یې اراده درلوده چې دشا اوخوا خلکو څخه معلومات ترلاسه کړو، په داسې حال کې چې 157 تنو (50.5%) یې غوښتل چې له مسلکي کتابونو څخه معلومات ترلاسه کړي. همدارنګه 82 تنو (28.2%) اراده درلوده چې معلومات له درملو لارښوونکو څخه ترلاسه کړي. او 10 تنو (3,4%) یې اراده درلوده چې دټولنې له شونځیو یا له نورو سرچینو څخه معلومات ترلاسه کړي.

**جدول۷**: د انټي‌بیوتیکونو د معلوماتو سرچینې او د راتلونکي معلوماتو غوره توبونه

| | | فریکوینسي | فیصدي |
|---|---|---|---|
| تاسې له کومه ځایه دانتي بیوتیکو په اړه معلومات ترلاسه کولای شی؟ | داکتر | 49 | 16.9 |
| | درمل پلورونکی | 56 | 19.3 |
| | درملتون | 135 | 46.6 |
| | شا اوخوا خلک | 11 | 3.8 |
| | د درملو لارښوونې | 3 | 1.0 |
| | انترنیت | 36 | 12.4 |
| | مجموعه | 290 | 100.0 |
| تاسې هیله لرئ چې دانتي بیوتیکو په اړه معلومات له کومه ځایه ترلاسه کړئ؟ | دشا اوخوا خلکو څخه | 50 | 17.3 |
| | ددمسلکي کتابونو څخه | 147 | 50.9 |
| | د درملو لارښوونو څخه | 82 | 28.4 |
| | دټولنې دمکتبونو څخه یا له نورو برخو څخه | 10 | 3.5 |
| | مجموعه | 289 | 100.0 |

په (8) چارت کې له ګډونوالو څخه پوښتنه شوې چې ایا دا ضروري ده چې دانتي بیوتیک په اړه لا زیات معلومات ترلاسه شي، چې دټولو ګډونوالو له جملې 277 تنه (95.2%) یې موافق وو چې دانتي بیوتیکو په اړه لا زیاتو معلوماتو ترلاسه کولو ته ضرورت دي، 13 تنه (4.5%) یې دانتي بیوتیکو په اړه دلازیاتو معلوماتو ترلاسه کولو سره موافق نه وو. په (8) چارت کې له ګډونوالو څخه پوښتنه شوې چې ایا دانتي بیوتیکو دمعقول استعمال لپاره دپوهنتونونو په سطحه دکورسونو ایجادول ضروري دي، دټولو ګډونوالو له جملې 278 تنه (95.5%) یې دکورسونو ایجاد سره موافق وو، په داسې حال کې چې 12 تنه (4.1%) یې دکورسونو دایجا سره موافق نه وو. په همدې چارت کې د 246 تنه (77.7%) یې موافق و چې داتني بیوتیکونو دپوهاوي کمپاینونه په لویه کچه دعلمي تبلیغاتو یوه کړنه ده، په داسې حال کې چې 64 تنه (22%) یې ددې خبرې سره موافق نه وو.

**جدول۸:** *د انتي‌بيوتيک زده کړې اړتيا او د پوهاوي کمپاينونو په اړه نظرونه*

| | | فريکوينسي | فيصدي |
|---|---|---|---|
| ايا دا ضروري ده چې دانتي بيوتيکونوهو په اړه لا زيات معلومات ترلاسه کړو؟ | هو | 277 | 95.5 |
| | نه | 13 | 4.5 |
| | مجموعه | 290 | 100.0 |
| ايا دا ضروري ده چې دانتي بيوتيکونوهو دمناسب استعمال په اړه په پوهنتونونو کې کورسونه ايجاد کړو؟ | هو | 278 | 95.9 |
| | نه | 12 | 4.1 |
| | مجموعه | 290 | 100.0 |
| ايا تاسې فکر کوئ چې دانتی‌هو بيوتيکونو کمپاين دعلمي تبليغاتو يوه سترە هڅونه ده؟ | هو | 226 | 77.9 |
| | نه | 64 | 22.1 |
| | مجموعه | 290 | 100.0 |

په (9) چارت کې دګډونوالو نظر دتبې لپاره دانتي بيوتيکو داستعمال په اړه چې دټولو ګډونوالو له جملې 97 تنه (33.5%) موافق وو چې، کله دبدن دحرارت درجه د37 سانتي ګريد نه لوړه شي نو بايد انتي بيوتيک استعمال شي. په داسي حال کې چې 39 تنه (13.4%) ګډونوال بيا له دې سره موافق وو چې، کله دبدن دحرارت درجه له 37.5% څخه لوړه شي بايد انتي بيوتيک استعمال شي. همدارنګه 26 تنه (8.9%) يې موافق وو چې، کله دبدن دحرارت درجه له 38 سانتي ګريد څخه لوړه شي بايد انتي بيوتيک استعمال شي. او 46 تنه (15.8%) يې موافق وو چې، کله دبدن دحرارت درجه د38.5 سانتي ګريد څخه لوړه شي بايد انتي بيوتيک اسعمال شي. او 81 تنه 27.8% يې موافق وو چې، کله دبدن دحرارت درجه لوړه شي بايد انتي بيوتيک استعمال نه شي. په (9) چارت کې دګډوتوالو نظر چې انتي بيوتيکونه دوايروسي ناروغيو لپاره اسعمالېږي او کنه، چې دټولو ګډونوالو له جملې 77 تنه (26.5%) يې موافق وو چې انتي بيوتيکونه همېشه د زکام لپاره استعمالېږي، په داسې حال کې چې 49 تنه (16.8%) يې بيا وايي چې، انتي بيوتيک اکثرا د زکام دتداوی لپاره استعمالېږي. او 101 تنه (34.7%) يې موافق دي چې انتي بيوتيک کله کله دزکام دتداوی لپاره اسعمالېږي، او 21 تنه (7.2%) يې بيا موافق دي چې انتي بيوتيک نادرا دزکام دتداوی لپاره استعمالېږي، او 42 تنه (14.4%) يې موافق دي چې، انتي بيوتيک هيڅ کله د زکام لپاره نه استعمالېږي. همدارنګه 98 تنه (33.7%) يې موافق وو چې انتي بيوتيکونه همېشه د حاد برانکايټيس لپاره استعمالېږي، 27 تنه (29.3%) يې موافق دي چې انتي بيوتيکونه

اکثرا دحاد برانکایټیس لپاره استعمالېږي. 95 تنه (32.6%) موافق دي چې انتي بیوتیکونه کله کله دحاد برانکایټیس لپاره استعمالېږي، 17 تنه ۵,۸% یې موافق وو چې، انتي بیوتیکونه نادرا د حاد برانکایټیس دتداوی لپاره استعمالېږي، او 54 تنه (18,6%) یې موافق وو چې، انتي بیوتیکونه هیڅ کله د حاد برانکایټیس دتداوی لپاره استعمالېږي. همدارنګه 120 تنه (41.2%) یې موافق وو چې انتي بیوتیکونه هېشه دنمونیا دتداوی لپاره استعمالېږي، 21 تنه (7.2%) یې موافق و چې انتي بیوتیکونه اکثرا د نمونیا د تداوی لپاره استعمالېږي، 103 تنه (35.4%) یې موافق وو انتي بیوتیکونه کله کله د نمونیا دتداوی لپاره استعمالېږي، 10 تنه (3.4%) یې موافق وو چې نادرا انتي بیوتیکونه د نمونیا دتداوی لپاره استعمالېږي، او 37 تنه (12.7%) یې موافق و چې انتي بیوتیکونه هیڅ کله دنمونیا دتداوی لپاره نه استعمالېږي.

***جدول۹:*** *په تبه کې د انتي‌بیوتیکونو د کارونې لپاره د بدن د تودوخې کوم حد باید په پام کې ونیول شي؟*

| | | فریکوینسي | فیصدي |
|---|---|---|---|
| کله چې تاسې تبه ولرئ، په کومه درجه دتبه کې تاسې انتي بیوتیکونه استفاده کوئ؟ | چې د37 درجو څخه لوړه شي | 97 | 33.6 |
| | چې د 37.5 درجو څخه لوړه شي | 39 | 13.5 |
| | چې د38 درجو څخه لوړه شي | 26 | 9.0 |
| | چې د 38.5 درجو څخه لوړه شې | 46 | 15.9 |
| | انتي بیوتیک نه استعمالوو | 81 | 28.0 |
| | مجموعه | 289 | 100.0 |
| دزکام په وخت کې تاسې له انتي بیوتیکو څخه استفاده کوئ؟ | باوري | 77 | 26.6 |
| | همېشه | 49 | 16.9 |
| | اکثرا | 101 | 34.8 |
| | کله کله | 21 | 7.2 |
| | نادرا | 42 | 14.5 |
| | مجموعه | 290 | 100.0 |
| دحاد برانکایټیس په وخت کې تاسې له انتي بیوتیکو څخه استفاده کوئ؟ | باوري | 98 | 33.7 |
| | همېشه | 27 | 9.3 |
| | اکثرا | 95 | 32.6 |
| | کله کله | 17 | 5.8 |
| | نادرا | 54 | 18.6 |
| | مجموعه | 291 | 100.0 |
| دنمونیا په وخت کې تاسې له انتي بیوتیکو څخه استفاده کوئ؟ | باوري | 120 | 41.2 |
| | همېشه | 21 | 7.2 |

| | | |
|---|---|---|
| اکثرا | 103 | 35.4 |
| کله کله | 10 | 3.4 |
| نادرا | 37 | 12.7 |
| مجموعه | 291 | 100.0 |

په (10) چارت کې دځېړنې له ګډونوالو څخه پوښتنه شوې چې د تنفسي ناروغيو دکومو اعراضو د تداوی لپاره انتي بيوتيک استعمالېږي، دځېړنې دټولو ګډونوالو له جملې 98 تنه په دې نظر وو چې، انتي بيوتيک دهمېشه لپاره دهغه ټوخي دتداوی لپاره استعمالېږي چې شنه بلغم ورسره موجود وي. همدارنګه 23 تنه په دې نظر وو چې، اکثرا انتي بيوتيک دشنه بلغم لرونکي ټوخي لپاره استعمالېږي، په داسې حال کې چې 100 تنه په دې نظر وو چې انتي بيوتيکونه کله کله دبلغم لرونکي ټوخي لپاره استعمالېږي، او 17 تنه په دې مظر وو چې نادرا انتي بيوتيکونه دبلغم لرونکي ټوخي لپاره استعمالېږي. او 50 تنه موافق وو چې انتي بيوتيکونه هيڅ کله هم دبلغم لرونکي ټوخي لپاره نه استعمالېږي. 127 تنه په دې نظر و چې انتي بيوتيکونه همېشه دستوني د ناروغيو لپاره، همدارنګه 21 تنه په دې نظر وو چې انتي بيوتيک اکثرا دستوني درد لپاره استعمالېږي، 83 تنه په دې نظر وو چې انتي بيوتيک کله کله دستوني درد لپاره استعمالېږي، 21 تنه په دې نظر وو چې انتي بيوتيکونه نادرا دستوني درد لپاره استعمالېږي، او 38 تنه په دې نظر و چې انتي بيوتيکونه هيڅ دستوني درد لپاره نه استعمالېږي. همدارنګه دټولو ګډونوالو له جملې 121 تنه په دې نظر وو چې انتي بيوتيکونه همېشه دتبه لرونکي ټوخي لپاره استعمالېږي، په داسې حال کې چې 12 تنه ګډونوال په دې نظر وو چې انتي بيوتيکونه اکثرا د تبه لرونکي ټوخي لپاره استعمالېږي، 92 تنه ګډونوال په دې نظر وو چې انتي بيوتيکونه کله کله دتبه لرونکي ټوخي لپاره استعمالېږي، 17 تنه په دې نظر وو چې انتي بيوتيکونه نادرا دټوخي لرونکي تبې لپاره استعمالېږي، همدارنګه 49 تنه ګډونوال په دې نظر وو چې انتي بيوتيکونه هيڅ کله دتبه لرونکي ټوخي لپاره نه استعمالېږي. همدارنګه 74 تنه ګډونوال په دې نظر وو چې انتي بيوتيکونه همېشه دپوزې دبندښت او سر درد لپاره استعمالېږي، 31 تنه په دې نظر وو چې انتي بيوتيکونه اکثرا دپوزې دبندښت او سر درد لپاره استعمالېږي، 102 تنه په دې نظر وو چې انتي بيوتيکونه کله کله دپوزې دبندښت او سر درد لپاره استعمالېږي، همدارنګه 41 تنه په دې نظر وو چې انتي بيوتيکونه نادرا دپوزې دبندښت او سر درد لپاره استعمالېږي، او 42 تنه په دې نظر وو چې انتي بيوتيکونه هيڅ کله هم دپوزې دبندښت او سر درد لپاره نه استعمالېږي.همدارنګه دټولو ګډونوالو له جملې67 تنه په دې نظر وچې انتي بيوتيکونه دهمېشه لپاره د هغه ټوخي دتداوی لپاره استعمالېږي چې له ځانه سره غټ بلغم انتقالوي، 35 تنه په دې نظر وو چې انتي بيوتيکونه اکثرا دهغه ټوخي دتداوی لپاره استعمالېږي چې له ځانه سره غټ بلغم انتقالوي، 115 تنه په دې نظر وو چې انتي بيوتيکونه کله کله دهغه ټوخي دتداوی لپاره استعمالېږي چې له ځانه سره غټ بلغم انتقالوي، همدارنګه 30 تنه ګډونوال په دې نظر وو چې انتي بيوتيکونه نادرا دهغه ټوخي دتداوی لپاره استعمالېږي چې له ځان سره غټ بلغم انتقالوي، او 42 تنه ګډونوال په دې نظر وو چې انتي بيوتيکونه هيڅ هم دهغه ټوخي دتداوی لپاره نه استعمالېږي چې له ځان سره غټ بلغم انتقالوي. همدارنګه دټولو ګډونوالو له جملې 135 تنه په دې نظر و چې انتي بيوتيکونه معمولا دهغه ټوخي دتداوی لپاره استعمالېږي چې دوه اونۍ يې دوام کړی وي، 10 تنه په دې نظر و چې انتي بيوتيکونه اکثرا دهغه ټوخي دتداوی لپاره استعمالېږي چې دوه اونۍ يې دوام کړی وي، په داسې حال کې چې 83 تنه ګډونوال په دې نظر و چې انتي بيوتيکونه کله کله دهغه ټوخي دتداوی لپاره استعمالېږي چې دوه اونۍ يې دوام کړی وي، همدارنګه

12 تنه ګډونوال په دې نظر و چې انتي بیوتیکونه نادرا هغه ټوخي دتداوی لپاره استعمالېږي چې دوه اونۍ یې دوام کړی وي، او 50 تنه ګډونوال په دې نظر و چې انتي بیوتیکونه هیڅ کله هم دهغه ټوخي دتداوی لپاره نه استعمالېږي چې دوه اونۍ یې دوام کړی وي.

***۱۰ جدول:*** *د تنفسي لارې د نښو په وړاندې د انتي‌بیوتیک کارونه.*

| | هغه ټوخی چې شنه بلغم ورسره وي | ستوني درد | تبه لرونکی ټوخی | دپوزې بندښت او سردرد | هغه ټوخی چې بلغم ځان سره انتقالوي. | هغه ټوخی چې دوه اونۍ یې دوام کړی وي. |
|---|---|---|---|---|---|---|
| باوري | 288 | 290 | 291 | 290 | 289 | 290 |
| همېشه | 98 | 127 | 121 | 74 | 67 | 135 |
| اکثرا | 23 | 21 | 12 | 31 | 35 | 10 |
| کله کله | 100 | 83 | 92 | 102 | 115 | 83 |
| نادرا | 17 | 21 | 17 | 41 | 30 | 12 |
| هیڅ کله هم نه | 50 | 38 | 49 | 42 | 42 | 50 |
| Missing | 3 | 1 | 0 | 1 | 2 | 1 |
| مجموعه | 291 | 291 | 291 | 291 | 291 | 291 |
| Mode | کله کله | همېشه | همېشه | کله کله | کله کله | همېشه |
| معیاري انحراف | 1.441 | 1.432 | 1.489 | 1.349 | 1.305 | 1.517 |

په (11) چارت کې دګډونوالو نظر دانتي بیوتیکونو د سرچینې په اړه پوښتل شوی دی، چې دټولو ګډونوالو له جملې 213 تنه (73.2%) په دې نظر و چې انتي بیوتیکونه زمورږپه کورونو کې موجود دي ، په داسې حال کې چې 40 تنه (13.7%) په دې نظر و چې انتي بیوتیکونه دخپلو همصنفیانو نه لاسته راوړو، همدارنګه 14 تنه (4.8%) په دې نظر و چې انتي بیوتیکونه مور په خپله اخلو، 11 تنه (3.8%) یې انتي بیوتیکونه د داکتر دنسخې له لارې اخستل، او 10 تنه (3.4%) یې انتي بیوتیکونه دمختلفو لارو لاسته راوړل. په همدې چارت کې دانتي بیوتیکو دغوراوي دمعیارونو په اړه ټول پوښتنه شوې ده چې، دټولو ګډونوالو له جملې 227 تنو (78%) یې دملګرو نه مشوره اخستله، همدارنګه 1 تن (0.3%) یې دخپلې شخصي تجربې په اساس انتي بیوتیک غوره کول، په داسې حال کې چې 9 تنو (3.1%) یې د اکتر دنسخې په اساس انتي بیوتیکونه غوره کول، 34 تنو (11.7%) یې داعلاناتو له لارې انتي بیوتیکونه غوره کول، او 17 تنو (5.8%) یې دنورو لارو څخه انتي بیوتیکونه غوره کول.

**۱ اجدول**: د انتي‌بیوتیکونو سرچپنې، د انتخاب معیارونه، او د استعمال طریقې.

| | | فریکوینسي | فیصدي |
|---|---|---|---|
| هغه انتي بیوتیکونه چې تاسې استفاده کوی له کومه ځایه یې لاسته راوړی؟ | په کور کې جوړول | 213 | 74.0 |
| | دهمصنفیانو له لوری برابر شوي | 40 | 13.9 |
| | هغه چې مور خپله اخستي | 14 | 4.9 |
| | هغه چې د داکتر له لوري اخستل شوي وی | 11 | 3.8 |
| | همداسې نور | 10 | 3.5 |
| | مجموعه | 288 | 100.0 |
| دانتي بیوتیکو دانتخابولو معیارونه | دملګرو سپارښتنه | 227 | 78.5 |
| | شخصي تجربه | 1 | .3 |
| | نسخه | 9 | 3.1 |
| | داعلان له لارې | 34 | 11.8 |
| | نور | 17 | 5.9 |
| | 7 | 1 | .3 |
| | مجموعه | 289 | 100.0 |

په (12) چارت کې په اوله سوال کې له ګډونوالو پوښتنه شوې چې ایا د داکتر له نسخې پرته مو انتي بیوتیکونه استعمال کړي دي. چې له ټولو ګډونوالو له جملې 163 تنو (56%) یې د داکتر له نسخې پرته انتي بیوتیکونه استعمال کړي وو، همدارنګه 127 تنو ( 43.6%) یې نه وو استعمال کړي. بل سوال له ګډونوالو څخه داو چې ایا کله زوکام شوي یاست له داکتر څخه موغوښتي چې انتي بیوتیک درته توصیه کړي، دګډونوالو له جملې 136 تنه (46.7%) یې موافق وو او 155 تنه (53.3%) یې غیري موافق وو. همدارنګه بل سوال له ګډونوالو داهم شوی و چې، ایا زوکام په وخت کې داکتر تاسې ته انتي بیوتیکونه توصیه کړي، دټولو ګډونوالو له جملې 191 تنو (65.6%) ځواب یې هو وو، په داسې حال کې چې د100 تنو (34.4%) ځواب یې نه وو. همدارنګه بل سوال له ګډونوالو څخه داوو چې ایا داکتر تاسې ته کله ویلي چې دناروغیو نښې مو ښې شوې، نوانتي بیوتیک ودروی.چې د 176 تنو (60.5%) یې ځواب یې نه وو، په داسې حال کې چې د 115 تنو (39.5%) ځواب یې نه و.

**۱۲جدول**: د زکام لپاره د انتي‌بیوتیک کارونه او د درملنې د بندولو لارښوونې

| | | فریکوینسي | فیصدي |
|---|---|---|---|
| پرته دداکتر له نسخې مو انتي بیوتیکونه کارولي؟ | هو | 163 | 56.2 |
| | نه | 127 | 43.8 |
| | مجموعه | 290 | 100.0 |
| کله چې تاسې زکام شی له داکتر څخه مو دانتي بیوتیکونو غوښتنه کړی ده؟ | هو | 136 | 46.7 |
| | نه | 155 | 53.3 |
| | مجموعه | 291 | 100.0 |
| کله چې زکام شی داکتر تاسې ته انتي بیوتیکونه تجویز کړي دي؟ | هو | 191 | 65.6 |
| | نه | 100 | 34.4 |
| | مجموعه | 291 | 100.0 |
| ایا کله مو چې دناروغی نښې ښې شي داکتر تاسې ته د انتي بیوتیکو دبندولو اجازه درکړې ده؟ | هو | 176 | 60.5 |
| | نه | 115 | 39.5 |
| | مجموعه | 291 | 100.0 |

**مناقشه:**

په دې څېړنه کې دنفوسو اړوند معلوماتو له نظره دزیاتو ګډونوالو ( 200) تنو د30-20 کلنۍ پورې عمر درلود چې 99% ګډونوال یې نارښه وو، په مقابل کې په 2020 کال کې ګیتا پواسطه په ترسره شوي څېړنه کې دزیاتو ګډونوالو عمرونه د45-31 (41.8%) کلنۍ په منځ کې او زیاته برخه یې نارینه (86.8%) وو. همدارنګه په دې څېړنه کې 281 تنو (96.6%) دانتي بیوتیک په اړه پوهه درلوده ویلې چې، انتي بیوتیک دبکتریایي ناروغیو دتداوی لپاره استعمالیږي په داسې حال کې چې په پورته ترسره شوي څېړنه کې (96.7%) انتي بیوتیک په اړه پوهه درلوده. هغه څېړنه چې دمرزان لخوا(2020) ترسره شوي چې، دځېړنې له نیمایي څخه کمو(42.45%) ګډونوالو یې دانتي بیوتیک په اړه ښه دپوهې کچه درلوده، په داسې حال کې چې په دې څېړنه کې 281 تنو(96.6%) یې دانتي بیوتیک په اړه ښه دپوهې کچه درلوده. په دې څېړنه کې 179 تنه (59.5%) موافق وو چې انتي بیوتیک د داکتر دنسخې پرته استعمالیږي، په داسې حال کې چې دمرزان لخوا په ترسره شوي څېړنه کې i90% څخه زیات ګډونوال موافق وو چې انتي بیوتیک د داکتر دنسخې مطابق استعمالېدل. په نتیجه کې په دې څېړنه کې معلوم شو چې دانتي بیوتیک پر وړاندې دخلکو دپوهې کچه ټیټه ده. یوه بله څېړنه چې د سکویلي لخوا په 2020 کال کې په ایټالیا کې ترسره شوي ښودل شوې ده چې، یوازې 20% ګډونوال موافق وو چې انتي بیوتیکونه دوایرسونو درملنې لپاره کارول کیږي، په داسې حال کې چې په دې څېړنه کې 281 تنه ( 96.6%) ګډونوال موافق وو چې، انتي بیوتیکونه د بکتریایې انتاناتو د رملنې لپاره استعمالیږي.

چې په دې څېړنه کې د انتي بيوتيکو په اړه دګډونوالو دپوهې کچه لوړه وه د پورتنۍ څېړنې په پرتله. همدارنګه دلابي لخوا په 2015 کال کې ترسره شوي څېړنه کې يواځې 18.5% ډاکټرانو ويلې وو چې، دانتي بيوتيکو په وړاندې دبکتريايي انتاناتو مقاومت دهېواد په کچه يوه مهمه ستونزه ده، په داسې حال کې چې په دې څېړنه 243 تنه (83.5%) موافق وو چې، دانتي بيوتيکو مقاومت زمونږ دهېواد په کچه يوه مهمه ستونزه ده. يوه څېړنه چې دګيتا لخوا دايتوپيا په شمال لويديځ کې ترسره شوې وه ګډونوالو له جملې 60.3% يې خپل انتي بيوتيکونه د داکټر له نسخې پرته اخستې وو، همدارنګه 69.8% تنو يې دانتي بيوتيکو او دانتې بيوتيکونو دمقاومت په اړه اورېدلي و، او 68.1% د تنو يې دمقاومت دسبب په اړه معلومات نه درلودل يواځې 37.5% تنو يې دانتي مايکروبي مقامت په اړه معلومات درلودل. په مقابل کې په دې څېړنه کې 281 تنو (96.6%) دانتي بيوتيک په اړه ښه پوهه درلوده او همدارنګه 243 تنو (83.5%) يې دانتي بيو تيک پر وړاندې دبکترياوو مقاومت په اړه معلومات درلودل. همدارنګه په دې څېړنه کې 179 تنو (59.5%) انتي بيوتيک د ډاکټر له نسخې پرته اخستل. په نتيجه کې په دې څېړنه کې په خپل سر دانتي بيوتيک اخستونکو کچه کمه وه نسبت پورته څېړنې ته او همدارنګه په دې څېړنه کې دانتي بيوتيکو پر وړاندې دبکترياوو مقاومت په اړه دپوهې کچه زياته وه نسبت پورته څېړنې ته. همدارنګه په دې څېړنه کې 176 تنه (60.5%) موافق وو چې کله به دناروغۍ نښې شوې انتي بيوتيکونه به يې درول، 115 تنه (39.5%) غيري موافق وو چې کله به دناروغۍ نښې ښې شوې نو انتي بيوتيکونه به يې درول.

په داسې حال کې چې دمرزان په څېړنه کې چې په (2020) کال کې ترسره شوې وه، (68.7%) ديبولوژي زده کوونکو ومنله چې کله به دناروغۍ نښې له منځه ولاړې نو انتي بيوتيکونه به يې درول، اود 36.26% دغيري بيولوژيکي زده کوونکو ومنله چې کله به دناروغۍ نښې له منځه ولاړې نو انتي بيوتيکونو استعمال به يې دروو. همدارنګه د سکويلي په (2013) کال کې په ترسره شوې څېړنه کې هم 15% ګډونوالو منلې چې کله به يې دناروغۍ نښې کمې شوې نو د انتي بيوتيکونو استعمال به يې درولو. همدارنګه د ګوټايريز په 2018 کال کې په ترسره شوې څېړنه کې هم 11.6% منلې وه چې کله دناروغۍ نښې له منځه ولاړې شي نو انتي بيوتيکونه بايد ژر تر ژره ودرول شي. دشريستا (2018) کال څېړنه کې 39 تنو دانتي بيوتيک په اړه ښه پوهه او کړنې درلودې، په داسې حال کې چې 114 تنو ګډونکونکو يې د انتي بيوتيک په اړه ښه نظر درلود. تقريبا ټول يعنې 224 تنو (98.2%) ويل چې انتي بيوتيکونه دبکتريايي انتاناتو لپاره ګټور دي، په داسې حال کې چې په دې څېړنه کې 281 تنه (96.6%) ګډونوال په دې نظر وو چې انتي بيوتيکونه دبکتريايي انتاناتو لپاره ګټور دي، نو ددې دواړو څېړنو څخه معلومه شوه چې دشريستا په څېړنه کې ډيرې ګډونوالو انتي بيوتيکو په اړه پوهه او معلومات درلودل، په داسې حال کې چې په دې څېړنه کې لږو ګډونوالو انتي بيوتيکو په اړه معلومات درلودل. د A K په (2013) کال څېړنه کې له 80% څخه ډېرو ګډونوالو دانتي بيوتيک دناوړه اغېزو او ثانوي عفونت خطر دپام وړ او مهم ګڼلې وو، په داسې حال کې چې په دې څېړنه کې 273 تنه 93.8% د بکتريايي مقاومت په اړه پوهه درلوده.

همدارنګه د A K په څېړنه کې 55 تنو (56.7%) د درملو لګښت د بکتريايي مقاومت يو مهم فکتور ګڼلې وو. په داسې حال کې چې په دې څېړنه کې هم ګډونوال په دې نظر دي چې دزياتو درملو استعمال دبکتريايي مقاومت سبب کېږي. همدارنګه ګيتا په 2020 کال ترسره شوې څېړنه کې دګډونوالو ډيرې برخه 96.7% يې انتي بيوتيکونه پرته د داکټر له نسخې د درملتونونو څخه ترلاسه کول، او همدارنګه څېنو يې له هغه انتي بيوتيکونو څخه استفاده کوله چې

مخکې تر مخکې یې په کور درلودل. په داسې حال کې چې په دې څېړنه کې هم د ګډونوالو زیاتې برخې انتي بیوتیکونه د داکتر له نسخې پرته له درملتونونو او د درملو جوړونکو فابریکو څخه ترلاسه کول. د ګیتا په څېړنه کې (90.1%) ګډونوالو د انتي بیوتیکونو په اړه له بیلابیلو سرچینو اوربدلي وو، په داسي حال کې چې په دې څېړنه کې 99.7% ګډونوالو له بېلابېلو سرچینو څخه دانتي بیوتیکو په اړه معلومات درلودل. په 2013 کال د A K په څېړنه کې د 97 ګډونوالو له جملې 85 تنه ګډونوال په دې نظر وو که چېرې انتي بیوتیکونه تکراري وکارول شي نو په راتلونکي کې یې تاثیر کمیږي، په داسې حال کې چې په دې څېړنه کې 267( 91.8%) تنه په دې نظر وو چې که انتي بیوتیک په تکراري ډول وکارول شي، دانتي بیوتیک تاثیر کمیږي. لابي په 2018 کال کې په خپله څېړنه کې ویل چې د 159 داکترانو څخه 30.1% یې په دې نظر وو چې دانتي بیوتیک په وړاندې دبکتریاوو مقاومت یوه ډېره مهمه نړیواله ستونزه ده. په داسې حال کې چې په دې څېړنه کې 273 تنه د انتي بیوتیک دمقاومت په اړه معلومات درلودل.

**پایله/خلص:**

دغه سروې چې په291 تنو دمعالجوي طب پوهنځی او ستوماتولوژي پوهنځی د محصلینو ترمنځ ترسره شوې، څرګندوي چې په ملي پوهنتون کې دمعالجوي طب او ستوماتولوژي پوهنځیو په محصلینو کې دانتي بیوتیک په اړه پوهه، نظر او عمل کچه لوړه وه. مګر اکثر محصلین په دې نظر وو چې، دانتي بیویتکونو په اړه په پوهنتونونو او عامه ځایونو کې کورسونه او دانتي بیوتیک په اړه کمپاینونه باید ایجاد شي. همدارنګه دانتي بیوتیکو په وړاندې دبکتریاوو مقاومت په اړه هم دمحصلینو دپوهې کچه لوړه وه.

**منه/ قدردانی:**

زه دخپل لارښود استادانو څخه د زړه له کومې منه کوم چې ددې څېړنې په ټولو پراونو کې یې راته ارزښتناکه لارښونه، هڅونه او دوامداره ملاتړ وکړ. زما ژوره منه هم له خپلو استادانو او همکارانو څخه ده چې رغنده وړاندیزونه او هڅونې یې وکړې. په ځانګړې ډول له هغه محصلینو څخه منه کوم چې په دې څېړنه کې یې برخه واخسته، دهغوی وخت، ژمنتیا او لیوالتیا پرته دا څېړنه ناشوني وه. په پای کې، له خپلې کورنۍ او دوستانو څخه د دوی د بې پایانه مینې، حوصلې او اخلاقي ملاتړ څخه دزړه له تله منه کوم.

**وړاندیزونه:**

1- لکه څرنګه چې په دې څېړنه کې معلومه شوه چې زمونږ په ټولنه کې دانتي بیوتیک په اړه پوهه کمه ده (ډېر کم خلک انتي بیوتیک پېژني)، نو باید دصحت عامې وزارت ددې ټولنې دعامه پوهاوي لپاره مشخص ټیمونه جوړ کړي تر څو دعامه خلکو پوهه دانتي بیوتیک په اړه لوړه شي.

## منابع او ماخذونه

AK, A. K., & Banu, G. (2013). Antibiotic resistance and usage—a survey on the knowledge, attitude, perceptions and practices among the medical students of a Southern Indian teaching hospital. *Journal of clinical and diagnostic research: JCDR*, *7*(8), 1613.

Al Sulayyim, H., Ismail, R., Al Hamid, A., Mohammed, B., & Ghafar, N. A. (2024). Antibiotic resistance before, during, and after the COVID-19 pandemic: a retrospective study. *The*

*Asante, F. A., & Amuakwa-Mensah, F. (2014). Climate change and variability in Ghana: Stocktaking. Climate, 3(1), 78-101.*

*Awad, A. I., & Aboud, E. A. (2015). Knowledge, attitude and practice towards antibiotic use among the public in Kuwait. PloS one, 10(2), e0117910*

*Carter, R. R., Sun, J., & Jump, R. L. (2016, May). A survey and analysis of the American public's perceptions and knowledge about antibiotic resistance. In Open forum infectious diseases (Vol. 3, No. 3, p. ofw112). Oxford University Press.*

Geta, K., & Kibret, M. (2021). Knowledge, attitudes and practices of animal farm owners/workers on antibiotic use and resistance in Amhara region, north western Ethiopia. *Scientific Reports*, *11*(1), 21211.

Geta, K., & Kibret, M. (2022). Knowledge, attitudes and practices of patients on antibiotic resistance and use in Public Hospitals of Amhara Regional State, Northwestern Ethiopia: a cross-sectional study. *Infection and Drug Resistance*, 193-209.

*Gupta, M. K., Vohra, C., & Raghav, P. (2019). Assessment of knowledge, attitudes, and practices about antibiotic resistance among medical students in India. Journal of family medicine and primary care, 8(9), 2864-2869.*

Higuita-Gutiérrez, L. F., Roncancio Villamil, G. E., & Jiménez Quiceno, J. N. (2020). Knowledge, attitude, and practice regarding antibiotic use and resistance among medical students in Colombia: a cross-sectional descriptive study. *BMC public health*, *20*(1), 1861.

Higuita-Gutiérrez, L. F., Roncancio Villamil, G. E., & Jiménez Quiceno, J. N. (2020). Knowledge, attitude, and practice regarding antibiotic use and resistance among medical students in Colombia: »a cross-sectional descriptive study. *BMC public health*, *20*(1), 1861.

*Huang, Y., Gu, J., Zhang, M., Ren, Z., Yang, W., Chen, Y., ... & Zhang, F. (2013). Knowledge, attitude and practice of antibiotics: a questionnaire study among 2500 Chinese students. BMC medical education, 13(1), 163.*

*Jainlabdin, M. H., Zainuddin, N. D. M., & Ghazali, S. A. M. (2021). Knowledge, attitude, and practice of antibiotic use and antibiotic resistance during the COVID-19 pandemic among nursing school students–a cross-sectional study. International Journal of Care Scholars, 4(2), 30-39.*

*Journal of Infection in Developing Countries*, *18*(03), 371-382.- Marzan ,M ,.Islam ,D. Z Lugova , H ,.Krishnapillai ,A ,.Haque ,M & ,.Islam ,S) .2021 .(Knowledge ,attitudes ,and practices of antimicrobial uses and resistance among public university students in Bangladesh .*Infection and drug resistance* ,519-533.

Labi, A. K., Obeng-Nkrumah, N., Bjerrum, S., Aryee, N. A. A., Ofori-Adjei, Y. A., Yawson, A. E., & Newman, M. J. (2018). Physicians' knowledge, attitudes, and perceptions concerning antibiotic resistance: a survey in a Ghanaian tertiary care hospital. *BMC health services research*, *18*(1), 126.

*Sami, R., Sadegh, R., Fani, F., Atashi, V., & Solgi, H. (2022). Assessing the knowledge, attitudes and practices of physicians on antibiotic use and antimicrobial resistance in Iran: a cross-sectional survey. Journal of Pharmaceutical Policy and Practice, 15(1), 82.*

Scaioli, G., Gualano, M. R., Gili, R., Masucci, S., Bert, F., & Siliquini, R. (2015). Antibiotic use: a cross-sectional survey assessing the knowledge, attitudes and practices amongst students of a school of medicine in Italy. *PloS one*, *10*(4), e0122476.

Shrestha, R. (2019). Knowledge, attitude and practice on antibiotics use and its resistance among

medical students in a tertiary care hospital. *JNMA: Journal of the Nepal Medical Association*, *57*(216), 74.

*Waaseth, M., Adan, A., Røen, I. L., Eriksen, K., Stanojevic, T., Halvorsen, K. H., ... & Nordeng, H. M. (2019). Knowledge of antibiotics and antibiotic resistance among Norwegian pharmacy customers–a cross-sectional study. BMC public health, 19(1), 66.*

# د درملو د منطقي او غیر منطقي کارونې ترمنځ توپیرونه: ستونزي او حل لارې

ملـي
علمـي-څېړنیـز ژورنال
REG Code: RCTD-PNJR-0094-25

**صفي الله محبت**[1*]
د بیزیک ساینس ډیپارټمنټ ، عمومي طب پوهنځی سپن غر پوهنتون ننګرهار، افغانستان
Safiulllahmuhabat2@gmail.com

**پوهنیار محمد جاوید حاذق**[2]
کلینیک ډیپارټمنټ ، عمومي طب پوهنځی، سپن غر پوهنتون، افغانستان

**لنډیز**

درمل د روغتیایي پاملرنې یو بنسټیز او حیاتي رکن بلل کېږي، څکه چې د ناروغیو په تشـخیص، مخنیوي او درملنه کې مهم رول لري. د درملو منطقي کارونه د روغتیایي خدمتونو د کیفیت د لوړولو، د ناروغانو د خوندیتوب د تضمین او د مالي سرچینو د اغېزمن اسـتعمال لپاره اړینه ده. له بلې خوا، د درملو غیرمنطقي کارونه د روغتیایي نظام یو جدي ننګونه ده، څکه څېړنې څرګندوي چې له نیمایي زیات درمل یا خو په ناسم ډول توصیه کېږي، یا ناسمې اندازې کې وېشل کېږي، او یا هم ناروغان یې په سـمه توګه نه کاروي. په دې مقاله کې د درملو د منطقي کارونې او غیرمنطقي کارونې مفاهیم د نړیوال روغتیا سـازمان او د نړیوال بانک د تعریفونو پر بنسټ تشریح شـوي دي. همدارنګه، د اسـاسي درملو د لېسـت اهمیت، د هغې د تطبیق اړتیا، او د درملو د منطقي کارونې د بنسټیزو اصولو ارزښت تحلیل شوی دی. د غیرمنطقي کارونې اصـلي عوامل، لکه د روغتیایي نظام کمزوري، د روغتیایي کارکوونکو مسـلکي کمزوري، د ناروغانو د پوهاوي ټیټوالی، د درملو د صـنعت سـوداګریز اغېز، او د نسـخو لیکونکو ناسـم چلند څېړل شـوي دي. همدارنګه، د غیرمنطقي کارونې منفي اغېزې، لکه د انټي مایکروبي مقاومت زیاتوالی، د درملو اړخیزې اغېزې، د ناروغانو د درملنې ناکامي او د اقتصادي سرچینو ضایع کېدل، په علمي ډول تشریح شوي دي. د مقالې موخه دا ده چې د درملو د منطقي کارونې د هڅونې لپاره علمي، مسـلکي او عملي لارې چارې وړاندې کړي، چې د روغتیایي خدمتونو کیفیت لوړ، د نارو غانو هوسـاینه زیا ته، او د ټولنې د روغتیایي نظام موثریت تضمین شي.

**کلیدي کلمې: حل لارې، درملو منطقي کارونه، ستونزي، غیر منطقي کارونه**

# Differences Between Rational and Irrational Use of Medicines: Challenges and Solutions

**Abstract**

Medicines are considered a fundamental and vital component of healthcare, as they play a crucial role in the diagnosis, prevention, and treatment of diseases. The rational use of medicines is essential for improving the quality of healthcare services, ensuring patient safety, and the efficient utilization of financial resources. Conversely, the irrational use of medicines poses a serious challenge to healthcare systems, as research indicates that over half of all medicines are either prescribed inappropriately, dispensed incorrectly, or not used properly by patients. This article elucidates the concepts of rational and irrational medicine use based on definitions provided by the World Health Organization and the World Bank. Furthermore, it analyzes the importance of an Essential Medicines List, the necessity of its implementation, and the value of the core principles of rational medicine use. The primary factors contributing to irrational use have been investigated, including weaknesses in the healthcare system, professional deficiencies among healthcare workers, low health literacy among patients, commercial influences from the pharmaceutical industry, and inappropriate prescribing practices. Additionally, the negative consequences of irrational use are scientifically explained, such as the increase in antimicrobial resistance, adverse drug reactions, treatment failure, and the wastage of economic resources. The objective of this article is to propose scientific, professional, and practical strategies to promote the rational use of medicines, thereby enhancing the quality of healthcare services, improving patient outcomes, and ensuring the efficacy of the public health system.

**Keywords: rational medicine use, irrational use, challenges, solutions**

MARJ

Mili
Academic-Research Journal

**REG Code:** RCTD-PNJR-0094-25

**Safiullah Mohabat[1]***
Basic Science Department, Faculty of General Medicine, Spin Ghar University, Nangarhar, Afghanistan
Safiulllahmuhabat2@gmail.com

**Mohammad Javed Haziq[2]**
Clinic Department, Faculty of General Medicine, Spin Ghar University, Afghanistan

**پېژندنه**

درمل د روغتیایي پاملرنې د نظام یو بنسټیز رکن دی چې د ناروغیو د تشخیص، مخنیوي او درملنې لپاره حیاتي رول لري. د درملو کارونه هغه وخت مؤثره تمامېږي چې په سمه او علمي توګه وکارول شي. د درملو منطقي کارونه (Rational Drug Use - RDU)د نړۍ د روغتیا سازمان له تعریف سره سم داسې حالت ته ویل کېږي چې ناروغ ته د هغه د طبي اړتیا مطابق، په مناسب مقدار، د کافي مودې لپاره او د لږې ممکنه بیې په بدل کې درمل ورکړل شي (World Health Organization, 2021). خو د اټکل له مخې له نیمایي څخه زیات درمل په ناسم ډول توصیه، وېشل یا کارول کېږي، او شاوخوا نیمایي ناروغان خپلې نسخې په سمه توګه نه تعقیبوي، چې پایله یې د روغتیایي سرچینو ضایع کېدل او د ناروغیو اوږدېدل دي(Chaturvedi, Mathur, & Anand, 2012).

د درملو غیر منطقي کارونه (Irrational Drug Use - IRDU) کولای شي د درملو د کارونې د هر پراو لکه نسخه لیکل، وېشل، پلورل، یا د ناروغ له خوا د درملو کارونه کې پېښ شي (Ofori-Asenso & Agyeman, 2016). د دې ستونزې بېلګې عبارت دي له: د ویروسي ناروغیو لپاره د انټي بیوټیک کارونه، د انتاني نس ناستې لپاره د درملو غیر ضروري کارونه، او د درملو د غلطې لارې یا دوز کارونه (Erku, Mekuria, & Surur, 2021). دغه کړنې نه یوازې د ناروغ پر روغتیا منفي اغېز کوي، بلکې د مقاومت لرونکو میکروبونو د زیاتوالي، د درملو د ناوړه اغېزو، او د روغتیایي لګښتونو د زیاتوالي لامل هم ګرځي(Mamo & Alemu, 2020; Sabir, 2018).په پرمختیایي هېوادونو کې، چې روغتیایي زیربناوې محدودې او د درملو د څارنې میکانیزمونه کمزوري دي، د درملو غیر منطقي کارونه یوه جدي ستونزه ده. څېړنې ښیي چې په دغو هېوادونو کې ۲۵–۷۰٪ روغتیایي لګښتونه پر درملو مصرفېږي، خو بیا هم د اساسي درملو بشپړ لاسرسی نه شته (Laing, 1990). دا حالت د روغتیایي سیستم د کیفیت کمښت او د ناروغانو د نه خوښۍ لامل کېږي(Helics Group, 2021) . د COVID-19 وبا د درملو د منطقي کارونې اړتیا نوره هم روښانه کړه. په دې موده کې د غیر ثابتو شواهدو پر بنسټ د ځینو درملو لکه کلوروکین، ریتوناویر او هایډروکسي کلوروکین بې ځایه کارونې د ناروغانو لپاره د جدي خطرونو سبب شوې (Yang, 2020). له همدې امله اړینه ده چې د درملو کارونه تل د علمي شواهدو او لارښودونو پر بنسټ وي، تر څو د ناروغانو خوندیتوب او د سرچینو اغېزمن استعمال ډاډمن شي. د دې ستونزو د حل لپاره اړینه ده چې د روغتیایي سیستم اړوند ټولې برخې – ډاکټران، درملپوهان، ناروغان، د پالیسۍ جوړونکي او ټولنه – په ګډه کار وکړي. د WHO له خوا وړاندې شوي شاخصونه، د اساسي درملو لیستونه، او ښوونیز پروګرامونه د درملو د منطقي کارونې د هڅونې لپاره مهمې وسیلې دي (World Health Organization, 2012). برسېره پر دې، د درملو د معقولې کارونې اصول باید د طبي نصاب یوه برخه وي او د عامه پوهاوي لوړولو لپاره منظمې هڅې وشي، څو درمل په خوندي، اغېزمن او اقتصادي ډول وکارول شي. په همدې موخه، دا مقاله د درملو د منطقي او غیر منطقي کارونې ترمنځ د توپیرونو، د دې اړوند ستونزو او عملي حل لارو د وړاندې کولو لپاره لیکل شوې ده، تر څو د روغتیایي خدمتونو کیفیت ښه کړي او د ناروغانو هوساینه زیاته کړي.

د درملو غیر منطقي کارونه په روغتیایي نظام کې جدي ستونزه ده، چې نه یوازې د ناروغانو درملنه کمزوري کوي، بلکې د مقاومت لرونکو میکروبونو د پراختیا، د درملو د ناوړه اغېزو او د روغتیایي لګښتونو د زیاتوالي سبب ګرځي. د منطقي کارونې د اصولو رعایت د ناروغانو د خوندیتوب، د سرچینو اغېزمن استعمال، د مقاومت د خپرېدو مخنیوي او د روغتیایي خدمتونو د کیفیت لوړولو لپاره حیاتي ارزښت لري، چې دا د څېړنې اهمیت په ګوته کوي.

د دې څېړنې موخه دا ده، چې د افغانستان په روغتیايي نظام کې د درملو منطقي او غیر منطقي کارونې وضعیت وڅېړل شي، د ستونزو اساسي عوامل مشخص شي او د عملي حل لارو وړاندیز وشي، ترڅو د ناروغانو هوساینه، د روغتیايي سرچینو اغېزمنتوب او د مقاومت د خپرېدو مخنیوی یقیني شي. د څېړنې د اصلي **پوښتنې** په توګه مطرح کېږي، چې **په افغانستان کې د درملو غیر منطقي کارونه څه ډول پېښېږي، کوم عوامل یې سبب ګرځي او د منطقي کارونې د لا ښه کولو لپاره کوم عملي اقدامات غوره دي؟**

**مواد او کړنلاره**

دا یوه غیر سیستماتیکه رېوي ده چې پدې مروري مقاله کې د مختلفو معتبرو څېړنیزو مقالو څخه معلومات راټول شوي چې د معلوماتو زیات تمرکز د درملو په منطقي او غیر منطقي کارونې ، توپیرونو، ستونزو او حل لارو باندې شوي او د معلوماتو د راټولو لپاره د معتبرو څېړنیزو او معلوماتي ډیټابیسونو څخه استفاده شوي ده لکه: Google Scholar ، Web of science، PubMad، SCi- hub او داسې نور .د معلوماتو د راټولو لپاره مو د سلو څخه زیاتې څېړنیزې او مروري مقالې ډاونلوډ کړې چې له جملې څخه یې یواځې هغه مقالې چې زمونږ د مقالې کلیدي نقطو سره یې سمون درلود انتخاب او یاده مروري مقاله کې مو تري ګټه واخېسته .

**د درملو منطقي او غیر منطقي کارونه**

د درملو منطقي کارونه (RDU) د مؤثره، خوندي او کیفیت لرونکي روغتیايي خدمتونو د وړاندې کولو یو اساسي اصل دی. په ۱۹۸۵ کال کې د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) په نایروبي کې د متخصصینو یوه غونډه جوړه کړه او د RDU تعریف یې داسې وکړ چې کله ناروغانو ته د هغوی د کلینیکي اړتیاوو مطابق درمل ورکړل شي، په داسې اندازه چې د هغوی د فردي اړتیاوو پوره کوونکي وي، د مناسبې مودې لپاره او په لږ لګښت چې د هغوی او ټولنې د زغم وړ وي (World Health Organization, 2002).

دا تعریف د پنځه حقونو یادونه کوي: د سم درمل نسخه کول، په سم وخت، د سمې لارې، په سمه اندازه او د سم ناروغ لپاره. که د نسخه لیکلو بهیر د WHO شپږ اړینو ګامونو سره سم ترسره شي، نو دا پنځه حقونه پوره کېدای شي. دغه ګامونه عبارت دي له: (۱) د ناروغ ستونزې پېژندل (تشخیص)، (۲) د خوندي او اغېزمنې درملنې ټاکل (غیردرملنیزه او درملنیزه)، (۳) د سم درمل، دوز او مودې ټاکنه، (۴) د واضح نسخې لیکل، (۵) ناروغ ته د ناروغی او دوز په اړه سمه مشوره ورکول او (٦) د درملنې بهیر ارزونې لپاره پلان جوړول (Jha, Bajracharya, & Shankar, 2013).

نړیوال بانک (WB) هم RDU د دوو مهمو معیارونو پر بنسټ تعریف کړی: د درملو کارونه باید د مقاومت، خوندیتوب او زغم علمي شواهدو مطابق وي، او د هېواد د روغتیايي مرکزونو د مالي وړتیاوو مطابق اقتصادي پلوه د منلو وړ وي. د WHO او WB تعریفونه په دوو برخو کې سره توپیر لري؛ لومړی دا چې WB د علمي معلوماتو پر بنسټ د درملو نسخه کول ضروري ګڼي، او دویم دا چې WB د هېواد د مالي ظرفیت په پام کې نیولو سره د درملو کارونې سپارښتنه کوي، خو WHO ټینګار کوي چې د امکان تر حده په ټیټ لګښت باید درمل وکارول شي (World Health Organization, 2009).

RDUیوازې د کلینیکي اړخه نه، بلکې د ناروغ د دریځ له مخې هم ارزول کېدای شي. څه چې کلینیکي عاقلانه ګڼل کېږي ښایي د ناروغ له نظره غیرمنطقي وي او برعکس. له همدې امله، د RDU د بشپړ درک لپاره باید د کلینیک او ناروغ دواړو نظرونه په پام کې ونیول شي (Jha & Shankar, 2006).

د طبي درملنې له نظره، د درملو غیرمنطقي کارونه (IRDU) د درملو د کارونې د څلورو پراوونو په هر یوه کې رامنځته کېدای شي: تشخیص یا تعقیب، نسخه لیکل، د درملو وېش او د ناروغ پابندي. ناسم تشخیص یا تعقیب د ناسمې نسخې سبب ګرځي. سره له دې چې نسخه لیکل یوه عادي کړنه ښکاري، خو دا یوه پېچلې پروسه ده چې د مسلکي پوهې، د اړیکو مهارتونو، د درملنې اصولو د تطبیق او د خطرونو او نامعلومو حالاتو سره د مقابلې وړتیا ته اړتیا لري.WHO د منطقي نسخه لیکلو لپاره اساسي ټکي وړاندې کړي چې په کې د خوندي، اغېزمن او د تېټ لګښت درملو نسخه کول شامل دي، تر څو ناروغ ته لږ زیان او لږ زهریت ورسېږي. سربېره پردې، د درملو د اغېزو څارنه او ناروغ ته د اړینو معلوماتو ورکول ضروري دي(Jha & Shankar, 2006).

(د IRP (د ناسمې نسخې) پنځه ډولونه دي: کم نسخه کول، زیات نسخه کول، ناسم نسخه کول، اسراف په نسخه کې او څوګوني نسخه کول. کم نسخه کول هغه وخت رامنځته کېږي چې اړین درمل نه نسخه کېږي یا په ټیټه اندازه یا لنډه موده ورکول کېږي. زیات نسخه کول هغه وخت وي چې درمل پرته له اړتیا نسخه شي، یا د اړتیا درمل اوږدې مودې لپاره ورکړل شي (Hogerzeil, 2004). ناسم نسخه کول د غلط تشخیص پر بنسټ د درملو ټاکل دي، یا د ناروغ د موجوده حالاتو سره د ټکر درملو کارونه. اسراف په نسخه کې د ګران بیه درملو کارول دي په داسې حال کې چې ارزانه او هم‌اغېزه بدیل شته. څوګوني نسخه کول هغه وخت کېږي چې ډاکټر د لږو پر ځای ډېرو درملو نسخه وکړي(Jha & Shankar, 2006).

نسخه لیکل وروسته د درملو وېش راځي، چې په کې د درملو چمتو کول، لیبل وهل او د نسخې تشریح شامل دي. دا بهیر عموماً د روزل شوي درمل جوړونکي له خوا ترسره کېږي، خو کله ناکله نسخه لیکونکی هم دا کار کوي، چې کولای شي د درملنې لګښت او خوندیتوب اغېزمن کړي. څېړنو ښودلې چې په زیمبابوې کې د ډاکټرانو لخوا وېش د زیات لګښت او کم منطقي کارونې سبب شوی دی، نو د خپلواکو درمل جوړونکو شتون اړین دی تر څو نسخه وارزوي او مناسبې بدیلې لارې وځېړي (World Health Organization, 2009). سربېره پر دې، د درمل جوړونکي رول یوازې په وېش محدود نه دی، بلکې د ډاکټرانو او نورو روغتیایي کارکوونکو سره د همکارۍ او مشورې له لارې د RDU په ښه والي کې مهم رول لري (World Health Organization, 2002).

**د اساسي درملو مفهوم او منطقي کارونه**

د الما-اتا اعلامیې چې د ۱۹۷۸ کال د لومړنۍ روغتیا ساتنې نړیوالې کنفرانس په ترڅ کې وړاندې شوه، ټینګار وکړ چې روغتیا د هر انسان اساسي حق دی او د لوړې روغتیایي کچې تر لاسه کول د ټولنې تر ټولو مهمه ټولنیزه موخه ده. د دې اعلامیې د لومړنۍ روغتیایي پاملرنې اته مهم برخې وټاکلې چې یوه یې د اساسي درملو تهیه او برابرول دي درمل د روغتیایي پاملرنې مهمه برخه ده او عصري روغتیایي خدمتونه د اړینو درملو له شتون پرته تصور کېدای نه شي. دا یوازې د ناروغانو ژوند نه ژغوري او د هغوی روغتیا ښه کوي، بلکې د ناروغیو او وباو مخنیوی هم کوي. له همدې امله د درملو ته لاسرسی د انسان بنسټیز حق ګڼل کېږي(World Health Organization, 1978).

**د اساسي درملو مفهوم**

د اساسي درملو مفهوم د WHO له خوا په ۱۹۷۷ کال کې وړاندې شو. اساسي درمل هغه دي چې د خلکو د لومړنۍ روغتیا پاملرنې اړتیاوې پوره کوي. د دغو درملو انتخاب د عامې روغتیا د ارزښت، د لګښت-اغېزمنتیا او د اغېزمنتیا او خوندیتوب د ثبوت پر بنسټ کېږي. اساسي درمل باید د روغتیایي سیستم په چوکاټ کې په کافي اندازه، د مناسبو دوزونو، په مناسب شکل، د تضمین شوي کیفیت او د کافي معلوماتو سره، او د داسې بیې په بدل کې شتون ولري چې د ټولنې او فرد له وسه وتلې نه وي (World Health Organization, 2019). د اساسي درملو د انتخاب پروسه باید د انعطاف وړ او د ملي شرایطو مطابق وي. د محدود شمېر درملو دقیق انتخاب د درملو د ښه مدیریت، لوړ کیفیت، او د روغتیایي سرچینو د اغېزمن کارونې لامل ګرځي. د WHO لومړنۍ لېست په ۱۹۷۷ کې جوړ شو او له هغه وخت راهیسې هر دوه کاله وروسته نوي کېږي. په دغه لېست کې یوازې خوندي او لګښت-اغېزمن درمل شاملېږي، په داسې حال کې چې په بازار کې ګڼ شمېر شکمنې ګټې لرونکي درمل شتون لري (World Health Organization, 2021).

**د اساسي درملو د لېست جوړولو پروسه**

د اساسي درملو د ټاکنې پروسه باید شفافه وي او د ګډونوالو نظرونو ته ځای ورکړل شي، خو باید علمي او د شواهدو پر بنسټ وي. د انتخاب معیارونه باید روښانه وي، د انتخاب بهیر د معیاري کلینیکي لارښودونو سره تړاو ولري، او د لومړنۍ کچې او تخصصي کچې لپاره جلا شي. دغه لېست او لارښودونه باید لږ تر لږه هر دوه کاله وروسته نوي شي او د کارونې اغېزې یې وارزول شي (Management Sciences for Health & World Health Organization, 2007).

د ټاکنې پروسه کې لاندې ګامونه شامل دي:

1. د شفافې پروسې جوړول او د اړوندو شریکانو ګډون.
2. د معیاري کلینیکي لارښودونو پلي کول د لومړنۍ او تخصصي کچې متخصصینو په ګډون.
3. د لوړ پوړو ډاکټرانو، تعلیمي ادارو، روغتیایي کارکوونکو، اتحادیو او ټولنې ملاتړ ترلاسه کول.
4. د اساسي درملو لېست په ټولو روغتیایي مرکزونو کې په چاپې او برېښنایي بڼه لاسرسې ته برابرول.
5. د نوې یا تازه شوې لېست د معرفي کولو پر مهال د حکومت اړوند چارواکي او عامه پوهاوی دخیلول.
6. د قانوني او اداري صلاحیت روښانه کول د تدارکاتو، تادیاتو او روزنې لپاره.
7. د نامسجلو درملو د محدود کارونې لپاره د بودجې خوندیتوب میکانیزم رامنځته کول.
8. د لېست منظم نوي کول د طبي پرمختګونو او د انټي مایکروبي مقاومت د بدلونونو پر بنسټ (Management Sciences for Health, 2012).

**د اساسي درملو د لېست کارونه**

د اساسي درملو مفهوم د ګڼو نړیوالو ادارو له خوا منل شوی، لکه UNHCR اوUNICEF ، او همدارنګه د نادولتي سازمانونو له خوا. دغه لېست د درملو د تدارکاتو، د بیمې د بېرته ورکړې سکیمونو، د درملو د مرستو او ځایي تولید لارښود دی. د روغتیایي مسلکي کسانو له خوا د زده کړې او روزنې د وسیلې په توګه کارول کېږي، او د ملي اولویتونو مطابق دوامداره تازه کېږي(Holloway, Gautam, & Reeves, 2001).

**د اساسي درملو لېست وروسته منطقي کارونه**

د اساسي درملو انتخاب یوازې لومړنی ګام دی. د کیفیت د ښه والي لپاره ضروري ده چې دغه درمل په سمه توګه وکارول شي. هر شخص باید سم درمل، د سمې مودې لپاره، دقیق معلومات سره او د ټیټ لګښت په بدل کې ترلاسه کړي. د نړۍ په کچه تر ۵۰٪ زیات درمل په ناسم ډول نسخه کېږي، وېشل کېږي یا خرڅېږي، او شاوخوا ۵۰٪ ناروغان خپل درمل په سمه توګه نه اخلي (Ventola, 2015). دا حالت د وېرې وړ دی، ځکه چې د ناسم کارونې له امله د تېرو وختونو اغېزمن درمل نن ورځ بې‌اغېزې شوي دي، لکه د انټي‌مایکروبي درملو د مقاومت ښېلګه. له همدې امله د درملو سم کارونه (RDU) د لاسرسي ترڅنګ خورا مهم دی (Ventola, 2015).

**د درملو غیر منطقي کارونې عوامل**

د درملو غیر منطقي کارونه (IRDU) یو نړیوال روغتیایي ننګونه ده چې د ناروغ د درملنې پایلې اغېزمنوي او د روغتیایي سیستم پر سرچینو فشار راوړي. د دې پدیدې اصلي عوامل په لاندې توګه تشریح کېږي:

**د روغتیایي سیستم ستونزې**

د روغتیایي سیستم کمزوري د IRDU یو مهم لامل دی. کله چې د روغتیایي خدمتونو ته د خلکو لاسرسی محدود وي، د متخصص ډاکټرانو کمښت وي، د تشخیص وسایل موجود نه وي او د روغتیایي خدماتو کیفیت ټیټ وي، نو ناروغان د ځان‌درملنې پر لور ځي چې د ناروغۍ د کنټرول او درملنې کیفیت کمزوری کوي (Holloway, Gautam, & Reeves, 2001).

سربېره پر دې، د درملو د وېش منظم سیستم نه شتون، د نسخه لیکلو په برخه کې د ځارنې نشتوالی او د مقرراتو نه تطبیق د غیر معقول درملو کارونې د زیاتوالي لامل کېږي. د ښلګې په توګه، په ډېرو هېوادونو کې د انټي‌بیوټیک نسخه پرته اخیستل شایع دی چې د مقاومت خطر لوړوي(Arrow, Panosian, & Gelband, 2004).

**د ناروغانو د پوهاوي ټیټوالی**

د ناروغانو د پوهې کموالی او د درملو د کارونې اړوند ناسمه درک د IRDU یو مهم لامل دی. هغه ناروغان چې د ناروغۍ د نوعیت او درملنې په اړه کافي پوهه نه لري، زیاتره د ځان‌درملنې پر لور ځي او له درملتون څخه نسخه پرته درمل اخلي(Patel, Vaidya, & Borker, 2005).د ناروغانو پر کورنیو فشار او ټولنیزو دودونو هم د درملو د ناسمې کارونې لامل کېږي، ځکه چې ډېری کسان د ډاکټر پر ځای د خپلوانو او ملګرو د مشورو له مخې درمل اخلي (De Deymttenaere et al., 2004).

**تبلیغات او بازارموندنه**

د درمل جوړونکو شرکتونو د بازارموندنې تګلارې او تبلیغات د درملو غیر منطقي کارونې کې مهم رول لري. د ډاکټرانو لپاره د تحفو ورکول، د محصول د معرفي پروګرامونه او د ناروغانو لپاره د مستقیمو اعلاناتو کمپاینونه د دې سبب ګرځي چې درمل ډېر تجویز شي، حتی که ورته اړتیا نه وي(Trap & Hansen, 2003).

د بېلګې په توګه، د ناروغانو د غوښتنې د پوره کولو لپاره د انټي‌بیوټیکونو بېځایه تجویز په ډېرو هېوادونو کې لیدل کېږي چې د مقاومت د کچې په لوړولو کې مهم رول لري(Goossens et al, 2005).

**کلتوري او ټولنیز عوامل**

کلتوري دودونه او ټولنیزې عقیدې د درملو په کارونه کې مهم رول لري. په ځینو ټولنو کې دا باور شته چې درمل باید حتماً د سترې له لارې ورکړل شي ترڅو اغېزمن وي، له همدې امله ډاکټران د ناروغ د قناعت لپاره د اړتیا پرته ستنې تجویزوي(Strategic Council on Resistance in Europe [SCORE], 2004) .همدارنګه، د ناروغانو د وخت کمښت او د چټک ښه کېدو غوښتنه د دې لامل کېږي چې ډاکټران د قوي درملو تجویز ته اړ شي، چې د غیر معقول کارونې خطر زیاتوي(Management Sciences for Health, 2012).

**د نسخو ورکونکو اړوند عوامل**

نسخو ورکونکي (Prescribers) د IRDU په رامنځته کېدو کې مرکزي رول لري. د پوهې تشه د دې یو مهم لامل دی چې د کافي طبي پوهې نشتوالی، د دوامداره زده کړې کمښت، د علمي سرچینو ته نه لاسرسی او ناکافي روزنه یې زیاتوي. د تشخیص او درملنې په برخه کې د پوهې کمښت د IRP او وروسته IRDU سبب ګرځي (Ofori-Asenso & Agyeman, 2016).

که د فارمسي کارکوونکي د نسخو د ارزونې او مشورې وړتیا ونه لري، نو د پوهې تشه نوره هم پراخېږي. د کاري چاپېریال ستونزې لکه د کاري ځواک کمښت، درومند کاري فشار او د تشخیصي وسایلو نشتوالی د دقیقو تشخیصونو د ناکامۍ او پولې فارماسۍ لامل کېږي(Mohamadloo et al., 2017) .د ناروغانو د غوښتنو د پوره کولو لپاره د ډاکټرانو د نسخو ورکولو تمایل هم د IRDU لامل کېږي. په یوه سروې کې ښودل شوې چې شاوخوا ۵۵٪ ډاکټران د ناروغانو د فشار له امله غیر ضروري انټي بیوټیکونه تجویزوي [(Mohamadloo et al., 2017).

**د درملو صنعت او مقررات**

د درملو شرکتونو د استازو لخوا ډاکټرانو ته د ورکړل شوو معلوماتو تعصب د نسخو ورکولو په پرېکړو اغېز کوي او د غیر ضروري درملو د تجویز سبب کېږي. همدارنګه، د کلینیکي لارښودونو د لیکوالانو اړیکي د درملو شرکتونو سره د معلوماتو د تعصب او IRDU د رامنځته کېدو لامل ګرځي(Chaturvedi, Mathur, & Anand, 2012).

د درملو عرضه ستونزې، د مقرراتو کمزورې، د خوندي او ارزانه درملو نشتوالی، د مشکوکو درملو موجودیت او د نسخو بې ثباته کول د نسخو ورکونکو پرېکړې اغېزمنوي او د غیر معقول کارونې لامل ګرځي. د خدمت لپاره د فیس سیستم هم د IRP لامل ګرځي ځکه چې د اقتصادي ګټې لپاره د روغتیایي منابعو ډېر کارونې ته هڅوي (World Health Organization, 2002).

**د درملو غیر منطقي کارونې (IRDU) خطرناکې اغېزې**

د درملو غیر منطقي کارونه (IRDU) په بېلابېلو برخو کې خورا زیانمن کیدای شي. لومړی، دا د درملنې او روغتیایي پاملرنې کیفیت اغېزمنوي. د بېلګې په توګه، که د ماشومانو د حاد نس ناستې لپاره د خولې د بیا اوبو محلول (Oral Rehydration Solution)کافي نه وکارول شي، نو د بدن د اوبو کمی به سم نه شي او د مړینې کچه ممکن لوړه شي. بله بېلګه داده چې که د جراحي مخکې انتوبایوټیک ونه کارول شي، چې د مخکې له جراحي د انفیکشن مخنیوي لپاره اړین دی، نو د جراحي وروسته د انفیکشن خطر به زیات شي(World Health Organization, 2019).

له بلې خوا، د انټي میکروبیل (Antimicrobial) غیر منطقي کارونه د مقاومت د رامنځته کیدو له امله د درملنې ناکامي ته لار هواروي. دا هم د IRDU بله پایله ده چې د درملو اړخیزې اغېزې (Adverse Drug Reactions) رامنځته کوي، لکه د پښتورګو د فعالیت کمزورې، چې د ناروغ حالت خرابوي یا د ډاکټر لخوا رامنځته شوې ناروغۍ سبب ګرځي. په پایله کې، دا د ناروغ د بستر مودې اوږدوالی یا د مړینې لامل کېدای شي. سربېره پر دې، د انټي میکروبیل مقاومت د درملنې انتخابونه محدودوي او په ګران انټي میکروبیلو فشار زیاتوي، چې منابع او پیسې ضایع کوي (Ventola, 2015). د نسخو ناسم کارول د متضاد درملو د اغېزو (AR) خطر زیاتوي، په ځانګړې توګه د زاړه عمر خلکو یا هغو کسانو لپاره چې فزیولوژیکي ظرفیتونه یې کمزوري وي. د بېلګې په توګه، په آسترالیا کې د موسمي خلکو یوه څېړنه وښوده چې د ګډو ناروغیو شتون د اړخیزو اغېزو د بیا تکرار قوي نښه ده، په ځانګړې توګه د هغو خلکو لپاره چې خپل ګډې ناروغۍ په سیمه ییزه توګه کنټرولوي. د ADRs لګښت هم د پام وړ کیدای شي؛ په جرمني کې اټکل شوی چې ADRs هر کال له ۴۳۰ میلیونو یورو څخه زیات ارزښت لري، پداسې حال کې چې په برتانیه کې د ADRs له امله د رامنځته شویو بېړنیو حالتونو لګښت هر کال شاوخوا ۲ میلیارد پونډه دی(Pirmohamed et al., 2004) .

نوبل جایزه ګټونکي Joshua Lederberg ویلي دي، «د انسانیت او مایکروبونو راتلونکې به د پوهې او د هغوی د جینونو تر منځ د مبارزې په څېر وده وکړي Lederberg .«خرګنده کړه چې د انسانانو خراب چلند، لکه د انټي بیوټیکونو ناسم کارول، د انټي میکروبیل مقاومت په نړیوال غبرګون کې یو مهم فکتور دی(Lederberg, 2000) . څېړنې ښودلې چې تشخیصي انټي بیوټیکونه، چې درملنې اغېزه لري، د انټي بیوټیک مقاومت د رامنځته کیدو لامل ګرځي ځکه چې د جینیاتي بدلونونو لکه میوتاژنیس او جینیاتي څرګندونو ته وده ورکوي. د انټي میکروبیل مقاومت

رامنځته کېدل نه یوازې د روغتیا پرمختګ ته ګواښ دی، بلکې انسانیت بیرته هغه دور ته شاته کولی شي چې مخکې له انټي بیوټیک دورې خلکو د اوږدمهاله باکتریایي انتاناتو له امله مړ کېدل یا سخت زیانمن کېدل(Ventola, 2015).

IRDUپه عمومي ډول د غیر ضروري درملو لکه ملټي ویټامینونو د اخستو له لارې مالي ضایعات زیاتوي، چې په ځای یې باید منابع د مهمو درملو یا واکسینونو لپاره وساتل شي. د روغتیایي سیستم مالي منابعو ته د IRDU اغېزه به د ضروري تشخیصي وسایلو شتون هم محدود کړي، چې بیا د غیر منطقي نسخې او درملو د کارونې خطر زیاتوي. سربېره پر دې، د ډرګونو د انجیکشن ناسم کارول هم د انتاناتو د انتقال او د بودیجې ضایع کیدو سرچینه کېدای شي، په داسې حال کې چې د همدې اغېز او خوندیتوب درمل خوله یا بدیل یې شتون لري. په پای کې، د IRDU له امله د ناروغ د درملو پر انحصار فشار رامنځته کېدای شي(Shivhare, Kunjwani, Manikrao, & Bondre, 2010) .

**د درملو غیر منطقي کارونې د مخنیوي لارې**

په روغتونونو کې د درملو د کارونې څېړنې ترسره کېدای شي څو د ځانګړو درملو یا د ځانګړو ناروغیو د درملنې سره تړلې ستونزې وپېژندل شي. د څېړنې لپاره له تصدیق شویو میتودونو لکه د درملو د ټولیز مصرف تحلیل، د ATC/DDDسیستم څخه ګټه اخیستل کېدای شي.(World Health Organization, 2002) د WHO د درملو د کارونې شاخصونه د لومړنۍ روغتیایي پاملرنې په مرکزونو کې د تجویز عمومي ستونزې او د درملنې کیفیت ارزوي .(World Health Organization, 2019)

**الف) د تجویز شاخصونه:**

- د هر ناروغ لپاره د تجویز شویو درملو منځنی شمېره
- د جنریک نوم له مخې د تجویز شویو درملو سلنه
- د انټي بیوټیک د تجویز شویو نسخو سلنه
- د ستنې د تجویز شویو نسخو سلنه
- د اساسي درملو د لیست څخه د تجویز شویو درملو سلنه

**ب) د ناروغ پاملرنې شاخصونه:**

- د مشورې منځنی وخت
- د درملو د وېش منځنی وخت
- د ناروغانو لپاره د سم لیبل شوو درملو سلنه
- د هغو ناروغانو سلنه چې د خپل درملو د کارونې په اړه بشپړ معلومات لري

**ج) د مرکز شاخصونه:**

- د اساسي درملو د لیست شتون
- د کلینیکي لارښودونو شتون
- د مهمو درملو د موجودیت سلنه

**د) د متمم شاخصونه:**

- د هرې مشورې منځنی لګښت
- د کلینیکي لارښود سره سم د نسخو سلنه

WHOد درملو او درملنې د کمښتو لپاره لارښودونه او د ښه تجویز لپاره کتابونه وړاندې کوي چې د اساسي درملو او عقلاني کارونې لپاره د مهمو معلوماتو سرچینه ګڼل کېږي(World Health Organization, 2019). د معیار درملنې لارښودونه (STGs) د روغتیایي کارکوونکو لپاره د تجویز غوره مرجع ده(Government of India, 2019) .

د RUM (عقلاني درملو کارونې) فرهنګ عامول اړین دي، او روغتیایي مسلکي کسانو ته باید له زده کړو پیل څخه ور وپېژندل شي. د انټرنانو، ریزیډنټانو، ډاکټرانو او نرسانو لپاره باید منظم ورکشاپونه او روزنیز پروګرامونه جوړ شي څو د عقلاني درملنې مفهوم او اهمیت ور زده شي(Singh & Natu, 1995). د اساسي درملو، P-drugs، فارمکویجیلنس، فارمکواکونومیک، انټي مایکروبیل سټیواردشیپ او روغتیایي تګلارو مفاهیم باید د زده کړې پر مهال تدریس شي څو په عملي ژوند کې د RUM پر تطبیق مثبت اغېز ولري.

په هر روغتون کې باید د درملو او درملنې کمیټه (DTC) موجوده وي چې د درملو د کارونې څارنه وکړي، پالیسي جوړې کړي، د نسخو ارزونه وکړي، د ADRs څارنه وکړي، د درملو د وېش بهیر څاري او د انټي مایکروبیل پالیسي وضع کړي څو د بې ضرورته درملو د کارونې مخه ونیسي(World Health Organization, 2019) .

**پایله اخیستنه**

په دې څېړنه کې څرګنده شوه چې د درملو غیر منطقي کارونه د روغتیایي نظام لپاره یوه ژوره او جدي ستونزه ده، چې نه یوازې د ناروغانو د درملنې پایلې اغېزمنوي، بلکې د مقاومو میکروبونو د خپرېدو سبب ګرځي او د مالي سرچینو ضایع کېدو ته هم لاره هواروي. د څېړنې موندنې څرګندوي چې د روغتیایي نظام اداري کمزورۍ، د نسخو لیکونکو ناسم چلند، د ناروغانو د پوهاوي ټیټه کچه، او د درمل جوړونې د صنعت نفوذ د درملو د غیر منطقي کارونې اصلي عوامل دي.د دغو ستونزو د حل لپاره اړینه ده چې د اساسي درملو لېست په اغېزمن ډول پلي شي، د نړېوال روغتیا سازمان (WHO) د شاخصونو څخه ګټه واخیستل شي، کلینیکي لارښودونه عملي شي، د درملو او درملنې د کمیټو فعالیتونه پیاوړي شي، او همدارنګه د روغتیایي مسلکي کسانو او ناروغانو پوهاوی لوړ کړل شي. د یاد شوو سپارښتنو عملي کول کولی شي د درملو د سمې کارونې فرهنګ پیاوړی کړي، د روغتیایي خدمتونو کیفیت لوړ کړي، او د ناروغانو د ژوند هوساینه زیاته کړي. سربېره پر دې، سپارښتنه کېږي چې راتلونکې څېړنې دې د درملو د غیر منطقي

کارونې اقتصادي اغېزې په دقیقه توګه وڅېړي، تر څو د پالیسي جوړونکو لپاره د شواهدو پر بنسټ د پرېکړې کولو زمینه نوره هم پیاوړې شي.

**وړاندیزونه**

۱ .د اساسي درملو لېست پلي کول: د روغتیایي بنسټونو لپاره دې د اساسي درملو لېست تازه او عملي شي، څو د درملو کارونه معیاري او اقتصادي شي.

۲ .د کلینیکي لارښودونو پلي کول: د نسخو لیکونکو لپاره دې د WHO او ملي کلینیکي لارښودونه اړین وګرځول شي او د عملي کولو لپاره دې ځارنه زیاته شي.

۳ .پوهاوي لوړول: د روغتیایي مسلکي کسانو، درمل جوړونکو او ناروغانو لپاره دې د دوامداره پوهاوي او روزنې پروګرامونه جوړ شي، څو د درملو سم کارول عام شي.

۴ .د درملو او درملنې کمېټو فعالول: په ټولو روغتیایي مرکزونو کې دې د درملو او درملنې فعالې کمېټې جوړې او د نسخو لیکلو او وېش ځارنه دې وکړي.

۵. د څېړنو او ارزونو ترسره کول: د درملو د غیر منطقي کارونې د اقتصادي، ټولنیزو او روغتیایي اغېزو په اړه دې منظمې څېړنې ترسره شي، څو د پالیسیو جوړونې لپاره کره شواهد برابر شي.

## ماخذونه

Arrow, K. J., Panosian, C., & Gelband, H. (2004). *Saving lives, buying time: Economics of malaria drugs in an age of resistance.* Washington, DC: National Academy Press for the Institute of Medicine. PMID: 25009879.

Chaturvedi, V. P., Mathur, A. G., & Anand, A. C. (2012). *Rational drug use – As common as common sense? Medical Journal Armed Forces India*, 68(3), 206–208.

De Deymttenaere, K. R., Bruffaerts, J., Posada-Villa, I., Gasquet, I., Kovess, V., Lepine, J. P., et al. (2004). *Prevalence, severity, and unmet need for treatment of mental disorders in the WHO World Mental Health Surveys. JAMA*, 292(21), 2581–2590.

Erku, D. A., Mekuria, A. B., & Surur, A. S. (2021). *Rational use of medicines: Its definition, concepts, and indicators. Frontiers in Pharmacology*, 12, 696937. https://doi.org/10.3389/fphar.2021.696937

Goossens, H. M., Ferech, R., Vander Stichele, R., & Elseviers, M. (2005). *Outpatient antibiotic use in Europe and association with resistance: A cross-national database study. The Lancet*, 365(9459), 579–587.

Government of Chhattisgarh, Department of Health & Family Welfare. (2019). *Standard treatment guidelines for medical officers.* http://apps.who.int/medicinedocs/documents/s23115en/s23115en.pdf

Government of India. (2019). *Standard treatment guidelines (Speciality/Super Speciality-wise).* Clinical Establishments (Registration & Regulation) Act. http://clinicalestablishments.gov.in/En/1068-standard-treatment-guidelines.aspx

Helics Group. (2021). *International Journal of Pharmaceutical Sciences and Clinical Pharmacy.* https://journalofpharma.com

Hogerzeil, H. V. (2004). *The concept of essential medicines: Lessons for rich countries. BMJ*, 329(7475), 1169–1172. https://doi.org/10.1136/bmj.329.7475.1169

Holloway, K., & Green, T. (2003). *Drug and therapeutics committees: A practical guide.* Geneva: World Health Organization.

Holloway, K. A., Gautam, B. R., & Reeves, B. C. (2001). *The effects of different kinds of user fee on prescribing costs in rural Nepal. Health Policy and Planning*, 16(4), 421– 427.

Jha, N., & Shankar, P. R. (2006). *P-drug concept and the undergraduate teaching. Kathmandu University Medical Journal*, 4(1), 112–114.

Jha, N., Bajracharya, O., & Shankar, P. R. (2013). *Knowledge, attitude and practice towards medicines among school teachers in Lalitpur district, Nepal, before and after an educational intervention. BMC Public Health*, 13, 652. https://doi.org/10.1186/1471-2458-13-652

Kaplan, W., & Laing, R. (2004). *Priority medicines for Europe and the world.* Geneva: World Health Organization.

Laing, R. (1990). *Rational drug use: An unsolved problem. Tropical Doctor*, 20(3), 101–103.

Laing, R., Waning, B., Gray, A., Ford, N., & 't Hoen, E. (2003). *Twenty-five years of the WHO essential medicines lists: Progress and challenges. The Lancet*, 361(9370), 1723–1729.

Lederberg, J. (2000). *Infectious history. Science*, 288(5464), 287–293.

Mamo, A., & Alemu, T. (2020). *Factors contributing to irrational drug use and strategies to improve. Journal of Pharmaceutical Policy and Practice*, 13(1), 11–16.

Management Sciences for Health (MSH). (2010). *Strengthening pharmaceutical systems: Building blocks for national medicines policies.* Arlington, VA: MSH.

Management Sciences for Health (MSH). (2012). *Managing access to medicines and health technologies (MDS-3).* Arlington, VA: MSH.

Management Sciences for Health (MSH) & World Health Organization (WHO). (2007). *Drug and therapeutics committees: A practical guide to improving use of medicines.* Arlington, VA: MSH.

Mohamadloo, A., Ramezankhani, A., Zarein-Dolab, S., Salamzadeh, J., & Mohamadloo, F. (2017). *A systematic review of main factors leading to irrational prescription of medicine. Iranian Journal of Psychiatry and Behavioral Sciences*, 11(2).

Ofori-Asenso, R., & Agyeman, A. A. (2016). *Irrational use of medicines—A summary of key concepts. Pharmacy*, 4(4), 35.

Patel, V. R., Vaidya, D. N., & Borker, P. (2005). *Irrational drug use in India: A prescription survey from Goa. Journal of Postgraduate Medicine*, 51(1), 9–12.

Pirmohamed, M., James, S., Meakin, S., Green, C., Scott, A. K., Walley, T. J., … Breckenridge, A. M. (2004). *Adverse drug reactions as cause of hospital admission: Prospective analysis of 18,820 patients. BMJ*, 329(7456), 15–19.

Quick, J. D., Hogerzeil, H. V., Velásquez, G., & Rago, L. (2002). *Twenty-five years of essential medicines. Bulletin of the World Health Organization*, 80(11), 913–914.

Sabir, M. (2018). *Rational drug use and its importance in healthcare. International Journal of Pharmaceutical Sciences Review and Research*, 52(1), 10–13.

Shivhare, S. C., Kunjwani, H. K., Manikrao, A. M., & Bondre, A. V. (2010*). Drug hazards and rational use of drugs: A review. Journal of Chemical and Pharmaceutical Research*, 2(1), 106–112.

Singh, T., & Natu, M. V. (1995). *Effecting attitudinal change towards rational drug use. Indian Pediatrics*, 32, 43–46.

Strategic Council on Resistance in Europe (SCORE). (2004). *Resistance: A sensitive issue.* Utrecht: SCORE.

Trap, B., & Hansen, E. H. (2003). *Dispensing prescribers: A threat to appropriate medicine use? Essential Drugs Monitor*, 32, 9.

United Nations Children's Fund (UNICEF). (2019). *Essential medicines for children.* New York: UNICEF.

Ventola, C. L. (2015). *The antibiotic resistance crisis: Part 1 – Causes and threats. Pharmacy and Therapeutics*, 40(4), 277–283.

World Health Organization. (1978). *Declaration of Alma-Ata: International Conference on Primary Health Care, Alma-Ata, USSR, 6–12 September 1978.* Geneva: WHO.

World Health Organization. (2001). *How to develop and implement a national drug policy.* Geneva: WHO.

World Health Organization. (2002). *WHO policy perspectives on medicines: Promoting rational use of medicines – Core components.* Geneva: WHO.

World Health Organization. (2002). *Promoting rational use of medicines: Core components (WHO policy perspectives on medicines No. 005, September).* http://apps.who.int/medicinedocs/en/d/Jh3011e/3.html

World Health Organization. (2009). *Medicines use in primary care in developing and transitional countries.* Geneva: WHO Press.

World Health Organization. (2009). *Medicine use in primary care in developing and transitional countries: Fact book summarizing results from studies reported between 1990 and 2006.* Geneva: WHO.

World Health Organization. (2012). *The benefits of responsible use of medicines: Setting policies for better and cost-effective health care.* Technical report for the Ministers' Summit.

World Health Organization. (2012). *The pursuit of responsible use of medicines: Sharing and learning from country experiences.* Geneva: WHO.

World Health Organization. (2019). *Drug and therapeutics committees: A practical guide.* http://apps.who.int/medicinedocs/en/d/Js4882e/

World Health Organization. (2019). *The guide to good prescribing.* http://apps.who.int/medicinedocs/en/d/Jwhozip23e/5.html

World Health Organization. (2019). *WHO/INRUD drug use indicators for primary health-care facilities.* http://apps.who.int/medicinedocs/en/d/Js4882e/8.4.html

World Health Organization. (2019). *The selection and use of essential medicines: Report of the WHO Expert Committee (22nd ed.).* Geneva: WHO.

World Health Organization. (2021). *WHO model list of essential medicines – 22nd list.* Geneva: WHO.

World Health Organization. (2021). *The pursuit of responsible use of medicines: Sharing and learning from country experiences.* WHO Press.

World Health Organization & United Nations High Commissioner for Refugees (UNHCR). (2017). *Essential medicines for refugee health.* Geneva: WHO.

Yang, Y. (2020). *Drug repurposing and COVID-19: A strategy for rational drug use. Journal of Traditional*

# د شرعي نصوصو په رڼا کې د بې کیفیته او جعلي درملو تولید او تجارت

MARJ
ملـي
علمـي-څېړنیـز ژورنال
REG Code: RCTD-PNJR-0094-25

**لنډیز**

د اسلام په مقدس دین کې د انسانانو د ژوند او روغتیا خوندي توب خورا ارزښت لري، له همدې امله د ژوندي پاتې کېدو او ځان ساتنې خوی او عادت د انسان په طبیعت کې شتون لري، مګر د بې کیفیته او جعلي درملو تولید او تجارت د انسانانو روغتیا ته ګڼ زیانونه اړولي، نو د لیکنې اهمیت دادی چې د بې کیفیته او جعلي درملو تولیدونکو او پلورونکو ته دا څرګنده وي چې داکړنه د اسلام د مقدس دین د نصوصو او مقاصدو مخالفت دی، همدارنګه له انساني ټولنې سره خیانت کول دي. د څېړنې موخه د بې کیفیته او جعلي درملو د تولید او تجارت شرعي حکم څرګندول دي، او اصلي پوښتنه یې داده چې بې کیفته او جعلي درمل کومو درملو ته ویل کیږي، او دا ډول درمل د شریعت د نصوصو په رڼا کې څه حکم لري، د دې لیکنې ډول کتابتوني دی، د څېړنې فرضیه د عامه پوهاوي او معیاري څېړنو نه شتون، او د مسؤلو ادارو بې غوري ده، حل لارې یې دادي چې عامه پوهاوی زیات شي، مسؤل اړخونه د درملو د تولید او تجارت په برخه کې بې غوري ونکړي، او ډاکټران د خپل مسلک اصولو سره سم دا ډول درمل ناروغانو ته توصیه نکړي. د څېړنې پایلې څرګندوي چې د بې کیفیته او جعلي درملو تولید او تجارت د انسانانو روغتیا ته ګڼ زیانونه اړوي، له امله یې د طبابت سپېڅلی مسلک بې باوره کیږي، او په حرامه توګه د نورو مالونه خوړل کیږي.

**کلیدي ویینه: بې کیفته، جعلي، درمل، تولید، تجارت، نصوص، شرعي.**

[*1] **رحمت الله اکرام**
د اسلامي ثقافت ډیپارټمنټ، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، ملي پوهنتون، افغانستان
rahmatullahekram8@gmail.com

[2] **ربیع الله رښتین**
حقوقو دیپارتمنت،حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، ملي پوهنتون، افغانستان
rabiullahrekhteen@gmail.com

# Production and Trade of Low-Quality and Fake Medicines in the Light of Islamic Sharia

**Abstract**

In the sacred religion of Islam, protection of human life and health are crucial. Therefore, the instinct and habit of survival and self-preservation exist in human nature. However, the production and trade of low-quality and fake medicines have caused numerous harms to human health. The significance of this writing lies in making it clear to producers and sellers of low-quality and fake medicines that such actions contradict the texts and objectives of the sacred religion of Islam, as well as betray human society. The aim of the research is to clarify the Sharia ruling on the production and trade of low-quality and fake medicines. The main question is: what types of medicines are referred to as low-quality and fake, and what are their rulings in light of Sharia texts? This writing is of a scholarly nature, and the research hypothesis is based on the lack of public awareness and standard research, along with the negligence of responsible authorities. The research findings indicate that the production and trade of low-quality and fake medicines pose numerous risks to human health, undermine the noble profession of medicine, and unjustly consume the property of others. The proposed solutions are to increase public awareness, ensure that responsible parties do not neglect the production and trade of medicines, and that doctors do not recommend such medicines to patients in accordance with the principles of their profession

**Keywords: Low-quality, fake, medicines, production, trade, texts, sharia.**

MARJ

Mili

Academic-Research Journal

REG Code: RCTD-PNJR-0094-25

**[1]Rahmatullah Akram**
Department of Islamic Culture, Faculty of Law, Mili University, Afghanistan
rahmatullahekram8@gmail.com

**[2]Rabiullah Rishteen**
Department of Law, Faculty of Law and Political Sciences, Mili University, Afghanistan

**سریزه**

الحمد لله صانع الأرواح والأجسام ودافع الأوصاب والأسقام والصلاة والسلام على سيد المرسلين وعلى آله و أصحابه أجمعين.

قال الله تعالى: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ} (التوبه: ۱۱۹)

د اسلام په مقدس دین کې د انسانانو د ژوند خوندیتوب خورا زیات ارزښت لري، د ژوندي پاتې کېدو او ځان ساتنې خوی او عادت د انسان په طبیعت کې شتون لري، انسانان همېشه هڅه کوي چې د ژوندي پاتې کیدو او اوږد عمر لرلو لپاره له ډول ډول لارو چارو څخه ګټه پورته کړي، تل د هغو علومو په لاسته راوړلو کې هڅه کوي چې له دوی سره د ناروغیو د اصلي لاملونو، او درملنه کې کومک کوي، ددې مهمو علومو له ډلې څخه یو هم د درمل جوړنې علم دی، چې د بشري ژوند له اړینو ضرورتونو څخه ګڼل کیږي؛ ځکه د درملو په جوړولو سره د بشري ژوند ډېر مصالح او ښېګڼې رامنځ ته کیږي.

د شلمې پیړۍ تر نیمایي پورې درملتونونو د درملو د چمتو کولو په برخه کې د اصلي مرکزونو په ډول کار کاوو. مګر د شلمې پیړۍ له نیمایي څخه وروسته دې صنعت وده وکړه او د نړۍ په کچه یې شهرت ومند، له دې پرمختګ سره سم درمل د درملتونونو پرځای په ځانګړو فابریکو کې جوړېدل، چې دا لړۍ تر نن ورځې دوام لري. ځوارلس پیړۍ وړاندې د اسلام د مقدس دین ستر لارښود نبي کریم صلی الله علیه وسلم په دې اړه فرمایلي: الله تعالى داسې مرض ندی را لیږلی چې د هغه لپاره یې دوا نه وي رالیږلي (النسائي، ۲۰۰۱م، ج ٦، ص ۲۹۸.).

په اوسنۍ زمانه کې د درملو په تولید او تجارت کې زیات پرمختګونه رامنځ ته شوي، مګر ددې پرمختګونو له رامنځ ته کېدو سره تولیدونکې کارخانې او تجاران هم له مصرف کوونکو سره ډول ډول دوکې کوي، چې د انسانانو روغتیا ته یې ګڼ زیانونه اړولي، تولیدونکي او تجاران په ناروا توګه د خلکو مالونه خوري، او د طبابت د سپېڅلي مسلک له اصولو څخه سرغړونه کوي.

د څېړنې اهمیت دادی چې لوستونکو ته دا څرګندوي چې د بې کیفیته او جعلي درملو تولید، تجارت او پلور د شریعت د احکامو مخالفت، د انسانانو روغتیا ته لوی زیان، د أولي الأمر له حکم سره څخه سرغړونه، او په ټوله کې له انساني ټولنې سره خیانت کول دي.

د څېړنې ستونزې ته په اشارې ویلی شو چې د بې کیفیته او جعلي درملو تولید، تجارت او پلور د انسانانو روغتیا ته لوی ګواښ، پټ مرګ، د طبابت د سپېڅلي مسلک په لمن تور داغ، او انساني ټولنې سره خیانت او دوکه کول دي؛ نو د یادې ستونزې د حل لپاره مې مناسبه وګڼله چې د بې کیفیته او جعلي درملو د تولید او تجارت حکم د اسلام د مقدس دین د نصوصو په رڼا کې څرګند کړم؛ ترڅو ددې درملو تولیدونکو، تجارانو او پلورونکو ته جوته شي چې دا کړنه ستره ګناه، لوی خیانت او د انسانانو له ژوند او روغتیا سره لوبې کول دي، او په راتلونکې کې له دې سترې ګناه او لوی زیان څخه ځان او ټولنه وژغوري.

د څېړنې فرضیه داده چې د بې کیفیته او جعلي درملو د تولید، تجارت او پلور سترلاملونه د عامه پوهاوي او معیاري څېړنو نه شتون دی، همدارنګه د مسؤلو ادارو بې غوري هم د لویو لاملونو له ډلې څخه شمېرل کیږي، په دې برخه کې

حل لارې دادي چې عامه پوهاوی زیات شي، مسؤلې روغتیايي ادارې د درملو د تولید، تجارت او پلور په برخه خپل مسؤلیتونه په سمه توګه آدا کړي، همدارنګه تولیدي کمپنی، تجاران او د درملتونونو خاوندان له حلالې لارې روزي لاسته کړي، او ډاکټران هم د خپل مسلک له اصولو سره سم دا ډول درمل ناروغانو توصیه نکړي.

د لیکنې اصلي پوښتنه داده چې بې کیفته او جعلي درمل کومو درملو ته ویل کیږي، د کومو وسائلو پرمټ په درملو کې دوکه ترسره کیږي، او دا ډول درمل د شریعت د نصوصو په رڼا کې څه حکم لري؟

دا څېړنه د مختلط ( تحلیلي - توصیفی ) میتودونو په بنسټ ترسره شوې، د قرآنکریم د آیتونو، نبوي احادیثو او فقهي متونو په رڼاکې د جعلي درملو د تولید او تجارت حرمت پکې ثابت شوی. موخه یې د بې کیفیته او جعلي درملو د تولید، تجارت او پلور حرام والی ثابتول د شرعي نصوصو په رڼا کې.

**د څېړنې مخینه**

د جعلي او بې کیفیته درملو په اړه دالیکنه نوې نده، له لوستنو او مطالعې څخه څرګندیږي چې په دې برخه کې مخکې هم څېړنې ترسره شوي، چې په لاندې ډول یادونه ترې کولی شو:

۱- "المسؤلية المدنية عن غش الدواء" د دکتور عروبه شافي مقاله ده، چې د "الشرق الأوسط" په مجله کې په (۲۰۲۴) میلادي کال خپره شوې، په دې مقاله کې د جعلي درملو پیژندنه او مدني مسؤلیت څېړل شوی.

۲- "حکم تکلیفي فروش داروی خطرناک بدون نسخه پزشک از منظر فقه امامیه" دا د سید فاطمه طباطبایي مقاله ده، چې په (۲۰۲۳) میلادي کال کې یې لیکلې، په دې مقاله کې د خطرناکو درملو د پلورلو حکم د ایران د حقوقو په رڼاکې، همدارنګه د خطرناکو درملو پلورل د داکتر له نسخې پرته د شیعه امامیه فقهې له انده تر څېړنې لاندې نیول شوي.

۳- "المسؤولية الجزائية لمنتجي الدواء" د الجزائر هیواد د "جامعة عبد الحمید بن بادیس مستغانم" پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د عامه قوانینو ډیپارټمنټ محصل سعودي مراد د ماستري برنامې پای لیکنه ده، چې په (۲۰۲۲) میلاد کال یې دفاع کړې، په دې څېړنه کې یې د درملو د صنعت احکام، د درملو د تولید کوونکو مکلفتونه، او د سرغړونې په صورت کې مجازات د الجزائري قوانینو په رڼا کې ترڅېړنې لاندې نیولي.

۴- "المسؤولية المدنية لمنتج الدواء دراسة مقارنة" دا لیکنه د الجزائر هیواد د "أحمد دراية" پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د حقوقو ډیپارټمنټ محصل ملوک محفوظ د دوکتورا برنامې د پای ته رسېدو تحقیقي لیکنه ده، چې په (۲۰۱۹) میلادي کال یې دفاع کړې، په دې لیکنه کې د درملو د تولید او خپرېدو تنظیم، او د درملو د تولیدونکو د مسؤلیت لپاره قانوني سستم څېړل شوی.

۵- "المسؤولية المدنية للصيدلي" دا لیکنه هم د الجزائر هیواد د "عبد الحمید بن بادیس مستغانم" پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د عامه قوانینو ډیپارټمنټ محصل "بوخریصة محمد أمین" د ماستری برنامې د پای لیکنه ده، چې په (۲۰۱۷) میلادي کال یې دفاع کړې، په دې لیکنه کې یې د مدني مسؤلیت د رامینځ ته کولو شرطونه، او د درمل جوړونکو مدني مسؤلیت تر څېړنې لاندې نیولی.

پورتنی لیکنې یوازې د جعلي درملو د مدني مسؤلیت، یا د درملتونونو د خاوندانو د مسؤلیت په اړه لیکل شوي. مګر زما څېړنه د بې کیفیته او جعلي درملو دواړو د شرعي حکم په اړه ترسره شوې، همدارنګه زما په لیکنه کې د مدني یا جنائي مسؤلیت په اړه نه، بلکې د بې کیفیته او جعلي درملو حکم د شرعي نصوصو په رڼا کې څېړل شوی.

**د درملو لغوي او اصطلاحي پیژندنه**

**لغوي پیژندنه:** درملو ته په عربي ژبه کې "دواء" ویل کیږي، چې جمعه یې د "ألأدوية" کلمه ده، د یادې کلمې مشهور لغت د دال په زور سره دی، مګر د دال په زېر سره هم په دې کې یو لغت شته. خو په زور، زېر او پیښ ټولو سره هغه څه ته ویل کیږي چې څوک وربانديې تداوي کیږي، یایې علاج وربانديې کیږي (الرازي، ۱۹۹۵م، ج ۱، ص ۲۱۸).

**اصطلاحي پیژندنه:** د دواء یا درملو لپاره ځانګړی تعریف شتون نلري، لامل یې د طبابت له اړخه د دواء نسبي والی دی، چې د ځای او وخت له امله بدلون مومي، په ځینو هیوادونو کې د درملو مفهوم یو ډول، او په ځینو نوور کې بل ډول بیانیږي. تردې چې د یوه هیواد په داخل کې هم درمل په یو وخت کې یو ډول، او بل وخت کې بل ډول تعریفېدلی شي؛ ځکه د مرضونو ډولونه ثابت ندي؛ نو د مرضونو د ډولونو عدم ثبوت د درملو په تعریف باندې هم أغېزه لري، چې په پایله کې یې د درملو لپاره د ډول ډول تعریفونو کولو ته لاره هواروي، مشهور تعریفونه یې په لاندې ډول دي:

- درمل هغه ماده یا د موادو مخلوط دی چې په انسانانو او حیواناتو کې د ناروغیو د تداوي، کموالي یا مخنیوي لپاره، د بدن دننه، یا د باندې ګټه ورځخه اخیستل کیږي (عباس، ۲۰۱۳م، ص ۲۰).
- درمل هغه کمیاوي ماده ده چې له نباتي، حیواني یا معدني اصل څخه په طبیعي یا مصنوعي ډول اخیستل شوي وي، د انسانانو، حیواناتو یا نباتاتو د ناروغیو د درملنې، مخنیوي او یا تشخیص لپاره، د خولې، پیچکاري او یا هم د باندیني ډول سره وکارول شي (عباس، ۲۰۱۳م، ص ۲۲).
- هرهغه ماده یا مرکب چې مخکې له مخکې چمتو شوی وي، او داسې ځانګړتیاوې ولري چې د هغو ناروغیو د درملنې یا مخنیوي لپاره وکارول شي چې انسانان او حیوانات أغېزمنوي، یا د طبي تشخیص یا ژوندیو موجوداتو د فزیولوژي او غړو د بیا رغونې یا سمولو لپاره تکیه وربانديې کېدلی شي، او دولت هم جواز ورکړی وي؛ دېته درمل ویل کیږي (محمد قطب، ۲۰۱۴م، ص ۳۱).

**د بې کیفیته او جعلي درملو پیژندنه**

د روغتیا نړۍ وال سازمان د بې کیفیته او جعلي درملو په شمول ټول بې کیفیته محصولات دا ډول تعریف کړي: بې کیفیته محصولات هغه دي چې د کیفیت معیارونه او ځانګړتیاوې او یا دواړه یې نه وي پوره کړي، همدارنګه هغه محصولات چې د کمزورو تولیدي کړنو، یا د کیفیت ناکافي کنټرول په پایله کې تولید شوي وي، او یاهم په قصدي ډول د دوی هویت، جوړښت یا سرچینه غلطه بیان شوي وي، چې دا محصولات ډیری وختونه د مالي ګټو لپاره د مصرف کونکو د غولولو په نیت رامینځته کیږي او په هغوی پلورل کیږي (WHO, 2024).

**د بې کیفیته او جعلي درملو ترمنځ توپیرونه:** په پورتني تعریف کې بې کیفیته او جعلي درمل دواړه شامل دي، بې کیفیته او جعلي درمل دواړه د انسانانو روغتیا ته زیان رسوي، مګر ځینې توپیرونه لري چې په لاندې ډول یې بیانولی شو:

۱- بې کیفیته درمل هغه دي چې د تولید، ذخیره کولو یا توزیع کولو پرمهال یې معیارونه نه وي پوره کړي، مګر جعلي درمل هغه دي چې د اصلي کمپنۍ له اجازې پرته، بلې کمپنۍ د اصلي کمپنۍ لېبل او براند د جعل او تقلب لپاره ورباندې نښلولی وي.

۲- د بې کیفیته درملو تولید کېداشي د کمپنۍ له خوا قصدا نه وي ترسره شوی، مګر د جعلي درملو تولید د یوې کمپنۍ له خوا قصدا ترسره کیږي.

۳- د بې کیفیته درملو فعال مواد کېدای شي کم وي، یاېې په ترکیب کې غلطي وي، مګر په جعلي درملو کې کېداشي فعال مواد بیخي شتون ونلري.

۴- بې کیفیته درمل کیداشي خپله اصلي تولیدونکي کمپنۍ تولید کړي، مګر جعلي درمل همیشه د اصلي کمپنۍ له اجازې پرته بله کمپنۍ د اصلي کمپنۍ په نوم او لیبل تولیدوي.

۵- بې کیفیته درمل کېداشي پوره أغیزناک مواد ونلري، خو ناروغ ته زیان هم ونه ورسوي، مګر جعلي درمل کېداشي هیڅ أغېزناک مواد ونلري، او یاهم زهري مواد ولري، چې ناروغ ته زیات زیان ورسوي (PMC,۲۰۱۲ ).

**په بې کیفیته او جعلي درملو کې د درغلیو وسائل**

په درملو کې د درغلیو، چل او دوکې د ټولو وسائلو یادونه یا محدودول ناشونی کار دی؛ ځکه دوکه کوونکي وخت او شرایطو ته په کتو په مختلفو ډولونو خلکو ته دوکې ورکوي، د هرې ورځې په تېرېدو سره د خلکو په غلطولو کې له نویو لارو چارو ځځه ګټه پورته کوي. موږ کولی شو په دې برخه کې د چل او دوکې ځینې لوی وسائل په لاندې ډول په ګوته کړو:

**د خبرو له لارې چل او دوکه:** د خبرو له لارې چل او دوکه دېته ویل کیږي چې اخیستونکی، خرڅونکی، او یا دریم اړخ یې د معاملې د یو اړخ پر وړاندې کاروي (السلمي، ۲۰۲۴م، ص ۴۹).

دا ډول دوکه د درواغو او حقیقت پټولو له لارې ترسره کیږي، یعنې د معامله کوونکو له ډلې ځخه یو اړخ له بل اړخ ځخه حقیقت پټوي، او یوشی یا یو کار داسې ورته ښیي چې په واقعیت کې هغه ډول نه وي.

**د کړنو له لارې چل او دوکه:** د یوه ځانګړي توکي پر وړاندې هغې قصدي کړنې ته ویل کیږي چې د صنعت یا قانون له اصولو ځخه خلاف وي، په دې شرط چې داکړنه د توکي ارزښت یا کیفیت أغېزمن کړي، او هغه اړخ چې معامله ورسره کوي هغه له دې کړنې ځخه ناخبره وي (محمد سامي، ب ت، ص ۲۳).

له پورتنیو ځرګندونو ځخه معلومیږي چې چل او دوکه که د اصلي تولیدونکي کمپنۍ له اړخه شوی وي، او که بلې کمپنۍ د اصلي کمپنۍ له اجازې پرته دا کړنه ترسره کړي وي؛ دواړو صورتونو ته شاملیږي. داچې د درغلۍ او دوکې

دغه مادي ډول زمونږ د بحث اصلي او محوري موضوع ده، همدارنګه ټولنې او انسانانو ته هم دغه ډول زیات زیان اړوي؛ نو ډولونه یې په لاندې څو کرښو کې څرګنده وو:

- دوکه او درغلي د زیاتوالي او ګډوالي په ډول: د زیاتوالي یا کم والي په ډول دوکه او درغلي دېته ویل کیږي چې په درملو یا نورو صنعت شویو موادو کې داسې څه ګډکړل شي چې د همدې موادو د ترکیب یوه برخه وي، مګر یایې کیفیت ټیټ وي، او یایې مقدار کم وي، چې له املې یې د صنعت شویو موادو کیفیت ټیټیږي. یا ګډ کړل شوي مواد د صنعت شویو درملو یا موادو د ترکیب برخه نه وي، مګر ددې لپاره ورسره یوځای کړل شوي وي چې د درملو د کیفیت ټیټوالی اخیستونکو ته څرګند نشي، برابره خبره ده که د ګډ کړل شویو موادو قېمت د صنعت شویو موادو د ترکیب له عناصرو څخه لوړ وي او که ټیټ وي. یا ګډ کړل شوي مواد د صنعت شویو درملو یا موادو د ترکیب له برخو څخه وي، مګر د صنعت د اصولو خلاف دا ترکیب ترسره شوی وي، چې په پایله کې یې د درملو په کیفیت منفي أغېزې رامنځ ته کوي (الشرع، ۱۹۹۶م، ص ۱۶۴).
- دوکه او درغلي د کمولو یا ویستلو په ډول: هغې دوکې ته ویل کیږي چې له صنعت شویو موادو څخه د ترکیب هغه اجزاوې یا عناصر کم یا وویستل شي چې په کمولو یا ویستلو سره یې د صنعت شویو موادو نوم بدلون ونه ومومي، مګرکیفیت یې ټیټ شي، او په اخیستونکو باندې د کیفیت لرونکو درملو په قیمت وپلورل شي، دېته د کم والي یا ویستلو په ډول دوکه وایي (ابو اللیل، ۱۹۹۵م، ص ۱۴).
- دوکه او درغلي په صنعت کې: هغې دوکې ته ویل کیږي چې د درملو په جوړښت کې داسې یو یا زیا عناصر ګډ کړل شي چې د صنعت د اصولو له مخې باید دا عناصر ددې درملو په صنعت کې نه وای ګډ کړل شوي، یا د درملو ترکیب په داسې ډول وکړل شي چې د صنعت د اصولو خلاف وي، او په پایله کې د درملو کیفیت یا أغېزې بدلون ومومي (عرط، ۲۰۲۴: ص ۳۸).

**د شرعي نصوصو په رڼا کې د بې کیفیته او جعلي درملو تولید او تجارت**

د اسلام د مقدس دین له لارښوونو سره سم تجارت کول یو ستایل شوی عمل دی، الله تعالی فرمایلی: {وَآخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِي الْأَرْضِ يَبْتَغُونَ مِنْ فَضْلِ اللَّهِ} (المزمل: ۲۰).

ژباړه: او ځینې نور خلک د الله د فضل په لټه کې سفر کوي.

همدارنګه فرمایي: {فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ } (الجمعه: ۱۰).

ژباړه: بیا کله چې لمونځ ترسره شي؛ نو په ځمکه کې خواره شئ او د الله فضل و لټوئ.

د أهل السنة و الجماعة رئیس امام ابو منصور الماتریدي په خپل تفسیر "تأویلات أهل السنة" کې ویلي: (( پدې آیت کې د الله تعالی له فضل څخه موخه کار او تجارت دی، او امر د اباحت لپاره دی؛ ځکه زمونږ په اند هرکله چې امر له منعې څخه وروسته راشي، هغه د اباحت لپاره وي)) (أبو منصور الماتریدي، ۲۰۰۵م، ج ۱۰، ص ۱۴).

د بې کیفیته او جعلي درملو په تولید، تجارت او پلور کې له خلکو سره دوکه، فریب او چل کیږي، په داسې حال کې چې د اسلام مقدس دین تجارانو ته په تقوی او صداقت امر کړی، له درغو، چل او فریب څخه منعه کړي، په دې اړه الله تعالی فرمایلي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ} (النساء: ۲۹).

ژباړه: اې مؤمنانو! په خپلو منځو کې یو د بل مال په ناروا توګه مه خورئ، مګر (خورئ یې) که راکړه ورکړه د دواړو خواوو په خوښې سره وي (په روا توګه).

الله تعالی په ناحقه توګه یوازې د مسلمانانو د مالونو خوړل ندي حرام کړي؛ بلکې د غیرمسلمو د مالونو خوړل یې هم په ناحقه توګه حرام ګرځولي، په اړه یې الله عزوجل فرمایلي: {وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوا بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا فَرِيقًا مِنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالْإِثْمِ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ} (البقرة: ۱۸۸).

ژباړه: او تاسو مه په خپلو منځو کې یو د بل مال په ناروا توګه خورئ، او مه هغه مال حاکمانو ته په دې موخه وړاندې کوئ چې تاسې ته په قصدي توګه او ظلم سره د نورو خلکو د یوځه شتمنۍ د خوړلو فرصت په لاس درشي، په داسې حال چې تاسو پوهیږئ.

په پورتني آیت کې الله تعالی د "اموال الناس" یعنې د خلکو د مالونو کلمه کارولې، چې د مسلمان او کافر ترمنځ توپیر نشته،که مسلمان وي او که غیر حربي کافر وي؛ په باطله توګه یې د مال خوړل حرام دي. امام قرطبي رحمه الله فرمایلي: ((په دې آیت کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ټول امت ته خطاب دی چې د یو بل مالونه په ناحقه توګه ونه خوري لکه: قمار، چل او دوکه، غصب، د نورو له حقوقو څخه انکار کول، یا په داسې ډول د بل مال خوړل چې د مال د مالک رضایت نه وي، او یا یې رضایت وي مګر شریعت په هغه ډول د بل د مال خوړل حرام ګرځولي وي)) (القرطبي، ۱۹۶۴م، ج ۲، ص ۳۳۷).

همدارنګه الله تعالی فرمایلي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا (29) وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ عُدْوَانًا وَظُلْمًا فَسَوْفَ نُصْلِيهِ نَارًا وَكَانَ ذَلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرًا} (النساء: ۲۹، ۳۰).

ژباړه: اې مؤمنانو! په خپلو منځو کې یو د بل مالونه په ناروا توګه مه خورئ، مګر (خورئ یې) که راکړه ورکړه د دواړو په خوښۍ سره وي، او خپل ځانونه مه وژنئ، باور ولرئ چې الله پرتاسو مهربان دی. چې په ظلم او تیري سره داسې وکړي؛ هغه به هرو مرو اور ته ننباسو او دا د الله کوم سخت کار ندی.

د تول او پیمانو په برخه کې هم الله عزوجل خلك له دوکې، چل او په تول کولو کې له کمواليو څخه منع کړي، په اړه یې الله تعالی فرمایلي: {وَأَقِيمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيزَانَ} (الرحمن: ۹).

ژباړه: په انصاف سره سم تول وکړئ او په ترازو کې کمی مه کوئ.

همدارنګه فرمایي: {وَيَا قَوْمِ أَوْفُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ} (هود: ۸۵).

ژباړه: او اې قومه! له عدالت سره سم تول او پیمانه وکړئ! او خلکو ته د هغوی په شیانو کې تاوان مه ور اړوئ، او په ځمکه کې فساد مه خوروئ!

له پورتنیو آیتونو څخه څرګنده شوه چې په بیعو کې چل او دوکه کول، همدارنګه انساني ټولنې ته په ناحقه توګه زیان رسول ناروا کړنه ده، او د بې کیفیته او جعلي درملو په تولید، تجارت او پلور کې له انساني ټولنې سره په بیعو کې دوکه او چل کول دي، او په ناحقه توګه د هغوی د مالونه خوړل کیږي.

په پیر او پلورلو کې دوکه او چل کول، په ناحقه توګه د انسانانو د مال خوړل، او یا هم د انساني ټولنې روغتیا ته زیان سول د رسول الله صلی الله علیه وسلم په احادیثو کې هم منع شوي، په دې اړه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه زیات احادیث روایت شوي. رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي: ((المسلم أخو المسلم . ولا يحل لمسلم باع من أخيه بيعا فيه عيب إلا بينه له)) (ابن ماجه، ب ت، ج ۲، ص ۷۵۵).

ژباړه: مسلمان د مسلمان ورور دی، او یوه مسلمان ته دا روا نده چې پخپل ورور باندې داسې څه وپلوري چې په هغه کې عیب وي مګر داچې هغه ته یې باید بیان کړي.همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: ((كُل المسلمِ على المُسلمِ حرام: مالُهُ، وعِرضُهُ، ودَمُه، حسبُ امرئٍ من الشرِّ أن يحقرِ أخاهُ المُسلم)) (السِّجِسْتاني، ۲۰۰۹م، ج ۵، ص ۳۱۹).

ژباړه: د یوه مسلمان هرڅه په بل مسلمان باندې حرام دي، د هغه شتمني، عزت او وینه، د یوه سړي لپاره داشر بسنه کوي چې خپل مسلمان ورور ته سپکاوي وکړي.

له عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی: ((عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَجُلًا ذَكَرَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ يُخْدَعُ فِي الْبُيُوعِ فَقَالَ إِذَا بَايَعْتَ فَقُلْ لَا خِلَابَةَ)) (بخاري، ۱۴۲۲م، ج ۵، ص ۳۱۹).

ژباړه: له عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو سړی راغی په بیعو کې غلطیږم، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې کله دې بیعه کوله؛ نو مقابل لوري ته ووایه چې چل او فریب به نه راسره کوې.

بدرالدین عیني رحمه الله ویلي که چېرې په پیر او پلور کې دوکه کول مکروه نه وای؛ نو رسو الله صلی الله علیه وسلم به دې سړي ته نه ویل چې مقابل لوري ته د بیعې پرمهال وایه چې: چل او فریب به نه راسره کوې. او په دې برخه کې د فقهاوو اختلاف دی، یوې ډلې ویلي چې په پیر او پلور کې یوبل ته اختیار ورکول صحیح دي، او په شرط باندې به تر تاکلي وخته دواړه لوري پابندي کوي، دا قول د ابن أبي ليلى، حسن بن صالح، أبي يوسف، امام محمد، امام احمد، اسحاق، أبي ثور، داؤد او ابن المنذر رحمهم الله دی. ابن شبرمه او ثوري ویلي چې په بیعه کې پیرونکي یا پلورنکي ته اختیار ورکول روا ندي. امام أبوحنيفه، امام شافعي او اما زفر رحمهم الله ویلي چې په بیعه کې د پیرونکي او پلورونکي لپاره اختیار درې ورځې دی، له دریو ورځو څخه زیات روا ندی. ( بدر الدين العينى، ب ت، ج ۱۱، ص ۲۳۳).

له ابن رفاعه بن رافع رضی الله عنه څخه روایت دی چې مونږ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ووتلو په داسې حال کې چې خلکو پر یو بل باندې توکي پلورل؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی ته آواز وکړ: اې تجارانو!

کله چې هغوی سترګې راپورته کړې؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ((إِنَّ التُّجَّارَ يُبْعَثُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فُجَّارًا إِلاَّ مَنِ اتَّقَى وَبَرَّ وَصَدَقَ)) (البيهقي، ۱۴۱۴ هـ ق، ج ۵، ص ۲٦٦).

ژباړه: بېشکه تجاران به د قیامت په ورځ د فاجرانو په ډله کې راپورته کیږی، مګر هغه تجاران به د فاجرانو په ډله کې نه پورته کیږی چې هغوی تقوی نیکي او ریښتینولي کړي وي.

له حضرت ابي هریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چې یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم د خوراک په یوه ځلي تېرېده په هغه کې یې خپل لاس داخل کړ او ګوتې یې لمدې شوې؛ نو د خوراک له څښتن څخه یې وپوښتل چې دا څه دي؟ هغه ورته وویل: باران ورباندې شوی. نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ((أَفَلاَ جَعَلْتَهُ فَوْقَ الطَّعَامِ كَيْ يَرَاهُ النَّاسُ، مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنِّي)) (النيسابوري، ب ت، ج ۱، ص ۹۹).

ژباړه: ولې دې د خوړو پر سر نه کېښود چې خلک یې ووینې؟ څوک چې دوکه کوي هغه زموږ له ډلې څخه نه دی.

ابن نجیم مصري په " البحر الرائق شرح کنز الدقائق" کې ویلي: ((دچل او دوکې لپاره قاعده داده چې خرڅېدونکی شی دداسې کمي یا عیب درلودونکی وي چې په هغه عیب که پېرونکی پوه شي؛ نه یې اخلي. نو د همدې عیب یا کمي پټول حرام کار دی، په "البزازیه" کې ویل شوي چې څوک کوم شی پلوري او پېرونکي ته د هغه شي عیب یا کمي بیان نکړي؛ نو ځینې مشایخو ویلي چې پلورونکی ددې عیب د پټولو له امله فاسق کیږي، او شهادت یې هم نه قبلیږي، مګر "صدر الشریعة عبید الله بن مسعود المحبوبي" ویلي چې یوازې په دې باندې شخص نه فاسق کیږي)) (ابن نجیم المصري، ب ت، ج ٦، ص ۳۸).

له پورتنیو آیتونو او حدیثونو څخه څرګنده شوه چې په ناحقه توګه د نورو د مال خوړل لکه: قمار، چل او دوکه، غصب، د نورو له حقوقو څخه انکار کول، یا په داسې ډول د بل مال خوړل چې د مال د مالک رضایت نه وي، او یا یې رضایت وي مګر شریعت په هغه ډول د بل د مال خوړل حرام ګرځولي وي، د عیبونو پټول، په پیمانه یا تله کې کمی کول، د ټیټ کیفیت مواد د لوړ کیفیت په قیمت خرڅول، په معاملاتو کې د درواغو شاهدي ورکول، په اعلاناتو او اشتهاراتو کې دروغ ویل، او په نورو هغو ډولونو سره د خلکو د مال خوړل چې د اسلام مقدس دین حرام کړي وي، دا ټول هغه څه دي چې په الهي احکامو کې منع شوي. نو د بې کیفیته او جعلي درملو په پلورلو کې هم ټولنې او انسانانو سره دوکه او چل کول دي؛ ځکه د اصلي او کیفیت لرونکو درملو په نوم، مارکه او قیمت، د ټیټ کیفیت درمل او جعلي درمل په هغوی باندې پلورل کیږي، او په ناروا توګه د هغوی مالونه خوړل کیږي. همدارنګه د انسانانو روغتیا ته او وجود ته زیان اړول دي، او د اسلام په مقدس دین کې د انسان د نفس ساتنه د شریعت د پنځو لویو موخو(د دین ساتنه، د نفس ساتنه، د نسل ساتنه، د عقل ساتنه او د مال ساتنه) له جملې څخه دی، له همدې امله الله تعالی په ناحقه توګه د انسانانو وژل، د هغوی د کوم غړي تلف کول، او یا هم انسانانو ته زیان اړول حرام ګرځولي. او ترټولو زیات زیان چې انسانانو ته رسوي په هغوی باندې د جعلي او بې کیفیته درملو پلورل دي، تردې چې ځینې وختونوکې کیداشي د انسانانو د مرګ، یا دکوم غړي د تلف کېدو، او یا ځینو ځانکړتیاوو د له منځه وړلو لامل هم شي، چې دا ټولې کړنې د اسلام مقدس دین حرامې ګرځولي، الله تعالی فرمایلي: {مِنْ أَجْلِ ذَلِكَ كَتَبْنَا عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ أَنَّهُ مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا} (المائده: ۳۲).

ژباړه: له همدې امله مورِ پر بني اسرائيلو دا فرمان ليکلی وو: چاچې يو انسان د وينې له بدلې يا پر ځمکه کې له فساد خورولو پرته (ناحقه) وواژه، داسې وګڼه لکه چې هغه ټول انسانان ووژل.

همدارنګه الله تعالی فرمايلي: {وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَمَنْ قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِ سُلْطَانًا فَلَا يُسْرِفْ فِي الْقَتْلِ إِنَّهُ كَانَ مَنْصُورًا} (الاسراء: ۳۳).

ژباړه: پرته له حق وژنې څخه د هغه نفس د وژنې مرتکب کيږئ مه، چې الله تعالی حرام کړيدی. او څوک چې مظلوم وژل شوی وي د هغه وارث ته مورِ د غچ غوښتنې (قصاص) حق ورکړيدی، نو په کار ده چې هغه په وژلو کې له حده تېری ونه کړي له هغه سره به مرسته وشي.

د اسلام مقدس دين يوازې قتل نه؛ بلکې په ناحقه توګه هر ډول زيان رسول نورو انسانانو ته حرام ګرځولی. الله تعالی فرمايلي: {وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُبِينًا} ( الأحزاب: ۵۸).

ژباړه: او کوم کسان چې مؤمنو سړيو او مؤمنو ښځو ته يې ګناه په ناحقه اذيت رسوي، هغوی د يو غټ بهتان او ښکاره ګناه پيټي پرخپلو اوږو اخيستي دي.

په پورتني آيت کې الله تعالی مسلمانانو ته په ناحقه توګه هر ډول زيان رسول ګناه ګڼلي، او د جعلي درملو په پلورلو او تجارت کې هم انسانانو ته زيان او لويه ګناه ده، تر دې چې د اسلام مقدس دين ټولې ناوړه کړنې او په ناوړه کړنو کې له کومک کولو څخه هم خلک منعه کړي، الله تعالی فرمايلي: {وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ} (المائده: ۲).

ژباړه: او په کومو کارونو کې چې ګناه او تېری وي په هغو کې د هيڅا ملاتړ مه کوئ.

په پورتني آيت کې الله تعالی فرمايلي چې د "اثم/ګناه" په کارونو کې د چا ملاتړ مه کوئ، او "اثم" هغه څه ته ويل کيږي چې د انسان نفس او عمل فاسدوي، همدارنګه په هغه کې ګناه وي، د خير له کارونو څخه ډده کول او شر ته نږدې والی وي. او هرکله چې د ګناه په کولو کې له ګناه کونکي څخه بل چاته تيری ونشي؛ نو يوازې خپل ځان يې په ګناه کې غورځولی، او که له ګناه کوونکي څخه په ګناه کولو کې بل چاته هم تيری وشو؛ نو دې ته "عدوان" ويل کيږي، الله عزوجل په قرآنکريم کې "اثم او عدوان" دواړه حرام کړي. او د جعلي درملو په توليد، صنعت او تجارت کې عدوان دی، يعنې ضرر يې نورو انسانانو ته هم رسيږي چې په همدې آيت کې الله عزوجل د شديد او سخت عذاب وعده ورکړې. الله تعالی فرمايلي: {إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ} (المائده: ۲). ژباړه: بې شکه د الله عذاب ډېر سخت دی، يعنې الله تعالی ګناه کونکي او عدوان کونکي ته، همدارنګه له ګناه کونکي او عدوان کونکي سره کومک کوونکي ته د سخت عذاب ورکولو وعده کړې (أبي زهرة، ب ت ، ج ۴، ص ۲۰۲۶).

نو د جعلي او بې کيفيته درملو توليد، تجارت، پلور او په دې برخه کې له نورو سره کومک کول دا ټول د الله تعالی ددې حکم لاندې راځي، او الله تعالی د سخت عذاب وعده ورسره کړې.

د فقهې: ((لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ)) يعنې نه په اول کې په ناحقه توګه چاته ضرر او زيان رسول روادي، او نه هم د ضرر او زيان په بدل کې چاته زيان رسول روادي (الزرقا، ۱۹۸۹م، ص ۱۶۵) ددې مشهورې قاعدې په رڼا کې هم د بې کيفيته او جعلي درملو، توليد او پلور ناروا کړنه ده؛ ځکه د جعلي او بې کيفيته درملو په توليد، تجارت او پلور کې د انسانانو

روغتیاته په ناحقه توګه زیان رسول دي، او هم په باطله توګه د هغوی مالونه خوړل کیږي، چې دا دواړه کړنې نورو ته ضرر او زیان دی، او د اسلام مقدس دین په کلکه توګه منع کړی.

د بې کیفیته او جعلي درملو په تولید، تجارت او پلور کې د طبابت د سپیڅلي مسلک اخلاقي اصول هم تر پښو لاندې کیږي؛ ځکه طبیب شرعا مکلف دی چې د خپل مسلک د علم په لاسته کولو، دندې ترسره کولو، او د مریضانو په علاج کولو کې په ټوله معنی صادق وي، د مریضانو د ډول ډول رازونو په ساتلو کې امین وي، مهربانه او رحم کونکی وي، د عدل او انصاف خاوند وي، د مریضانو ټولو حقوقو ته درناوی ولري، او آدا یې کړي، همدارنګه د مریضانو ټول مصلحتونو هم په نظر کې ونیسي، مګر څوک چې جعلي یا بې کیفیته درمل تولیدوي، تجارت یې کوي، او یایې په بازارونو کې په عامه خلکو پلوري؛ د طبابت ټول پورتني اصول تر پښو لاندې کیږي، په داسې حال کې چې پورتني ټول اخلاقي اصول د اسلام د مقدس دین له صریحو نصوصو څخه ثابت شوي دي؛ بناءاً مخالفت یې د شریعت د صریحو نصوصو څخه سرغړونه ده، چې د الله عزوجل د ناراضه کیدو او ګناه لامل کیږي.

د بې کیفیته او جعلي درملو په پلورلو کې د أولي الأمر د حکم مخالفت هم دی؛ ځکه په ټولو هیوادونو کې د جعلي او بې کیفیته درملو تولید، تجارت او پلور په قانوني ډول منع دی، نو څوک چې دا کړنه کوي په حقیقت کې د أولي الأمر له حکم څخه سرغړونه کوي، الله تعالی فرمایلی:{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ} (النساء: ۵۹).

ژباړه: اې مؤمنانو! د الله، رسول او هغو کسانو اطاعت وکړئ چې ستاسو څخه د امر خاوندان وي.

أولي الأمر هغو کسانو ته ویل کیږي چې د حکومت او سیاست چارې یې په لاس کې وي، او په دې آیت کې الله تعالی د أولي الأمر اطاعت د أهمیت له امله له خپل اطاعت، او د رسو الله صلی الله علیه وسلم له اطاعت سره یوځای یاد کړی، موخه ېې داده: چې هرکله د أولي الأمرکړنې د قرآن کریم او سنتو په دائره کې وي، همدارنګه عدل پکې وي؛ نو اطاعت کول یې داسې لازم دی لکه څنګه چې د خدای تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم اطاعت کول لازم دي (أبي زهرة، ب ت، ج ۴، ص ۱۷۲۳).

د جعلي او بې کیفیته درملو تولید، تجارت او پلور هم په ټولو هیوادونو کې حاکمانو د قوانینو له لارې منع کړی، او دا کړنه یې د قرآنکریم او نبوي سنتو سره همغږي لري؛ ځکه د اسلام مقدس دین د انسان د نفس/ ځان ساتنه د پنځو لویو موخو له جملې څخه شمارلې، هر هغه څه چې د انسان نفس، غړو او روغتیا ته زیان اړوي هغه یې حرام کړي، او په دې صورت کې د أولي الأمر حکم او منع هم د انسانانو د نفسونو او روغتیا ساتنې لپاره لپاره ده؛ نو منل او اطاعت کول یې لازم او واجب دي، او هر څوک چې له دې امر څخه سرغړونه کوي؛ په واقعیت کې د الله تعالی له حکم څخه سرغړونه کوي.

**پایله**

د څېړنې په پای کې لاندې پایلو ته رسیږو:

۱- بې کیفیته او جعلي درمل داسې یو درمل دي چې د کیفیت معیارونه او خانګړتیاوې یې نه وي پوره کړي، د کمزوري تولید یا ناسم کنټرول په پایله کې تولید شوي وي، یایې په قصدي ډول هویت، جوړښت یا سرچینه غلطه بیان شوي وي.

۲- د څېړنې په اوږدو کې څرګندیږي چې په درملو کې درغلي او دوکه کول د تولید پرمهال د أغیز لرونکو موادو د کمولو یا ویستلو له امله، یا د موادو د ګډولو له امله او یا هم په صنعت کې د درغلي له امله رامنځ ته کیږي.

۳- د اسلام مقدس دین تجارت غوړه عمل ګڼلی، مګر تجارانو ته یې په تقوی او صداقت امر کړی، په تجارت کې یې له چل درغلي او دوکې څخه منعه کړې، همدارنګه په ناحقه توګه یې د نورو د مالونو اخستل هم حرام ګرځولي.

۴- د اسلام په مقدس دین کې د انسان د نفس او رغتیا ساتنه خورا زیات اهمیت لري، مګر د بې کیفیته او جعلي درملو په تولید، تجارت او پلورلو کې د انسانانو نفس او روغتیا ته زیان اړول دي، په نا روا توګه د نورو مالونه خوړل کیږي، د طبابت د اصولو څخه سرغړونه، د أولي الأمر د حکم مخالفت، او له انساني ټولنې سره دوکه او خیانت دی؛ نو د شریعت د سپېڅلو نصوصو او مقاصدو په رڼا کې دا کړنه په کلکه منعه او غندل شوې.

**مناقشه**

که څه هم په نړۍ کې د بې کیفیته او جعلي درملو د تولید، تجارت او پلور د مخنیوي لپاره قوانین شتون لري، مګر بیا هم په زیاته پیمانه ددې درملو تولید، تجارت او پلور روان دی چې د انسانانو ژوند ګواښي، همدارنګه د ښو او اصلي درملو په نوم، مارکه او ارزښت په خلکو پلورل کیږي، او له دې لارې د خلکو مالونه په ناروا توګه خوړل کیږي، اوس پوښتنه داده چې ولې تولیدونکې کمپنۍ او تجاران د بې کیفیته او جعلي درملو تولید او تجارت ته مخه کوي؟ آیا د بې کیفیته او جعلي درملو ګټه خورا زیاته ده؟ یا د دولت مسؤلې ادارو په دې برخه کې بې غوري کوي؟ او یاهم ډاکټران او درملتونونه ددې ډول درملو په پلورلو کې له تولیدونکو کارخانو او تجارانو سره په ګټه کې شریک دي؟

له شک پرته چې دا او دېته ورته ستونزې شتون لري، له یو اړخه زمونږ په ټولنه کې عامه پوهاوی کم دی، خلک د بې کیفیته او جعلي درملو د زیانونو په اړه زیات نه پوهیږي، مسؤلو ادارو هم ددې درملو د زیانونو په اړه د عامه پوهاوي أغیزمن کمپاینونه ندي ترسره کړي، او له بل اړخه تولیدونکې کارخانې او تجاران له ټولنې سره دوکه کوي، له الهي او وضعي قوانینو څخه سرغړونه کوي، په خپل کار او تجارت کې د صداقت پرځای خیانت کوي، د روزي په لاسته کولو کې د حلالو او حرامو ترمنځ توپیر نکوي.

مور په دې څېړنه کې هڅه کړې چې په درملو کې د دوکې لارې چارې او وسائل خلکو ته ور وپېژنو، دامو څرګنده کړې چې د جعلي او بې کیفیته درملو تولید، تجارت او پلور د اسلام د مقدس دین له نصوصو او مقاصدو څخه مخالفت او په ټکر کې دی، د انسانانو له روغتیا او ژوند سره لوبې کول دي، په حرامه توګه د نورو مالونه خوړل کیږي، د أولي الأمر له حکم څخه سرغړونه، او د طبابت د سپېڅلي مسلک بدنامول دي. او هرڅوک چې په دې ناروا کړنه

کې له نورو سره مرسته کوي هغه هم د الله تعالی د حکمونو مخالفت کوي، چې الله عزوجل د سخت عذاب وعده ورسره کړې.

**وړاندیزونه**

۱- تولیدونکي کمپنۍ او تجاران دې د بې کیفیته او جعلي درملو له تولید، تجارت او پلور څخه ډه ډه وکړي، د درملو تولید او تجارت دې له قانوني حکمونو سره سم ترسره کړي. په تولید، تجارت او روزي ګټلو کې دې له الهي احکامو څخه سرغړونه نکوي.

۲- د درملو د تولید، تجارت او پلور په برخه کې اړوند ارګانونه او مسؤلین باید خپل مسؤلیتونه په سمه توګه ترسره کړي. هڅه باید وکړي چې د درملو تولید او تجارت د تقنیني احکامو او فرامینو له حکمونو سره سم ترسره شي.

۳- ډاکټران دې د بې کیفیته او جعلي درملو د زیانونه په برخه کې کمپاینونه ترسره کړي؛ ترڅو په دې برخه کې عامه پوهاوی زیات شي او ټولنه له دې پټ وژونکي دښمن څخه خلاسه شي.

۴- د مساجدو امامان او د ټولنې نور علماء دې په دې برخه کې عامه پوهاوی رامنځ کړي، د بې کیفیته او جعلي درملو د تولید او تجارت حکم، همدارنګه زیانونه دې د شرعي نصوصو په رڼا کې خلکو ته بیان کړي.

۵- د بې کیفیته او جعلي درملو د زیانونو په اړه دې د ښوونځیو او مدرسو په نصاب مباحث ځای پرځای شي؛ ترڅو په دې برخه کې عامه پوهاوی زیات شي.

**د لیکوالانو ونډه**

د دې مقالې په لیکلو کې دوه لیکوالانو هر یو استاد رحمت الله اکرام د لومړي لیکوال، او نوماند ربیع الله رښتین د دویم لیکوال په حیث برخه اخیستې ده او دغه علمي څېړنیزه مقاله یې لیکلې ده چې د فعلیتونو توپیر یې په لاندې ډول روښانه بیانوو:

لومړی لیکوال: د څېړنې د موضوع د ټاکلو، مخکینیو آثارو ته کتنې (Literature Review) ترسره کولو، د څېړنیزې طریقې (Methodology) انتخاب کولو،د مقالې د لومړنۍ مسودې د لیکلو او علمي تنظیم او د پایلو د لومړني تحلیل مسؤلیت پر غاړه درلود.

دوهم لیکوال: د معلوماتو د راټولولو، معلوماتو د کتنې پروسس، د نتیجې او سپارښتنو په برخه کې د علمي کتنې او د پایلو د تشریح او د مقالې د وروستي سمون او تصحیح مسؤلیت درلود..

دواړه لیکوالانو د څېړنې په ټولو پراوونو کې فعاله ونډه لرله او د مقالې وروستۍ بڼه د دواړو په موافقه تایید شوې ده.

**اخځليكونه**

ابن ماجه، محمد بن يزيد أبو عبدالله القزويني. (بې نيټې). *سنن ابن ماجه*. ج ۲. بيروت: دار الفكر.
ابن نجيم المصري، زين الدين بن إبراهيم بن محمد. (ب ت). *البحر الرائق شرح كنز الدقائق*. ج ٦. بيروت: دارالمعرفه.
أبو الليل، إبراهيم الدسوقي. (١٩٩٥م). *تعويض الضرر في المسؤولية المدنية*. مطبوعات جامعة الكويت.
أبي زهرة، محمد بن أحمد بن مصطفى بن أحمد المعروف بأبي زهرة. (بې نېټې). *زهرة التفاسير*. ج ۴. القاهرة: دار الفكر العربي.
البخاري، أبو عبد الله محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة الجعفي. (١٤٢٢م). *الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه*. ج ۵. بيروت: دار طوق النجاة.
البيهقي، أحمد بن الحسين بن علي بن موسى أبو بكر. (١٤١٤هـ ق). *سنن البيهقي الكبرى*. ج ۵. مكة المكرمة: مكتبة دار الباز.
الرازي، محمد بن أبي بكر بن عبدالقادر. (١٩٩٥م). *مختار الصحاح*. ج ١. بيروت: مكتبة لبنان ناشرون.
الزرقا، أحمد بن الشيخ محمد الزرقا. (١٩٨٩م). *شرح القواعد الفقهية*. دمشق: دار القلم.
السِّجِسْتاني، أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي. (٢٠٠٩م). *سنن أبي داود*. ج ۷. بيروت: دار الرسالة العالمية.
السلمي، عبد الله بن ناصر. (٢٠٢٤م). *الغش و أثره فى العقود*. الرياض: دارالكنوز اشبيليا للنشر وتوزيع.
الشرع، طالب نور عبود. (١٩٩٦م). *مسؤولية الصيدالني الجنائية* ــ رسالة ماجستير مقدمة إلى مجلس كلية القانون جامعة بغداد.
العينى، أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين (ب ت). *عمدة القاري شرح صحيح البخاري*. ج ١١. بيروت: دار إحياء التراث العربي.
القرطبي، أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين. (١٩٦٤م). *الجامع لأحكام القرآن = تفسير القرطبي*. ج ٢. القاهره: دار الكتب المصرية.
الماتريدي، محمد بن محمد بن محمود، أبو منصور. (٢٠٠٥م). *تأويلات أهل السنة*. ج ١٠. بيروت: دار الكتب العلمية.
النسائي، أبو عبد الرحمن أحمد بن شعيب بن علي الخراساني. (٢٠٠١م). *السنن الكبرى*. ج ٦. بيروت: مؤسسة الرسالة.
النيسابوري، مسلم بن الحجاج أبو الحسين القشيري. (بې نيټې). *صحيح مسلم*. ج ١. بيروت: دار إحياء التراث العربي.
عباس، صفاء شكور. (٢٠١٣م). *تعدد المسؤلين عن الدواء المعيب*. بيروت: المؤسسة الحديثة للكتاب.
عبد الصادق، محمد سامي. (بې نيټې). *مسؤولية منتج الدواء عن مضار منتجاته المعيبة*. بيروت: دارالنهضة العربية.
عرط، عروبة شافي. (٢٠٢٤م). *المسؤولية المدنية عن غش الدواء*. مجلة الشرق الأوسط للدراسات القانونية والفقهية.
محمد، محمد قطب. (٢٠١٤م). *المسؤولية المدنية الناشئة عن اضرار الدواء*. الاسكندرية: دار الجامعة الجديد.

Virchow, R. (1848). *Report on the typhus epidemic in Upper Silesia. Public Health Reports.*
Virchow, R. (1985). *Collected essays on public health and epidemiology.* Science History Publications.
Yamane, T. (1967). *Statistics: An introductory analysis* (2nd ed.). Harper and Row.

## REFERENCES


Braveman, P., & Gottlieb, L. (2014). *The social determinants of health: It's time to consider the causes of the causes. Public Health Reports, 129*(1_suppl2), 19–31.

Coleman, W. (2012). *Rudolf Virchow: Collected essays on public health and epidemiology* (L. J. Rather, Ed.; A. Gisemann, Trans.). Science History Publications.

Dhlamini, B. (2023). *Redefining social determinants of health: The social realities of health. The Student Midwife, 6*, 12–15. https://doi.org/10.55975/YOIX9154

Di Nicola, V. (2023). *Social psychiatry and person-centered medicine: Integrating social determinants of health (SDH) and adverse childhood events (ACE) with clinical practice.*

Fosse, E. (2022). *Norwegian policies to reduce social inequalities in health: Developments from 1987 to 2021. Scandinavian Journal of Public Health, 50*, 882–886. https://doi.org/10.1177/14034948221129685

Gottlieb, L. M., Wing, H., & Adler, N. E. (2017). *A systematic review of interventions on patients' social and economic needs. American Journal of Preventive Medicine, 53*(5), 719–729.

Krieger, N. (2011). *Epidemiology and the people's health: Theory and context.* Oxford University Press.

Lange, K. (2021). *Rudolf Virchow, poverty and global health: From "politics as medicine on a grand scale" to "health in all policies." Global Health Journal, 5*. https://doi.org/10.1016/j.glohj.2021.07.003

Manchanda, R. (2013). *The upstream doctors: Medical innovators track sickness to its source.* TED Books.

Marmot, M. (2015). *The health gap: The challenge of an unequal world.* Bloomsbury.

Marmot, M., & Wilkinson, R. (Eds.). (2006). *Social determinants of health* (2nd ed.). Oxford University Press.

Meili, R., & Hewett, N. (2016). *Turning Virchow upside down: Medicine is politics on a smaller scale. Journal of the Royal Society of Medicine, 109*(7), 256–258. https://doi.org/10.1177/0141076816656482

Moniz, C. (2010). *Social work and the social determinants of health perspective: A good fit. Health & Social Work, 35*, 310–313. https://doi.org/10.1093/hsw/35.4.310

Petersen, P., & Kwan, S. (2011). *Equity, social determinants, and public health programs: The case of oral health. Community Dentistry and Oral Epidemiology, 39*, 481–487. https://doi.org/10.1111/j.1600-0528.2011.00623.x

Porter, D. (2006). *How did social medicine evolve, and where is it heading? PLoS Medicine, 3*(10), e399. https://doi.org/10.1371/journal.pmed.0030399

Raphael, D. (2016). *Social determinants of health: Canadian perspectives* (3rd ed.). Canadian Scholars' Press.

Sergi, C. M. (2024). *Rudolph Virchow's public health engagement and Theodor Khoury's legacy. Einstein (São Paulo, Brazil), 22*, eED01003. https://doi.org/10.31744/einstein_journal/2024ED01003

Solar, O., & Irwin, A. (2010). *A conceptual framework for action on the social determinants of health.* World Health Organization. http://www.who.int/sdhconference/resources/ConceptualframeworkforactiononSDH_eng.pdf

Tao, N. P. H., Nguyen, D., Sediqi, S. M., Tran, L., & Huy, N. T. (2023). *Healthcare collapse in Afghanistan due to political crises, natural catastrophes, and dearth of international aid post-COVID. Journal of Global Health, 13*, 03003. https://doi.org/10.7189/jogh.13.03003

Tawde, P., Choudhari, S., Quazi Syed, Z., & Gaidhane, A. (2024). *Rudolf Virchow: Integrating medicine and social reform for public health. Cureus, 16*, e68161. https://doi.org/10.7759/cureus.68161

Trani, J. F., Bakhshi, P., Noor, A. A., Lopez, D., & Mashkoor, A. (2010). *Poverty, vulnerability, and provision of healthcare in Afghanistan. Social Science & Medicine, 70*(11), 1745–1755.

& Gottlieb (2014) emphasize the integration of social factors into policy. For future research gaps, it is recommended to compare the experiences of doctors in different provinces and cities, study specific patient groups such as the poor, immigrants, and those with specific diseases, and conduct longitudinal quantitative studies to scientifically demonstrate the impact of social and economic factors on health.

**Recommendation**

1. Formalize Upstream Medicine and Include It in the Curriculum: The results of the study show that doctors consider the impact of social factors important, so it is necessary to formalize the specialty of "Upstream Medicine" at the level of Afghanistan, and include special subjects on social factors, health inequalities, and the diagnosis of social problems in the curriculum of medical faculties.
2. Strengthen the role of doctors in health policies: Doctors consider supporting social changes as their professional responsibility. Therefore, doctors should be regularly included in policy-making, health reforms, and public awareness programs.
3. Joint health-society programs to reduce poverty, unemployment, insecurity, and inequality: Health problems are linked to the state of society, so the Ministry of Health should implement joint programs with the Ministries of Social Affairs, Economy, Education, and Urban Development to improve the economic and social situation of the people.
4. Training workshops and skill development for doctors: Special workshops should be held to identify social factors, ask about patients' living conditions, and use Upstream Medicine techniques.
5. Develop future research and provide international experience for Afghanistan: Future research should be conducted in other provinces to gather the views of doctors across the country. Also, upstream programs from other countries should be adapted to Afghan conditions.

(2013) discuss social factors have a profound impact on patient health outcomes, including income, education, housing, and food security. Meili & Hewett (2016), Tawde et al. (2024) Emphasize Upstream Medicine and related programs aim to highlight the importance of addressing the root causes of patients' problems. Trani et al. (2010) and Tao et al. (2023) discuss Afghanistan's unique social and political environment illustrates how social, economic, and political factors influence health service delivery and patient outcomes. The study also revealed that doctors believe that identifying social determinants, supporting the homeless and disadvantaged, and engaging with the community increase the effectiveness of health services. This finding is consistent with the views of Upstream Medicine and the Pathway Program, which emphasize the importance of addressing the root causes of patients' problems. Furthermore, Tawde et al. (2024) Emphasizes physicians believe that expanding health policy and the presence of professional collaboration in the area of social and political change improve the quality of health, which is also consistent with research from the Canadian Upstream Initiatives. The limitations of this study should also be considered. First, the study was conducted only in Jalalabad city, and the use of convenience sampling limits the generalizability of the results. Second, data collection was self-reported, which may have influenced some responses based on the personal perceptions of the participants. Third, the survey design was cross-sectional, so cause-and-effect relationships cannot be fully established. Future studies could use a longitudinal design to continuously analyze the impact of social and economic factors and include the views of physicians from other provinces and cities. Overall, this study sheds light on the important role of social factors in the unique political and social environment of Afghanistan, and provides practical recommendations for health policy and practice.

## CONCLUSION

The conclusion of this study—that health policies and clinical practices should be designed taking into account social and economic conditions and that the specialty area of "Upstream Medicine" should be formalized—was obtained based on the statistical results of the questionnaire and the participants' opinion patterns, which are also consistent with theoretical and empirical research. 54% of the participants believed that the health of patients depends on both treatment and social conditions, and only 14.8% preferred treatment alone. The majority of doctors strongly believe in the dual (medical and social) nature of health, which supports the importance of "Upstream Medicine." Both the Mode and Median were "Both", and the Mean ≈ 2.48 indicates a balanced tendency of opinions. About 68%–75% of the participants agreed that doctors should play an active role in policy reform, social awareness, and addressing poverty and inequality. This indicates that doctors consider social participation as part of their professional responsibility. Doctors reported that current programs are mostly focused on treatment and have limited efforts to prevent the root causes of diseases. This highlights the need for "Upstream Medicine" to be formalized and systematized. Although inferential tests such as chi-square or regression were not used due to the design of this study (descriptive cross-sectional survey), repeated distributions, percentages, and centers of tendency (Mean, Median, Mode) indicate that doctors clearly: Accept the relationship between patients' health and socio-economic factors, Support policymaking and social participation. Also, the standard deviation of ≈0.95 indicates that the opinions are relatively stable among the participants and increases the reliability of the results. This result is also consistent with international research and principles: Virchow says: "Politics is medicine on a larger scale" (Coleman, 2012; Lange, 2021), Manchanda (2013) explains the importance of "Upstream Doctors" to address the roots of diseases, Braveman

Participating in social and political changes can improve the quality of life of patients. Expanding the role increases opportunities for health policy and community involvement. Doctors should actively participate in identifying social factors and policymaking. Health institutions should support expanding the role of doctors. Medical associations should publish guidelines and guidelines on social changes.

**Table 6:** *Recommendations for future policy and training*

| Measure Category | Description | Value / Observation |
|---|---|---|
| **Frequency Distribution** | Doctors' responses based on counts and percentages | Expanding assessment of social factors: 72 (38%)<br>Health support for homeless and needy people: 54 (29%)<br>Reducing poverty and economic inequality: 42 (22%)<br>Health education and awareness programs: 21 (11%) |
| **Central Tendency** | The center or typical value of the data | Mode: Expanding assessment of social factors (72)<br>Median: Health support for homeless and needy people (sometimes falls after Mode)<br>Mean (numerical coding 1–4): ≈1.95 |
| **Variability / Spread** | The dispersion or spread of the data | Range: 1–4<br>Standard Deviation: ≈1.06 |

